



## د لیکوال نور آثار

## مننه او کور ودانی



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما خیالي افغانستان

**( د ۱۳۹۹ ل کال په بهیر کې د بېلابېلو لیکنو ټولګه)**

**لیکوال**

**محمد اسمعیل یون**

**۱۳۹۹ ل کال**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# کتاب پېژندنه

# زما خیالي افغانستان

**(د ۱۳۹۹ل کال په بهیر کې د بېلابېلو لیکنو ټولګه)**


لیکوال: محمد اسمعیل یون

خپرندوی: د افغانستان ملي تحریک

چاپکال: ۱۳۹۹ل/ ۲۰۲۱م

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

کمپوز/ډیزاین: ضیاءالرحمن ضیاء

چاپځای: ستاره همت چاپخونه

چاپوار: لومړی

د خپرندوی د خپرونو لړ: (۱۵۷)

د لیکوال د خپرونو لړ: (۵۳)

بریښنایي پته:www.melitahrik.com

www.zhwandoon.tv


ددې کتاب د چاپي، کاپي، انلاین او د بل هر ډول خپراوي حقوق له خپرندوی سره خوندي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

**خپل مظلوم اکثریت ولس ته، چې په حاکمیت کې محکوم او په محکومیت کې لاپسې محکوم و مظلوم دي.**

**(یون)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نیو لیک

**سرلیک** **مخ**


زما خیالي افغانستان ........................................ ۸
زما د سختې ورځې یاره چېرته لاړې؟ ....................... ۱۳
دا ټول شموله حکومت څه مانا؟ .......................... ۱۶
یوه بهترینه کورنۍ د وبا په ناورین کې ...................... ۲۱
د یو خوشال ملګري په یاد ................................. ۲۶
ښوونځیو سره مرسته پټه وشي که ښکاره؟ ........................ ۲۸
نورستان د افغانستان ملي پارک ............................. ۳۳
د ثبات او همپالنې ټیم د طرحې پر وړاندې ځوابي طرحه ......... ۳۸
د اتل وروستی ارمان ........................................ ٤٥
طالبانو سره جګړه وشي که سوله؟ ............................ ۵۱
د لوی افغانستان داعیه به پالو ................................ ٦۳
حساسیت راپاروي !؟ ........................................ ۷۳
د پرله پسې تېروتنو ترخې تجربې.............................. ۸۰
زما خیالي افغانستان ........................................ ۸۸
ایا هېوادکې جهادي داستان بیا تکرارېږي ؟ ..................... ۹٤
د پښتون اقلیت! لپاره یو معاونیت! ........................ ۱۰۲
د اسقامت او غیرت سړی ................................... ۱۰٦
ولایتي ماسټرپلانونه ....................................... ۱۱۰
تاریخ یو بل شرم هم ثبت کړ ................................ ۱۱۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

د انسانیت لاررویان ........................................ ۱۲۳
د یو ستر حقپالونکي ابدي سفر ........................... ۱۲۶
د حساب او کتاب یو سرړی .............................. ۱۳۰
یوې بلې درنې ستې هم خپل سفر پیل کړ ..................... ۱۳۵
د اسلام د اعتدالي لارې یو سر لاری........................ ۱۳۸
نومونه او شخصیتونه ........................................ ۱۴۱
ایا د هېواد د اوبو د مهار امکان شته؟......................... ۱۴۴
په هېواد کې د تعلیمي رنسانس وروستۍ څېره ................ ۱۴۸
یوه مننه او یوه بله هیله ........................................ ۱۵۱
د راتلونکي نسل حق........................................... ۱۵۴
د جکړې پر کورنیو لوبغاړو یو غږ.............................. ۱۵۶
د ملت ساه مې ډوبېږي............................................ ۱۶۰
د فساد او پردیپالنې پر ضد عمومي کمپاین........................ ۱۶۴
له قانون سره لوبې ............................................... ۱۷۳
د قانونیت په سرچینه کې لاقانونیت ............................... ۱۷۵
د عصري دروغو نوې طریقه.......................................... ۱۸۰
زمونږ ټولنه، درې خصلتونه او درې ډوله خلک ............... ۱۸۲
وروستي لیدل و نه شول............................................ ۱۸۴
شخصیتونه او دریځونه ............................................... ۱۸۶
د دردونو فوران؛..................................................... ۱۸۹
څوک باید څه له لاسه ورکړي؟...................................... ۱۹۳
ښایسته کندهار ډېر ډېر یادوم ........................................ ۱۹۷
(۱) ......................................................................... ۱۹۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فرهنګي انقلاب د یو سرلاري سفر.................... ۲۱۰
دا پر ژبه او قوم تجارت څه مانا؟؟.................... ۲۱۳
یو ځل بیا مشورتي لویه جرګه !؟ .................... ۲۱۷
د تعصب او ځان شرمونې لړۍ.................... ۲۲٤
له موضوع څخه تېښته .................... ۲۲٦
خبرې اسانه دي او کار سخت دی .................... ۲۳۰
که سوله و نه شي څه به وشي؟ .................... ۲۳۷
له ولسه لرې ولسمشر .................... ۲٤۰
انسان د تعمیم، تعمیر او تغیر وړ دی .................... ۲٤٦
نظام او سوله لومړیتوب دی .................... ۲٤۸
مخالفت به هم کوو او وروري به هم کوو.................... ۲۵۳
که مو په اوړو کې شګه نه وي!؟.................... ۲۵٦
تذکره د مور لپاره که مور د تذکرې لپاره؟؟ .................... ۲۵۸
نو ګیله مې ځکه وکړه !؟.................... ۲٦۳
یوازې یو توافق.................... ۲٦٦
برېښنایي تذکره او د ولسي جرګې د ځینو غړو ننۍ طرحه .... ۲۷۰
د دعاګانو مستحق.................... ۲۷۵
دوی سره یې اوس ګزکړه! .................... ۲۷۸
په سیاست کې ټولنیز اخلاق .................... ۲۸۲
که نظام ړنګ شي!؟ .................... ۲۸۷
معلوم مقتولین او نا معلوم قاتلین .................... ۲۹۳
دا هوایي دهلېز بیا څه مانا؟؟ .................... ۲۹۵
یرغمل شوی جمهوریت .................... ۲۹۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکابينې په غونډوکې څه تېرېږي؟؟ ........................ ۳۰۳
جمهوريت که بربريت ؟ ........................ ۳۰۸
کنځلماري او زورواکي ........................ ۳۱٤
فاطميون د ارګ تر څنډو ........................ ۳۲٤
له سمو عنوانونو ناسمه ګټه اخيستنه ........................ ۳۳۲
په نوبت نوبت روان دي کاروانونه ........................ ۳۳٦
و ناروغه ياره الله دې روغ کړه! ........................ ۳۳۸
د يو ژوندي مړي وصيت ........................ ۳٤۰
دکمال خان بند، يو ښه زېری او راتلونکې هيلې ........................ ۳٤۲
فاطميون څنګه مهارېدلی شي؟ ........................ ۳٤۸
ملي پوځ : هم ملاتړ او هم سمون ........................ ۳۵۳
وايي بديل نه لري!؟ ........................ ۳۵۸
جګړه، انقطاع اوکه د نظام تداوم ؟؟؟ ........................ ۳٦۲
د يو ملت تر ټولو بدمرغه حالت ........................ ۳۷۰
سپين ستركي هم يو حد لري!! ........................ ۳۷۵
ايا د افشارو قاتل معلوم نه دی !؟ ........................ ۳۸۳
خبره ورو ورو سپينېږي ........................ ۳۸۹
د تاريخي حماقتونو تکرار ........................ ۳۹٦
چې دا خلک ولې وارخطا دي !؟ ........................ ٤۰۱
تر وخت وړاندې او تر وخت وروسته سياستوال ........................ ٤۰۸
د مضر مصلحت وروستی حد ........................ ٤۱۵
تر وخت شاته پاتې ولس ........................ ٤۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما خيالي افغانستان

د ببلابېلو ليکنو دا ټولګه چې تاسو ګورئ (زما خيالي افغانستان) نومېږي. دا د (۱۳۹۹ل) کال په بهير کې ليکل شوې مقالې دي، چې اکثره يې د همدې کال په اوږدو کې د ډله ييزو رســـنيو له لارې خپرې شوې دي.

دا ليکنې په حقيقت کې د همدې کال په بهير کې پر هېواد د راغلو پېښو يو ډول انځورنه ده. د خندا او خوشالۍ خبرې په کې کمې دي، خو د غمونو انځورنه په کې زياته ده. علت يې دا دی چې (۱۳۹۹ل) کال، چې د تېرې لمريزې پېړۍ وروستی کال و، په هېواد کې تر ټولو خونړی کال ګڼل کېږي. ما نه دي غوښـــتي چې دا ليکنې د چاپ پرمهال بيا له سـره صـفا او د ځينو نورو په شان يې د وخت له غوښتنو سره سمې برابرې کړم. دا مې عادت هم نه دی.

له هغې ورځې چې زما ليکنې په رسـنيو کې د چاپ جوګه شـوي، بيا تر (۱۳۹۶ل) کال پورې نږدې (۳۰– ۳۵) کاله زماني واټن رانغاړي. په دې بهير کې چې زمـا هر څومره متفرقـه ليکنې او چاپي اثار وو، چې راټولونې او ژباړې هم په کې شـاملې وې، ټول پنځوس (۵۰) عنوانه شـول، د محتوا له مخې مې ډلبندي کړل او

(c) ketabton.com: The Digital Library

د (نيمې پېړۍ يون) په نامه مې پر (۱۳۹۶ل) کال په (۱٤) بېلابېلو ټوکونو کې چاپ کړل.

دا مهال زه د تذکرې د رسمي سن له مخې پنځوس کلن شوم، ياني (نيمه پېړۍ) عمر مې په دې نړۍ کې تېر کړ، نو ځکه خو مې دې کلياتو ته (نيمه پېړۍ يون) نوم ورکړ. تر هغه وروسته چې يو کال تېر شو، نو د همدې کال متفرقه ليکنې مې راټولې کړې، نوم يې شو: (محروميتونه) او په همدې نامه مې دا اثر د همدې (۱۳۹۷ل) کال تر پايته رسېدو وروسته چاپ کړ.

د (۱۳۹۸ل) کال په بهير کې راټولې شوې ليکنې مې په يوه بله ټولګه کې د همدې کال له پايته رسېدو سره سم چاپ کړې.نوم يې شو: (پاشلي ذهنونه).

دا اوسنۍ ټولګه چې ګورئ دا بيا د (۱۳۹۹ل) کال د ليکنو ټولګه ده، په دې ټول عمر کې چې ما کومې ليکنې کړې، د بيا چاپ پرمهال مې په هغو کې ګوتې نه دي وهلي، يوازې کوم ځای کې چې املايي، انشايي او چاپي تېروتنې وې، هغه مې اصلاح کړې دي او بس. له دې کار څخه زماهدف دا و چې دا خبره لوستونکو ته په ډاګه شي، چې پېښې لکه څنګه چې دي او څنګه ثبت شوي، بايد هماغه شان راتلونکي نسل ته وراندې شي. تېرې ليکنې بايد د وروستيو سياسي او فکري تحولاتو تر اغېز لاندې خپل شکل او رنګ بدل نه کړي. يو شمېر ليکوال چې خپلې ليکنې پر وخت نه چاپوي، هغه د وخت له جبر څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډارېږي، هر څه د راتلونکي حالت ترحم ته ساتي. په همدې خاطر ځینې ډېر هغه واقعیتونه چې اوس یې بیان او تشریح ته ضرورت دی، همداسې ګونګ پاتې شي او د تاریخ د حافظې برخه نه شي. لیکوال په دې ډول خپل تاریخي مسوولیت او رسالت پسې تېر او هېر کړي. ځینې نور بیا د غوړه مالۍ په داسې څپو کې ډوب وي چې تر څو د خپلو چاپي او ناچاپه لیکنو اوډون او چاپ ته ځان تیاروي، د واک او مزو دا څپه پرې تېره شي، د قدرت په بله څپه کې بیا د تېرې څپې او حادثې لیکنې ځکه نه شي چاپولای، چې دی خپله په کې د یوه غوړه مال کرکټر په توګه څرګندېږي او اوسنۍ څپه بیا د تېرو څپو له کرکټرونو سره د تضاد له امله دې ډول اشخاصو ته متوجه کېږي، نو دا کټګورۍ لیکوال غوره ګڼي چې د خپلو تېرو لیکنو له منظم چاپ څخه ډه ډه وکړي.

ښه به دا وي، چې هر لیکوال وخت پر وخت خپلې لیکنې په منظم ډول چاپ او خپرې کړي او د ژوند په بېلابېلو پړاوونو یا د خپلې لیکوالۍ لس کلن، شل کلن او یا دېرش کلن بهیر کې یې له کوم تغیر پرته دکلیاتو په بڼه په ژوندوني چاپ کړي. دې سره به لوستونکو هم د لیکوال پر فکر او هم پر شخصیت عادلانه او منصفانه قضاوت وکړای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما خو د خدای په فضـــل له پیله تر دې دمه خپلې ټولې لیکنې له کوم مانیز او شـکلي تغیر پرته چاپ کړي، لوسـتونکي کولای شي په دې باب خپل قضاوت وکړي!

(زما خیالي افغانسـتان) کې چې کومې لیکنې چاپ شـوي، ځینې به یې ترخې وي، پر خاصو ډلو او اشخاصو به هم ښې و نه لګي، خو لیکوال قصـــداً دا پېښـــې ترخې کړې نه دي، خپله پېښـــې ترخې دي، لیکوال یوازې د پېښـــو انځورنه کړې ده، دا چې پېښـــې خپله ترخې دي او حقیقتونه هم ترخه دي، نو دې کې د لیکوال او قلموال څه قصـــور نه شــته، که لیکوال ترخې پېښـــې خوږې او خواږه واقعیتونه ترخه انځور کړي، نو دې کې د لیکوال منافقت له ورایه ښـــکاري. په هر حال که اینده نسـل دا لیکنې ولولي، نو په خپل هېواد کې به له یو خونړي کال او په هغه کې د رامنځته شـــویو دردوونکو حوادثو له تصـــویر ســـره مخامخ شي او د دې حوادثو بېلابېل اړخونه او کرکټرونه به یې له نظره تېر شـــي. د لوی خدای(ج) دربار ته د دعا لاســـونه پورته کوو چې د راتلونکي لمریزې پېړۍ لومړی (۱٤۰۰) کـال د تېر کـال پـه شـــان بدمرغه تېر نه شـي او د نوې پېړۍ نوی کال له نویو هیلو او بریو سـره پیل شي.

د همدې ورځې په ارمان

محمد اسمعیل یون

۳۰/۱۲/۱۳۹۹

کابل– افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما د سختۍ ورځې یاره چېرته لاړې؟

**دا لیکنه د ۲۰۲۰م کال د اپریل پر (٦) مه، چې د ۱۳۹۹ل کال د وري له (١٦) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

ای زما ژبوره او زړوره وروره! ای د افغانیت او اسلامیت د لارې سرغندویه مبارزه! ولې داسې غلی او چوپ ولاړې، ولې دې نه څوک خبر کړل او نه دې تر چا خپل غږ ورسـاوه ؟ولې دې د ژوند په معرکه کې پر ما غږ و نه کړ؟ ته پر ځان ډاډه وې، تا ویل چې هر بار ته په خپله اوږه ورکوم، تا ویل چې د مرګ پر وخت هم چا ته زحمت نه ورکوم. پر ما خو چې به سـخته راغله، نو پر تا به مې غږ کړ چې وروره راوځه! لښـکر تیار کړه! نو تا به ویل درته تیار یم، که زما به لس وو، نو ستا به سل وو، که زما به سل وو، نو سـتا به زر وو، بیرغونه به وو، شـعارونه به وو، د افغانیت او اسلامیت ناره به وه، سـتا چغې به وې او زما د زړه تسـکین به و. زه څومره بـدمرغـه یم؛ هغـه ورور چې زه بـه یې پر اوږو ګرځولم، نن ما د هغه جنازې تـه اوږه ور نـه کړه. مـا د هغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنازې کټ پورته نه کړ. ما د هغه وروستی دیدن و نه کړ. ډېر بد مرغـه یم وروره! ډېر درتـه ســـر ټیټی یم، ډېر دې پوروړی یم وروره! یاد خو به دې وي چې د خپل ملي او اعتقادي هویت په



مظاهروکې به دې ویل چې زه به درنه مخکې شم او ته مې شـاته راځه، ته په وجود خوار یې او زه د خدای فضـل دی ښـه یم یوه مرمۍ او دوه مرمۍ رابـانـدې تـاثیر نـه کوي، کـه ګولۍ راځي نو پرېږده چې اول پر ما ولګي، خو چې ته رانه ژوبل نه شې، ته راته روغ پاتې شـې! ته به مې مخکې وې او زه به دې شـاته روان وم. ای زما پهلوانه وروره! ته بیا تر ما مخکې شــوې، ته لاړې خپل پور دې پرې کړ، د خدای دربار ته به په هســکه غاړه ولاړ یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هســـکه غرۍ به ځکه یې چې د خدای د دین او پر هغه د یو بې حده معتقد ملت د لارې زړور مبارز وې.**

**زما مخکښنــــه مبارزه وروره! مورډ هم درپســـې یو، خو کله چې درغلم، پوره درته ملامت یم، خو ګوره یوه ژمنه راسره وکړه چې هلته به مخ راڅخه نه اړوې همغســـې چې دې دلته په مظاهرو او مبارزو کې غاړه غړۍ راکوله، همغســـې هلته هم راتر غاړې وځه! د زړه له اخلاصه مې غبږ کې ونیسه! دواړه به په ګډه د خدای ج دربار ته لاړ شـــو، په زوره زوره به ورته وژاړو او ورته وبه وایو چې نور زمونږ پر مظلوم او پر تا مین ملت رحم وکړه او له دې اوږدې غمیرې یې په خپل رحم وکرم و ژغوره!**

**زما زړوره او ژبوره وروره پر مخه دې ژیړي ګلونه...**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دا ټول شموله حکومت څه مانا؟

**دا لیکنه د ۲۰۲۰م کال د اپریل پر (۱۲) مه، چې د ۱۳۹۹ل کال د وري له ( ۲۲) مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.**

د ډاکتر صیب عبدالله او ډاکتر صیب غني تر منځ د ولسمشرۍ په تېرو دوو ټاکنو کې ناندریو او جنجالونو بې مثاله ریکارډ ټینګ کړ، هغه بل ځل عبدالله او ټیم یې جنجال وکړ، نو ځکه یې د بهرنیو په مرسته، منځګړیتوب او فشار لږ تر لږه د حکومت نیمایي برخه راخپله کړه؛ په حاکمیت کې شریک شو، خو په مسولیت کې شریک نه و. هغه مهال ما او زما په شان ډېرو نورو افغانانو ډاکتر صیب غني ته چغې ووهلې چې ګډ حکومت مه جوړوه؛ دا به درته په پنځو کلونو کې د سر په کاسه کې اوبه در

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي. موږ ووېل چې موږ ته ددې ټلوالې ارواپوهنه معلومه ده چې دوی د ملاریا د ماشي په شان ډنډ شویو او ورستو اوبو کې ژوند کوي؛ دولتي حاکمیت د دوی د ژوند د بقا اصـــلي چاپېریال او



عامل دی؛ هر کله چې د دوی دا چاپېریال ختم شو، ژوند يې هم ختمېږي، خو هغه وخت زموږ خبره چا وانهورېده او د ډاکتر صیب غني پر شاوخوا د راټول شویو غوړه مالانو سپېروني خپل تاثیر وښنده؛ ډاکتر عبدالله او ټیم یې په حکومت کې شریک شو. اوس نو د عوامو په اصـــطلاح د هغه خوله په مزه شـــوې ده؛ جنجال وکړه او امتیاز تر لاســـه کړه. دوی اوس له همدغه ناعادلانه فورمله کار اخلي، د هېواد نازکو حالاتو ته په پام ســـره جمهور رییس له خوږې کوټې نیســـي او یو ځل بیا د تېرو تجربو قصـــیده پخوي. د ټولشـــموله حکومت عنوان وړاندې کوي، په

(c) ketabton.com: The Digital Library

داســـې حال کې چې دا عنوان نه علمي دی او نه عملي. علمي په دې نه دی چې حکومت یو محدود چوکاټ دی؛ یوه خدماتي اداره ده چې په هغې کې محدود کارپوه کســـان کار کوي او عام



ولس ته خدمات وړاندې کوي. دا په دې مانا نه ده چې هم دې ټول ولس په حکومت کې وي او هم دې بېرته پر ټول ولس یا خپل ځان حکومت وکړي. که دا ټول ولس او یا ســـیاســـیون د حکومت بنه خپله کړي، نو رعیت به یې څوک وي؟ ټاکنې خو وایي همدې ته چې یو یې له بل څخه په ډېر کم اکثریت هم وګټي بیا هم همغه ګټونکی اکثریت، حکومت جوړوي او دا بل یې د اپوزېشـن دریځ خپلوي. له عملي پلوه هم د ټولشـموله حکومت جوړېدل شوني نه دي. ډاکټر صیب عبدالله ته اوس تر ټولو ستره ننګونه همدا ده چې دا ټول شـموله کلمه یا شـعار به څنګه عملي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي؟ تر کومه ځایه چې تجربو ثابته کړې، ډاکتر عبدالله لومړی د نظار شـــورا په لومه کې بند دی، بیا ترې د جمعیت دایره را تاوه ده، بیا د ستم او تر هغه وروسته د یو شمېر نورو اقلیت محوره افکارو انګېزه، کوم پښتانه سیاستوال چې اوس له ډاکتر غني څخه د خفګان په وجه د ده پر محور راټول دي، هغه ټول سولیدلي او تاریخ تېري اشخاص دي چې نه کوم نوی سیاسي تولید لري او نه په خپل ولس کې کوم ارزښت، نو په داسې یو حالت کې څنګه شونې ده چې څوک دې د یو ایډیال ټولشموله حکومت نظریه عملي کړي؟ که ډاکتر عبدالله د ده په اصطلاح د کابینې اعلان ته زړه وکړي، نو مجبور دی یو دوه مهم وزراتونه خو د پنجشیر درې عزیزانو ته ډالۍ کړي، بیا به ځي جمعیت ته؛ د صلاح الدین رباني او نورو جمعیتیانو زړونه به خوښ ساتي، د کریم خلیلي، دوستم، محقق، نادري کورنۍ او نورو زړونه به هم خوشالوي، نو پښتنو او نورو قومونو ته به کې څه شی پاتې کېږي نه، بیا به نو ښه ټول شموله حکومت شي!؟ بل له عملي پلوه دا حکومت به له چا څخه د باور رایه اخلي؟ د غړو وزیرانو وزارتونه به یې چېرته وي؟ معاشونه به یې له کومې خزانې حواله کېږي؟ قضا، څارنوالۍ او پوځ ته به اړتیا ولري او که نه؟ داسې په سلګونو ټولشموله پوښتنې دي چې دې ډول خیالي حکومت ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

راجع کېدی شي. داسې فکر کېږي پر کومه ورځ چې ډاکتر عبدالله د دې ډول حکومت د اعلان هڅه وکړي پر همغه ورځ ده ته دا کار د سیاسي انتحار مانا لري او جمهور رییس غني ته یو بل طلایي چانس ګڼل کېږي؛ غني به پر ځای ناست وي او د عبدالله دا متزلزل ټیم، چې اوس د عبدالله په وجود کې د خپلو ګټو د خوندیتابه لپاره په تصنعي ډول پر ده راټول شوي، ټول سره وپاشل شي. دا ټیم ان اوس هم دومره متزلزل دی چې د ډاکتر غني حکومت یې اکثره غړي په ډېرو عادي څوکیو او وړو امتیازاتو هم راخپلولای شي. د دوی د هر یو نرخ معلوم دی، دوی د سیاست په سټاک مارکېټ کې څو ځله پلورل شوي او پېردل شوي دي، غني په نړیوال سټاک مارکېټ کې له پخوا نه بلد، د هغو کارکوونکی او ونډه وال و، اوس د کورني مارکېټ پر نرخ او نوا هم ښه بلد شو، نو ځکه خو د هر چا وزن او مقدار ورته معلوم دی، نو څومره چې عبدالله سرتمبګي کوي، وخت ضایع کوي، خپل ارزښت له لاسه ورکوي او خپل قیمت را ټیټوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یوه بهترینه کورنۍ د وبا په ناورین کې

دا لیکنه د ۲۰۲۰م کال د اپریل پر (۱٦) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د وري له ( ۲٦) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.

کله کله سـرې باندې غم دومره بار شـي چې نه پوهېږې په کومه کلمه او په څه ډول جمله ورته غبرګون وښيي.



پوره لس کـالـه کېږي چې بهترين پکتيـاوال مې د فکر او عمـل ملګرې دی، د یوه تحریک، د یو فکر او یو نظر د لارې لارویان یو. د تېرې لســیزې په بهیر کې به زموږ هېڅ داســې غونډه او لاریون نه وي تر سـره شـوي چې بهترین په کې خپله ونډه نه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لرلې. بهترين نو بهترين پکتياوال دی، هر وخت به يې راته ويل چې استاده يوه ورځ به را ســره کور کې مېلمه کېږې، ورونه مې دې هر وخت يادوي، ډېر پرې ګران يې؟ راته وايي چې استاد د ټولو پښتنو خدمت کوي او ته به د استاد خدمت کوې، نو استاده که ما خوشالوې او ورونه مو خوشالوې، نو ضرور به راسره يوه ورځ مېلمـه کېږې، بهترين پکتيـاوال ډنـډکی بـه درتـه تيـارکړم، مجلس به هم وکړو، ورونه به مې هم ډېر خوشـالـه شـي او زموږ دسيمې نور مشران به هم درته دعوت کړم .



ژمنه مو ور سره وکړه، نــږدې درې کــالــه وراندې يې کور تـه لاړو. د تـلـوېـزيـون ملګري مو هم ځـان ســره بوتلل، موږ ويل پـر ډنــډکــي او د پکتيـاوالو پر مېلمـه پالنې او نورو ګټورو دودونو به ځانګړی پروګرام هم جوړ کړو. د کابل زمانخان کلاکې يې کور و، ښـايسـتـه هوجره يې وه، د ښاغلي (بيدار ځاځي) په ګډون يې ګڼ شمېر مخور شـخصيتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم رابللي وو. ټول ورونه سره راټول وو، بهترين له خوښۍ نه په جامو کې نه ځايېده، ګرد تاوېده، مشر ورور يې او ډاکټر صيب به شـــپېه په شـــپېه همدا خبره کوله چې اســـتاده مورِ درته ډېر کم يو، مورِ په نورو کارونو کې مصـــروف يو، نو ځکه مو وخت پر وخت ســـتا پوښـــتنه نه ده کړې، خو بهترين څخه دې وخت پر وخت پوښتنه کوو، نور خو دې تلويزيون څخه ټول پروګرامونه تعقيبوو، خبرې دې لکه ملهم پر مورِ ښې لګي، مورِ خو نور ستا لاسنيوی نه شـــو کولای. خو زمورِ دا يو ورور (بهترين) مو ســـتا د فکر او مبارزې لپاره قربانۍ ته ايستلای، دا به تر مرګه در سره وي. هغه مجلس دومره خورِ و او ډوډۍ هم دومره خوندوره وه چې حد مو ورته نه شو ټاکلی، د خدای پامانۍ پر وخت ما ورته وويل چې زه خو دا ارزونه نه شـــم کولای چې ډوډۍ ډېره خوندوره وه که دا مجلس، دا دواړه دومره خونـــدور وو او دومره اخلاص او صـــميميت په کې پروت و چې تر ډېره وخته به زمورِ په ذهن کې خوندي وي .

نن چې مې په فيســبوک کې د خپل بهترين ملګري ســوې ســاندې واورېدې او د هغه د دوو شـــهيدو ورونو او شـــهيدې خور د شهادت له ويرلړي داستانه پوره خبر شوم، نو نور خو مې هيڅ په وس پوره نه و، له سترګو مې ســوې او تروې اوښــکې راغلې، ژر

(c) ketabton.com: The Digital Library

مې ټلېفون را واخيســـت، زړه مې درب درب کاوه چې زه به بهترين ســـره په کومه ژبه، په کومه لهجه خبرې کوم؟ څه ډول تسليت به ور کوم؟ دا پوښتنه به کوم چې د غبرګو وروڼو او خور بي بي جنازې تـه دې څنګـه اوږه ورکړه؟ دا خو ډېر بې رحمـه مرض دی، څومره بـه ترهوره وې، اخوا دې خوا بـه دې څومره کتلي وي، څومره به نهيلی شوې يې، څومره به دې اسماني ټکې تـه حيران دريـان ولاړ وې؟ څومره ملګري او خپلوان بـه دې سترګو ته ودرېدلي وي؟ پوهېږم ته خو ډېر زړور او ډېر ژبور يې، هر غم ته دې اوږه ور کولای شـــوه، خو هغه غم چې مدعي او طرف يې معلوم وي، نه داسې غم چې هېڅ ورسره نه شې کولای، و وايه ای زما بهترينه وروره، زه دې سترګو ته ودرېدلم او که نه؟ او دا ګيله خو به دې زړه کې نه وي ګرځېدلې چې ګوره زه د ده په هره مبارزه او هره ناره کې حاضـــر وم، خو چې نن زما پر کور ناورين دی او زما د نښـــتر نښـــترو وروڼو او بي بي خور جنازې پرتې دي، نه مې يار شـــته، نه مې اســـتاد او نه مې د ګډې مبارزې انډيوالان، چې راشي او په ګډه زما د وروڼو د جنازو بازو ته اوږه ورکړي. زه به چا ته غاړې وځم؟ ما به څوک پر شـــا وټپوي چې خير دې مور دې وروڼه يو درسره يو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ځو ځله مې تليفون ډايل کړ، خو د بهترين دواړه نومرې ګل وې، عيناً لکه د مړي، يا هم نيم ژواندي سړي تليفون او يا هم دداسې يوکس تليفون چې له خپل خواره ملګري ډېر ګيله من او مانيجن وي او د هغه تليفون ته هېڅ ځواب نه ورکوي، نو زما د بهترين ورور تليفون هم همداسې چوپ او بې ځوابه و.**

**هو وروره مونږ درته خجالته يو، مونږ خداى همدې ورځې ته ساتلي يو، چې هم مو ښه بې وسه کړي او هم ښه بې کسه، نه پوهېږو چې په دې کې به د خداى څه حکمت وي، خو خداى لوى حکيم او زيات مهربانه دى، تاسو ته به د دې ستر غم د زغم استقامت او عوض درکړي، خو غم نه به ګيله نه کړې، هغه شرم نه لري:**

**که غم له غمه شرمېدلى**

**پر ما به نه راتلل انبار انبار غمونه**

**نو بهترينه وروره ما و ښښه! زه انسان يمه نيمګړى، هم بې وسه هم بې کسه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د یو خوشال ملګري په یاد

| |
|---|
| **دا لیکنه د ۲۰۲۰ م کال د اپریل پر (۲۰) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د وري له (۳۰) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.** |

عمر د الوتې مرغۍ په شان دی، چې دویم ځل دې بېرته لاس ته نه راځي.دا تصویر له نن څخه (۳۳) کاله وړاندې اخیستل شوی دی. په دې انځور کې یو زه یم او بل زما د فکر او مبارزې د لارې یو مخکښ ملګری (اختر خوشال).



اختر خوشال د پښتونخوا عوامي پارټۍ یو فعال او د پښتون سټوډنټس فدرېشن یو مخکښ غړی و، خوشال بابا لېسه کې مو ډېر خوږ وخت سره تېر کړی، ماته یې د مشر ورور حیثیت درلود، زه به یې هېڅکله

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرېشـانۍ ته نه پرېښــودم، ډېر ژبور، زړور، مېلمه پال ،ازاد فکره او خراباتي انسان او د لوی افغانستان د جوړونې اورنی مینوال او مبارز و، ښکلې شعري طبع یې هم لرله. کله چې کابل کې تنظیمي جنګونه پیل شول، نو دی چکوسلواکیا ته د زده کړو لپاره لاړ او مونږ له کورنیو مهاجرتونو ســـره مخ شـــولو. تر لس کلن غیابت وروســته مو یو ځل بیا پېښــور کې ســره وکتل، ســخت خوند یې وکړ! دوو ورکو ورونو یو بل سره پیدا کړل، د زړه خواله مو سره وکړل او تېرې هېرې خاطرې او لوی ارمانونه مو سـره بیان کړل. څه موده په دې کې تېره شـــوه، یو وخت خبر شـــوم چې اختر خوشـال له دې نړۍ څخه خپل سـفر پیل کړی دی، ســخت یې و ځورېدلم، هېڅوک نه و چې ور غاړې وتی وای او د خپل ملګري ویر مې ور سره سپک کړی وای، یوازې ځان سره مې غلي غلي وژړل. نن چې مې پـه کور کې د خپـل تېر عمر ځینې انځورونـه کتل، نو پر دې تصویر مې سترګې ولګېدې، یو ځل بیا مې سترګو کې اوښــکې تاوې شــوې، خپل زړور او مبارز ورور مې را په یاد شـــو، کاشـــکې ژوندی وای چې اوس یې په لر او بر کې پښـــتانه ځوانان لیدلي وای چې همدا وایي : (( لر او بر یو افغان)). همدا د ده د زړه ارمان و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بېوزلو سره مرسته پټه وشي که ښکاره؟

**دا ليکنه د ۲۰۲۰ م کال د اپريل پر (۲۳) مه، چې د ۱۳۹۹ل کال د غويي له (۲) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

دا يوه عمومي پوښتنه ده چې د ټولو په ذهن کې ګرځي را ګرځي، ډېرې تبصـــرې پرې شـــوي او ډېرې به پرې نورې هم کېږي. د اسـلامي لارښـــوونو له مخې بېوزلو ته مرســـتې بايد په دې ډول ورســـول شـــي چې يو لاس له بل څخه خبر نه شـــي. په دې



لارښـــوونه کې د بېوســـه کس پر ژوند ســـربېره د هغه د ټولنيز شخصيت دخونديتابه اصل هم مطرح دی، خو که اوسنيو عملي شـرايطو ته راشـو، کله کله د اسـلام د دې سـتر اخلاقي ايډيال د دوارو برخو تطبيق د ځينو مرستندويانو له وسه بهر شي. په تېره بيا د ډله ييزو او بېړنيو مرستو په وېش کې. موږ له بېوسو سره د لاســـنيوي په برخه کې يو څه تجربه لرو: که چېرته د چا بېوزلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

څرګنده نه شي، نو هغه ته به مرسته څنګه پیدا کوې؟ که بېوسي څرګندوې د بېکسه شخص انساني شخصیت په کې ټپي کېږي، که مرسته ښکاره کوې وایي تظاهر کېږي او که نه یې ښکاره کوې، نو مرستندوی به څنګه خبر شي چې مرسته یې مطلوب مستحق ته ورسېده؟ د دې تر څنګ نور مرستندویان به څنګه هڅوې چې د مرستو لاره تعقیب کړي؟ تر ټولو ستره ستونزه لا بله په کې دا ده چې د بې مســـولیته منتقدینو ځواب به څوک وایي؟ دوی نه



بېوســـه دي، نه وســـوال، دوی یوازې نیوکه کوي؛ که یو ملي پانګوال پر بېوسو مرسته ووېشله او خبر یې په رسنیو کې خپور شــو، نو هم دوی نیوکه کوي چې ولې د تظاهر لپاره مرســـتې وېشـي، ان سـیاسـي ملحوظات هم ور پورې غوټه کړي او که یو پانګوال له رسنیو پټ هر وخت له خلکو سره مرستې وکړي، خو څوک ترې خبر نه شي، نو نقاد بیا هم خوله وازه کړي چې وګوره کنه د دې مظلوم ملت په ســـر یې پانګه پیدا کړه، وپرســـېده خو اوس چې ملت د ده مرســـتې ته اړتیا لري، ځان یې غلی کړی، خدای دې د دې پانګې سرته کېنوه !

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډه دا چې په هېڅ ډول د نیوکې فضـــا له منځه نه ځي. مونږ چې په دې برخه کې یو څه تجربه لرو، نو له بېلابېلو لارو مو کار اخیستی دی: یوه هغه لاره ده چې بېوسه کس مونږ تشخیص کړي او د امکاناتو خاوند ته مو ښـــودلی،هغه خپله ورغلی مرســـته یې ورســـره کړې، هېڅوک ان مونږ یې هم پر څومره والي نه یو خبر



شوي، بله هغه ډول مرسته ده چې زمونږ پر وړاندې یې خلکو ته ورکړې او خبر یې نشـــر شـــوی دی او بله بیا هغه مرســـته ده چې بهر مېشـــتو او کور مېشـــتو هېوادوالو له لرې ځایونو را لېږلې ده، کله مو ورته خبر نشـــر کړی او کله مو د هغوی په غوښـــتنه خبر نه دی خپور کړی، دا ډول مرســـتې هم شـــوي چې مرســـتوال ویلي مهمه نه ده چې خبر یې نشـــر شـــي، خو مونږ د رڼاوي او د نورو مرســـتندویانو د هڅونې په خاطر د وېش د څرنګوالي خبر نشـــر کړی دی، ځینو وختونو کې خپلـه بېوزلو هېوادوالو ډېر ټینګـار کړی چې زمونږ د بېوســـې حالت منعکس کړئ چې مونږ ســـره دولت، خیریه ټولنې او پانګوال هېوادوال مرســـته وکړي. په هر ترتیب په دې باب ډېرې خبرې کېدی شـــي، خو اصـــلي هدف دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی چې څرنګه بېوسو ته مرسته ورسول شي، که دا د اعلان له لارې وي، لکه څنګه چې همدا اوس ګڼ شمېر هېواد ونه یو بل سره د مرستې اعلان کوي او یا خیریه ټولنې خپلې مرستې اعلانوي، یا هم له کومې بلې لارې، لکه ځینې پانګوال هېوادوال او یا هم نور څوک چې په پټه د مظلومو لاسنیوی کوي. اوس زموږ هېوادوال مرستو ته اړتیا لري اوس باید د دې مرستو پر وړاندې خپل ذهني شرایط د یو خنډ اوځنډ په توګه مطرح نه کړو،څوک چې په پټه مرسته رسولای شي، په پټه دې ورسوي او څوک یې چې په ښکاره غواړي ښکاره دې ورسوي، چې نورو کې هم د مرستې ولوله پیاوړې شي.

نن به درته د مرستو په لړ کې د همدې ډول مرستو یادونه وکړم: مېرمن مې( ارین یون ) راته د یکشنبې پر ورځ وویل چې د خپل خیرات او زکات پیسې مې را ټولې کړي، خو داکمې دي که ته دې خپلو ملګرو ته ووایې جې هغوی هم یو څه مرسته وکړي، خلک غربت او کرونا ځپلي، نو که تر روژې وړاندې ورته یو څه برابر کړم ښه به شي، ټول به په ثواب کې شریک شو، ما ویل حاجي صیب فضل الرحمن چې همېشه یې بېوسو سره مرسته کړې د هغه پنځه سوه ډالره راسره شته، دې وویل نورو دوستانو ته هم ووایه، وخت کم و یوه ورځ وخت و، ژر په کار شو، پنځه زره افغانۍ حورېي اعلم خور، پنځوس بوتله پنځه لیتره غوړي حاجي صیب خان محمد باز منګل، دوه نیم سوه کیلو چای

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاجی صیب بريالي، څلورلکه افغانۍ زما يو بل ملګري چې ويل يې هېڅکله به زما نوم نه يادوې او اوه (۷) لکه افغانۍ زما د مېرمنې خپلې پيسې، دا ټولې يې سره را ټولې کړې، د دوشنبې پر ورځ يې ننګرهار ته حرکت وکړ، د سه شنبه ورځ پر سهار يې د کوز کونړ ولسوالۍ پر درې سوه بېوزلو کورنيو، د چهارشنبې پر سهار يې د اچين ولسوالۍ پر دوه نيم سوو بېوزلو کورنيو او د پنجشنبې پر ورځ يې د بټي کوټ ولسوالۍ پر دوه سوه او د جلال اباد ښار پر يو نيم سل بېوسو کورنيو لومړني اړتيا وړ خوراکي توکي ووېشل، نن پنجشنبه څه کم پنځه بجې يې د کابل پر لوري حرکت وکړ او دلته يې اولادونه ورته سترګې پر لار دي.
د يادونې وړ بولم دکومو دوستانو نومونه چې ما يادکړل دوی او زمور ګڼ شمېر نورو دوستانو تل له بېوزلو هېوادوالو سره ډېره زياته مرسته کړې او هېڅکله يې د خپل نوم د يادونې غوښتنه نه ده کړې ،بلکې مخالفت يې هم کړی، خو ما کله کله د هغوی د نومونو يادونه کړې او زياتې مرستې يې همداسې بې نومه وېشل شوې دي .
په هېوادکې د فقر د بېخي ختمېدو په هيله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نورستان د افغانستان ملي پارک

## ( جمهور رییس ته یو وړاندیز)

**دا لیکنه د ۲۰۲۰ م کال د اپریل پر (۲۹) مه، چې د ۱۳۹۹ل کال د غويي له (۸) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

څلوېښت کلنې جګړې د افغانستان ځنګلونو او ښکلي طبیعي چاپېریال ته سخت زیانونه اړولي دي. د نورستان ولایت ځنګلونو ته هم ډېر زیان اووښتی، خو بیا هم غرونه لا هم پر خپل خدايي غرور ولاړ دي او زیاته ځنګلیزه برخه یې تر دې دمه روغه پاتې ده.



نورستان دومره طبیعي ښکلا لري چې د ځمکې پر مخ د جنت تمثیل او ننداره وړاندې کولای شي. اوس د ټول هېواد په کچه داسې لویه سیمه نه شته چې ټول هېوادوال دې هلته د تفریح

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره لاړ شـــي، خو نورســـتان داســـې يوه ســـيمه ده چې د ټول افغانســـتان د يو تفريحي پارک حيثيت لري، که پر دې ســـيمه لږ کار هم وشي د افغانستان لپاره به د يو ستر ملي او تفريحي پارک بڼه خپله کړي.

ځکـه خو جمهور رييس تـه وړانـديز کوو، چې دې ســـيمې تـه ځانګړې او جدي پاملرنه وکړي.




د جمهور رييس ډاکتر محمد اشـــرف غنی ســـياســـي تګلوری او ټولنيز چلند به د چا خوښـــېږي او کنه؟ دا يو بېل بحث دی، خو لکه څنګه چې دی خپله وايي: (( هېواد سره لېونی مينه لرم))، دا خبره له حقيقته لرې نه ده. د دارالامان، پغمان، جبل الســـراج، چهلســـتون، تاجبېګ مانيو، عيدګاه جومات او ګڼ شـــمېر نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاریخي ځایونو بیا رغونه یې د هېواد له ابادۍ ســـره د مینې ځرګندې بېلګې دي.

جمهور رییس غني خو وايي چې زه له هېواد او په تېره بیا د هېواد له ابادۍ ســـره لېونۍ مینه لرم، خو زه بیا وایم چې زه د هېواد له ابادۍ او د ولس له سوکالۍ سره د عبادت تر سرحده مینه لرم، نو ځکه خو د همدغې شـــریکې مینې پر اســـاس جمهور رییس ته وړاندیز کوم چې نورســـتان ته ځانګړې پاملرنه وکړي؛ د یو ځانګړي فرمان له لارې دې نورســـتان د افغانســـتان د یو ملي



پارک په توګه منظور کړي.ســـر له همدا اوســـه دې د دولت ټول اړوند ارګانونه راټول او دنده دې ورته وســـپاري چې ژر تر ژره دې د نورســـتان د ابادۍ او پرمختګ لپاره یو پراخ ماســـټر پلان جوړ کړي. په دې ماسټر پلان کې باید د نورستان د لویو لارو او برېښـــنا بندونو جوړول، د ځنګلونو ســـاتنه، پالنه او پراختیا، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

طبیعي چاپېریال خوندیتوب،د ورو هوایي ډګرونو جوړول، د مالدارۍ وده، د لبنیاتو تولیدات او نور پرمختیایي پلانونه شامل وي.سر له اوسه باید د نورستان ټولې لارې داسې کنټرول شي چې له نورستان څخه د سترګو صلاحي لپاره هم لرګی بهر نه شي.د ځنګلونو د غوڅولو په برخه کې باید داسې سزا و ټاکل شي چې د هېواد د جزا په قانون کې تر هغې بله سخته سزا نه وي.جمهور رییس باید تر ماسټر پلان وروسته په نورستان کې د پانګونې او پراختیا لپاره څو کورني، سیمه ییز او نړیوال سیمینارونه جوړ کړي. نړیوال او بهرمېشتي افغانان باید وهڅول شي چې نورستان کې ځانګړې پانګونه وکړي.نورستان کې باید داسې کورونه او پارکونه جوړ شي چې یوازې تفریحي بڼه ولري او چاپېریال ته زیان پېښ نه کړي.د هر ولایت لپاره باید د همغه ولایت په نامه د تفریحي پارک لپاره یوه ځانګړې ساحه بېله او د همغه اړوند ولایت په بودجه دې ودانه شي.د تفریح پر مهال به دا سیمه د همغه ولایت د خلکو لپاره د لومړي تمځي او استوګنځي بڼه خپله کړي.

هر بهرمېشتی او کورمېشتی افغان چې وس لري باید دې ته وهڅول شي چې له سیمې او نړۍ څخه د تفریحي کورونو، هوټلونو او پارکونو لپاره ښکلې نقشې راوړي او نورستان کې دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرېږ ځان ته ښــکلي ځايونه جوړ کړي. بانکونه او هوټلونه بايد د خپلو ځانګو جوړولو ته وهڅول شــي. نورســتان د دې ظرفيت لري چې يوازې د منرالي اوبو د توليد لســګونه فابريکې ولري. هر څوک چې په هره برخه کې پانګونه کوي بايد د حکومت له خوا ورته ځمکه په وړيا ډول ورکړل شــي او تر يو ټاکلي وخته له هر ډول ماليې څخه معاف شي.نورستان کې بايد داسې فابريکو او کارونو ته اجازه ور نه کړای شي چې د سيمې ښکلي چاپېريال، هوا او فضــا ته زيان ورســوي. دولت بايد نورســتان د يونســکو سازمان د تاريخي او طبيعي ميراثونو په نوملړ کې شامل کړي.لنډه دا چې د نورستان لپاره دا او دېته ورته نور کارونه کولای شي دا سيمه د ځمکې پر مخ د يو ممثل جنت په توګه بدله کړي. زه خو د همدغســې يو خيالي او بيا عملي جنت لپاره دعاګانې کوم، خدای(ج) دې داســې وخت راولي چې زموږ دا دعاګانې قبولې شــي او زه عملاً د خپل جنت وطن په غېږ کې خپل ځان او ټول هېوادوال ووينم. د همداسې يوې ورځې د ليدو په هيله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ثبات او همپالنې ټیم د طرحې پر وړاندې ځوابي طرحه

**دا لیکنه د ۲۰۲۰م کال د مې پر (لومړۍ)، چې د ۱۳۹۹ل کال د غویي میاشتې له (۱۲) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

د ډاکتر اشــرف غني غټه نیمګړتیا دا ده چې پر ځان بې ځایه غره دی، درباري غوړه مالان ترې راتاو دي، له هر چا څخه طرحه غواړي، خو خپله بیا د یوې جدي او خطرناکې سیاسي موضوع پر وړاندې عملي طرحه نه لري.د ټیم جوړونې ظرفیت هم نه




لري؛ یوازې دولتي امتیاز د ده پر محور د نامتجانســـو افرادو د راټولېدو سبب شوی دی، د ملي افرادو برخه پهکې ډېره خواره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا علت دی چې د ده حکومتي او سیاسي سیالان، دی وخت پر وخت له سختو ننګونو سره مخامخوي.
د ده د مقابل لوري د ټلوالې (نظار شورا) ماهیت او خصوصیت بیا دا دی چې د پرله پسې او لایتناهي امتیازاتو غوښتنه کوي او د قدرت غوښتنې غریزه یې هېڅکله د خړوب برید ته نه رسېږي.
دې ډلې د تېرګډوله حکومت په تعقیب دا دی یو ځل بیا له




جمهور رییس غني څخه د داسې ډول واک و ځواک د ورکړې غوښتنه کړې چې د نړۍ په هېڅ قانون کې یې ساری او مجوز نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شـته. یوازې د لومړۍ مېرمنې پوسـت یې ځان ته نه دی منسـوب کړی، نور یې نو جمهور رییس غني تـه څه نه دي پرې ایښـــــي. ډاکتر عبدالله او ټیم یې داســې صــلاحیتونه غوښــتي چې نه په کې خدای ج ته، نه د هغه رســـول(ص) ته، نه جمهور رییس ته، نه اســـاســـي قانون ته، نه ملي شـــورا ته او نه هم عام ولس ته څه مسولیت ولري.

د دې ډول نامعیاره او لایتناهي غوښتنو یو علت دا دی چې دوی د کرزي صـــیب د واکمنۍ له پیله پر دې ډول امتیازونو روږدي شــوي دي.بل علت یې دا دی چې اوس د غني په مشـــرۍ مقابل لوری له دوی څخه هېڅ ډول متضـاده غوښـتنه نه لري؛ یوازې د دوی پر غوښــتنې غور کوي، نو دوی ځکه د خپلو غوښــتنو کچه پورته کوي، چې ځه خو که په دې نیولیک کې هر څومره غوښتنې ومنـل شـــي بیـا هم دوی پـه ګټـه کې راځي.د دې ډول نـاقـانونـه غوښــتنو د مهار لپاره یوه لاره دا ده چې د دې ډول غوښــتنو پر وړاندې متضــادې، خو قانوني غوښــتنې کېښــودل شي. نو که غني او نا متجانس ټیم یې غواړي د دوی غوښــتنې کنټرول او دوی پر خپل ځای کېنوي، نو دغه لاندې او دې ته ورته نورې ولســـي او قانوني غوښتې دې ور وړاندې کړي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

–عبدالله باید د خپلې پنځه کلنۍ کاري دورې راپور ولس ته وړاندې کړي: څومره لګښت او څومره خدمت؟

–عبدالله او ټیم یې باید د اضافي دولتي لګښتونو له امله څارنوالۍ ته ور وپېژندل شي.

–د جمیعت، وحدت، نطار شـــورا او د دوی په ټلواله کې ټول شامل جنګسالاران باید محاکمه شي.

–پنجشـــېر، دایکندي او نور هغه اداري واحدونه چې د ســیاســي فشــار په نتیجه کې رامنځته شــوي، باید له قانون ســره ســم بېرته پخواني حالت ته لاړ شي.

–د محمد قســیم فهیم د مارشــالۍ رتبه او نورې هغه ټولې پوځي رتبې چې په تېرو شلو کلونو کې د مقاومت په نامه په ناقانونه ډول د سیاسـي زور او فشـار له امله تنظیمي افرادو ته ور کړل شـوي، باید لغوه شي.

–د جهاد او مقاومت په نامه ناقانونه امتیازات باید ټول لغوه شــي، هېچاته باید د دې اجازه ور نه کړای شــي چې ځان ته خپله عناوین او القاب غوره کړي او پر هغو بیا نامشـــروع امتیازات تر لاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

–د برهان الدين رباني د نيمواکه واکمنۍ پر مهال ټول رامنځته شــوي اداري واحدونه بايد بېرته خپل پخواني حالت ته وګرځول شي.

–د تنظيمي جنګســـــالارانو د قبرونو او تلينغونـډو لپاره چې د بيت المال له خزانې څخه کوم لګښت شوی، د هغو پوښتنه بايد وشـــــي، عاملين يې څارنوالۍ ته ور پېژندل شـــــي او اينده کې په بشپړه توګه د دا ډول لګښتونو مخه ونيول شي.

–تنظيمي او کورنۍ جنګونـه اتلان نـه لري، ولس هغوی تـه د جنګســـالارانو په ســـترګه ګوري، د احمد شـــاه مســـعود او نورو ډلمشـــرانو په باب دې قضـــاوت د عام ولس نظر غوښـــتنې ته پرېښودل شي.

–د مقاومت په نامه کوم زماني بهير چې تېرو شـــلو کلونو کې د امتيـاز غوښـــتلو لپاره مطرح کېده، دا د هېواد په تاريخ کې يو بـدمرغه دوران دی، بـايد د همـدغه بدمرغه دوران په توګه ياد شي.

–د ټولو تنظيمي مشرانو او د هغوی د اړوندو قومندانانو ناقانونه پانګه دې ضبط او د بيت المال برخه دې شي.

–د ټولو هغو جنګســالارانو او حکومتي چارواکو هغه نامشــروع پانګه دې بېرته د بيت المال برخه شـــي، چې په تېرو شـــلو کلونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې یې د سیاسي او دولتي زور په ناوړه کارونې سره تر لاسه کړې ده.

–د ټولو هغو اشخاصو سیاسي پاسپورتونه دې لغوه شي، چې په تېرو دوو لسیزو کې یې په ناقانونه توګه تر لاسه کړي دي.

–هر چا چې په تېرو شلو کلونو کې له دولتي مقامونو څخه د سیمې، قوم او سمت لپاره ناوړه ګټه اخیستې، باید تشخیص او څارنوالۍ ته ور وپېژندل شي.

–هغه ګوندونه چې قومي، ژبنۍ، مذهبي او سمتي اجنډا او محتوا لري باید له قانون سره سم ژر تر ژره لغوه شي.

–په هېواد کې د ایران په پیسو جوړ د (خاتم النبین) مرکز، رسنۍ او نور تاسیسات دې د حکومت او بیت المال برخه شي.

–ټولې هغه رسنۍ او نور ارګانونه چې له بهرنیو سرچینو څخه په ناقانونه ډول خړوبېږي، باید وتړل شي، وسایل او جایدادونه یې باید د بیت المال برخه شي.

–د کابل ښار د ورانۍ ټول مسولین او عاملین باید په ګوته او له سیاسي فعالیتونو بې برخې شي.

–د ټولو جنګي مجرمینو، غټو غلو، اختطافګرو، قاچاق کوونکو او نورو ډول ډول جنایتکارانو لېست باید ترتیب او د رسنیو له لارې خپور شي، ممنوع الخروج دې شي او له نړیوالو دې هم وغوښتل شي چې دې ډول اشخاصو ته د ورتګ اجازه ور نه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**–له نړیوالو باید د ټولو هغو افغانانو نوملړ تر لاسه شي چې په ناقانونه ډول یې د بیت المال پانګه غلا کړې او بهر ته یې لیږدولې ده.**

**–ټولې امنیتي کمپنۍ باید وځېړل شي او له هغوی څخه دې، له هغوی سره د شتو او پټو وسلو پوښتنه وشي.**

**–د سولې پروسه باید په بشپړ ډول د جنګسالارانو له منګولو را بهر شي او د تېرو ترخو تجربو د تکرار مخه باید ونیول شي.**

**–هر څوک چې د اساسي قانون خلاف حرکت کوي، باید د همدې اساسي قانون له محتوا سره سمه سزا پرې پلې شي.**

**دا او دېته ورته نورې غوښتنې کولای شي د ثبات او همپالنې (حقیقت کې نظار شورا) غوښتنې تر یوه بریده مهار کړي. جمهور رییس ډاکتر صیب غني ته مو مشوره همدا ده چې پښې ټینګې کړه، د نظار شورا یوه غوښتنه هم قانوني نه ده، دا اوسنۍ غوښتنې یې دومره خطرناکې دي چې که دې ور سره ومنلې، نو نه تا ته څه حیثیت او قدرت پاتې کېږي او نه افغانستان ته. د ثبات او همپالنې ټیم دا طرحه د ګندمک تر معاهدې هم ډېره خطرناکه ده او ته به په کې تر امیر محمد یعقوب خانه هم زیات د تاریخ د تورې څېرې بڼه خپله کړې.موږ خپله غاړه خلاصه کړه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اتل وروستی ارمان

**دا لیکنه د ۲۰۲۰م کال د مې پر (۲) یمه، چې د ۱۳۹۹ل کال د غويي میاشتې له (۱۳) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

یو ناڅاپه دفتر ته راننوت؛ او یون صیب! سترګې مې روښانه، د زړه له اخلاصه یې غاړه راکړه، لومړی ځل و چې عارف افغان مې



ولیده، خو داسې نه ښکارېده چې دا اول ځل وي، لکه له کلونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ورســـره ورپېژنم، خوله يې له خندا ډکه وه، ما ورته وويل د علي وزير مينه مې دربانديې ماته شـوه، په لاسـونو يې زما لاسـونه کېکارل، وينه يې ګرمه وه عيناً لکه د ده خپله ولوله. ښـه بنداړ مو وکړ، د پښتون ژغورنې غورځنګ د ملګرو احوال مې واخيست، د لر او بر افغان وطن پر نن او راتلونکي مو د زړه خواله ســـره وکړل، بيا مې ورته وويل چې کابل ته د پښتون ژغورنې غورځنګ ملګري را روان دي، څنګه دې خوښـــه ده چې هغوی ته يو غټه ولسـي غونډه ونيسـو؟ تاسـې به هم حضـور ولرئ، ده ويل بېخي مې خوښـه ده، خو فکر نه کوم د پاکسـتان حکومت يې په اسـانۍ پرېږدي، ما وويل زه هم دا فکر کوم. بيا مې ده ته وويل څه خو که د پي ټي ايم مشـران ملګري راغلل، هغو ته به بله غونډه جوړه کړو اوس به موږ او تاسې خپل مجلس او د زړه خواله سره وکړو. ده وويل بېخي مې خوښـه ده، سبا نه بل سبا مې وخت وټاکه، دا مې هم ورتـه ويـل، دا غونـډه خو بـه وکړو، خو ګوره چې د پاکستان حکومت درته څه مشکل پيدا نه کړي؟ ده وويل، زه لس ورځې په کور کې يم او مياشـتې مياشـتې په زندان کې، زندان اوس زما لپاره داسې دی، لکه تبليغانو ته د تبليغ دوره؛ دوی چې تبليغ ته لاړ نه شـي زړه يې طاقت نه کوي، زموږ ټولې کورنۍ په همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مبارزه کې ژوند تېر کړی، که زه لږ شان شاته ته شم، نو هغه تېرو مشرانو ته به څه وایم؟ اوس مې هم یوه ګرده نه شته، خو پنجابي ته ځان کمزوری نه ښـیم، اسـتاده ورځه پرې. مازیګر مهال مې ورته وویل چې غونډه سبا نه بل سبا ته نه کوو، سبا یې کوو، ما ویل دلته هم حالات داسې دي چې تر بل سبا کومه زړه بوږنوونکې حادثه و نه شي بیا به زموږ غونډه پاتې شي، ده وویل څه چې ستا خوښه وي، پر سبا مو ژوندون ټلوېزیون کې ورته غونډه جوړه کړه، سړی داسې وغږېده، لکه یو پوخ مقرر، د خپل زړه ډېرې خبرې یې وکړې، هره خبره یې پر ناستو کسانو داسې لګېده لکه ملهم، د غونډې ګډونوالو عارف خان وزیر ډېر زیات وستایه، د عزت لونګۍ یې ور په سر کړه، کله چې غونډه خلاصه شوه بیا خپل دفتر کې کېناستو، ما ورته وویل چې خبرې خو ټولې ښې وې، خو که ستا اجازه وي د حالاتو تقاضا دا ده چې ستا یو څه خبرې سانسور کړو، ځکه دا خبرې کېدی شي ستا ژوند ته خطر پېښ کړي، ده وویل نه یون صیب احتیاط کوه! زما خبرې کټ نه کړې؛ نر په یوه ورځ پیدا او فناه دی، داسې نه ده چې زه دا خبرې وکړم ما ته به خطر وي او که ویې نه کړم، نو خطر به نه وي.د (ای ایس ای ) چې هر چېرته پر ما لاس بر شي ما ژوندی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه پرېږدي، دا چې خبر شي افغانستان ته تللی يم، تا سره مې کتلي او عکس مې در سره اخيستی او نورو مشرانو سره مې کتلي، نو پر زړه به يې تښاکې وخېږي تښاکې. ما خو غير له هغې هم ژوندی نه پرېږدي خوکوم لوی ارمان چې ما درلود هغه پوره شـــو؛ بې وېزې خپـل کور تـه راغلم، کلـه چې دې خوا راتلم، نو هلتـه يو ملېشـه راته رابرګ شـو او را غږ يې کړ چې چېرې ځې؟ ما ويل ته څه پنجابی ســـپی يې، ځم د خپل پلار وطن ته، چې پرې ور منډه مې کړه، نو دی راڅخه وتښــتېد، محســن داوړ او علي وزير که په وېزه راځي هغوی خو څه ســـياســـي مجبورياني لري، زه خو يو قومي او ولســـي ســـړی يم. دا مې د پلار نيکه وطن دی په وېزه ولې راشــم؟ زما تخلص افغان دی، ما خلکو ته ويلي چې زه وزير نه يم، زه افغان يم، ما ته به عارف افغان وايې، نه عارف وزير، اوس چې دا څو ورځې خپل پلرني وطن کې خلاصــې تنې کړځم، نو د زړه ارمان مې پوره شو، دا زما د زړه ارمان و چې زه د خپل پلار نيکه وطن ته لاړ شم او داسې په کې ارتې تنې وګرځم، اوس نو که مړ هم شــم، ارمان مې پوره شــوی، د لوی افغانســـتان د جوړولو ارمان به نور راپســـې تعقيبوي کنه. دا اوس چې زه بېرته لاړ شم، نوکېدی شي راساً زندان ته لاړ شم او يا هم څو ورځې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته زندان ته لاړ شم، زه اوس زندان سره داسې عادت شوی یم، لکه یو تبلیغي چې پر تبلیغ روږدی شوی وي.

د عارف افغان ټولې وړاندوینې ربښــتیا شــوې، هغه څه موده وړاندې یو ځل بیا زنداني شـــو، کله چې له زندانه را ووت، نو د ظالم دښمن په ګولیو وویشتل شو او د سختو ټپونو له امله د تل لپاره له موږه جلا شو، نور به نه هغه عارف وزیر وي، نه به د هغه جګه شــمله وي، نه د هغه شــخ بریتونه، نه هغه هســک ســر او نه هغه مغرور پکول. عارف ورور مې لاړ، عارف ورور مې ســـیند یووړ، هغه خو دلته په غونډه کې زما لاسونه جګ کړل، ده به زړه کې ویل چې دا لاســونه به یو وخت زما ځغورنې ته را ورســېږي، خو کله چې پر هغه د مرمیو باران وو، زما لاســـونه لنډ وو، زما لاســـونه مړاوي وو، کله چې د هغه له رګونو وینه روانه وه، زما وینه بېوسه وه، هغه ته و نه رسېدله، د هغه رګونه بې روحه شول .

ای زمـا متهوره، بریتوره او اندامـوره وروره! تـه خو د دردونو پـه مقابل کې کې ســـخت مقاوم وې، خو دا ځل لکه چې دښـــمن د زهرو په ګولیو ویشــتلی وې، څومره به په وجود تاو راتاو شــوی یې؟ څوک به دې ســترګو ته ودرېدلي وي؟ خپل ورونه، عزیران، د مبــارزې ملګري؟ ای زمـا مبــارزه وروره! تـه خو د ګیلې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مايوسۍ سرې نه وې، د مايوسۍ دا خبره خو به دې زړه کې نه وي ګرځېدلي چې :**

**پربېږدئ چې خړ سېلاب مې يوسي**

**په لامبوزن جانان مې ډېره نازېدمه**

**وروره پر مخه دې ژېړي ګلونه، ګيله دې حق ده، خو ګوره چې هلته دې ليدو ته درغلم مخ راڅخه وانړوې، هماغسې غېږه به را کوې چې پر لومړي ځل دې راکړې وه، تندى دې ښکلوم زما مبارزه وروره...**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# طالبانو سره جګړه وشي که سوله؟

**دا لیکنه د ۲۰۲۰م کال د مې پر (٦) مه چې د ۱۳۹۹ل کال د غويي میاشتې له (۱۷) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

سولې بحث چې کېږي باید د افرادو، ګوندونو، ډلو ټپلو تر تعریفونو، لیدلوریو او ګټو پورته مطالعه او وڅېړل شي. سوله زموږ پرون ضرورت هم و، د نن هم دی او د سبا به هم وي، خو داسې ډلې شته چې نه یې پرون سوله غوښتله، نه یې نن



غوارې او نه به یې هم سبا ته وغواړي، نو ځکه خو د سولې په باب د عام ولس او جګړه مارو ډلو تر منځ د نظر او عمل اختلاف موجود دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس راځو په افغانســـتان کې د جګړې د ګټنې څرنګوالي ته :چا، چېرې او څنګه جګړه ګټلې ده؟

د افغانســـتان په تاریخ کې د جګړې عمومي قاعده او فورمول دا دی چې تقریبـا" ټولې هغـه جګړې افغانـانو ګټلې چې د دین او مذهب په نامه یې کړې دي .د مرهټه وو، انګرېزانو، شـوروي او اوس د امریکې خلاف یې جنګونه غوره مثالونه دي او نږدې ټول هغه جنګونه یې بایلولي چې دوی له هممذهبو مسـلمانانو سـره کړي دي. څرګندې بېلګې یې د روښـان، خوشـال، ایمل خان او نور تحریکونه دي چې د همدینه مغلو پر وړاندې جنګېدل .

اوس طالبان د مذهبي جنګ پر دریځ ولاړ دي، دا چې دوی په



دې حالت کې په حقه دي او کنه دي، هېواد ته ګټه لري او که نه؟ دا یو بېل سـوال دی چې جلا بحث غواړي، خو دوی اوس د یو مـذهبي تلقین او انګېزې لـه مخې جګړه کوي، چې دوی ورتـه جهاد وایي. په مقابل کې یې جنګېدونکي سـرتېري یو څه ملي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو څه د ولسـواکۍ شـعاري روحیه لري، چې دا حالت د مذهبي روحیې پر وړاندې، زموږ په شـان په یوه مذهبي ټولنه کې د جنګ توان نه لري. دولتي عســکر مجبور دي د څو تنو نامتجانســو واکمنو د قدرت د ابقا لپاره قرباني شـي او له یو ټاکلي معاش پرته نورکوم غټ امتیاز ورته نه تر ســترګو کېږي. البته ګڼ شــمېر سرتېرو کې د وطنپالنې روحیه هم په څپو ده، خو دا روحیه هم په حـکـومـت کـې د



واکمن فسـاد له امله تر ســخــت رواني فشــارلاندې ده، په مقابل کې طالب که دلتـه څـه لري کنـه خو د حورو او غلمانو په مینه مســت او د جنت د لایتناهي امتیاز په لټه کې دی. د دولت اردو د یو منظم او با مســولیته لښــکر په توګه چې هم باید عامه نظم وسـاتي او هم ټولګټې تاسیسـات، په یو خورا مشــکل دریځ کې ده. په مقابل کې طالبان د یوې بې مســـولیته او ناثابتې چریکي ډلې په توګه د دې وس لري چې په کمو تلفاتو او کم لګښــت هر ډول تخریبي عمل تر سـره کړي. د ساري په توګه د کابل ـــ جلال اباد د لارې د امنیت د تامین لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

په زرګونو دولتي ځواکونو ته اړتیا ده، خو د ناامنۍ او اخلال لپاره یې یوازې پنځه تنه طالبان بس دي. دغه راز پر همدې لاره د یو پول د جوړېدو لپاره ملیونونو ډالرو او کلونو وخت ته اړتیا ده، خو مخربین بیا خپل کار یوازې په سلو ډالرو په لسو دقیقوکې تر سره کولای شي .د اوسنۍ جګړې په ترځ کې پر اقتصادي زیانونو سربېره هره ورځ د جګړې د انساني قربانیوکچه لږ تر لږه پنځه سوه کسانو ته رسېږي. دا چې دې جګړه کې څوک ملامت دی که څوک سلامت؟ دا پوښتنه یو بې طرفه هر اړخیز بحث ته اړتیا لري، خو اوس مو‌ږ په داسې یو حالت کې یو مخکې تر دې چې د تور او سپین د معلومولو حد ته ورسېږو، اول باید د جګړې د بندولو پر لارو چارو غور وکړو. د یو بامسوولیته دردېدلي افغان په توګه مې خپل افغاني مسوولیت وګاڼه چې د سولې لپاره لارې ګودرې وګورو. لومړی مې د حکومت په استازۍ د ملي امنیت شورا سلاکار ښاغلي (ډاکتر حمدالله محب) او ځینو نورو دولتي چارواکو سره خبرې وکړې او ورته ومې ویل چې کېدی شي له څو تنو نورو افغانانو سره یو ځای قطر کې طالبانو سره وګورو او د سولې په باب د هغوی پر نظریاتو پوه شو، د هغوی نظربات تاسو او د تاسو بیا هغوی ته ورسوو، که خدای وکړي ورو ورو د دواړو خواوو په نظریاتو کې نرمښت

(c) ketabton.com: The Digital Library

راشــي او يوه افغاني حل لاره راووځي، خو مشــوره مې درســره ځکه وکړه چې که ستاسې خوښه نه وي، نو زه دې غونډې ته نه ځم، خو پر بل چا هم



د تــګ او نــه تــګ ټينګار نه کوم، داســې نه وي چې هلته زه د سولې او وطن د خير لپاره لاړ شـــم او بيا دلته ســـتاســـې اومغلن خياطان کنځلو ته کش ورکړي. د دې خياطانو سابه خو زه په مالګه کولای شم، خو دلته بيا مشکل دا دی چې د دې ډول جنجالونو ګټه بيا تاسو سره په حکومت کې شـــاملو جنګســـالارانو ته ځي. زه نه غواړم چې له دې ناندريو هغوی ګټه پورته کړي.

ډاکتر صيب محب ما ته په ډېره سړه سينه وويل، چې لاړ شه د جمهور رييس په استازۍ هم درته وايم چې لاړ شه، دولت د دې خبرو ملاتړ کوي او دا يو ښه کار دی، هيله ده چې دا خبرې نورو خبرو ته لاره اواره کړي .

موږ له نورو ملګرو سره چې هر يو د خپل ځان استازولي کوله، په قطر کې له طالبانو سره وکتل، ښې تفصيلي خبرې مو ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړې، خوږې او ترخې ټولې خبرې په کې تبادله شوې .طالبان که څه هم له لرې یوازې جنګي او مذهبي ډله ښکاري، خو سخت د جرګو او مرکو او د دوی په اصطلاح د انډیوالی خلک دي، زموږ ترخې خبرې یې هم وزغملې او په اتو مادو کې مو ترې یو لیکلی ژمنلیک تر لاسه کړ. له طالبانو سره د خبرو تر ټولو مرکزي ټکې دا وو چې د امریکایانو تر احتمالي وتلو وروسته د ډاکتر نجیب د وخت په شان باید یو ځل بیا حکومت او پوځ و نه پاشل شي، بیا خپلمنځي جنګ او دغه راز د ایران او پاکستان نیابتي جګړه پیل نه شي .د پوځ او حکومت اساسات باید جوړ پاتې شي او تېر



حالات باید په هېڅ ډول تکرار نه شي. دې اصل سره طالبان هم موافق وو، خو ویې ویل چې دا ټول مسایل به په بین الافغاني خبرو کې څېړو، خو په هېڅ وجه د دې اجازه نه ورکوو چې د نویموکلونو پېښې بیا تکرار شي. د طالبانو ډېرې نورې خبرې هم وې چې د افغان حکومت او په هغه کې د راټاله شویو ډلو له نظریاتو سره یې جوت توپیر او اختلاف درلود، خو موږ ته له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجلســـونو دا پته ولګېده چې که افغانان د زړه له کومې خبرو ته کېني، نو که هر څومره سخته غوټه وي دوی ورته یوه حل لاره را ایســـتلای شـــي. همدې هیلو ســـره کابل ته راغلو، د یو خبري کنفرانس لـه لارې مو د دې خبرو جزیـات لـه هېوادوالو ســـره شـــریک کړل او د دې تر څنګ مو خپل یو تحلیل هم ور ســـره ملګری کړ، له ښـاغلي محب سـره مې یو ځل بیا وکتل، دا تحلیل او د خبرو اترو جزیات مې ورسر شریک کړل، ځینو نورو دولتي چارواکو، پخواني ولســـمشـــر حامد کرزي، محمد حنیف اتمر او ځینو نورو ســـیاســـیونو ته، چې لېوالتیا یې لرله، ټولو ته مې ورته جزیات ور کړل. خو کابل ته زموږ له راتګ ســـره ســـم د بېلابېلو کنځلامارانو د کنځلو باران پیل شـو او بیا تر ننه پورې دوام لري، ولې؟ دا جرم مو کړی چې طالبانو ســـره مو کتلي دي. هغه هم د سولې لپاره. که طالبانو سره کتنه هغه هم د سولې لپاره کوم جرم وي، نو دا جرم خو تر ټولو دمخه احمدشـــاه مســـعود کړی چې میدانشـــهر کې یې طالبانو ســـره وکتل، بیا اشـــرف غني ورســـره پر (۲۰۱٤ م) کال پټ په دوبۍ کې وکتل او هغوی ســـره یې پخې ژمنې وکړې، خو هېڅکله یې عملي نه کړې.معصـوم سـتانیکزي، اکرم خپلواک او نورو دولتي مامورینو څو څو ځله پټ له طالبانو سره کتلي، خو نه یې ولس، نه یې د ولس استازي او نه یې رسنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

له جزياتو خبر کړي دي، د نظار شــورا او د ټلوالې نورو غړو هم له طالبانو پټې ليدنې کتنې لرلې دي، خو چې موږ ورســـره وکتل، هغه هم د سولې په خاطر، نو د کنځلو باران شروع شو. پټه دې پاتې نه وي چې ما او ډاکتر صــيب غني پر (۲۰۱٤ م) کال د ده په کور کې د ولســـمشـــرۍ تر ټاکنو وړاندې د ده د احتمالي برياليتوب په حالت کې له طالبانو ســـره د خبرو پر ميکانيزم هر اړخيزې خبرې کړې وې او هغه مهال ده زما ټول نظريات په ورين تندي ومنل او ويې ويل چې دا ډېر دقيق دي او عملي جنبه لري. خو اوس له طالبانو سره يوازې د سولې په خبرو موږ سوچه طالبان شــولو؟ بلکه ورځ به وايې چې تاســې شــوراى نظار کې هم ياســتئ، ځکه چې عبدالله ســره مو د ملي هويت د تذکرو په باب کتلي وو. خو دوى چې ور ســـره شـــپږ کاله د ګډوله حکومت تر برستنې لاندې تېر کړل، هغه عيب نه دى.

موږ ته د طالبانو د ترخه نظام وخت هم ښـــه ياد دى، خو که دا نظام هر څومره تريخ و، بيا هم د جمعيت تر شــر او فســاده ډېر ښــه و .په شــلو کلونو کې مو د ورســتې او کړې وړې وارد شــوې ديموکراســۍ تر چتر لاندې د بېلابېلو لنډغرو واکمني هم وليدله، ان چې د دوو منتخبو جمهور رييســـانو عکســـونه يې د دوى د سترګو پر وړاندې په ګوليو و ويشتل، خو دوى پورته ورته نه شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتلای، خو مور په تش لاس او د خپل ولس په همت د لنډغرو مخ ته ودرېدلو او د دې ښــاغلو ملاتړ مو هم وکړ .تاریخ دا ټول هر څه ښاري. مور طالبانو سره ځکه وکتل چې د نظام د اډانې او پاشنې مخه ونیسو، که د سولې خبرې بریالۍ نه شي او طالبان د جنګ له لارې واک ته ورســي، نو یو ځل بیا به د نویمو میلادي کلونو کیسه تکرار شي، بیا به جګړه وي او بیا به مهاجرتونه، خو که طالب د ســولې له لارې راشــي او ټول په ګډه داســې یو نظام جوړ کړي چې نه په کې دا ورسته او چینجه دیموکراسي وي او نه د طالبانو داســې اســلامي امارت چې له طالب پرته په کې نور په نوم مســـلمان ته ځای نه وي؛ میم زر ما ټوله د ملا. نو که یو منځنی حد وي داسې یو حالت به د ولس په ګټه وي.

ځینې کرایي لیکوال او اومغلن غربپلوي لا پـه کې دا خبره هم تاووي چې څنګه کېدی شـــي یون دې پر یو وخت هم د طالبانو پلوی وي او هم د پښـــتون ژغورنې غورځنګ؟؟ دا خو دواړه متضاد حرکتونه دي، اول تاسو ته چا ویلي چې زه د طالبانو پلوی یم، زه نه طالب یم او نه د طالبانو پلوی، خو په زغرده وایم چې زه د پښـــتون ژغورنې غورځنګ کلک ملاتړی یم، طالبانو ســره مې په دې خاطر وکتل چې دغه ګډوله او وروســـت حکومت د بهرنیانو له مرستې پرته خپله بقا نه شـي ســاتلی، که طالبان یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

زور ونیسي هر څه به ګډوډ وشي. د دې حکومت حالت ته چې سـړی ګوري دا ګومان يې پر پاخه باور بدلېږي چې که بهرنيان ووتل او خبره جګړې ته لاړه، نو داسې يو حالت د طالبانو په ګټه تماميدی شي، خو د ولس په ګټه نه. دا پوځ فکر نه کوم چې بيا د امرالله ،عبـدالله ،ډاکتر غني، محقق ،خليلي ،عطـا او څو نور غربځپلو د مستيو د تامين لپاره قرباني ورکړي .زما له زړه نه وينه څاڅي چې د خپل پوځ د ښښـــتر ښښـــتر او ګلاب ګلاب ځوانانو جنازې ووينم، پر تنکيو تنکيو طالبانو مې هم زړه ســـوزي چې ولې بې ځايه قرباني شي .



يوه ورځ راته يو پخواني طالب پټ پـه غوږ کې وويـل، کلـه چې موږ پـه پاکستان کې سبقان ويل، نو د هغوی پوځ چې بـه دې ليـدی پـاکې پـاکې دريشــيانې به يې اغوسـتې وې، ما ته به ارمان راغی چې کاشــکې موږ هم يو وخت داســې ښــکلی پوځ ولرو، هغه وخت کابل کې تنظيمي جنګونه وو، زموږ پوځ پاشــل شــوی و، اوس چې کابل کې دا ښــکلي او لوکس پوځيان ګورم مينه مې پرې ماتيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه دغسې يو افغانستان غوارم چې طالب مشران دې هم لکه دا نور تنظيمي مشـــران په حکومت کې ونډوال وي او واړه طالبان دې بالا خپل سبقان پوره کړي او زموږ پوځ دې لاپسې اصلاح او غښتلی شي .که چېرته زموږ پوځ په کورنۍ جګړه کې راګير نه وای او يوازې پاکســتان ته اوزګار وای، نو بيا پاکســتان راڅخه اويازره بېګناه پښتانه شهيدانولای شول؟؟که رابطو او پېغورونو ته دوام ورکړو، نو دلته هېڅ داسې مميز نه شته چې ببخ کې ډکی و نه لري. پر طالبانو تر ډېره حده د پاکســتان د ملاتړ تور دی او پر دې نورو واکمنو بيا د څلوېښــتو نورو هېوادونو. که يوه شــېبه فکر وکړو، دا څلوېښـــت هېوادونـه د طـالبـانو پلوی وکړي او پاکســـتان د دې حکومتي چارواکو، نو د دې حکومتي چارواکو بســـترې به جېرته پرتې وي؟ دلته بايد دا واقعيت ومنو چې دلته ضـــرور څه داســـې نقيصـــې شـــته چې دوی له دې دومره نړيوال ملاتړ سره سره بيا هم د پاکستان يو جاسوسي سازمان ته غابن ماتوونکی ځواب ور نه کړای شـــو. په محقق،عبدالله ،خليلي، رباني او نورو دا ځواب ورکوئ؟ عجيبه خبره دا ده چې د جنګ او ســـولې ،ابادۍ او بربادۍ، خپلواکۍ او بلواکۍ د توراوي او سپيناوي کيلياني له همدغو ښاغلو سره دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هغه څوک چې د جنګ د ګرمولو خبرې کوي هغوی یو هم د جګړې لومړی کرښــه نه ده لیدلې، له طالبانو یې د ځان لپاره یوه عایداتي پروژه جوړه کړې، لـه امریکـا څخـه چغې وهي ورځئ پرې، که تاسې رښتیا هم د جنګ دومره شوقیان او مېړني یاست نو راشئ د جنګ لومړی کرښې ته لاړ شئ، بیا مو پر فیسبوک د خپلې بهادری اصــلي تصــویر هم واچوئ، د جنګ خبرې خوږې وي، خو ډګر او عمـل یې ډېر تریخ وي.کلـه چې درجن درجن جنګســـالاران د حکومـت پر مهمو څوکیو واکمن وي، نو بیـا طالبـانو ته ولې قانون او ولســـواکي پلمه شـــي؟ ایا ملا عمر او قومندان دادالله تر رباني، مســـعود، دوســـتم ،ســـیاف، مزاري ،حـکـمـتـیـار او نـورو ډېـرو زیـات دا وطـن وران کـړی، ایـا (ای،ایس،ای) ســـره یې تر دوی زیات روابط درلودل؟ اصـــلي انصـاف خو به دا وای چې دوی او دوی ته ورته نور جنګیالي یو هم په حکومت کې نه وای، خو چې تر ټولو ســـتر خاینین تر ټولو زیات په درانه نامه یادېږي، نو دلته بیا د حقیقت بیان ته ډېره اړتیا پېښــېږي. بیا هم تر ټولو لومړی افغانســـتان، بیا ســوله او بیا لوی افغانستان.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لوی افغانستان داعیه به پالو

## (ملي مبارزینو ته یو ډاډ)

**دا لیکنه د ۲۰۲۰ م کال د مې پر (٦) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د غويي میاشتې له (۱۷) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

که څه هم ما هېڅکله نه دي غوښتي چې د ځینو مغرضو اشخاصو ورو او غټو غرضي نیوکو ته ځوابونه ورکړم، خو بیا هم د دې لپاره چې د ځینو حشراتو پر مکروبونو د ذهني روښانتیا دوا پاشي وشي او د هغو ځینې څرګند او ناڅرګند مکروب له منځه ولاړ شي، ښه ده چې څو ټکي روښانه کړم:

څو موده وړاندې شهید عارف او څو نور ملګري کابل ته راغلي وو. ما د پښتونولۍ او افغانیت د دود له مخې دوی ته مېلمستیا وکړه او هم مې ورته په ژوندون تلوېزیون کې د نظریاتو د اظهار په خاطر غونډه جوړه کړه. دا ډول غونډه یوازې د عارف وزیر لپاره نه وه جوړه شوې، بلکې تر دې دمخه هم چې له پښتونخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه هر یو ملي او فرهنګي شــــخصــــیت راغلی، هر یو ته مو مېلمستیا کړې او د هغو یادونه او نمانځنه مو کړې ده، د حسـینه ګل تنها، اباســین یوسـفزي، د پاچاخان، حمزه بابا، غني خان او



نورو ګڼو شـخصـیتونو قدرداني، یادونه او نمانځنه مو کړې ده. د یوازیني رســنیز مرکز په توګه مو د پښــتنو او بلوڅو د پیوســتون ورځ هېڅکله له یاده نه ده ویســتلې او همدارنګه په کوزه پښــتونخوا کې چې هر ډول پېښــه، پخواني او یا حال کې پېښــه شـــوې، موږ د هغو اړوند پروګرامونه جوړ کړي دي. هغه وخت چې د پښــتون ژغورنې غورځنګ لومړنۍ مظاهرې پیل شــوې، دلته یې لا چا په اړه فکر هم نه شــوکولای او دا مهال یې ان د (پښــتون تحفظ مومنټ) نوم هم نه وه غوره کړی چې موږ یې په ژوندون ټلوېزیون کې د تائید په ملاتړ درنه غونډه جوړه کړه، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولسـي جرګې زړور او ژبور وکيل؛ عبيدالله بارکزي او د ورډګو د ټولنيزې سـرتاسـري شـورا رييس؛ ډاکتر ضـياءالدين کمال په کې اورنۍ ويناوې وکړې. ورپسـې متصـل مو په ننګرهار کې بله لويه غونډه وکړه. کله چې د پښتون ژغورنې غورځنګ ورو ورو خپله بڼه څرګنـده کړه، نو بيا مو لـه نورو ملګرو سـره يو ځای، په کنـدهار، لغمان، کونړ او نورو ولايتونو کې غونډې جوړې کړې، کله چې غورځنګ عام شـو، بيا مو هم د شـهيد ارمان لوڼي او خړ کمر د شـهيدانو په باب درنې غونډې وکړې، دغه راز د پښـتون ژغورنې غورځنګ اکثره غونډې مو په مستقيم او نا مستقيم ډول خپرې کړې او هم مو د دوی د نورو پلويـانو تـائيـدي او ملاتړ غونډې تر خبري پوښښ لاندې راوستې او هم مو د دوی په باب مستقل راپورتاژونه خپاره کړل، لنډه دا چې هېڅ رسنۍ، ګوند او ډلې د پښـتون ژغورنې غورځنګ په تائيد کې دومره منظمې او متواترې غونـډې نـه دي جوړې کړي، لکـه موږ او زموږ ملګرو چې جوړې کړې دي. په همدې خاطر خو يې ان د پاکسـتان د پوځ ويانـد (اصف غفور) حساسيت هم راوپاروه. په همدې بهير کې مشـال خان ټکر هم کابل ته راغی، د هغه د نظريانو د اظهار لپاره مو يوه درنه غونډه جوړه کړه او ددې ترڅنګ مو د نږدې (٦ زره) مخونو په شـمېر د کوزې پښـتونخوا د نوموتو ليکوالو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اثار چاپ کړل. زموږ مبارزه یو اوږد تسلسل لري چې یوازې پښتون ژغورنې غورځنګ سره اړه نه لري، تر هغه وړاندې هم وه، اوس هم شته او که ژوند و سبا به هم وي. په مجموعي ډول د ټولو هغو لویو وړو غونډو، یادونو، نمانځنو او خپرونو شمېر چې موږ د خپل محکوم افغانستان د ولسونو لپاره ترسره کړي، شمېر یې تر (۵۰۰) بېلابېلو کارونو اوړي. دا هغه کار دی چې چاکړی وي زور یې ورته معلومېږي. څلوېښت کاله وروسته مو په پښتونستان واټ کې د پښتونستان لوحه ولګوله چې د پښتنو او ناپښتنو ستمیانو له خوا په ګڼ شمېر کنځلو بدرګه شوم. په داسې حال کې چې د اطلاعاتو او کلتور او قبایلو وزارتونو وزیران پښتانه وو، خو دا جرئت یې نه شو کولای چې دې قانوني کار او حق ته وړاندې شي. موږ دا کارونه د دې لپاره نه کوو چې چاته ځان وښیو او یا له خپل قام څخه شاباسی واخلم. ځکه زما قوم دومره مظلوم شوی چې د شاباسي وس هم په کې پاتې نه دی. خو دا به هم بې انصافي وي چې نظار شورا او د دوی کدو کربلې تالیخټو ته هر څه په ډاګ پربږدو چې دوی پرې خاورې واړوي او حقیقتونو ته بل رنګ ورکړي. موږ چې د خپل فکر او قلم په زور دلته د پښتنو اصلي دښمنانو ته ماتې ورکړې، نو د هغو پاتې شوني او پرکټیان بیا د چا زامن دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبره عارف شهید ته رالنډوم، کله چې په ژوندون کې ورته غونډه جوړه شــوه، عارف وزیر، ایاز وزیر او نورو ملګرو په کې ښــې په زغرده خبرې وکړې، تر غونډې وروســته ما عارف وزیر ته وویل چې خبرې ښـــې وې، خو که دې زړه وي یو څه برخه به یې ترې وباسم، ځکه چې خطرناکې راته ښکاره شوې، هغه وویل، خبرې مې کټ نه کړې، زه چې د خپل پلار او نیکه په وطن کې په زغرده ونه غږېږم، نو بیا به چېرته وغږېږم؟ خو دې سره سره مې بیا هم د یو څو کلمو یادښت ایډیټ ته ورکړ چې دا ترې لرې کړئ. هغه مســتقیماً پر ځینو هغو اشــخاصــو نیوکه وه چې دده دوســتان هم وو.

عارف وزیر ماته وویل چې دا خبرې خو زه هلته هم کوم، مخامخ یې ورته کوم، کله یې چې لاس راباندې بر شـــي وژني مې، دې خبرو پسې نه ګرځي. خبره تېره شوه، غونډه هم نشر شوه، بیا د جمهور رییس د لوړې مراســـم وو، هلته هم ده ګډون کړی و، د غونډې په وروســـتیو شـــېبو کې څو توغندي راغلل، د غونډې شاوخوا ساحو کې ولګېدل، سخت بد اوازونه یې وکړل، عارف وزیر د غونډې په اول کتار کې ناســـت و او زه د غونډې په وروستي کتار کې ناست وم، خلک داسې وترهېدل، لکه په مرغیو چې ډز وشـــي، هغو خلکو تر ټولو زیاتې منډې ووهلې چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسنیو کې همېشه د جنګ د ګرمولو ترانې غږوي. دې وخت کې عارف افغان پورته شـــو، خلکو ته یې وویل کېنئ کېنئ پر خپل ځای کېنئ، هېڅ خبره نه ده، پنجاب مورږ په دې ډزو نه شـــي ډارولی، دې ډزو ســره مورږ بلد یو، هره ورځ مورږ دا ډزې اورو. دې اواز سره خلک بېرته راټول شول، ورو ورو فضا ارامه شوه، جمهور رییس خپلې وینا ته دوام ورکړ.

پر سبا مو سرینا هوټل کې د سوداګرۍ د اتاقونو له ملګرو سره یوځای د پښتون ژغورنې غورځنګ مشـــرتابه غړو او له کوزې پښتونخوا څخه نورو راغلو دوستانو ته په سرینا هوټل کې یوه درنه او پرتمینه غونډه جوړه کړه؛ له ملي ولولو او وینا ډکه یوه غونډه، هغه غونډه هم په بشپړ ډول له ژوندون څخه نشر شوه، ملګري ټول خپلو سیمو ته ورسـېدل، د هر یو احوال مو واخیســـت. لکه څنګه چې عارف افغان وړاندوینه کړې وه، څو ورځې وروســـته د پولیســو له خوا ونیول شـو، بیا جېل ته یوړل شو. بیا بېرته ایله شو او تر هغه وروسته دغه ناوړه پېښه رامنځته شـــوه. کله چې دا پېښـــه رامنځته شـــوه نو زه او زما کورنۍ پرې دومره ځوربدلي یو چې تر علي وزیر که زیات نه یو دردېدلي، نو کم خو هم نه یو دردېدلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو اوس ګورم چې د نظار شـــورا یو شـــمېر پخواني تالیختې چې نوې نوې یې د پښــتو او پښــتونولۍ سـرینديې شـروع کړي او یو شـــمېر نور کم معلوماته اشــخاص هم ورســره یو ځای شــوي او غواړي چې دې مسئلې ته داسې رنګ ورکړي چې ګنې که عارف افغان ژوندون تلوېزیون ته نه وای راغلی، نو دی به نه شــهیدېده، دوی د هغه پر شـــهادت خفه نه دي، خو اوس غواړي چې د هغه له ســـپېڅلي شـــهادت څخه د پښـــتنو د یو بل شـــعوري مرکز د بدنامولو لپاره یو ډول ناوړه ګټه پورته کړي، دا هغه ارمان دی چې د دې مرکز پر وړاندې یې د (ای ایس ای) سازمان او د نظار شـــورا ډله لري. د تېرو لســـو کلونو په بهیر کې زما ټوله انرژي د دې پرځای چې د ټلوېزیون پر خپرونو ولګي، پر دې مصــــرف شـــوې، چې څنګه پر دې مرکز د نظار شـــورا او (ای ایس ای) د بریدونو مخه ونیســـم. د همدې مرکز او د هوتخېلو د درانه قوم او یو شـــمېر نورو شـــعوري مبارزینو د مبارزو برکت دی چې ښـاغلی غني اوس د قدرت پر ګدۍ ناسـت دی. یو وخت داسـې هم و چې د ډاکتر غني پر کور د لندغرو د برید خطر نه و، خو ژوندون تلوېزیون ته دا خطر هر وخت محسوس و. پښـتانه او په ټوله کې لر او بر افغانان اوس دوه اساسي دښمنان لري؛ تر کربنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخوا د پاکستان (ای ایس ای) او تر کربښې دې خوا نظار شورا او د شــــمالټلوالې لنډغر دي. نور فرعي قوتونه او اشـــخاص بيا د همدې دوو عناصـــرو پر محور راڅرخي. دوی افغانســـتان کې هېڅکله قوي مرکزي نظام نـه غواړي، ځکـه کـه دلتـه يو قوي مرکزي نظام جوړ شـي، بيا د محکوم افغانسـتان د ازادېدو داعيه په اسـانۍ سـره تعقيبېدلای شـي. د پنجاب اداره د دې ګواښ له امله دلته يو سـست او بې ثباته حکومت غواړي او د نظار شـورا، جمعيـت، ســـتم او نورې ډلې بيـا وايي کـه چېرې دلتـه يو قوي مرکزي نظام جوړ شـو، نو بيا خو موږ اوسـنی شـان او شـوکت نه شـو ترلاسـه کولای او بيا خو که لر او بر افغان سـره يوځای شـي، نو موږ خو په درياب کې يو څاڅکی يو. نو ځکه خو دوی په هره برخه کې کرايي او اجرتي کسـان ګومارلي چې د ملتپالو افغانانو پر وړاندې ذهنونه ګډوډ کړي. عجيبه پوښتنه خو دا ده چې د عارف وزير د شـــهادت لپاره ژوندون ټلوېزيون ته راتګ او خبرې پلمه کېږي او دا ورته خطر ګڼل کېږي، خو ارګ ته تګ او هلته خبرې بيا ورتـه د خطر زنـګ نـه وي؟ له دې څخه معلومېږي چې (ای ايس ای) او نظار شورا ژوندون ټلوېزيون خپل اصلي دښمن ګڼي، نه ارګ او يا يې له ارګ څخه هېڅ حيا نه کېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښــــاغلي عبيدالله بارکزي او ډاکتر کمال هم دلته د کوزو پښـــــتنو ملاتړ غونډه کې توندې ويناوې کړې وې، هغوی هم په بېلابېلو پېښو کې شهيدان شول، ياني که هغه هم دلته نه وای راغلي، نو نه به شــهيدانېدل؟ په کوزه پښــتونخوا کې د پاکســتان د پوځ له خوا (۷۵ زره) پښتانه شهيدان شول، هغه ټول دلته ژوندون ته راغلي وو؟ ارمان لونی، طاهر داوړ او د خړ کمر پښـــــتانه چې شـــــهيدان شـــــول، هغوی هم ژوندون ته راغلي وو؟ که ژوندون ته راتګ او دلته خبرې (ای ايس ای) ته دومره غټ خطر وي چې د هغوی کســــــانو د مرګ په بيه تمامېږي چې دلته راغلي دي. نو بيا خو همدا د پښـــــتنو د يو ســــتر ملي مرکز په توګه ومنئ، تخريبوئ يې ولې او ټاپې پرې ولې لګوئ .

بله خبره داده چې موږ دلته د کوم بل پښـــــتون مخه نيولې چې له کوزې پښــتونخوا څخه پښــتانه مه رابولئ او دلته ورته غونډې مه جوړوئ؟ خو چې خپله درکې متره نه شــته، د نورو د کار مخې ته ولې خنډونه جوړوئ؟

حقيقت دا دی، چې زموږ شعوري مبارزه د (ای ايس ای) او نظار شورا د ګډو جاسوسانو پر زړه نه اوارېږي، له دغه مرکزه د پښتنو د مظلوميت غږ اوچتېږي، اوس غواړي په څه ډول د دې مبارزو

(c) ketabton.com: The Digital Library

رنګ پيکه کړي. نو ځکه مې دغه وضـاحت ضـرور وګاڼه. زموږ مبارزه دلته د دغو دوو وينو ښمنونکو او افغان ضد سازمانونو پر وړاندې روانه ده، واړه چنې يې موږ ته کوم ارزښــت نه لري، خو اوس او راتلونکي نســـل ته ددې وضـــاحت په کار و چې موږ په ډېرو کمو امکاناتو د دغســـې کړيو پر وړاندې خپلې مبارزې ته دوام ورکړی دی، نو تاسې بايد خپل دښـمن ته په ډېر دقت سـره متوجه اوسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حساسیت راپاروي !؟

**دا ليکنه د ۲۰۲۰ م کال د مې پر (۷) مه، چې د ۱۳۹۹ل کال د غويي مياشتې له (۱۸) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

په پښتنو کې یو شمېر داسې اشخاص شته، چې تر سقاويانو، ستميانو، پنجابيانو، ګل خانانو او د پښتنو تر بل هر مخالف هم زيات پښتنو ته په ډېر زيان تمام شوي او ډېر زيات خطرناک تمامېږي. دا خلک مضر احتياط کاري او مصلحتي پښتانه دي. دوی د پښتنو هر انساني حق د مصلحت تر عنوان لاندې دفن کړی او هر روا غږ يې د مصلحت په چاړه وژلی دی. دوی شعوري پښتانه په همدې نامه کار او فعاليت ته نه دي پرې ايښي، چې ستاسې کار حساسيت را پاروي او مور ته دښمنی زياتوئ. د دوی احساس تر دې حده د بې غيرتۍ کچې ته ور رسېدلی، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېڅکله د هغو پښتنو ضد لندغرو پر ضد نه راپورته کېږي چې تل د پښتنو پر حقه حقوقو تېرى کوي، خو په دې وخت کې که کوم با احساسه پښتون افغان ګردنۍ پر غاړه کړه،قلم يې تر ګوتو کړ او د پښتنو د مظلوميت غږ يې اوچت کړ، نو دوى يو دم را




وينښ شي، خولې وازې کړي او دا خبره غبرګه کړي چې دا کار حساسيت را پاروي، دا خو دې قوم ته دښمني زېږوي، دا خو دا نور حساسوي. دوه سوه تورونه به پر هغه مبارز پورې کړي او هغه نه يوازې په خپل کار کې ټکنى کړي، بلکې په کمسواده او نالوستې افغاني ټولنه کې يې شخصيت هم ورته متنارع او د فعاليت مخه يې هم ورته ډب کړي، دوى تر هغه حده پورې په بې غيرتۍ کې ډوب دي چې يو څوک يې پر عزت تېرى کوي او ده تومانچه د ځان ښودنې لپاره تر ملا تړلې وي، خو هغې ته لاس نه کوي، وايي دا مې سختې ورځې ته ساتلې ده. دا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتانه د تاریخ په بهیر کې شاته ساتل شوي، د دغسې بې غیرته پښتنو له لاسه دي. دا ډول پښتانه د دغسې کرونا ناروغۍ مکروب ته ورته دي چې په سترګو نه ښکاري، خو تنفسي سستم




دې بندوي. دوی هم ظاهراً پښتانه دي، خو د تشخیص لپاره یې مورږ تر اوسه داسې واکسیین نه لرو چې دا له اصلي پښتنو څخه را جلا او درملنه یې وکړو. خبره نه اوږدوم، په یو مثال کې به دا ډول خلک یو څه څرګند کړم:

د پاکستان تر جوړېدو وروسته پر (۱۹۵۵م) کال په افغانستان کې یوه لویه جرګه جوړه شوه، دې جرګې پرېکړه وکړه چې د ډیورند تړون ملغی دی او افغان ولس ته د منلو وړ نه دی. تر هغې وروسته په جنترۍ کې له پښتنو او بلوڅو سره د پیوستون

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ورځ لیکل کېده، د کابل ښــار په زړه کې؛ ارک ته مخامخ یو لوی مرکزي واټ (د پښــتونســتان واټ ) په نامه و نومول شــو او هر کال به د پښــتونســتان جشــن همدلته په پرتمینو مراســمو ســره نمانځل کېده. تر (۱۳۷۱ل) کال پورې دې لړۍ دوام پیدا کړ،**




**تر هغه وروســته بیا د دې ځای د نوم بدلولو هڅه وشـوه؛ خیابان فردوســـي او پر نورو عربي او عجمي نومونو باندې غور وشــو، لوحه یې هم ورته ورکه کړه، نو ځکه خو ورو ورو په شـــعوري ډول هڅه وشوه چې (( د فواره اب ))په نوم مشهوره شي.ما چې د دې تاریخي ځای د نوم بدلونې قصــدي اومتواتره هڅه ولیده،**

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو د پښتنو له اکثرو مطرح شمله ورو، ریرورو، برېتورو او ان قلموالو سره مې خصوصي مشوره وکړه، چا وویل دا وخت د دې خبرو نه دی، موږ او تاسو باید اول جګړه پایته ورسوو، چا ویل داکار اوسمهال ملي وحدت ته زیان رسوي، چا ویل زموږ دا نور ورونه به پر دې سخت حساس شي، هغوی به هم بیا داسې څلورې غواړي، چا وویل دا ډول کارونه د امن د وخت خبرې دي، چا وویل اول د طالب غم وخوره چې هغه جنګ بند کړي، چې دې کار ته زموږ پلمه برابره شي. لنډه دا چې د دنیا ټولې لانجمنې او نه عملي کېدونکې مسلې یې د پښتونستان واټ لوحې پورې وتړلې. ما که هر څومره ورته وویل چې دا نور کارونه دې لوحې پورې هېڅ اړه نه لري، دا خو یوازې یوه لوحه ده چې موږ غواړو پر خپل ځای ولګول شي. دې ځای ته خو نوی نوم نه ورکوو، خو همدا یې نوم دی؛ پر همدې نامه باید ښاروالي او اطلاعاتوکلتور وزرات ورته لوحه جوړه کړي. عیناً لکه سالنګ واټ او پنجشېر واټ ته چې لوحه ولګوو. نوکه دا واټونه موږ د هغو په خپل نامه یادوکړو، مانا تعصب موکړی؟ خو چا ته یې وایې؟ له مشورې څخه مشوره جوړه شوه چې غوټې پسې بله غوټه زیاتېدله. په دې کې مې یوازې په خپل سر کار پیل کړ؛ لوحه لیکونکي او فلزکار سره مې خبره خلاصه کړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغوی د خوښــــې مطابق مې ورته اجوره ور کړه او په رڼا ورځ مې له نورو مبارزو ملګرو ســــره لوحې ولګولې. ځینو ســــتمیانو کنځلې وکړې او پښــــې یې ودربولې، خو نورې اکثره کنځلې د پښتنو ستمیانو او همدغسې مضرو مصلحتي پښتنو او بیا پښتنو لیکوالو له خوا را حواله شــوې. همدا به یې ویل چې دا د دولت، ښاروالۍ او کلتور وزارت کار دی، دی څه کاره دی، نه حکومتی مامور او مسول دی او نه کوم چارواکی، چې دی اوس د حکومت کارونه هم تر سره کوي؟ په داسې حال کې چې موږ یادو ارګانونو ســـره هم مشــــوره کړې وه، خو ورته پلمې یې وکړې. بیا ما دې خلکو ته وویل چې زه(افغان بېسیم) یم. هغوی هم چې هر چېرته د کوم ځای له نامه ســـره ســـمه لوحه لګوي، خپله لوګو هم پرې لګوي، ځئ لاس مو خلاص چې څه کولای شئ!

اوس راځم بېرته خپلې موضوع ته : تر (٢٠١٤ م )کال پورې دا لوحې جوړې او پر خپل ځای وې. کله چې پر یاد کال د امرالله صـــالح په ګډون ډاکتر عبدالله او د هغه نورو ملګرو دلته د ډاکتر غني د بریا پر ضـــد مظاهره وکړه، دا لوحې یې زیانمنې کړې، بیا وروســـته له دې ځایه ټولې شـــوې. تر ننه شـــپږ کاله ووتل، خو پښـتونستان واټ بېرته د لوحې خاوند نه شو، په داسې حال کې چې پـه دې موده کې د کلتور او قبـایلو وزارتونو ټول وزیران

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتانه وو او ګڼ شمېر نور ژبور، مخور او شمله ور پښتانه هم د واک پر ګدۍ ناست وو، د جمهور رییس شپږ نیم شلې مشاورین هم پښــتانه فرهنګیان دي. ما پر اکثرو غاړه خلاصــه کړې، خو یو هم د رســمي مکلفیت او ملي احســاس له مخې د دې زړه نه دی کړی چې یاد واټ ته لوحه جوړه کړي. ما ځکه بیا دې کار ته نه دي دانګلي چې بیا دربانديې دوه زره تورونه پورې کوي، ما ویل چې زموږ هر کار پســـې د تعصـــب ټاپه غوټه کېږي، دا ځل به تر شپږکلن ځنډ وروسته داکار دغو بې تعصبه پښتنو ته حواله کړو، چې دوی یې له حساسیت پرته حل کړي. اوس نو ډېر ښه چانس دی؛ په داسې حال کې چې پاکســتان هم تیار ښــه منزوی شــوی، ښـــه فرصـــت دی، چې د قبایلو وزیر دې هم یو ســـتر جهادي شخصیت (ګل اغا شېرزی) وي، یانې دا چې هم دې (ګل) وي هم ( اغا) او هم دې شېرزی( د زمري زوی) وي، د کلتور وزیره دې هم (حســینه ســاپۍ) وي، یانې هم دې (حســینه ) وي او هم دې (ساپۍ) وي، مرستیال یې هم پوهاند وي، هم رسـول او هم باوري وي.، ( پوهاند رسـول باوري )، څو کنځلمارې بې کلتوره کلتورې اتشـــې دې هم ولري ،ښـــاروال دې هم ( داود ســـلطان زوی)وي، یانې هم دې خپله (داود ) وي او هم (شـــاه زاده)، د جمهور رییس، شـــپږ نیم شـــلې مشـــاورین چې هغو کې دې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

اورپکي، زړور! او ژبور! پښــتانه فرهنګیان شــامل وي او خپله جمهور رییس دې هم ( اشــرف غني ) وي، چې خپلـه دې هم (اشرف المخلوقات) وي او هم (عثمان غني)، پاکستان يې هم د نړۍ په کچه خندېږ ته کړی وي او لکه ( امیر کروړ) په یو تن له سلو جنګاورانو سره جنګېږي، نو بیا غمه څه ده؟ په داسې حال کې نو مـا یون حقیر فقیر احقرالعبـاد تـه څـه اړتیـا ده چې بیـا حســاســیت راوپاروم؟ بیا د کنځلو څپو ته ځان مخامخ کړم؟ وګورم چې په راتلونکو لسو ورځو کې زموږ په نامه ناست دا بې تعصــبه زمریان، دا یوه لوحه لګولی شــي کنه؟ او کنه دا هم له عبدالله، طالبانو، او پاکستان سره د مذاکراتو یو جز ګڼي؟

ورونو! دا زموږ د واقعي ژونـد د کـارونو یو انځور و، نور ټول کـارونـه د همـدې یوې بېلګې پـه تلـه وتلئ، تر څو چې لـه دې مصــلحتي کرونا څخه ځان ونه ژغورئ، همداســې به په خپل وجود کې د ناڅرګند دښـمن له رنځه کړېږئ او حال به مو تر دې هم بدترېږي. نوره مو خپله خوښه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پرله پسې تېروتنو ترخې تجربې

**دا ليکنه د ۲۰۲۰م کال د مې پر (۹) مه، چې د ۱۳۹۹ل کال د غويي مياشتې له (۲۰) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

اشـــتباه يا تېروتنه د يو کس هغه عمل دی چې ضـــرر په کې حتمي متصـــــور وي، ياني تر خيانته يې د خطر کچه کمه ده، خو ضـــــرر دی. تېروتنه کله کله بېرته جبرانېږي، خو خيانت بيا د جبران قابليت نه لري .اشتباه چې خپل وروستي حد ته ورسي او يا څو



ځله تکرار شي، نو بيا دخيانت حد ته رسېږي. سياستوال که وړه اشـــتباه هم وکړي، نو د خطر ګراف يې ډېر ژر د خيانت بريد ته پورته کېږي. کله کله دا تېروتنه دومره ګرمه وي چې نه يوازې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملت د سـوځېدو په قېمت تمامه شـي، بلکې د هغه شـخص د بربادۍ او مرګ سبب هم شي.

د ډاکتر نجیب الله غټه تېروتنه دا وه چې د خپل منظم دوه سـوه کلن پوځ تر څنګ یې نا باوره سیمه ییزې ملېشې جوړې کړې او هم یې خاص ګارد او اسـتخباراتي ارګان له ملت ضـد او پښـتون ضد عناصرو ډک کړ او خپل طبیعي متحدین یې له سیاسي او پوځي پلوه حاشـیې ته کړل. دا کار د ده د کورنیو او بهرنیو مخالفینو له خوا د دې سبب شو چې لومړی د (شـهنواز تني) په نامه



یوې کودتا ته لاره اواره کړي او بیا نور پلانونه عملي کړي. تر دې کودتا وروسـته د ډاکتر نجیب ټوله شـاو خوا د چپي سـتمي افکارو واکمنو محاصـره کړه، عبدالحمید محتاط چې د پنجشـېر اوسېدونکی او د مسعود خاص ارتباطي و، د ده مرستیال و، نبي عظیمي ،سید کیان، دوستم او د ستم او پرچم نورې پښتون ضد او هېواد ضـد ډلې په پوره واک کې وې، په پای کې ډاکتر نجیب

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په خپل حاکمیت کې له خپلو طبیعي متحدینو څخه دومره لرې شو چې همدې افغان ضد ډلو په اسانۍ سره له هوايي ډګره را وګرځاوه او بیا له هغه دردوونکي برخلیک سره مخامخ شو، چې نه یوازې دی او ورور یې قرباني شول، بلکې ټول افغانستان ور سره تباه شو. ډاکتر نجیب خپلې دې تېروتنې ته هغه وخت متوجه شو چې د ملګرو ملتو په دفتر کې یې د بندي په توګه شپې ورځې تېرولې، دی که دا مهال ډېر خواشینی هم و ،خو اوبه له ورخه تېرې وې.**



**د کرزي صیب تر مشرۍ لاندې د ده د حاکمیت په ټوله موده کې بیا هم اصلي واک د نظار شورا پر محور راڅرخېده، په پیل کې(اته سوه دوه دېرش )مهم ریاستونه یوازې د پنجشر درې د**

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظار شورا په لاس کې وو، احمدضیا مسعود، قسیم فهیم، قانوني، امرالله صالح او نورو په کې د واک ژرنده چلوله.

کله چې ډاکتر اشرف غني د (۲۰۱٤ م)کال ټاکنو ته ځان نوماند کړ، نو د ټولو هیله دا وه چې تر بریا وروسته باید ژر تر ژره د نظار شورا او بیا د ځینو نورو جنګسالارانو لمنه ټوله کړي. که څه هم دا مهال د غني په ټاکنیز ټکټ کې جنرال دوستم د غني لومړی مرستیال و، خو ملت د غني دا ناعادلانه مجبوریت درک کړ او ده ته یې رایه



ورکړه، غني د خپل شعار او ژمنې خلاف له عبدالله سره ګډه حکومت جوړ کړ او پر دې سربېره یې احمد ضیا مسعود هم خپل فوق العاده استازی وټاکه. ما او زما ملګرو چې غني ته یې تر هر چا زیات کمپاین کړی و، د غني پر دې عمل، که د هر مجبوریت له مخې و، اعتراض وکړ او دا کار مو خپله غني او بیا ټول افغانستان ته په زیان وباله، مور

(c) ketabton.com: The Digital Library

غني ته په تېنګه وویل چې دا ډله به د پنځو کلونو په بهیر کې د سر په کاسه کې اوبه درکړي، دوی به له دولتي امکاناتو ناوړه ګټه پورته کړي او راتلونکې ټاکنې به بیا له ننګونو ســـره مخ کړي. دا مهال نو د جمهور رییس غني په دربار کې غوړه مالان دومره لوړې کچې ته رســـېدلي وو، چې غني یې په تصـــنعي ډول جامع الکمالات ګڼه او د ټولو هغو هېوادوالو مخه یې ډب کړي وه چې د غني خواخوږي او پر ملي ګټو مین وو. غني له خپل ولســه ښــه پوره منزوی شـــو ،خو ده ته لا هم هماغســـې تلقین ورکول کېده چې ته د ټول هېواد بې بدیله محبوب ولســـمشـــر یې. په همدې معلوماتي خلا کې یې ټاکنو ته مخه کړه، مور.که هرڅومره چغې ووهلې چې عادلانه ټاکنو ته زمینه برابره نه ده، لومړی ســـوله او بیا ټاکنې غوره کړه، تر هغه چې ســـوله راځي ته غیر له هغې هم ولســـمشـــر یې او که بیا هم، ټاکنې ســـل په ســـلو کې حتمي او ضروري ګڼل کېږي، نو بیا داسې تیاری ورته ونیسه چې لږ تر لږه اویا سلنه رایې وګټې، چې هېڅوک در سره بیا په حاکمیت کې د شراکت جرات و نه کړي. په دې برخه کې مو مشخصه طرحه هم ورکړه، خو دوی د دې پر ځای چې مننه وکړي عصبانیت یې نور هم زیات شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس نو دا دی یو ځل بیا دی او ملت ټول په یو رنځوونکي حالت کې دي. بیا بېلابېل مجبوریتونه پلمه کېږي، د ګډوله حکومت او ان تر هغه هم خطرناکه تجربه تکرارېږي، عجیبه تصادف دی، ډاکتر نجیب به هم مسعود او دوستم ته همغه خلک د جرګې لپاره لېږل چې ده او ټول هېواد ته یې کنده ایستله؛ محتاط او جنرال عظیمي به یې ورلېږل، د کرزي صیب مذاکراتي ټیمونه به هم د احمدضیا مسعود او فهیم له خوا غوره کېدل، اوس نو د غني په استازۍ هم سرور دانش او امرالله صالح د غني د پلویانو، پښتنو او ټولو افغانانو په استازۍ د عبدالله له ټیم سره د واک د وېش پر سر چنې وهي!؟ مانا دا چې امرالله صالح د عبدالله او سروردانش د خلیلي سرسخت مخالفین دي!؟ ځینې سیاسي احمقان لا اوس هم په دې تلقین خپل زړه ګرموي. که همدا چنې په همدې ډول روانې وې، نو پنځوس سلنه خو د عبدالله د ټیم برخه شوه، شل په سلو کې د امرالله صالح، شل سلنه د دانش او لس سلنه هم د غضنفر او نورو نازولو، نو غني او پښتنو ته په کې څه پاتې شول چې بیا هم دا لوی او مظلوم قوم ورته د یوه ډاډ او ارمان په سترګه وګوري؟ سربېره پر پورته امتیازاتو به ډاکتر عبدالله د سولې یا پوخلاینې شورا مشري هم اخلي، پرېکړې به یې هم الزامي وي، نو دا خو یو څرګند حقیقت

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی چې نه عبدالله او نه امرالله له طالبانو سره سوله غواړي، دوی وایي چې طالبانو سره سوله د دوی (( د جهاد او مقاومت د ارزښتونو مخالف کار دی))، نو جګړه به دوام پیدا کوي، پښتانه به په حکومت کې د فوق العاده محرومیت له کبله په جبري ډول د طالبانو د ملاتړ لمنه نیسي، امریکایان به د روسانو په شان له جګړې سترې کېږي، طالبان به لوی ښارونه او بیا کابل نیسي، یو ځل بیا به د شلو کلونو په بهیر کې دا ټول رامنځته شوي پرمختګونه له خاورو سره برابرېږي، افغانستان به بیا د اوږدې کورنۍ او نیابتي جګړې غېږې ته لوېږي، نو مخکې تر دې چې هېواد بیا دغسې یو حالت ته لاړ شي ښه به وي، چې جمهور رییس غني ټینګ مقاومت وکړي؛ عبدالله او د هغه متزلزل ټیم ته دې په حکومت کې یوه سلنه ونډه هم نه ورکوي، دوی هېڅ هم نه شي کولای دا هسې بازاري غوروپش دی، نور هېڅ هم نه شته. زما په ګډون ګڼ شمېر ټول هېواد پال او ملتپال افغانان غني ته ډاډ ورکوي چې که دوی د ځپېړې ګوزار کوي ،د ځپېړې پرې کوو، که مظاهره یې کوله، مظاهره کوو، که منطق یې ویلې په منطق یې ځواب وایو، هر زور ته یې په ورته زور ځواب وایو. خو ته یو داسې مشارکتي حکومت جوړ کړه چې د استخدام اصل یې لیاقت وي، د هېواد له هرې سیمې او هر قوم څخه د هغوی د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کميت په تناسب استازولي تضمين کړه، نه د تنظيمونو په خوښه مشارکتي حکومت! که بيا هم درباندې ډېر فشار وي، نو نور خو دې عمر خوړلی دی؛ څه شـــی پاتې نه دي، ته خپله هم وايې چې ان د بلې ښـــځې توان هم نه لرې، نو راځه ځان پرې شـــهيد کړه چې هم دې هغه دنيا خوندي شـــي، هم دې ګناهونه تويې شـــي او هم دې په تاريخ کې نوم په زرينو کرښــو وليکل شـــي، په دې عمر کې شهادت هم عجيب کيف لري. د خدای په خاطر ددې مظلوم ملت برخليک بيا د لنډغرو منګولو ته مه سپاره...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما خيالي افغانستان

**دا ليکنه د ۲۰۲۰ م کال د مې مياشتې پر (۱۱) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د غويي مياشتې له (۲۲) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

زه داســـې افغانســـتان غواړم، چې نه په کې جنګ وي، نه په کې عداوت، نه په کې فقر وي نه په کې غربت، نه په کې بدمرغي وي نه په کې جهالت، نه په کې رزالت وي نه په کې شـــيطانت، نه په



کې ظالم وي نه په کې مظلوم، نه په کې تعصـــب وي او نه هم د تعصـــب په نوم د چا توهين، نه په کې کينه وي نه په کې قهر او غوصـه، نه په کې له منبره د تکفير اوازې پورته کېږي او نه د ښـار

(c) ketabton.com: The Digital Library

له واټونو د منکراتو انګازې. ملا له ښوونکي سره پوخلا وي او طالب له زده کوونکي سره، مسجد د دين د تبليغ روزنځی وي او هوجره د کلتور، خان خپله خاني کوي او ملا خپله ملايي، ښار د کلي مخالف نه وي او کلی د ښار. هر افغان له بل افغان سره بشپړ برابر حقوق ولري، د قوم، ژبې، مذهب، جنس او سمت توپير حرام وي، د ګومارنې معيار يوازې او يوازې سړيتوب او لياقت وي. غرونه مې ببرته په شنو ونو پوښلي وي او سيندونه مې د تل لپاره له اوبو ډک وي، نه مې چا ته لاس ورغځېږي او نه رانه مظلوم بېنوا لاړ شي، حيوانات او مرغان مې په خپل وطن کې



له انسانانو څخه و نه ډار شي؛ ټول خوښ او خوشاله وي او څاروي مې په شنو ورشوګانو کې سوکاله، د دايمي ثبات لپاره مې ولس د خپلو طبيعي حدودو او سرحدونو خاوند وي؛ امو مې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

اباسـینه سـره وصـل وي، یو دنګ ډبرین دېوال مې له خپل وطنه راتاو وي، نه پر چا تېری وکړم او نه څوک تېري ته پرېږدم، دين مې د پرمختګ خنډ نه شـــي او دنيا مې د دين د تقدس مخالفه؛ دواړه ســـره غاړه غړې وي، ورونه او خویندې مې ســـره برابر حقوق ولري؛ پر یو مهال ډوډۍ وخوري او ښځینه د نارینه وو د لاس پاتې شونو ته کېنني، سیاستوال او ولس مې دواړه د سواد له نعمتـه برخمن وي، پوځ مې پر خپلو متو ډاډمن وي، د هېواد د



بشـــپړ امنيت د خوندیتابه او په نړۍ کې د مظلومانو د ډاډ جوګه وي، پر ټول هېواد مې د قـانون د واکمنۍ لمن خوره وي، ملي کرنســـۍ مې په نړۍ کې د ارزښـــت وړ او د چارواکو خبره مې له وزن څخه برخمنه وي، درې رنګه ملي بيرغ مې مو په هېواد او

(c) ketabton.com: The Digital Library

نړۍ کې رڼانده او ملي هویت مو ځلانده وي، لنډه دا چې هیوادوال مو دومره سوکاله وي چې د نړۍ په هر ګوټ کې، چې کوم ملا وعظ کوي او خپل ذهن کې د جنت ذهني انځورنه کوي، نو زما افغانستان دې ورته د عیني انځور په توګه د مثال په ډول ور یادوي .

زه دې په ټول وطن کې یوه کوډله و نه لرم، یو ملنګ دې یم، زه



به د وطن پر هر کلي او بانډو ګرځم، سندرغاړی به را سره وي، پر خبرو او سندرو به بندیز نه وي، شاعر او هنرمند ته به په سپکه سترګه نه کتل کېږي، زه به ورته د سوي بلبل په شان شعرونه لیکم، هنرمند به ترې سندرې جوړوي، د و طن پر ګوټ ګوټ به

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرځو، سندرې به وېشو، خبرې به وېشو، مينې او شکرې به وېشو .

د خيالو همدا لړۍ مې ځان سره زمزمه کوله، چې يو دم يوه درنه چاودنه وشوه، له درانه خوبه را ويښ شوم، په خپلو خولو کې خيشت پيشت وم، پر ځان مې کلمه تېره کړه، يو ځل بيا په خيال کې ډوب شوم او دا لنډۍ را په ياد شوه:

په تصور مې ځان باچا کړ

چې سر مې پورته کړ ملنګ د دنيا ومه...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ايا هېواد کې جهادي داستان بيا تکرارېږي ؟

**دا ليکنه د ۲۰۲۰ م کال د مي مياشتې پر (۱۲) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د غويي مياشتې له (۲۳) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

کله کله سـړی دومره ودردېږي، چې مجبور شـي قلم ته پناه يوسـي، په لغمان کې د ملي اردو د سـرتېرو قرباني د ټول هېواد لپاره يوه غميزه ده، دا تراژيدي د نظام او هېواد د بقا لپاره د خطر يو زنګ هم دی، که چېرې سر له همدا اوسه پرې ژور فکر و نه شي، نو هېواد به د ګړنګ غاړې ته نږدې کړي. اصلي خبره دا ده چې په افغانسـتان کې د جګړې لپاره د چا له خوا کومه تيوري او سـتراتيژي جوړه شـوې وه، هغه يو ځل پلې شـوه او دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی اوس یو ځل بیا یې د تطبیق احتمال شـــته. د پاکســـتان د استخباراتو مسول (جنرال اختر ) به جنرال ضیالحق ته ویل چې افغانستان کې د جګړې لپاره موږ ته تر ټولو ښـه جنګ ګوریلایي یا چریکي جنګ دی. دې سـره کلي او ښـــارونه لاس په لاس کېږي، څو ځلـه دا کـار تکرارېږي او دې ســره دومره ورانی رامنځته کېږي چې که بیا هر څوک پر افغانستان حکومت وکړي، د خپل هېواد د ابادۍ وس به و نه لري او کابل کې به د تل لپاره یو کمزوری حکومت وي. جنرال اختر عبدالرحمن به ویل چې



کابل باید وسـوزي چې لاهور یا پاکسـتان په امن کې پاتې شـي. د جنرال ضـیا او حنرال اختر ارمان د هغوی تر مرګ وروسـته کابل ته د مختلفو جهادي ډلو په راتګ سـره پوره شــو. دا چې ټولو جهادي ډلو غوښـتل که نه چې دا کار وشـي، خو فورمل داسـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړ شــوی و چې همداســې کېدل. طالبان اوس هم د هماغې قاعدې په مســیر کې روان دي، چې پروني مجاهدین واقع وو؛ شــعارونــه، عملونــه، رېږې، لونګۍ، پکولونــه او جغرافیــایي موقعیتونه او د جنګ انګېزې یې ټولې ســره ورته دي. په دې بله خوا کې هم ښخي ورتــه موقعیتونــه دي؛ د شــورویــانو ځــای امریکایانو او د ډاکټر نجیب احمدزي د حکومت ځای د ډاکټر اشــرف غني احمــدزي حکومــت نیولی دی. د ډاکټر نجیــب حکومت هم یو بشــپړ متضــاد ایتلافي حکومت و؛ خلک، پرچم، ستم او نورو چپي عناصرو په کې ونډه لرله او د غني په حکومت کې هم، جمعیت، ســتم، غربپلوي او نورې متضــادې ډلې پوره ونډه لري، د ډاکټر نجیب پر ضــد هم همغو ډلو کودتا وکړه چې ده ډېر نازولي وو او د غني پر حکومت هم؛ کله چې امریکایان و وځي د دې ډول کودتا اټکل کېدلی شــي، ډاکتر نجیب هم د ټولو قواوو اعلی سر قومندان و، خو د پرچم ډلې او دوستم ملېشو له هوايي ډګره ببرته را وګرځاوه، ډاکتر غني هم اوس د وســلوالو قواوو اعلی ســر قومندان دی، خو چې کله هم دی وغواړي د ډاکتر نجیب په شــان هڅه وکړي د خپلو مرســتیالانو او نورو نازولو له خوا به را وګرځول شي. دلته تاریخ کټ مټ تکرارېږي، خو څوک ترې عبرت نه اخلي.ډاکتر نجیب د ملي روغې جوړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

بهیر پیل کړ، خو د سـولې بهیر تر نظامي تحولاتو شـاته پاتې شـو، نو ځکه خو کودتا ته لاره اواره شــوه. نو اوس باید ډاکتر غني تېر




تاریخ او اوسنیو حالاتو ته دېر متوجه شي، په هر ډول چې وي له وخت څخه ســمه ګټه واخلي او ژر تر ژره طالبانو ســره ســوله وکړي، دلته شعارونه هسې هم د خلکو د وخت ضایع کول دي؛ هېڅوک خپـل شـــعـار تـه ژمن نـه دی، هغوی چې د خلکو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواخوږی شعار يې ورکاوه، خلک يې تباه کړل، چې د کمونيزم شـــعار يې ورکـاوه، هغوی کمونيزم د نـابودی تر کنـدې پورې وشـرماوه او بيا وروســته چې د دين پتنګان راغلل، اسـلام ته يې



دومره ضـــربه وکړه چې په صـــليبي جګړو کې هم مســـلمـانـان دومره نـه وو متضــرر شــوي اوکله چې د دې وارد شوې ديموکراسی غرب‌پلوي تکنوکراتان راغلل، نـو دوی د غـلا، فســـاد، ګډوډی، بې تفاوتی او لوټ او تـالان يو نړيوال ريکـارډ ټينک کړ، اوس يو ځل بيا د دين د پتنګانو وار دی : طالبان چې د دين‌کوم تعبير او تفسير وړاندې‌کوي، دې سره د سيمې او نړۍ ډېر جيد عالمان توافق نه لري، خو څرنګه چې دوی د ټوپک په ژبه خبرې‌کوي، بحث ور سره‌کومه نتيجه نه ورکوي، نوکله چې عيني واقعيتونه دغســـې وي، هلته د مذهبي دلايلو په مقابل‌کې ســـاينســـي منطق ويل د ژوند د اختتام او تکفير په بيه تماميږي. دلته اوس د ملامت او سـلامت تر تثبيت وړاندې مور ته دا په‌کار

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده چې هېواد ته سوله راولو، سوله چې راولو، نو دلایل ورته نه تراشو او وخت نه ضایع کوو، غازي امان الله خان تر وخت وړاندې خپل ریفورمونه پیل کړل، نو له سقاوي اړو دوړ سره مخ او حکومت یې سقوط شو، د هغه د حکومت په ړنګېدو سره ټول هېواد زیان ولید، ان تر ننه هم ټول هېوادوال له همغې غمیزې کړېږي، ډاکتر نجیب تر وخت شاته پاتې شو، هم دی




قرباني شو، هم نظام او هم زموږ دوه سوه کلن پوځ متلاشي شو، اوس که موږ د هغه وخت سقاوي او جهادي عناصر هر څومره پړه وګڼو، بیا هم هېواد ته رسېدلی زیان نه شو جبرانولای. اوس باید غني د خپل انفرادي تفکر او د ارګ د غوړه مال چاپېریال له دایرې څخه را ووځي، ژر تر ژره طالبانو سره خبرو اترو ته حاضر شي، وخت له لاسه ور نه کړي، که طالبان د لغمان د

(c) ketabton.com: The Digital Library

الیشـنګ ولسـوالۍ په شـان څو نور بریدونه وکړي او یا هم کوم ولایت ونیسي، بیا به د هغوی تقاضا ډېره پورته شي او د سولې بهیر به شـاته پاتې شـي، په دې تمه مه کېنه چې زه به درې څلور کاله د ســـولې بهیر په دې او هغه پلمه وځنډوم. بیا به په پای کې ووایم چې راځه اوس نو ســـوله کوم، تر هغه وخته خو په زرګونو ســـرتېري له لاســـه ورکوو. ایا د دې افغانانو ژوند د همدې لپاره دی چې ســـتا او د عبدالله د ګډوله حکومت ســـاتنه وکړي؟ افغان ولس حکومت او نظام غواړي، نه غني او عبدالله، دلته نظام د یو څو تنو افرادو له خوا یرغمل شـــوی. د ولســـواکۍ او نظام پر مفاهیو خو ټول زړه کې پوهېږو چې چاته څومره ارزښـــت لري؟ یو ځل بیا یادونه کوم چې طالبان، نورې جهادي ډلې او ګوریلایي ګروپونه د منظمو لښـــکرو په مقابل کې د ســـرطان ناروغي ده، د دې ناروغۍ یوازنی درمل دا دی چې په ډېر مهارت او تکتیک یې د ســـولې دایرې ته داخل کړې، د امریکا پر نېت هم باید پوره شـــک ولرې، لکه څنګه چې روســـانو په وروســـتیو کې د ډاکتر نجیب پر وړاندې کودتا او سازشونه وکړل، دغسې امریکایانو کې هم شـک نه شـته چې له شـمال ټلوالې، طالبانو او پاکسـتان سـره ستا پر ضد معامله وکړي، که طالبان د جهادي ډلو په څېر د کودتا او یا هم د زور له لارې کابل ته را ننوتل، نو د ملي پوځ او نظام

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ګډون ټولې لاسته راوړنې او شتمنۍ به له منځه لاړې شي، دې کار کې به د جهادي ډلو په څېر طالب هم ګټه و نه کړي؛ طالبانو ته به یوه تاریخي مختوري او وران وطن پاتې شـــي، د پاکســـتان (ای، ایس، ای) به یو ځل بیا نړۍ ته ټېر ووهي چې وګورئ دا خو موږ وو چې لومړۍ مو د روس امپراتورۍ او بیـا مو دا دی د امریکا امپراتورۍ ته ماته ور کړه، طالبان که هر څومره د جهادي ډلو په څېر و وایي چې دا توره خو موږ کړې، نو هغوی به ورتـه ووایي چې تاســې خو د جګړې د ســون توکي وئ، تاســې کې که چېرته عقل وای د دین په نامه به مو خپل وطن نه وراناوه. هغه وخت که موږ هر څومره ارمان وکړو، لاســونه ومروړو، څه به تر لاســـه نه کړو، نو راځئ چې له هرې ممکنې لارې وي، د تېرې جهادي تجربې د بیا تکرار مخه ونیسو.د نظام بقا او سولې ته تر ټولو لومړیتوب ورکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پښتون اقلیت! لپاره یو معاونیت!

## (د مظلوم او محکوم اقلیت لپاره د عدالت غوښتنې غږ)

**دا لیکنه د ۲۰۲۰ م کال د مې میاشتې پر (۱۲) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د غويي میاشتې له (۲۳) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

شف شف به سره نه کوو، سم شفتالو به وایو، څومره چې پښتون د یو قوم په توګه په افغانستان کې ځپل شوی، بل هېڅ قوم او اتنیکي ټبر دومره نه دی ځپل شوی، دې کار کې که د یو دريو



اقلیتونو سپین سترګو مشرانو او سیاستوالو خپل رول لوبولی دی، د پښتنو په نامه راغلي مشران او سیاستوال هم ورسره پوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

وندوال دي. د همدغو دوه رګه او درې رګه پښــــتنو په وجه اکثریت پښــــتانه له عملي پلوه د یو واړه اقلیت کچې ته را ټیټ شوي دي، هغه ارګ چې د پښتنو د واکمنۍ په نوم نومول شوی، نه پخوا او نه هم اوس په کې د پښتو څرک لیدل کېږي. که کرزی صیب پښتون نه وای، نو په دې مدیریت به یې په خیال کې هم دا څوکۍ نه وه لیدلې، که اشـرف غني هم ذاتاً پښـتون نه وای، نو په دې ټولنیزو اخلاقو به یې دا پاچاهي په خوب کې هم نه وه لیدلې، خو کله چې به دې کرزي صـــیب ته وویل؛ دې قوم او ژبې ته د هغوی له خپل استحقاق سره سمه توجه وکړه، نو درباري غوړه مالانو به یې یو دم در باندې را ودانګل؛ او رییس صـــیب خو د ټول افغانســـتان ولســـمشـــر دی، یوازې د پښـــتنو خو نه دی، په ((ټول )) کې نور ټول راتلل، خو یوازې پښـــتون په کې نه راته، د اشـــرف المخلوقات ډاکتر صـــیب غني په پاچاهۍ کې هم خبره همدا ډول ده، دی د ټولو دی، خو یوازې د ټاکنو پر مهال بیا د پښـتنو هم شـي. د ده په دربار کې هم پښـتو د تبرک لپاره نه پیدا کېږي، دی د درباریانو په اصـطلاح یو ملي او نړیوال شـخصـیت دی چې د قوم او قبیلې په دایره کې باید راګیر نه شي او نه دومره وړوکی دی چې پر دې مســـایلو خپل وخت ولګوي!! ځکه خو پښتون د یو واړه اقلیت کچې ته راټیټ شوی دی، نو څرنګه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمهور رییس غني پر ځینو اقلیتونو ډېر مهربانــه دی، نو موږ پښـــتون اقلیت! هم غواړو چې د ده له لورېنې برخمن شـــو؛ پښـــتون اقلیت! ته دې هم یو معاونیت منظور کړي، دی خو غیر له دې نه هم پښـــتنو ته وخت نه لري، نو ښـــه ده چې همغه مرستیال یې د پښـتنو ورځني مشکلات او غوښتنې واوري، خو یو شی باید په کې ضروري وي چې پښتو یې سمه زده وي؛ لیکل او لوستل پرې وکړای شي، دوه رګه او درې رګه نه وي او داسې هم و نه شـي چې مصـلحتیان او مضـر احتیاط کاري داسې پلمه وکړي؛ د دې په خاطر چې ملي وحدت! تامین شـي، دې پوست ته به یو دري ژبی ورور راولو چې بیا د هغوی په زړه کې څه و نه ګرځي او ملي وحدت هم تضـــمین شـــي!!، نو بیا به هغه ته هم ترجمان نیســـو. نو ټولو پښـــتنو: پکتیاوالو، ختیځوالو، د لوی کندهار شــمله ورو، کوچیانو د شــمال پښــتنو او د هېواد د نورو سیمو مخورو! که غواړئ چې په ارګ کې مو استازولي وشي، نو د ځان لپاره یو معاونیت تثبیت کړئ او داسې یو ژبور سړی ورته غوره کړئ، لکه د تاجکو ورونولپاره چې امرالله صالح او د هزاره وو ورونو لپاره چې سرور دانش دی، د دې لپاره چې چاته ناوړه تبســم پیدا نه شـــي، زه په حکومت کې د هېڅ ډول منصـــب غوښـــتونکی نه یم، خو د پښـــتنو په ګډون د هر افغان د حق

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښـتونکی او پالونکی يم، نو راځئ چې د پښـتون د تش په نامه حاکميت تر چتر لاندې د خپل واقعي محکوميت او مظلومت غږ پورته کړو، د همدې يوې مرسـتيالۍ له لارې د نورو حقونو د تر لاسه کولو لپاره زمينه برابره کړو، نو که د عدالت غوښتنې له دې غږ سـره همغږي ياسـت، راځئ چې پر غني مفکر صـيب ولسـي فشار راوړو او خپل حق ترې تر لاسه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اسقامت او غیرت سړی

| |
|---|
| **دا لیکنه د ۲۰۲۰ م کال د مې میاشتې پر (۱٤)مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د غویي میاشتې له (۲۵) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.** |

د غم بار ډېر درونـد وي، ډېرې ځواکمنې ملاوې مـاتوي،ډېرې قوې متې اوبه کوي او هغه هم داســـې غم چې يوه کورنۍ په کې ټوله لولپه شي. د ښـېوې پېښـه کې په لسګونو هېوادوال شـهيدان



شــول او لســګونه نور ټپيان، خو د حاجي صــيب نوراغا ملکزي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کورنۍ په کې ډېره وکړېدله. پوره شـــل کاله کېږي چې حاجي صـیب نوراغا ملکزی مې ملګری دی، په ډېرو سـختو مبازرو او تاوجنو شـــپېو کې یې لاس راکړی، د څرګند ملي دریځ خاوند دی، کله چې د هغه پر کورنۍ او نورو هېوادوالو د غم او ویر دا ټکه را پرېوته، نو ډېر خواشینی شوم، حاجي صیب ته مې تلیفون و نه کړ، ما ویل چې هغه به وایي پر تا چې به کله هم د غم عادي څپه راغله، ما به ځان در ورساوه، خو اوس چې پر ماکوم ناورین راغلی، دوســـتـان د انتحـاري او کرونـا لـه وېرې یوازې پـه



تلیفون زما احوال اخلي. ســـهار وختي مې له کابله حرکت وکړ، جلال اباد ته لاړم، د حاجي صـیب هوجره له فاتحه ګرو ډکه وه، د غم فضـــا خوره وه، څو شـــیبې له فاتحه ګرو جلا ور ســـره کېانستم، هغه درد چې یو پلار یې د خپل شهید زوی او تېي زامنو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په باب له خولې راباســـي، قلم يې له انځورنې عاجز دی، حاجي صـــيب ويلې ما خو د دې لپاره وکالت کاوه چې د خپلو مظلومو خلکو غږ حکومت ته ورسوم، مظلوم له ظالمه وژغورم، زه اوس خپله دومره مظلوم شوم چې د خپلو اولادونو د شهادت پوښتنه نه شـم کولای؟ يا خدايه زه چا نه پوښـتنه وکړم؟ د حاجي صـيب ساندې دومره دردونکې وې چې سړي ته يې د هېڅ ډول تسلي ورکولو مجال نه ورکاوه. لږ يې چې درد غلی شو، ما ته يې وويل چې يون صـــيب يوازې مې د خپلو اولادونو وير نه دی، زه خپلو



هغو کاردانو ته لا ډېر غمجن يم چې ما سـره به زما تر شـا ولاړ وو، هر لمانځه کې به مې دعا ورته کوله چې يا ربه که پر ما څه کېږي، خو چې دوی ته زيان و نه رسېږي، د دوی اولادونه به څه کړي؟هغو ته ډېر خفه يم، د ښـــېوې ټول ولس ته ډېر خفه يم، ما خو د هغوی د ساتنې او پالنې لپاره هغوی سره ژمنه کړې وه، زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه وکړم؟ ټول ولس مې تباه شـــو! حاجي صـــيب د دې خونړۍ پېښې د پېچلتيا او څرنګوالي په باب هم دردونکې خبرې وکړې، خو هره خبره کې به يې همدا ويل چې زه يوازې نه يم تباه، ټول ولس مې تباه شـــو. کله چې ډله ييزې فاتحې ته راغلو، له ټولو



خلکو يې د هغوی د غمرازۍ له امله مننه وکړه، ان تر انګړه بهر مېلمنو ســره ووت، د حاجي صـــيب ملکزي غږ د پخوا په شـــان لوړ و، خو غږ کې يې د پخوانۍ جـذبې پر ځـای يو دردوونکی سـوز ښـکارېده، اخوا دېخوا يې کتل، لکه چې څه شـی يې ورک کړي وي، لکه خپل ســـاتونکي يې چې تر شـــا نه وي، لکه خپل ګران زوی (لالاخان) يې چې ورک کړی وي، د هغه په لټه يې اخوا دېخوا کتل، هو، لالا خان يادوم چې هم يې زوی و، هم يې مټ او بازو او هم يې د مبارزې ملګری.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ولايتي ماسټرپلانونه

**دا ليکنه د ۲۰۲۰ م کال د مې مياشتې پر (۱۷) چې د ۱۳۹۹ ل کال د غويي مياشتې له (۲۸) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

کله چې په يو هېوادکې جګړه روانه وي او سياستوال يې هم پر لويو ستونزو او خپلمنځي لانجو اخته وي، پر داسې يو مهال په هېوادکې دسترو پرمختيايي او پراختيايي پروژو تر سره کول عملي نه برېښي، خو دا په دې مانا نه ده چې موږ هر څه ته لاس تر زنې کېنو او هېڅ کار شوني و نه ګڼو. يو له هغه کارونو څخه چې هم مهم دی او هم د حالاتو له ترينګلتيا سره سره عملي برېښي او سياسي هم نه دی، هغه د هر ولايت د پرمختګ لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یو جامع ماسټر پلان جوړول دي. ماسټر پلان باید لږ تر لږه د دېرشو کلونو زماني بهير اړتیاوې راونغاړي. د هر ولایت



سکتوري رياستونه کولای شي د مرکز په همغږۍ خپل پرمختیایي ماسټرپلان جوړ کړي. په دې ماسټر پلان کې باید د یو ولایت د نفوسو د ودې اټکل، چاپېريال ساتنه، د ځنګلونو پراختیا، د ښوونځیو او تحصیلي موسساتو، جامع جوماتو، صنعتي او تفریحي پارکونو، کرنیزو او حیواني فارمونو جوړول او نور ټول اړتیا وړ تاسیسات شامل وي. طبیعي خبره ده چې د دې ډول کارونو د سرته رسولو لپاره نه اوس امکانات شته او نه هم دا د یوې ورځې کار دی. کله کله بیا داسې هم پیښ شي چې د یو کار لپاره امکانات هم پیدا شي، خو چې پلان نه وي هغه کار له امکاناتو سره سره پر خپل ځای پاتې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کرزي صـــیب یو وخت د خپلې واکمنۍ په پیل کې عربي متحده اماراتو ته ســـفر وکړ، هغه وخت د نړۍ زیات شـــمېر هېوادونه



افغانســتان ســره مرســتې نه ډېر لېواله وو، د اماراتو شـیخ، کرزي صـــیب ته وویل، ووایه څه خدمت درته وکړم؟ راکړه هر ډول پروفوزل چې لرې درته منظور یې کړم، خو افغاني هیات ســـره هېڅ ډول لیکلی پلان او پروفوزل نه و، چې د اماراتو شیخ ته یې وړاندې کړی وای. دوی ورته وویل بل ځل. هغه بل ځل بیا لاړ پر خپله مخه. هدف دا دی چې کله کله دغســـې وړیا او طلایي مرستې هم تر لاسه کېدلای شي، خو که دلته پلان وای او د ملک لومړۍ درجه چارواکي هر هېواد ته له پلان او پروفوزل ســـره تللای، نو هېواد ته راغلی طلایي فرصت به مو له لاسه نه ورکاوه.

هغه کومې بې دریغه مرســـتې چې دلته راغلې، هغه هم د یو منظم

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلان د نشــــتوالي له امله پنځه ســــلنه هم پر خپل ځای و نه لګېدلې.کله چې نړیوالې مرستې دلته را ماتې شوې، نو هر ولایت او ولســــوالۍ کې په بیړه کارونه پیل شــــول، ســــړکونه او ودانۍ



جوړې شـوې، ځینې ودانۍ د ښـاري پلان د نشـتوالي او یا هم له هغه ســـره د ټکر له امله دوه درې ځله جوړې، بیا ویجاړې او بیا و رغول شـوې، اکثره سړکونه د پلان مطابق جوړ نه شـول، ځینې یې ډېر لنډ او تنګ جوړ شــــول. خلکو یې تر څنګ کورونه او مارکېټونه جوړ کړل، اوس چې غواړې سړکونه لوی او پراخ کړې، مجبور یې شــاوخوا ټولې ودانې یې ونړوې، چې دا خپله یوه لویه ســتونزه او مالي زیان دی. ښــارونو منظم انکشــاف ونه کړ، اکثره واړه ښـــــارګوټي په خپل ســــــر او په نامنظم ډول جوړ شـــــول، د کورونو تقاضـا پورته شـوه، ځکمې خپل قیمت لوړ کړ، دې کار د ځمکې مافیا او زورواکان دې ته وهڅول چې د ځمکو پر غصب لاس پورې کړي؛ لږ تر لږه (څلور نیم ملیونــه جریبــه) دولتي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځمکه غصب شوه، نا منظم ښارګوټي په کې جوړ شول او خپل سرې ابادۍ په کې وشوې، د ټولې غصب شوې ځمکې مجموعي قېمت تر ( اتیا ملیاردو ډالرو) اوړي، اوس نو که دولت دا ځمکه بېرته راګرځوي، هم سخت او ناشونی کار برېښي، هم له زورواکو سره مخامخېږي او هم د سرپناه له خاوندانو سره، که دولت بېرته دا ځمکه خپل اصلي حالت ته ګرځوي، نو لږ تر لږه



همدومره لګښت به زغمي چې پورته مو یادونه وکړه. خو که دولت له پخوا څخه دې ځمکو ته ماستر پلان درلودلای، نو هم به یې ( اتیا ملیارده ډالر ) تر لاسه کړي وو، هم به یې ( اتلس ملیونه ) افغانان د کور خاوندان کړي وو او هم به هېواد اوس د

(c) ketabton.com: The Digital Library

منظمو ښارګوټو څښتن وای. اوس د دې لپاره چې پر پاتې دولتي ځمکو دا تېره ترخه تجربه تکرار نه شــي، نو په‌کار ده چې ژر تر ژره ( د یو کال په بهیر کې) هر ولایت خپل ولایتي ماســـټر پلان جوړ کړي، ځینو ولایتونو لا وار دمخه خپل دا ډول پلان تر یوه حده جوړ کړی هم دی، خو نور هم باید پراخه شـــي. پر دې هم ټول پوهېږو چې د ماسټرپلان پلي‌کول د یوې ورځې کار نه دی؛ ګام پر ګام به تطبیقېږي، خو د هغه د هندسي شکل د تثبیت لپاره د یو ولایت خپل امکانات هم تر یو حده بســـنه‌کوي او کنه له



مرکزي بودجې څخه هم مرسته غوښتلای شي، د ساري په توګه په یو ولایت‌کې د (٤٠) متره، (٣٠) متره او یا هم ( ٢٠ ) متره په ســـور یو ســـړک په پلان‌کې دی، د ولایت اړوند چارواکي کولای شي، د یو لښتي او یا نورو نښو په واسطه د سړک حریم

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلوم کړي، شا وخوا ته يې نيالګي هم کېنوي، په داسې يو حالت کې تر ډېره حده څوک د دې جرات نه کوي چې د سړک حريم ته داخل شي، هلته غصب وکړي او يا ابادي وکړي، همدا ورته عمليه د ماسټرپلان پر نورو ساحو هم د تطبيق وړ ده. په دې ډول مخکې تر دې چې موږ د ماسټر پلان د تطبيق مرحلې ته ورسېږو، لومړی بايد د تثبيت پړاو بشپړ کړو. نوی ماسټرپلان بايد نه يوازې داچې نوې ساحې تر خپل پوښښ لاندې راولي، بلکې ټولو زړو ودانيو او نامنظمو ښارګوټو ته هم د سمون لاره پيدا کړي او ټول د دې نوي ماسټر پلان برخه کړي، که د هر ولايت لپاره يو ښه ماسټرپلان ولرو، خدای ج مهربان دی، يو وخت به راته امکانات هم برابر شي او ګران افغانستان به د راتلونکو دريو لسيزو په بهير کې د پرمختګ او سوکالۍ لوړو پوړيو ته ورسېږي. د همداسې يوې ورځې په ارمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تاریخ یو بل شرم هم ثبت کړ

**دا لیکنه د ۲۰۲۰ م کال د مي میاشــتې پر (۱۷) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د غویي میاشتې له (۲۸) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

ســیاســتوال خپل مجبوریتونه او تکلیفونه لري، ځینې یې یوازې حال ته ګوري، له ماضــي څخه عبرت نه اخلي او راتلونکي تاریخي قضــاوت ته یې هم پام نه وي. د تاریخ قضــاوت ډېر بې رحمه دی، هلته پر نتیجو بحث کېږي، نه د چا پر ورځنیو نفســي غوښتنو او مجبوریتونو. ځواکمن او مدبر سیاستوال هماغه دی، چې دمجبوریتونو پر وړاندې مقاومت وکړي.

کرزي صــیب د خپلې واکمنۍ په بهیر کې د ګڼو تېروتنو تر څنګ یوه تاریخي تېروتنه دا وکړه چې د لنډغرو ملېشــو د یوې ډلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

قومندان ته يې د (( مارشـــالۍ)) رتبه ډالۍ کړه. له دې رتبې څخه د نظار شـورا د دې مشـر هدف دا و چې له (مارشـال شـاه ولي خان) سـره ځان په تله کې واچوي او په دې ډول د بچه سـقاو د ماتې غچ تداعي کړي. د هغې رتبې له نامه څخه فهيم خان هره مياشـت د((١٤٠٠) سـرتېرو امتيازات اخيسـتل، د خپل ژوند تر



پايه يې دومره لوټ او تالان وکړ، چې تاريخ کې يې سـاری نه و ليدل شـوی. کله چې فهيم خان مړ شـو، په مړينه يې هم غصـب وکړ، کرزي صـيب وويل چې دلته په کابل کې يې د (بادام باغ) د غونډۍ پر سـر ښـخ کړئ ځکه چې دی خو د ټول افغانسـتان مارشـــال (!؟) و .ما د يو افغان په توګه د محمد قسـيم فهيم د ناقانونه مارشالۍ پر وړاندې پر خپل وخت خپل غبرګون ښودلی؛ (مارشال په کابل او کابل په مارشال پلان کې)، (مارشال او بيت

(c) ketabton.com: The Digital Library

المال ) او ځينې نورې ليکنې مې هماغه مهال خپرې کړې دي، خو له ښـــاغلي غني شخه مو دا هيله نه وه چې دی دې هم د کرزي صـــيب پر پل، پل کېږدي او يا دې ان تر هغه هم وړاندې لاړ شي !

ښاغلي غني سره به په سړه سينه منطقي بحث وکړو؛ د کوم علت



له مخې د عبدالرشـــيد دوســـتم د خپل لومړي مرســـتيال په توګه مياشـــتې او کلونه خپل دفتر ته پرېښـــود؟ کومه ګناه او خطاه يې وه؟ ايا هغه جرم تزکيه شـــو؟ محکمې برات ورکړ؟ له دې پرته ايا دوستم د دې رتبې لپاره ټول شرايط پوره کړي دي؟ لوړې پوځي زده کړې او ارکـانحربي لري؟ ايـا اوس هم په ترتيـب ســـره لـه بريدمن شخه تر همدې مارشـــالۍ پورې د ټولو پوځي پوړيو يا رتبو يوازې نومونه اخيستلای شـي؟ ايا بشـري جرمونه يې نه دي کړي؟ په زرګونو افغانان يې نه دي وژلي؟ د کابل په ورانۍ او د هېواد د نورو سيمو په ويجاړۍ کې يې لاس نه درلود؟ ايا ته خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ور ســـره په تکلیف نه وې؟ کله چې دې تر اوســـه ملي پوځ د پوخوالي بشپړې پوړۍ ته نه وي رسېدلی، مخالفین دې د ارګ په شـل متریکې درته ګواښ پېښوونکي شي، نو په داسې یو ترینګلي امنیتي حالت کې چا ته د مارشـــالۍ رتبې ورکړه څه مانا؟ د مارشـالۍ رتبه خو هغه چا ته ورکول کېږي چې خپل هېوادکې یې داخلي بغاوتونه ارام کړي وي، بشـپړ امنیت یې ټینګ کړی وي او په څو نورو هېوادونوکې یې هم عســـکر پراته وي او دی له دې ځایه خپلو عسکرو ته د امر او نهې قومنده ورکوي، خو نه داسې شخص چې په خپله وخت پر وخت د بغاوت سبب شوی وي او ملک یې له کورنۍ جګړې او تاو تریخوالي سره مخ کړی وي.

ښـاغلی غني! کله چې د شـپې په خپله خونه کې یوازې شـوې، تر خوب وړاندې له خپل ضـمیر سره یوه غلې مشوره وکړه، چې دا کار دې سـم کړی که ناسـم؟ پوره باور لرم چې خپل ضـمیر ته به خجالته وې، نو کله چې ســـتا خپل ضـــمیر داســـې یوه ظالمانه پرېکړه نه مني، نو دا ستر ملت یې ولې ومني؟

څو ورځې وړاندې دوســتم ته د همدې مارشـالۍ رتبې د ورکړې په باب پژواک خبري اژانس یوه دقیقه سروې او نظر پوښتنه کړې وه، (۹۱) ســـلنه خلکو ویلي وو چې دوســـتم ته د دې رتبې له ورکړې سـره مخالف یو. کله چې له طالبانو سـره د سولې خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مطرح کېږي، نو بیا د وخت د ضـــایع کولو په خاطر جرګه جوړه شي، مشـوره وشـي، جهادي او الحادي رهبران را وړاندې شـي، شـورا شـي، سـتراتېژي شـي، طرحې مطرح شـي، د پنځو کلونو مسیر او بهیر وڅېړل شي، دوه سوه پلمې جوړې شي او د سولې له خبرو د پندانۍ کیســـه جوړه شـــي، خو کله چې له عبدالله، جمعیت او نورو جګړه مارو ســـره د ټول نظام او بیت المال د وېش معامله کېږي، هغه وخت بیا نه ولس وي، نه یې مشـــوره وي، نه طرحه وي، نه کومه ستراتېژي !؟ ان ټاکنیز شریکباني دې هم خبر نه وي. عمر او پاچاهي دې تېرېږي، خو تاریخي پېغورونه به پاتې کېږي، د هغه نسل پر حال خواشیني په کار ده چې د خپلو مشـرانو د دې ډول تېروتنو کفاره به ورکوي : کرزی صـیب لاړ، خو د لاس د تېروتنو نښـې یې د تاریخ پر دېوال پاتې شـوې. غني صـیب به هم لاړ شـي، خو د تاریخ پر مخ به یې د تېروتنو دا تور داغونه پاتې شـي. تر سـیاسـتوالو را وروسـته لا بل بې ضـمیره مخلوق هغـه دی چې د هغوی هرې تېروتنې او جنـایـت تـه د مصـــلحت پرتوګ ګنډي، دوی داســـې ماهرانه بخیې وهي چې اصـــلي واکمن یې هم د خپلې تېروتنې د پټونې لپـاره دومره سپینسترګي نه کوي، دا نو د ټولنې تر ټولو خطرناک مکروب دی چې ولس ته ستونزې پیداکوي او سیاستوالو ته د نورو خیانتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

جواز او جرات ورکوي. په دې ډله کې یو شمېر پښتانه کنځلمار فیسبوکیان هم شامل دي؛ هرکله چې مور پر ډاکتر صیب غني د هغه د کارونو د ښه والي په نیت سمونپاله نیوکه کړې، نو دوی د کنځلو خولې خلاصـــې کړې دي، د صـــالح، دانش، علیپور، قیصاري او نورو سره یې د غني په معامله کې هغوی حق په جانب ګڼلي، فیسبوکي ملاتړ ته یې ور دانګلي او مور ته یې کنځلې کړې دي، اوس به نو یو ځل بیا له عبدالله ســـره د ګډوله حکومت د جوړونې او دوســـتم ته د مارشـــالۍ رتبې د ورکړې لپاره هم ســـپېرونی برابروي، دلایل به تراشـــي او د دې ناقانونه کارونو مخالفینو او منتقدینو ته به کنځلې حواله کوي، په تاریخ کې باید دا بې ضمیره طبقه هم په تورو کرښو ولیکل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د انسانیت لارویان

**دا لیکنه د ۲۰۲۰ م کال د مې میاشـــتې پر (۲۰) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د غويي میاشتې له (۳۱) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

لـه هغـه ورځې چې هېواد تـه د کرونـا وبـا راغلې، نو د ډېرو هېوادوالو ژوند يې له ستونزو او خطر سـره مخ کړی دی. د دې وبـا د رفعې او دفعې لپـاره هر څـا تر خپلې وســـې کـار کړی، حکومت که څه هم ځینې نیوکې پرې شـــوي، خو بیا هم ځینو چارواکو تر خپله وســه هلې ځلې کړي دي.مدني ټولنو او رســنیو هم خپل مثبت رول لوبولی دی. خو په دې برخه کې چې کوم کار د زیاتې ســتاینې وړ دی، هغه د ملي پانګوالو، خیریه بنســټونو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینو انساندوستو افغانانو هغه مرستې دي چې د تېرې یوې دوو میاشتو په بهیر کې یې زموږ د هېواد پر لسګونو زرو بېوزله کورنیو وېشل شوي دي. د مرستندویانو په دې لړ کې د الکوزي شرکت، ګلبهار خیریه بنسټ، د جي پي کمپنۍ او نورو ګڼو خیریه



بنسټونو هغه مرستې د ځانګړې مننې او یادونې وړ دي چې زموږ زرګونو هېوادوالو ته یې د تېرو دوو میاشتو په بهیر کې رسولي دي. په دې مرستو کې اکثره خوراکي توکي شامل وو. خو زموږ یو بل هېواپال او زړه سواند افغان (حاجي صدیق الله هوتک) بیا پر یو بل اساسي او ګټور کار لاس پورې کړی دی؛ ده د خپل خیریه بنسټ( د الحاج صدیق الله هوتک خیریه بنسټ) له لارې دکرونا د امحا لپاره عفوني ضد درملو پر پاشلو لاس پورې کړی دی.

دې بنسټ د عامې روغتیا وزرات پر ودانۍ سربېره ګڼو نورو دولتي ودانیو کې هم عفوني ضد درمل پاشلي او دا لړۍ یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کابل ښار نورو سیمو او نادولتي ودانیو ته هم غځولې ده .نن یې د ژوندون ټلوېزیون ودانۍ، انګړ او شاوخوا سیمې هم دواپاشي کړې. دوی پلان کې لري چې د کابل ښار نورو سیمو کې هم عفوني ضد درمل وپاشي. موږ په داسې حال کې چې د یاد بنسټ



دا کار ستایو، له دوی، د هېواد د روغتیايي بنسټونو له ټولو کارکوونکو، چې د کرونا پر ضد د مبارزې په لومړۍ کرښه کې ولاړ دي او نورو خیریه بنسټونو څخه مننه کوو او د دې ترڅنګ ورڅخه دا هیله هم کوو، چې دې ډول انساني خدمتونو ته لاپسې ادامه ورکړي او د خپلو بېوزله هېوادوالو د لا زیات خدمت جوګه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د یو ستر حقپالونکي ابدي سفر

**دا لیکنه د ۲۰۲۰ م کال د مې میاشتې پر (۲٤) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د غبرګولي میاشتې له (٤) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

دلغمان ولایت د الینګار ولسوالۍ په ښکلې او ښېرازه سیمه کې یې دې نړۍ ته سترګې وغړولې. له ماشـــوتوبه یې خدای(ج) د خپـل کتـاب مینـه پـه زړه کې ور ټوکولې وه، همـدا مینـه یې د خدای(ج) د کتاب په پانګو کې ومیندله، پسې تعقیب یې کړه؛ کابل دارالعلوم یې ولوســت، دولتي دندې ته یې مخه کړه، له ماموریته، تر مدیریته، ریاســـته او وزراته ټولې دولتي پوړۍ یې یوه په بلې پســې تر لاسـه کړې، مهاجرت ته اړ شـو، هلته یې هم خلکو ته د دین اصلي جوهر ( د سرېتوب پیغام) و رساوه، ماشې ته یې ګوته ور نه وړه، ټول عمر له کتاب او قلم ســره پاتې شـــو، د خلکو د پوهاوي راپوهاوي لپاره یې (( تفهیم القران)) په روانه او بلیغه پښتو وژباړه، (( خوږې کیسې )) یې ولیکلې، د اسلام د اقتصادي سستم او اصولو په باب یې اثار ولیکل، د حق د لارې د لارویانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په باب یې (( حقپالونکي)) ولیکل. او ګڼ شـــمېر نور اثارېې و پنځول. (اویا کاله) یې د یو ســـتر قلموال په توکه د خدای(ج) د دین د مســـتقیمې لارې خدمت وکړ، د کینې، بغض، ســـمتپالنې او توکمپالنې دېوالونه یې ونړول او د زړه په وینو یې د اســـلام بله ډیوه روښـــانه وســـاتله.هم د قلم خاوند و ، هم د فصـــاحت او



بلاغت، هم د جرګې ســـړی و او هم د مرکې، هم د قانون ســـړی و، هم د قضـــا، هم قانونپوه و او هم قضـــاوتپوه، هم ژبور و هم زړور.

څو ورځې وړاندې یې ځوان زوی شهید شو، فاتحې ته ورغلم، د اولاد او هغه هم د ځوان زوی د ناڅاپي شهادت زغمل اسانه کار نه دی، غم یې درون‌د، خو استقامت یې پر ځای و. راته یې وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندون ټلوېزيون کې دې په روژې مبارکې مياشـــت کې اســـلامي خپرونې ښـــې ډېرې کړې دي، هغه شـــپه مې کاته، زړه مې درته دعاوې وکړې. ياد خو به دې وي چې يو وخت مې درته ويلي وو، چې د ملتپالنې برخه دې ډېره درنه ده، د اســـلامپالنې برخې ته دې هم توجه زياته کړه، چې توازن برابر شي، تا راته وويل چې اندېښـــنه مه کوه؛ اســـلام به هم يو وخت مونږ ته پاتې وي او دې نورو به نور کارونه شـــروع کړي وي، اوس چې دې نشـــراتو ته ګورم او په الکترونيکي تذکرو کې د اســـلاميت او افغانيت د کلمو د درج لپاره ستا بې درېغه او زړورې مبارزې ته، نو ما ته هغه ستا خبرې را په ياد شي. رښتيا هم دا نور خو پر نورو لارو سر شول. فاتحه کې د غم فضـا خوره وه، ما نه غوښـتل چې ده سـره خبرې وغږوم ،خو دومره مې ورتـه وويـل چې که ياد دې وي؛ يو ځل مې مخکې هم درته ويلي وو، چې پر ژوند هېڅ اعتبار نه شـــته، ستا ټول متفرق اثار (کليات ) بايد راټول او چاپ شي، څو موده وړاندې مې قاضـــي صـــيب (نســـيم کشـــاف) ته هم وويل چې د کشـاف صـيب ټول اثار (کليات) بايد راټول شي او دی يې خپله يو ځل له نظره تېر کړي، ژوند ډېر بې باوره شـــی دی، نو که بيا خدای مه کړه کشـــاف صـــيب زمونږ په منځ کې نه وي هم، نو دا ټول اثار به يې ســـباني نســـل ته خوندي وي، نو که لږ دې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

صحت ښه شي، دا ځل به دې کار ته ملا تړو .تر چاپ وروسته به ستاسو د ژوند او دې اثارو په باب ژوندون تلویزیون کې یوه درنه غونډه هم جوړوو. ده وویل کور دې ودان همېشه دې غټو او مهمو کارونو ته پام کړی دی. دې سره ترې مو خدای پاماني واخیسته، خو نن سهار لس بجې خبر شوم چې د حق د لارې دې ستر حقپالونکي قلموال د تل لپاره له دې نیمګړې نړۍ څخه خدای پاماني واخیسته او د حق د لارې د ابدي سفر لمن یې ونیوه، لاره یې روښانه، پر مخه یې ژېړي ګلونه او ځای یې جنت شه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د حساب او کتاب یو سړی

**دا لیکنه د ۲۰۲۰ م کال د مي میاشـــتې پر (۲٦) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د غبرګولې میاشـتې له (٦) مې نېټې سـره سـمون خوري، نشر شوې ده.**

زموږ په ټولنه کې چې کومه نامتو څېره تر خاورو لاندې شـــي، نو موږ فکر کوو، چې ټولنه تباه شـــوه او هر څه متزلزل او متضــــرر شـــول، خو پر هغو خلکو مو کم ژړلي، چې پـه ټولنـه کې ډېر مشــــهور نه دي، خو ډېر ګټور، موثر او ډېر د حســــاب او کتاب خلک دي. نن مو همداســــې یوه څېره له لاســــه ورکړه. تېمور منګل یادوم، د مرحوم باز محمدخان د مشــــهورې کورنۍ یوه ځوانه څېره. تېمور لا د خاپوړو ماشـــوم و، چې پلار او تره یې د پیل شوي ناورین لومړني قربانیان شول، دی د خپل مشر ورور؛ حاجي خان محمد باز منګل او نورو ترونو د مینې په سیوري کې را لوی شـــو. حاجي خان محمد باز زما د پوهنتون د دورې ټولګیوال او انډیوال دی،(۳۳)کاله کېږي، لکه د یو ورور په شان ور سـره کورني اړیکي لرم. د حاجي صـیب خان محمد په ګډون

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مرحوم بازمحمد خان د کورنۍ ټولو پتمنو غړو؛ قاسم باز منګل، ډاکتر صیب کریم باز، حاجي صیب عمر، حاجي صیب اکرم، حاجي صیب خان وزیر او نورو هریو په تېرو دېرشو کلونو کې زما د کلتوري او ملي مبارزو دومره ملاتړ کړی او شخصاً یې زما دومره لاسنیوی کړی، چې زه یې د ښېګڼو پور هېڅکله نه شم اداکولای. نږدې لس کاله متواتر مې د اختر لومړۍ او یا دویمه ورځ غرمه د



دوی کورته رسوله، د اختر مبارکي به هم وه او د غرمې بنډار به هم و. تېمور نو اوس د کور منځنی غړی و، هغه په دردونو کې را ستر شو، خو ورو ورو یې له پلار او نیکه څخه د ور پاتې خانۍ خویونه خپل کړل، هغه نه یوازې کاروباري مسایل زده کړل، بلکې د پلار او نیکه دسترخوان یې هم غوړېدلی وساته، کله چې به زموږ پیسې په کار شوې، نو تېمور ورور ته به مو وویلې؛ تېموره وروره غم خوره، یوه چاره کوه، ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

به ویلې ته بې غمه شـه، بیا به په میاشـتو او کلونو د ده حسـابونه پاتې وو، څو چې به مور په خپله ورته مراجعه نه وه کړې، نو ده به له حیا نه غږ نه کاوه. کور ته چې به ورغلو، نو لاس په نامه به ولاړ و، تر هغه پورې به دی ولاړ و، چې ټولو مېلمنو ډوډۍ ته لاس نه و ور وړی، د ټولې کورنۍ په تېره بیا د حاجي صیب خان محمد ښې مټ و، تر روژې وړاندې کور ته ورغلو، ډېر عزت یې زمور وکړ، تېمور نو دا مهال د سـرېتوب او انسـانیت داسـې یو پړاو ته رسېدلی و، چې نه یوازې یوه لویه قومي او سیاسي کورنۍ پرې ودانه وه، بلکې په لسګونو نورې کورنۍ هم ور سره ښېرازه وې. سـږ کال چې اختر د کرونا وبا تر اغېز لاندې ډېر مړاوی و، نو د اختر پر لومړۍ ورځ مې چېرتـه د تګ اراده و نـه کړه، ټولو دوسـتـانو تـه مې په ټلېفون مبارکي ورکړه. د اختر دویمه ورځ ماسپښین دوه نیمې بجې مې حاجي صیب خان محمد ته تلیفون وکړ، نو زړه مې و چې ورته ووایم سږ کال د کرونا له وجې کېدی شـي تاسـو کره زمور اختریز بنډار و نه شـي، نو ځکه مې اوس یوازې همدا تلیفوني مبارکي ومنه، تلیفون درې څلورځله زنګ تېر کړ، وروسـته غلی ځواب راغی، ځواب نا اشـنا و، غږ غلی و، ما ویل حاجي صیب خان محمد مې په کار دی، ده وویل زه خپله یم، ما ویل غږ دې ولې، خو ځواب یې سـم را نه کړ، بیا ما و ویل

(c) ketabton.com: The Digital Library

**چې اختر دی ځکه مې درته زنګ وواهه، د اختر کلمې سره نو له اخوا د ژړا او ســـلګيو غږ راغی. اختر خو پر موږه غم.. تېمور تېمور په حق، حق .... جمله تکميله نه شوه، خو پوه شوم چې د غم ټکه را پرېوتې، عاجل مې ډرېور را وغوښـت، لارې هم بندې وې، د ډاکتر صيب کريم باز کور ته مې ځان و رساوه، هلته د غم خاموشي خپره وه، يو تن وويل چې جنازه يې همدا اوس د (( با غ داود )) ځنـګ تـه يوړه، چټـک هلتـه لاړو، د جنـازې لمونځ تېر شوی و، خو د تدفين مراسم پاتې وو، خلک پر قبر راټول وو، يو ګلاب ځوان په سـپين کفن کې را تاو و، ما ته خلکو لاره راکړه، د حاجي عمر او حاجي خان وزير چې پر ما سترګې ولګېدې، نو را غږ يې کړ، يون صـيب راشــه د ورور او ملګري وروســتی ديدن دې وکړه، له مخه يې ورته کفن لرې کړ، يوه ګلاب ځواني په کې پر خوب ويده وه، ســلام مې ورته وکړ، ســلام وروره ســلام، د خبرو مجال نه و، ژر تورې اوږدې تختې پر قبر را تېرې شــــوې، هلته لرې شپږ اوه متره وړاندې حاجي صيب خان محمد په خړو خاورو کې ناسـت دی، د حاجي صـيب تېمور ځوان زوی يې هم تر څنګ ناست دی، زه يې هم تر څنګ کېناستم، په خاورو ککړ، ژړا يې الوتې، حاجي خان محمد ورو ورو ســـلګۍ وهي او خپل وراره ته په سلګو سلګو کې وايي؛ بچيه ژاړه مه! ته نور زما وراره**

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه يې، ته نور تېمور يې تېمور، تاته زه نور تېمور وايم تېمور، بيا يې په ژړغوني غږ ورته وويل : ستا نوم څه شی دی؟ وراره يې په سـلګو سـلګو کې وويل تېمور دی تېمور، دې سـره نو د ژړا او سلګيو يو دردوونکې څپه راپورته شوه، د تره او وراره د سلګيو څپې لا غلې نه وې، چې پر قبر خاورې انبار شـوې، تره او وراره دومره سـلګيو نيولي وو، چې د قبر خواته يې له ډېره درده نه شـول کتلای، په همدې سـلګو سـلګو کې پر قبر ډبرې هم ودرېدلې او تېمور هم د ابد لپاره له موږه جلا او فنا شو او د خپل دايمي سفر لمن يې ونيوله. پر مخه يې ژېړې ګلونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یوې بلې درنې ستهې هم خپل سفر پیل کړ

| |
|---|
| دا لیکنه د ۲۰۲۰ م کال د مې میاشــتې پر (۳۱) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د غبرګولي میاشتې له (۱۱) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده. |

هم د قران قاري و، هم د خپل ولس وکیل، هم د تورې سـړی و، هم د ننګ، هم د مقاومت ســـړی و او هم د اســـتقامت، د قوم سړی هم و د ملت هم، ژبور هم و او جرګه مار هم .



یو وخت یو شـــمېر لندغرو د کابل ښـــار اوســـېدونکي تر پوزې

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوســـتي وو، د هوتخېلو پر لوري يې هم مارش وکړ، خو وکيل صـيب سـيد عمر هوتک او نورو ځوانانو يې سـابه ښـه په مالګه کړل. يوه ورځ ژونـدون ټلوېزيون تـه راغی، يوه تومـانچـه يې لـه جيبه راووېســـته، پر مېز يې کېښـــوده، ماته يې ويل يون صـــيب پوهېږې دا تومانچه د چا ده؟ ما ويل نه پوهېږم، ده ويل دا مې له لنډغرو څخه اخيســـتې، چې څومره چغې يې ووهلې پرې مې نه ښـودل، کله چې يې توبې ووېسـتې او غوږونه يې خپل ونيول، بيا مې پرېښودل، وکيل قاري سيدعمر هوتک په سيمه کې د افغانيت او اســلاميت د داعيې يو ســرســختی ملاتړی او پلوی و. په دې لاره کې يې زموږ د مبارزو ټينګ ملاتړ کړی، موږ ټول يې د مينې او ملاتړ پوروړي يو. کلـه چې پر (۲۰۱٤ م) کـال د جمهوري رياست او ولايتي شـورا ټاکنې وې، موږ ټولو ډاکتر صـيب غني ته اورنی کمپاين کاوه، خو قاري صيب سيدعمر هوتک ولايتي شورا تـه هم نومـانـد و، دا مهـال ځينې نور هوتخېـل عزيزان، چې ټول زموږ ملګري وو، هم يادې شورا ته نوماندان وو، زما لپاره سخته وه چې په دوی کې يو انتخاب کړم، د ولســمشــرۍ په لېســت کې خو مو کانديد معلوم و، ژر مو ډاکټر صـــيب غني په نښـــه کړ. له وجدان ســره مې تر مشــورې وروســته په ولايتي شــورا کې قاري صيب سيدعمر هوتک ته رايه ورکړه، خو تر ننه مې هغه پر ځان خبر نه کړ، نن چې هغه له دې نړۍ څخه خپل ســفر پيل کړ، نو په زړه کې مې د هغه د ګرانښـــت له امله د دې خبرې يادونه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قاري صـیب ډېر مقاوم انســان و، کله چې یې ځوان زوی شــهید شـو، نو عاجل جنازې ته ورغلم، ده خپل اسـتقامت نه و بایلولی، د ځوانیمرګ زوی پر قبر یې خپلـه خـاورې انبـار کړې، دا ډېره سـخته ورځ وې، کله چې مې غېږه ورکړه، نو د زړه درد او لمبې مې ورته احساس کړې، کله چې مې پر شا وټپاوه، نو ده راته وویل یون صـــیب د الله رضـــا وه، زموږ قبوله ده، کور دې ودان چې د وراره جنازې ته دې راغلې، زموږ د غم بار دې راسره اوچت کړ. له قاري صیب څخه ډېرې خوږې خاطرې لرم، خو دا درې څلور کاله ورســـــره ډېر په تماس کې نه وم. د کوچني اختر پر لومړۍ ورځ یې راته زنګ وواهه، ویې ویل قاري سید عمر هوتک یم، ما ویل ومې پېژندلې وکیل صیب نمبر دې راسره ثبت دی. ده وویل د اختر مبارکي مې درکوله، ما ویل ژوندون ټلوېزیون ته به درشــم له نږدې به دې وګورم، ډېر ځنډ مې نه وې لیدلې، لږ درپســـــې خفه شـوی وم، ما ویل کیســې به هم وکړو، خو داکرونایي حالت دی، هسې نه چې بل څه مشکل ترې پیدا شي، نو ځکه مې درته تلیفون وکړ، اوس مې همـدا تلیفوني مبـارکي قبولـه کړه، بیـا چې حالات ښه شول له نږدې به درشو. ما ویل وکیل صیب ډېره مننه کور دې ودان. وکیل صــــیب ډېر ځنډ وروســــته تلیفون کړی و، خبرې یې ډېرې منظمې، ورو او غلې وې، د نورو وختونو خلاف، ما ترې د کور حال او احوال پوښـــتنه وکړه، ده وویل د خدای فضل دی خیر او خیریت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو شپې وړاندې خبر شوم چې قارې صيب نور د ابد لپاره له مونږ څخه خدای پاماني واخيسته. اوس مې زړه ته داسې لوېږي چې په دې اختر کې چې ده ماته تلېفون کړی و او د اختر مبارکي يې راکوله دا په دې مانا وه چې ده خپل سفر ته تياری نيوه، نورو نږدې دوستانو ته به هم يې زنګونه وهلي وي او د هغوی په ناخبرۍ کې به يې ترې خدای پاماني اخيستي وي، ځکه کله چې څوک پر يوه اوږده او نامعلوم سفر وځي، نو له نږدې دوستانو او خپلوانو خدای پاماني اخلي. وروره پر مخه دې ژړې ګلونه. ژوند ډېر پيکه شوی، پر کينې او دښمنۍ نه ارزي، ياران مې يو يو پر سفر روان دي، زه نه پوهېږم چې زما نوبت به کله وي، خو کېدی شي زه خدای دېته ساتلی يم چې د خپلو ملګرو پر مرګ ساندې او ويرنې وليکم او د هغوی يادونه خوندي کړم، که نه نو نور خو په مونږ کې د ژونديو انسانانو د کيفيت کوم ځواک پاتې نه دی. پر دې هم نه پوهېږو چې چېرته يو او چېرته به ځو؟ يا ربه زما پر ولس، وطن او يارانو رحم...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اسلام د اعتدالي لارې يو سر لاری

دا ليکنه د ۲۰۲۰ م کال د جون مياشــــتې پر (۲) يمه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د غبرګولي مياشتې له (۱۳) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.

دوکتور محمد اياز نيازی د هېواد يو ســـتر ديني عالم و، هغه په



تېرو دوو لسيزو کې په پوره مېړانه، فصاحت او بلاغت، ديني او

(c) ketabton.com: The Digital Library

علمي منطق د اسـلام د سـپېڅلي دين اصـلي جوهر ( سـرېتوب) هېوادوالو ته تشريح کړ، هغه د اسلام له ارزښتونو سره سم؛ نه له افراط څخه کـار واخيســـت او نـه يې د تفريط لمن ونيوه؛ يوه معتدله لاره يې غوره کړه. نن د اسـلاميت او افغانيت دښـمنانو د هېواد دا ستر عالم، چې هم د دنيا له چارو خبر و او هم د دين له لارو، د خدای په کور کې شهيد کړ. له دې او دې ډول نورو ورته دردوونکو پېښو څخه دا حقيقت لاپسې په ډاګه څرګندېږي، چې د انسـانيت او هېواد دښـمنان غواړي تر وروسـتي افغانه دا جګړه وغځوي؛ نه مو د دين سـرې خوندي دی، نه د دنيا، نه مو مشـر خـوندي دی، نـه مو کشــر، نـه مو مـاشــوم خـوندي دی، نـه مو ســپينږيری، نـه مو پوهنتون خـوندي دی، نـه مو روغتون، نـه مو زېږنتون په امن کې دی او نـه مو روزنتون او نـه مو هم عبادتځی خوندي دی او نه هم درملځی، بس په تمامه مانا يوه ولسوژنه ده او يوه ټولوژنه. خدای ج دې شــهيد دوکتور محمداياز نيازي ته جنتونه نصـيب کړي او نور دې په دې سـوي لوي وطن کې د امن او سولې هيلې وغوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نومونه او شخصیتونه

| |
|---|
| دا لیکنه د ۲۰۲۰ م کال د جون میاشتې پر (٤) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د غبرګولي میاشتې له (۱۵) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده. |

هېواد له بحراني شرایطو سره مخ دی، هره ورځ یو مخور شخصیت او یو نامتو افغان د ژوند له نعمته محرومېږي. دا حالت ډېر دردوونکی دی. باید د حل یوه اساسي لاره ورته پیدا



شي. سوله یې ښه درملنه ده، خو تر سولې وړاندې چې څومره قرباني زغمو او څومره هېوادوال مو قرباني کېږي، د هغو درناوی، عزت او یادونه هم ضروري ده، خو کله کله داسې هم پېښېږي چې د یوه نوي قرباني شوي مخور شخصیت درناوی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادونه هم دې ملت ته د یوه بل تاریخي شخصیت د حذف په بیه پرېوزي؛ هم په قربانۍ کې تاوان ګالو او هم په یادونې او نمانځنې کې. اوس چې کوم مشهور شخصیت قرباني شي، نو په کار نه ده، د هغه د یادونې او درناوي لپاره بیا د یو بل پخواني شــخصــیت، اتل، په یاد نومول شــوې ســیمه او تاریخي ځایونه د ده په نامه ونومول شي. دا په داسې حال کې ده چې د پخوانیو اتلانو یادونه او نمانځنه په خپله یو ضرورت دی. هغوی پر خپل وخت قرباني



ورکړې چې یو ځای، ځایګی یې په نوم شــوی او وروســته یې تاریخي ارزښت هم پیدا کړی دی. نو که اوسني مخور شخصیتونه د پخوانیو مخورو شــخصــیتونو ځای ځایګی نیســي، نو بیا خو به سـباني د ننیو ځای نیسـي، په دې ډول به موږ د شــخصــیتونو د تاریخي تسلسل له انقطاع سره مخامخ شو. نو د دې لپاره چې د قربانیو دغه تاریخي انقطاع له منځه لاړه شـــي او نوې قرباني د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پخوانۍ اتلولۍ پر ضد و نه کارول شي، ښه لاره دا ده چې جمهور رييس عاجل يو فرمان صادر کړي او په هغه کې دا مسئله قيد کړي، چې د نويو مخورو شخصيتونو د قربانۍ په حالت کې دې، که لازمه وي، د يوه قانوني معيار له مخې نوې سيمې، ځايونه، علمي او کلتوري مرکزونه د هغو په نامه ونومول شي، نه هغه ځايونه او مرکزونه چې د دوی تر قربانۍ وړاندې د



نورو اتلانو په نومونو نومول شوي او په ټولنه کې مشهور شوي دي. په دې ډول به د يو شمېر سياسي کړيو د غرضونو مخه هم ونيول شي، د پخوانيو او اوسنيو ټولو شخصيتونو حق به هم خوندي شي او د شخصيتونو تقاطع به هم له منځه لاړه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ایا د هېواد د اوبو د مهار امکان شته؟

**دا لیکنه د ۲۰۲۰ م کال د جون میاشـــتې پر (۷) مـه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د غبرګولي میاشتې له (۱۸) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

هر څه ته باید په منفي نظر و نه ګورو، نه دا ملت دومره توهین کړو، چې د هېڅ شـــي ظرفیت نه لري. دا یو مقاوم او ډینامیک ملت دی چې که مشـرانو یې له تدبیر څخه کار اخیسـتی وای، نو



د نړۍ په کچه به یو سـوکاله ملت وای. راځو د اوبو کنټرول ته :

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس د ټکنالوژۍ زمانه ده، تر هغه چې موږ لوی او منځني برېښنابندونه جوړوو، پوره وخت او پیسو ته اړتیا ده، اوس لنډه لاره دا ده چې له لمریزې برېښنا څخه ګټه واخلو.، یو میګاواټ سولري برېښنا د نږدې زرجریبو ځمکې د خړوب ظرفیت لري. د هلمند، کونړ او د هېواد د نورو سیندونو په لمنو کې په لکونو هکتاره شاړې ځمکې پرتې دي، که له سولري برېښنا څخه کار واخیستل شي، د زیاتو ځمکو د خړوب امکان شته.



که داکار یوازې حکومت ته پرېښودل شي بیا به هم د اوس په شان ناشونی شي، خو که حکومت د دې کار لپاره یو عادلانه فورمول جوړ کړي، نو هم به اوبه کنټرول شي، هم به کرنه وغوړېږي، هم به خلکو ته کار پیدا شي او هم به حکومت یو لږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

عايدات تر لاسه کړي. دا فورمول کېدی شي دا او دېته ورته کومه بله بڼه ولري: هر افغان چې په خپلې لمريزې او يا هم د اوبو په برېښنا د سيندونو له روانو اوبو څخه هر څومره شاړه دولتي ځمکه اباده کړه، د هغو د عايداتو لس سلنه دې د حکومت او نوي سلنه دې د هغه شخص وي. په دې ډول به دولت هغو شاړو ځمکو ته د ابادۍ لاره پيداکړي چې له بابا ادم څخه تر دې دمه بې حاصله پاتې دي، دا قانون دې تر هغه دوام پيداکړي چې دولت ورته لوی او واړه بندونه جوړ کړي. دولت کولای شي د برېښنا د توليد لپاره هم ورته فورمل جوړ



کړي؛ د برېښنا بندونو جوړونه دې هم کورنيو خصوصي شرکتونو ته ورکړي، نوره نړۍ کې هم د برېښنا د توليد اکثره شرکتونه تر لسو کلونو پورې هېڅ ډول ماليه نه ورکوي، تر هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library


وروســـته بیا د مالیې پر ورکړه مکلف دي. اوس لنډه لاره همدا سـولري برېښـنا ده، چې هم ارزانه او سـاده ده او هم په چټکۍ سـره نوره هم ارزانه کېږي. د دې تر څنګ حکومت بايد تر ځمکې لاندې اوبو پر را ایستلو هم کلک بندیز ولګوي او خلک مجبور او تشـــویق کړي چې له روانو اوبو څخه ګټه پورته کړي. عجیب حالت دی؛ رواني اوبه مو په وړیا ډول ګاونډیو ته رواني دي او موږ تر خپلو ځمکو لاندې اوبو څخه د معین قېمت په بدل کې کار اخلو. .نو که غواړو هم خپل ځان سـوکاله کړو، هم خپل وطن زرغون کړو، هم د ګاونډیو له شرارته ځان خلاص کړو او هم هغوی یو عادلانه تعامل او ښـه ګاونډیتوب ته اړ کړو، بايد خپلې اوبه کنټرول کړو. اوبه مو خپلې، لمر مو خپل، ځمکه مو خپله، یوازې یوې لمریزې وسیلې ته اړتیا لرو او بس.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په هېواد کې د تعلیمي رنسانس وروستۍ څپره

دا لیکنه د ۲۰۲۰ م کال د جون میاشـــتې پر (۹) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د غبرګولي میاشتې له (۲۰) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.

کله چې به ورسره مخ شوې، نو د کتاب او قلم خبرې به وې، د ښـــوونځي او روزنځي خبرې به وې، که د دنیا غمونه به هر څومره بار وو، خو ده به د فرهنګ او تعلیم له مسایلو اخوا نورو خبرو ســره ډېره لېوالتیا نه درلودله، له هر نوي کتابه به خبر و، کتاب به یې چې ګوتو ته ورغی، نو بیا چې به یې تر پایه لوستی نه و، پرېښوده یې نه، ما ته تر حده زیات ګران و او زه هم پرې ډېر زیات ګران وم. کله چې مې جلال اباد کې



نوی کور جوړ کړ، نو دی په زهیر ځـان مبـارکۍ تـه راغی، لاســنیولی مې پر هرې خونې وګرځاوه، کله چې یې لړه دمه وکړه، نو راته یې وویلې : ته یقین وکړه که دا کور د ( زرین انځور ) وای، نو هم دومره به پرې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وم خوشاله شوی، لکه اوس چې پر تا خوشاله شوی یم، ته دکار سـرې یې، هر څه ته دې پام دی، زړور یې، دې ویده قوم او ځوانانو کې دې روحیه وغوړوله، دواړه زړور یاسـتئ، هغه بچی مې هم ( هدف یې زما مېرمن ارین یون وه) تر تا کمه نه ده، زه خو هغې ته هم افرین وایم چې د دومره لېوانو منځ کې دا د خپل ولس غږ اوچتوي، نو ځکه ننګور ته د مبارکۍ له خاطره راغلم .
کله چې به مې د نویو کتابونو پکېج برابر کړ، نو د حاجي صـیب عبداللطیف ګردیوال برخه به مې جلا ساتلې وه، هغه ته د کتابونو ډالۍ تر هر څه زیاته ارزښـتمنه وه، هغه په داسې حال کې په ټول ختیځ، په تېره بیا په ننګرهار کې د عصـري معارف ډیوه بله کړه، چې د معارف او بل هر ډول نوي پرمختګ پر وړاندې بې شمېره خنډونه موجو وو. ګردیوال صـیب د خپلې ټولنې د یو ټولنیز متخصـص په توګه له داسې ټولنیزو تجربو او ځیرکتیا څخه کار واخیست، چې هم ټولنه را و نه پارېږي او هم تعلیم عام شي، د ده او د ده د نورو ملګرو د څلور لسـیزو دقیق او متواتر کـار نتیجه وه، چې پـه ټول ختیځ کې عصـري تعلیم عـام او ټولنیز سمون پراخ شو. ده تعلیمي ریفورم له خپلې کورنۍ پیل کړ، ټول اولادونه یې د لوړو زده کړو خاوندان کړل، ان د ټول هېواد په کچه یې ترې لوړ کادرونه جوړ کړل. همدا خپله کورنۍ یې د ټول ختیځ د هغو رسېدلو کورنیو یوه بېلګه ده چې ده او د ده د مهال نورو مخورو یې په روزنه او پالنه کې په مستقیم او نامستقیم ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

وندېه لرلې ده. حاجي صــيب عبداللطيف ګرديوال د ژوند تر پايه له قلم، کتاب او علم ســره خپله مينه خوندي وســاتله، ان د ژوند تر وروســـتيو وختونو پورې يې هم نوي اثار مطالعه کول. اوس چې د شپې يوه نيمه بجه ده او سبا سهار اته بجې د هغه په خپل پلرني کلي کې د هغه د جنــازې او تــدفين مراســـم دي، زه ډېر بدمرغه يم چې د داســې يو ســتر او ډېر خوږ انســان په جنازه کې ګډون نه شـــم کولای. ګرديوال صــــيب د هغه نســـل وروســـتی استازی و، چې په ډېرو کمو ابتدايي امکاناتو يې دې ملک ته لويه معنوي پــانګــه؛ تعليم، تجــدد، ټولنيز ســـمون، کلتوري زغم او انســـانيت په ميراث پرېښـــودل، خو موږ اوس زمانې داســـې له ستوني رانيولي يو او داسې يې له پښو او لاسو تړلي يو، چې نه د حق چغه پورته کولای شو او نه د خپلو خدمتګارانو د جنازو بازو ته اوږه ورکولای شـــو. مشـــره په مخه دې ژېړې ګلونه! د خدای (ج) حضـــور ته دې د خپلو ســـوو لوو اولادونو احوال ورســـوه، ځای دې جنت شـــــه! د علم پلاره، زموږ معنوي پلاره، د انځور پلاره، د عزيز پلاره، د حنيف پلاره او د هر افغان او هر انســـــان معنوي پلاره...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یوه منته او یوه بله هیله

| |
|---|
| دا لیکنه د ۲۰۲۰ م کال د جون میاشتې پر (۹) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د غبرګولي میاشتې د (۲۰) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده. |

څو موده وړاندې ما جمهور رییس ډوکتور محمد اشرف غني ته یو وړاندیز کړی و، چې نورستان باید د هېواد د ملي پارک په توګه ونومول شي. د دولتي چارواکو له جملې څخه د ټرانسپورټ پخواني وزیر ښاغلي (یما یاري) دا وړاندیز لوستی



و، نو وړاندیز یې خوښ شوی و، نو په نا مستقیم ډول یې منته هم کړې وه او د دې تر څنګ یې دا ژمنه هم کړې وه، چې دا وړاندیز

(c) ketabton.com: The Digital Library

**به جمهور رییس ته رســـوي او کار به پرېکوي، دا وړاندیز د جمهوري ریاســـت د چارو د ادارې د مشـــرتابه په ګډون نورو چارواکو ته هم رسېدلی و، ټولو خوښ کړی و، کېدی شي تر دې**




**پخوا هم ځینو دولتي چارواکو سره د نورستان ولایت په اړه دې ته ورته نظر موجود و، خو ما ته چې د قضـــیې کوم ظاهري اړخ معلوم دی، هغه همدا دی چې لنډیز مې دلته ولیکه. نو اوس زه پر ځان لازمه ګڼم چې په دولتولی او سـیاسـي چارو کې دجمهور رییس د یو شمېر کړنو په باب له ځینو اختلافونو سره سره د ملي پارک په توګه د نورســـتان د منظورولو له امله له هغه څخه مننه وکړم او د دې تر څنګ د قدرمن ورور یما یاري ځانګړې مننه او کورودانی پر ځان د هغه انســـاني حق ګڼم، چې په دې کار کې یې**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژمنه او عمل دواړه سره غاړه غړۍ کړل. خو اوس د دې پرمختګ تر څنګ له ښاغلي (ياري صيب)، د چارو د ادارې



لوی رييس( فضلي صيب) او د نورستان له قدرمن والي ( حافظ عبدالقيوم) څخه هيله کوم، چې ډېر ژر د همدې موضوع لپاره د ماستر پلان د جوړولو کارپيل کړي، ماستر پلان له کابينې پاس او په عادي او انکشافي بودجه کې يې شامل او د دې تر څنګ د مرستندويو هېوادونو او ملي پانګوالو پانګونه راجلب کړي. د سوکاله افغانستان په هيله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د راتلونکي نسل حق

**دا لیکنه د ۲۰۲۰ م کال د جون میاشـــتې پر (۱۵) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د غبرګولي میاشتې له (۲٦) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

له کرونا سره د مبارزې په نامه له نړیوال وجهي صندوق (IMF ) څخه د(۲۲۹ ) میلیونه ډالرو پور اخیســـتل له دې ملت ســـره یو لوی خیانت دی. څرنګه چې د دولت ملي بنســـټونه لا تر اوســـه پورې پوره پیاوړي شـوي نه دي، نو دا ډول پیسـې به هم د نورو ډېرو پیسـو په شـان د اقتصـادي مافیا او فسـادګرو خولې ته تویې شـــي، اوس خو هســـې هم اکثریت افغانان کرونا نیولي؛ افغانان ورسره د خدای په توکل او خپل همت مبارزه کوي، خو دا به ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

بد پیغام او کلتور وي چې موږ خپل راتلونکي نسل ته، چې لا هم دې نړۍ ته یې سترګې نه دي غړولي، د دې پر ځای چې د سوکالۍ پانګه پرېږدو، هم تر غوږونو پورې په پور کې ډوب کړو. زموږ پلرونو تر دې څخه په سختو شرایطو کې موږ ته پور نه دی پرې ایښی، نو موږ هم حق نه لرو چې د خپلې ناروغۍ پور د راتلونکي نسل پر اوږو بار کړو. د راتلونکي پښت حق باید خوندي وګڼل شي.نسل په نسل فساد، مافیا او له ولس سره غدر او دوکه د منلو او زغملو وړ نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د جګړې پر کورنیو لوبغاړو یو غږ

> **دا لیکنه د ۲۰۲۰ م کال د جون میاشتې پر (۲۰) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د غبرګولي میاشتې له (۳۱) نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

زه هم د نورو ګڼ شمېر افغانانو په شان له پخوا څخه په دې نظر وم او یم چې په هېواد کې روانه دوه څلوېښت کلنه جګړه پردۍ جګړه ده، خو زموږ خاوره یې لابراتوار دی او افغانان یې سونتوکي. د جګړې وسایل بهرني دي او دلایل یې کورني. تېر څلوېښت



کلونه نه څېړو، خو له هغو څلوېښتکلنو ترخو تجربو څخه باید پوره پوره عبرت واخیستل شي، چې د ملیونونو افغانانو د قربانۍ او دکینې او ښي ایډیالوژیو د افراط او تفریط او همدارنګه د هغو د مشرانو د رسوایۍ په نتیجه کې رامنځته شوي دي. اوس خبره ډېره نږدې شوې : یوه خوا محمد اشرف غني دی او بله خوا عبدالغني برادر،( غنی) او ( برادري ) یې مشترکات دي، دې خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې بیا عبدالله او امرالله دی، هغه خوا بیا ملا هیبت الله دی، څوک د الله امر دی، څوک یې ډالۍ ده او څوک یې بنده دی، تر الله وړاندې ټول پر بېلابېلو لارو سر دي، خو کله چې الله ته رانږدې کېږی نو دلته ټول سره مشترکات پیداکوي، دې خوا بیا معصوم ستانیکزی دی او هلته بیا عباس ستانېکزی دی، ویل کېږي نږدې خپلوان هم دي، که خپل هم نه وي، نو ستانیکزي خو دي، دا چې پخوا یې ایډیالوژیک اختلاف



درلودکنه؟ ایډیالوژیو خو هسې هم سر خوړلی دی، (ستانیکزیتوب) خو یې یو مشترک ټکی دی، تر قبیلې پورته فکر خو ځینو ته هسې هم د تعصب او نشنلیزم په مانا تعبیرېږي او د هغه مانا خو راساً کفر ته رسي. زړګري اختلافات، لوړې ژورې به خو کله کله د ملارسول او ملا هیبت الله، امرالله او عبدالله، غني او اتمر، عطا او عبدالله او نورو ترمنځ هم پېښېږي، دا نومونه مې چې دلته یادکړل، څلوېښت کاله د جګړې افغاني کرکټرونه همداسې وو،، دا په حقیقت کې پر بېلابېلو ذهنتونو د افغاني ټولنې د وېش د یوې برخې تمثیل کوي، نو ځکه د مفهوم د جبري افادې لپاره دلته یاد شول. بېلابېلې پلمې، سلیقې، پر یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل تورونه، ځان ته حق. بل ته باطل ویل، ټول وخت پر همدې خبرو تېر شـو او په دې بهیر کې د ملت د وینو رود روان و، خو



داســـې وخـت بـه یو بـل ســره کېناســـتل، چې نورو نیابتي جګړه مارو به یې ځای نیولی وو، اوس نو د څلوېښـــت کلنې جګړې د وروســـتۍ برخې پر ټولو کورنیو کرکټرونو غږ کوو، چې که تاســې رښــتیا هم خپلواک یاســت، نو خپلو کې کښېنئ، یو لوری دې د قدرت له انحصــــاره او بل لوری دې د جګړې له تداومه لاس په سر شي، واک دې د یو دودیز او قانوني میکانیزم له لارې د ملت نورو نسبي ممثلو ادارو ته انتقال شي، بیا دې سر تاسري ټاکنې وشي، هر چا چې رنې او سراسري ټاکنې وګټلې همغوی د ملک د رسمي سیاسي مشرتابه حق لري. که خبره داســـې وي چې اصــلي واک و ځواک د هر لوري له بهرنیو ملاتړو ســـره وي او داخلي کرکټرونـه یوازې پیغام وړي راوړي، نو راځئ همدا خبره هم په پوره امانت ملت سره شریکه کړئ، غاړه به مو په دین او دنیا دې ملت ته خلاصــه وي، دا خو هم د وجدان ســـخت مخالف حرکت دی، چې تـه خپلـه هم پوهېږې چې خپلواک نـه یې او ملـت هم دربـانـدې پوهېږي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلواک نه يې، خو بيا هم په ډېره سپين سترګۍ هم ځان خپلواک



تمثيلوې او هم د ملت د استازولۍ دعوه کوې!؟ نو لـه توپير پرتـه د جګړې پر ټولو کورنيو کرکټرونو غږ کوو؛ مخکې تر دې چې د هېواد بهرني دښمنان تاسې يو ځل بيا بې ځايه وکاروي، هم مو ملت ته وشرموي او هم مو د تېر په څېر ځای پر نورو ناهلو ډک کړي، تاســې خپله د عمل نوبســت وکړئ ،روغه جوړه وکړئ، (عبدالله )دې هم په کې وي، (غني )دې هم



پـه کې وي (برادر ) دې هم په کې وي، ((د عـبـدالـغـنـي بـرادر )) حکومـت بـه ترې جوړ شـــي، افغـانســتـان لوی هېواد دی، د پراخنظرۍ په حالت کې ټول په کې ځايېدلای شي او د تنګنظرۍ په حالت کې هېڅوک په کې شېږ نه شي تېرولی، نوره مو خوښه د دين پتنګانو او د اومغلنې ولسواکې مخکښانو!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ملت ساه مې ډوبېږي

**دا ليکنه د ۲۰۲۰ م کال د جون مياشـــتې پر (۲۲) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د چنګاښ مياشـتې له (۲) يمې، نېټې سـره سـمون خوري، نشر شوې ده.**

له خوښۍ محروم، له سوکالۍ محروم او د ژوند له نورو نعمتونو محروم ولس، يوازې پـه دې هيله ژوندی پاتې و، چې څه کـه حکومت او لاربښود نه لرو، د خدای په پنځول شــوي طبيعت کې خو له شـته اکسـيجن څخـه ګټـه پورتـه کوو.



اکسيجن ته يې هم قوانين وضــع کړل، يوازې هغه شــرکتونه حق لري چې له دولت ســره

(c) ketabton.com: The Digital Library

تړون ولري او د کار او فعالیت اجازه. یو شــمېر هېوادوال مې د دې قوانینو تر انفاذ لاندې ســاه ډوبي شــول، بیا بله پلمه جوړه شــوه، چې هېواد کې د اکســیجن تولید کم دی، نو ځکـه خو حکومت ټولو ناروغانو ته اکسیجن نه شي رسولی، بیا یو شـمېر انسانپالو پانګوالو افغانانو اعلان وکړو، چې موږ حاضر یو په وړیا ډول هېوادوالو ته اکسیجن تهیه کړو .

بیا نوې پلمې جوړې شوې چې صبر داکار باید د یو تخنیکي او مسـلکي ټیم له خوا وارزول شـي. دا څنګه تخنیکي او مسـلکي ټیم دی چې خپله هېڅ شــی نه شــي جوړولی او یوازې د نورو د تولید ارزونې ته ناست دی؟ بیا د ژمنو لړۍ پسې و غځېدله، هله نن داکار وشو، سبا دا طرحه وړاندې کېږي او بل سبا هغه بله، په همـدې همـدې کې (٩٠٠ ) میلیونـه ډالر لادرک شـــول، خو (٩٠٠) ناروغان پرې ونه رغېدل، ملت په قصـدي ډول له کرونا ســره لاس و ګرېوان کړای شــو. حقیقت دا دی چې نږدې شــل میلیونه افغانان د کرونا پر ناروغۍ اخته شــوي دي، خو حکومتي شــمېرې بیا تر (٤٠) زرو نه دي پورته شــوي. دا یو مقاوم ملت دی، له کرونا سـره یې خپل مقاومت پیل کړ، ضـایعات او وافیات وو، خو د ناروغانو د شـــمېر په اندول لا ان په ســـلنه کې هم نه راتلل، د ملت روحیه ورځې تر بلې ښــــه کېدله او دا یې د یوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

عادي ناروغۍ په توګه انګېرله، دا مهال یو بل بد خبر راغی، چې حکومت دومره فعال دی، چې له (IMF) څخه د کرونا د مقابلې لپاره (۲۲۸) ملیونه ډالرو پور غواړي، دا خبره نو د ملت پر ټپونو د مالګې د پاشلو په مانا وه، چې دا چارواکي خو به سبا یو هم نه وي دا پور به بیا څنګه خلاصوې، چې نه یې د اخیستو، نه یې د لګښت او نه یې هم د بېرته ورکړې لپاره هېڅ ډول واضح پروګرام شته؟ له دې رنځ او اندېښنې لا خلاص نه وو، چې بله ټکه راپرېوته؛ ویل کېږي چې افغانستان سره د مرسته شویو اکسیجن وېنتیلاټورونو یو پاموړ شمېره پر ایران او پاکستان پلورل شوې ده. دا په داسې حال کې ده چې دا دواړه هېوادونه، په تېره بیا پاکستان، د ملک د اول شخص د تفکر پر اساس ډېر منزوي شوی !؟که منزوي شوی نه وای، حالات به کوم حد کې وای؟ پر پاکستان او ایران باندې د دې ډول دستګاه وو خرڅول خو دا مانا ورکوي چې دې ډول اشخاصو؛ دولتي دي که نا دولتي، طبي پرسونل دی، که ناطبي، سیاستوال دي که پانګوال او نور هر ډول ګډونوال یې، دوی د خپلو میندو، خویندو، ورونو او پلرونو پر تنفس تجارت کړی، دا ډول اشخاص دې ته منتظر دي چې د ټول ملت پر تنفس هم معامله وکړي، نو راځئ مخکې تر دې چې کرونا جدي وګڼئ دا ډول مافیا جدي وګڼئ، څوک دې ځان د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظام د وارث په نامه تريو تريو نه‌کوي او بيا دې نه دې ډول بې شـــرمو اشـــخاصـــو ته د توجيهاتو پرتوګ ګنډي، تر دوی نو بيا د ځمکې پر مخ نور د نه سـړي زامن نه شـې پيداکولای، اصـلي او اکبر جهاد د دغسې بې ضـميره پر ضـد روا دی، د جمهور رييس په ګډون په ترتيب ســــره لاندې ورو چارواکو پورې ټول په دې مسـوليت‌کې د خپل مقام او موقف په اندول مسـوليت لري. چې مشـــــر بې قمبر وي، اختر به يې مازيګر وي. خدای دې ټول هغه چارواکي چې په مســـتقيم او نا مســـتقيم په دې ډول جرمونوکې لاس لري، په شـــرمونو و شـــــرموي چې دا غيور ملت يې له دې سخت مظلوميت سره مخ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د فساد او پردیپالنې پر ضد عمومي کمپاین

**دا لیکنه د ۲۰۲۰ م کال د جون میاشـــتې پر (۲۷) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د چنګاښ میاشـــتې له (۷) مې نېټې ســـره ســـمون خوري، نشر شوې ده.**

تر اوســـه مې هېڅکله هڅه نه ده کړې، چې اشـــخاص د لیکنې محور کړم او غټې هېوادني مســـایل څنډې ته کړم. خو دا لومړی ځل دی چې د یو مبهم شـــخص د هویت څېړنې ته اړکېږم او بیا ملي بحث ته داخلېږم. پر دې شـــخص ځکه دلته بحث کوم چې دا د یوې هغې پراخې کتلې اســـتازولي کوي چې په دې تېرو څو




کلونو کې د متخصـــص، تکنوکرات او په نورو ډول ډول نومونو زمور پر ملت تحمیل شـــوي دي. دلته د دوه تابعیته موضـــوع ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم نه داخلېږم، ځکه هغه موضـــوع هم په قانون کې واضـــح ده. عجیبه خبره دا ده چې مسله تر دې هم ترخه شوې؛ یو تابیعته او هغه هم د بل هېواد یو تابیعته پر موږ تحملېږي او هغه هم د یو داسې ملي اداري په راس کې چې هم ټول اقتصـادي تعاملات ور سره تړلي او هم زموږ پولي او ملي هویت.

دلته غواړم د دغه ښـــاغلي (اجمـل احمـدي ) پر وړانـدې څو پوښـــتنې کېږدم، چې ټول هېوادوال یې باید پســـې تعقیب او له اړوندو ادارو یې ځواب تر لاسه کړي :

۱–اجمل احمدي د چا زوی او د چا لمســـی دی؟ د هغوی د هویت تذکرې چېرته دي؟

–۲ اجمـل احمـدي د هېواد د کوم ولایـت او کومې ســـیمې اوسېدونکی دی؟

۳ –کله چې لومړی ځل افغاستان ته راغلی، له کوم ځایه او د کوم هېواد په پاسپورت راغلی دی؟

۵ –د افغانستان د تابیعت تذکره او پاسپورت لري او کنه؟

٦ –که د تابیعت تذکره او پاسـپورت لري، کله یې اخیســتي او له کومې ادارې یې اخیستي دي؟

۷–أیا په تېرو دوو دورو ټاکنو کې یې ګډون کړی کنه؟

۸–ایا په افغاني پاسپورت یې د افغانسـتان په استازۍ کوم رسـمي سفر کړی او کنه؟

۹ –ایا د افغانستان په رسمي ژبو پښتو او دري پوهېږي که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰ –ایا جمهور رییس حاضر دی د مطرحو هېوادوالو پر وړاندې خپل دا نازولی پاڅوي او ورته و وایي چې د خپل ځان د سپیناوي ځوابونه و وایه !

دا خبره هم باید واضح شي چې زموږ هغه هېوادوال، چې د غلو، مفسدینو، لنډغرو او تنګنظرو دزورزیاتي له امله په بېلابېلو هېوادونو کې مهاجرت او بیا دویم یا درېیم تابیعت اخیستو ته اړ شوي او اوس بېرته د هېواد پر ابادۍ بوخت دي، هغوی د دې هېواد نه جلاکېدونکې برخه ده، خو دلته خبره د اجمل احمدي په شان د هغو مبهمو په اصطلاح افغانانو په باب ده چې نه یوازې هویت یې مبهم دی، بلکې د افغانستان کلتور او ملي ګټو پر ضد واقع دي. دا ډول خلک ان که یو تابیعت هم ولري او له هېواده بهر یې یوه ورځ هم نه وي تېره کړې، پر داسې مقاومونو یې پرېښودل، له دې ملت سره یو لوی خیانت دی. نو راځئ لومړی د دې ډول مبهمو پردیپالو پر وړاندې رسنیزه مبارزه وکړو او که دې کار نتیجه ور نه کړه، بیا مظاهرې وکړو او د قانون ټولې دروازې ور وټکوو. راځئ د سمون دا لړۍ له همدې اجمل احمدي پیل کړو او په هره مهمه اداره کې دا لړۍ پسې تعقیب کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چا په حاکمیت کې ؟؟

**دا لیکنه د ۲۰۲۰ م کال د جون میاشـــتې پر (۳۰) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د چنګاښ میاشـتې له (۱۰) مې نېټې سـره سـمون خوري، نشر شوې ده.**



دلته نه چنګېز حاکم دی، نـه هلاکو، نـه اسـمعیل سـاماني حاکم دی، نه ګوډ تېمور، نه د سـقاو واکمني ده، نـه د برهـان الـدین ربـاني، نـه د احمـدشـاه مسعود غږ پورته کېږي، نه د عبدالعلي مزاري او نه د نورو لنډغرمشـرانو، خو بـاج او راج یې چلیږي. دلتـه د دې شـنډلي جهموریت؟ په بهیر کې څوارلس کاله حامد کرزی د احمدشـاه بابا د میراثخور په توګه د واک پر ګدۍ ناسـت و او بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

د همدې نومیالي بابا بل میراثخور اشرف غني احمدزي ته نوبت ورسېد. حقیقت دا دی چې د دې دوارو ښاغلو د واکمنۍ په بهیر کې پښتون د یو قوم په توګه دومره وځپل شو او دومره توهین شو، چې نه د چنګېز په وخت کې دومره توهین شوی، نه د هلاکو او نه هم په لومړۍ او دویمه سقاوۍ کې، د کرزي په حاکمیت کې د دوو جنګي ډلو مشرانو ته د (( ملي اتل)) او د



((د ملي وحدت شهید)) القاب ډالۍ شول او د غني په حاکمیت کې بیا د ده ښاغلي له خوا د (( مسعود پېژندنې او مزاري پېژندنې)) د (( ملي بحثونو)) موضوع مطرح شوه، دا خبره د غني د مرستیالانو له خوا بار بار یاده شوه چې غني، احمدشاه مسعود او مزاري د یوه فکر او یوې نظریې پلویان وو. غني هم د مزاري مصلی او د مسعود تلین غونډو ته د بیت المال د لګښت په منظورۍ او په حکومت کې د دغو غټو جګړه مارانو پلویانو ته د غوښتنې برخې په ورکړې سره دا خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر یوه حده ثابته کړه، چې رښتیا هم یادو دوو جنګسالارانو سره مشترک افکار لري. د کرزي او غني په واکمنۍ کې پښتون پر یو عکس العملي، شکایتي او مظلوم قوم بدل شو، د دې قوم سیاسي مخالفین له حکومتي امکاناتو ګټه اخلي او د پښتنو پر ضد ډول ډول ناوړه عملونه تر سره کوي، خو کله چې یې پښتون پر وړاندې د مظلومیت غبرګون وښیي، نو بیا دا غبرګون هم هغوی ته د ملي وحدت



د زیانمنولو د ضربتي تورونو او ملامتیا په بیه تمام شي. پښتون لا د یو ظلم او توهین په مقابل کې له غبرګونه خلاص نه وي، چې د ظلم او غم بله ټکه پرې راپرېوزي؛ د لندغرو ان یو وړوکی مامور، ملېشه، وکیل، سیاستوال او نور پلویان دومره یو غټ ضرر پېښ کړي، چې ټول ملت له ستونزو سره مخ کړي، د دې علت دا دی چې د پښتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

په وندې او نامه راغلي پښتون ضد چارواکي خپله پښتنون ضد حرکتونو کې شریک دي، که مخالفین پر دې پوه شي چې د خپل


د افغانستان اسلامی جمهوری دولت
د سیمه ایزو ارگانونو خپلواکه اداره
دولت جمهوری اسلامی افغانستان
اداره مستقل ارگانهای محلی
Islamic Republic of Afghanistan
به وزارت محترم اطلاعات و فرهنگ
با تقدیم احترامات فایقه!
بااحترام
اداره مستقل ارگانهای محلی
0745292757

هر ناوړه عمل په مقابل کې د سزا معقول غبرګون ویني، نو هېڅکله یې دومره سپین سترګی ته زړه نه ښه کاوه. خبره را لنډوم، د ستر امپراتور احمدشاه بابا په باب په افغان دولت کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو ايرانپالي دولتي چارواکي (سرور جوادي) وروستي ناوړه چلند ته راګرځم. دا کار له دولتي مقام څخه د ناوړه کارونې له امله را منځته شــوی دی، نو بايد په دولتي کچه ســزا ورکړای شــي، په حکومت کې خو ماته ډېر د تورې سـړي نه تر سـترګو کېږي، خو د سـيمه ييزو ارګانونو د ادارې له ځوان رييس (شـميم کټوازي ) څخه جدي غوښــتنه کوم، چې دې فاشـيســت ايرانپالي (ســرور جوادي) ته تر سبا دولسو بجو پورې خپله سزا ورکړي؛ له غوږه يې ونيسي او له دفتره يې د غوږ په تاوولو په داسې ډول وباسي؛ لکه څنګه چې احمدشـــاه بابا د دوی د بادارانو غوږونه تاو کړي وو، دا خبره دې د جمهور رييس اجازې او معاملې ته نه پرېږدي. سـرور جوادي هم کېدی شـي له خپلو مشـرانو سـره د دې ناوړه کار لپاره مشـوره نه وي کړې، نو شـميم کټوازی هم ضـوروت نه لري، چې د جوادي د شړلو لپاره چا سره مشوره وکړي، تر ټولو خبرو دمخه بايد دی ژر تر ژره له دندې منفک او د نورې ســـزا لپاره دې عدلي او قضــايي ارګانونو ته ور وپېژني. شــميم کټوازي بـانـدې مې ځکـه ځـانګړی غږ وکړ، چې دا نـاوړه کـار د ده د مسوليت په اداره او دايره کې تر سره شوی دی، تر ټولو وړاندې ددې ناوړه کار مســـوليت ده ته راجع کېږي، بله خبره دا ده چې شميم زما مستقيم شاګرد پاتې شوی، د استاد درس شاګرد ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مور د شیدو حیثیت لري، نو که شمیم اجراات ونه کړي، نو فکر وکړئ هغه درس مې چې د مور د شیدو په شان ورکړی، هغه مې ور ته نه دی ښښلی. نو شمیم باید خپل ملي، تاریخي او وظیفوي مکلفیت په غوښه توګه اداکړي او تر سبا دولسو بجو پورې ستر افغان ولس ته د خپلو اجرااتو خبر ورکړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# له قانون سره لوبې

| |
|---|
| **دا لیکنه د ۲۰۲۰ م کال د جولای میاشــــتې پر (۲) یمه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د چنګاښ میاشـتې له (۱۲) مې نېټې سـره سـمون خوري، نشر شوې ده.** |

چا چې د خپلې واکمنۍ په بهیر کې څو څو واره د اســاسـي قانون پر سـر معامله کړې وي او په زرګونو ځله یې تر پښـو لاندې کړی وي، هغه راپاڅي، خپلو ســـیالانو او مخالفانو ته بار بار وایي چې اســاسـي قانون زما سـرې کرښـې دي؛ له دې څخه تېرېدونکی نه یم، دا بـه منئ او دا بـه دربانـدې تطبیقوم، دا داســـې مثال لري،




لکه یو هندو چې مســـلمان ته و وایي چې اســـلامي شـــریعت زما سـرې کرښـې دي، دا به دربانـدې تطبیقوم او کنه جنګ ته به ادامه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکوو. له بلې خوا بیا د مسـلمان په سـر کې دومره منطق نه وي چې هنـدو تـه ووایي لالا مې شـــې اول خو تـه کلمـه تېره کړه، مسـلمان شـه بیا به دواړه په ګډه پر یو بل شـریعت تطبیقوو. اوس نو د ډاکټر غني او ډاکټر عبدالله په سـیاســي سـیالانو، طالبانو او نورو مخالفانو، یو لوري کې هم داسې سیاسي منطق نه شته، چې دې دوو ډاکټرصاحبانو ته و وایي چې راځئ اول به همدا اساسي قانون پر تاسې دواړو ښاغلو تطبیق کړو، د سـولې خبرې او نور مسـایل به بیا وروسـته څېړو. که اساسـي قانون په اسـاسـي مانا پر دې دواړو قانون ماتوونکو ښـاغلو او نورو چارواکو تطبیق شــي، نو دوی به لاس تړلي زندان ته ځي، حقیقت دا دی چې د اساسي قانون تطبیق غني، عبدالله او ځینو نورو چارواکو ته په دومره لوړ قیمت تمامېږي، لکه هندو ته او یا یو شـمېر جهادي ډلو ته چې د اسـلام له نامه څخه یې ناوړه ګټه پورته کړې، هغوی ته د شـریعت تطبیق په ډېره لوړه بیه پرېوزي. دا نو اوس زموږ په وطن کې یو دود دی چې اکثره سـیاسـیخېل عملاً د خپل شـعار په مقابل کې ولاړ دي، دومره سـپین سترګي دي چې له دې ټولو دروغو سـره سره د ولس په سترګو کې ورننوزي. های های قانونه نو...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د قانونیت په سرچینه کې لاقانونیت

**دا لیکنه د ۲۰۲۰ م کال د جولای میاشـــتې پر (۱۷) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د چنګاښ میاشـتې له (۲۷) مې نېټې سـره سـمون خوري، نشر شوې ده.**

د غزني پـه اصـــطلاح وکیلان یـادوم، چې نـه انتخـابي دي، نـه انـتصـــــابي، خـو تـر دوارو ډلـبـنـديـو معـتـبـر دي، دوی پـر ۱۳۸۹ل/۲۰۱۰م کال، د نظار شورا او وحدت حزب د ایتلاف له امله د انتخاباتو په نامه د غزني د ولس د استازو په توګه ولسي جرګې ته ور وپېژندل شول، هغه وخت، که د غزني اکثریت پښتنو هر څومره فریاد وکړ، خو د ایران سپاه پاسداران، د هغوی روزل شوې ډلې او د ټاکنو په کمېسیون کې فضل احمد معنوي دومره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

زور او ځواک خاوندان وو، چې د وخت ځانساتي جمهور رییس؛ ښاغلي کرزي یې پر وړاندې هېڅ قانوني چلند و نه کړ. زه خپله جمهور رییس کرزي ته دوه ځله ورغلم، ورته ومې ویل چې د غزني له ولس سره ظلم مه کوئ، دا خلک



نه یوازې د غزني د اکثریت ولس استازي نه شي کولای، بلکې اکثریت یې د ایران له استخباراتو سره اړیکې لري او له اکثریت پښتنو سره څرګنده دښمني هم پالي. فضل احمد معنوي ته مې هم وویل، چې تر دې انتخاباتو مو چې انتصابات هم کړي وای د ولس یو څه نسبي استازولي خو به شوې وه. انتخابات خو پر ځای پرېږده چې دې ته خو موږ انتصابات هم نه شو ویلای. د خوار ملا په اذان څوک روژه نه ماتوي، زموږ خبره چا وا نه وربدله، خو د هېواد له بېلابېلو سیمو هزاره ګان سره راټول شول او (( جامعه هزاره افغانستان )) په نامه یې غونډې او احتېجاجونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړل او دا یوولس تنه یې د غزني د استازو په نوم، ولسي جرګې ته داخل کړل. کله چې پر۱۳۹۳ / ۲۰۱٤ م کال د جمهوري ریاســـت ټاکنې وشــوې، نو اکثرو فکر کاوه چې د ډاکتر غني په حاکمیت کې به قانون تر پخوا یو څه ښه تطبیق شي.

د ولســـي جرګې ټاکنې نږدې دوه کاله وځنډېدې، خو کله چې د تلې پر میاشـــت ټاکنې وشــوې، د غزني ټاکنې د وري میاشـــتې ته محول شوې. نوې ولسي جرګې ته نوي وکیلان راغلل، خو غزني کې د دې پرځای چې یا نوې ټاکنې وکړي، یا د دې وکیلانو دنده تعلیق کړي، یو ځل بیا غني هم لکه د کرزي په شان دې نازولو ته د غزني د استازو او د پوره وکیلانو په توګه داسې ډول امتیاز ور کړ چې نه یوازې د افغانستان په ټول انتخاباتي بهیر ان په نړۍ کې یې هم ساری نه دی لیدلی شوی. دوی د غني تر واکمنۍ وړاندې په اصــطلاح منتخب وکیلان وو، د غني پنځه کلنه دوره یې هم په کې وخوړه، بیــا هم وکیلان دي، د غني د دویمې دورې نږدې پنځه ویشت سلنه زمانه تېره شوه، بیا هم وکیلان دي، د غني ټوله دوره به هم تېره شـــي، خو دوی به بیا هم وکیلان وي. د ټاکنو کمېسیون له خوا د دې ښاغلو د باورلیک لومړی پنځه کلن معیاد هم پای ته رسېدلی، نوی باور لیک هم نه لري، نه انتخابي اسناد لري، نه انتصابي، نه کوم ځانګړی فرمان او نه هم کوم بل حقوقي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ســــند.، یوازې همدا خبره یې ټینګه کړې چې تر هغه وخته موږ وکیلان یو چې غزني کې نوې ټاکنې نه وي شــــوې، و ښـــاغلو د ولســــي جرګې وخت چې یو څه وغځېده، هلنه خو د هغوی د نشــتوالي په حالت کې د بشــپړې مقننې قوې خلا رامنځته کېدله، ســــره له دې چې دا دلیل هم قانوني نه و، پر وخت باید ټاکنې شوې وای، خو دا د هغوی د پاتې کېدو لپاره یو دلیل کېدی شو. اوس ســـړی حیران شـــي چې د دې مدام العمره وکیلانو درجه تر کومه حده و ټاکي؟ دوی صـــــحابه کرام دي؟ اولیای کرام دي ،؟ کرام الکاتبین دي؟ او که د بلې کومې لوړې مرتبې خاوندان؟ اوس سړی چاته شکایت وکړي؟ د ټاکنو کمېسیون ته، سترې محکمې او لویې څارنوالۍ ته؟ پر اساسـي قانون د تطبیق د څار کمېسـیون او که خپله د قانون د تطبیقولو لومړۍ درجه مســـول؛ اعلی ســـر قومندان جلالتماب زرکلن دوکتو محمد اشـرف غني احمدزي او که کومې بلې مرجعې ته؟ اوس چې دې دا خبره وخوځوله د دې پر ځای چې څوک د دې معضـــــلې قانوني حل وڅېړي، هر یو به در باندې د تعصب زرګونه ټاپې و وهې او د جمهور رییس روزل شـــوي او کرایي کنځلماران به هم د ایراني فاشـــیزم د توجیه لپاره کنځلو ته اړم شي. زما په نظر خو تر ټولو غټ تعصب او فاشیزم همدا دی چې څوک د اتیا ســــلنې مظلومو خلکو حق په څو تنو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مزدورو او پردیپالو اشـــخاصـــو وخوري. اوس په لنډيز ســـره وړاندیز کوم چې د دې په اصـــطلاح وکیلانو د کار د ناعادلانه دوام د مخنیوي لپاره لنډه لاره دا ده چې جمهور رییس ژر تر ژره د ټاکنو کمېســـیون ته امر وکړي چې په معین وخت کې د عادلانه استازیتوب د تضمین له لارې د غزني ټاکنې تر سره کړي، تر هغه پورې چې نوې ټاکنې کېږي هېڅوک د غزني د ولس اســـتازیتوب نه شـــي کولای، د پخوانیو وکیلانو دنده ختمه ده او کولای شي خپلو کمپاینې مبارزو او یا نورو کارونو ته لاړ شي. دا خبره د یادولو وړ ده چې که دا ناقانونه وکیلان هزاره نه وای، نو نه به جمهور رییس، نه د ټاکنو کمېســـیون او نه به کوم بل قانوني ارګان دومره ناز او عشرت ته پرې ایښي وای! دېته وایي د قومي تعصب او نوي فاشیزم څرګندې بېلګې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د عصري دروغو نوې طریقه

**دا لیکنه د ۲۰۲۰ م کال د جولای میاشـــتې پر (٤) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د چنګاښ میاشـــتې له (١٤) نېټې ســـره ســـمون خوري، نشر شوې ده.**

کوم عکس چې تاسې ګورئ دا فوټوشـاپ شـوی دی، نه ښـاغلي عطامحمد نور له ما څخه د ملاقات غوښـتنه کړې او نه ما له هغه څخه د ملاقات تقاضـا کړې ده، نه زه کوم دولتي موقف لرم او نه له سیاسي پلوه په داسې یو قوي دریځ کې یم چې چا ته د معاملې



له لارې یو څه ورکړم او یا ترې یو څه تر لاسه کړم. د هېواد عیني

(c) ketabton.com: The Digital Library

واقعیتونو ته په پام سره ښاغلی نور له اقتصادي، پوځي او سیاسي پلوه تر ما ډېر په قوي دریځ کې دی، نو ما سره د ملاقات بحث ورسره نه مطرح دی او نه ورته په گټه دی. نور که دا ډول ملاقاتونه کوي، نو کېدې شي خپله جمهور رییس او یا د حکومت نورو لوړپورو چارواکو، چې له دوی سره د معاملو اندولیزه تجربه لري، له هغو سره دا ډول ملاقاتونه تر سره کړي او یا یې



تر سره کړي وي، خو زه د یوه افغان په توگه ملي ارزښتونه او ملي گټې پالم او د هغو پر سر هېڅ شخص او ډلې سره معاملې ته حاضر نه یم. زه ډېر خوښ یم چې په خپله پنځه دېرش کلنه فکري، فرهنگي او ملي مبارزه کې د ناوړه معاملې کومه بېلگه او تاریخ نه لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلی نور هم خپل مخالفین او موافقین لري او زه هم، خو زه د یوه ثابت دریځه افغان په توګه خپلو ټولو هېوادوالو ته ډاډ ورکوم چې د خپل ژوند په پاتې بهیر کې به هم هېڅکله د بدې سیاسي معاملې تاریخ پرېنږدم. له رسنیو او د فیسبوک له ټولو چلونکو څخه هم هیله کوم چې د یو چا د شخصیت د رد او تایید لپاره د جعلي انځورونو او دروغو له خپرولو ډډه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زموږ ټولنه، درې خصلتونه او درې ډوله خلک

**دا لیکنه د ۲۰۲۰ م کال د جولای میاشــتې پر (۸)مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د چنګاښ میاشــتې له (۸) مې نېټې ســره ســمون خوري، نشر شوې ده.**

موږ باید نورو ته نظریات او وړاندیزونه هم ولرو، کار باید هم وکړو او ثمر باید هم ولرو، داســې نه چې، لکه د غنې خصــلت ولرو؛ هر څه له ګېډې او خولې راباسو او بهر ته یې وړاندې کوو او له بهره هېڅ هم نه رااخلو او بیا داســې وخت راشــي چې



د غنې په شان په خپلو لاړو کې بند پاتې یو. یا داسې هم نه شو، لکه د مېږي په شـــان چې ټولو عمر له بهره راټولونه کوو، خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کور ډکوو، خو بهر ته خپل هېڅ ډول تولید نه لرو. موږ باید د شاتو د مچیو خصلت خپل کړو، د پاچاهۍ یا واکمنۍ پر ړنګولو خپله انرژي و نه لګوو، خپله واکمني او مرکزیت جوړ وساتو او خپل ټول ځواک کار او ثمر ته متوجه کړو؛ پر ګلانو وګرځو، له هغو څخه شیره راټوله کړو، هغه پر شاتو بدله کړو او په دې ډول ټولنې ته د خپل کار او زیار یوه ګټوره او مثمره نتیجه وړاندې کړو. زموږ په ټولنه کې اوس د دې دوو ځانګړتیاوو لرونکي انسانان شته، خو یه خواشینۍ سره باید ووایم، چې د درېیمې ګټګورۍ خلک ډېر کم دي، ان دا چې د ټولنې یوه سلنه برخه هم نه جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وروستي ليدل و نه شول

**دا ليکنه د ۲۰۲۰ م کال د جولای مياشـــتې پر (۱۰) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د چنګاښ مياشـتې له (۲۰) مې نېټې سـره سـمون خوري، نشر شوې ده.**

نه يې د حاکميت يا ولايت پر مهال چا پســې سـپکې سـپورې و ويلې او نه يې د محکوميت يا کورناســتۍ پر مهال، يو دروند او سيال سـړی و، ځان يې دروند وسـاته. خدای ج حاضـر او ناظر دی د همدې دروندوالي له امله را بـانـدې ډېر ګران و. کله چې دې د کرونـا وبـا لـه املـه پـه روغتون کې بســـتر و، زه هم د همدې نـاروغۍ له املـه پـه کور کې بســـتر وم، مېرمن مې هم همدې ناروغۍ رنځوله، يوازې



کشــره لور مې (ســوله) وه چې زموږ دوارو خدمت يې کاوه. له ډېرو نږدې ملګرو پرته مې هېڅوک خبر نه کړل، ما ويل چې د دوستانو تشويش زيات نه شي، په دې منځ کې چې به د کندوزي صــيب تصــويرونه پر فيسـبوک خپاره شـول، نو ســخت به يې وځوررولم، ټينګ هوډ مې و، چې کله ښــه شـــوم، نو د کندوزي

(c) ketabton.com: The Digital Library

صیب پوښتنې ته به ورځم. زه او کورنۍ مې د خدای ج په فضل ښه شول. یوه ورځ سهار مې ملګرو ته وویل چې ځو د کندوزي صیب پوښتنې ته، هغوی وویل ماسپښین به لاړ شو، ماسپښین یوه حادثه پیدا شوه، پرون هم په کارونو کې ډوب شوم، نن هم یو ناڅاپي کارونه او حوادث پیدا شول، ما ویل څه د جمعې ورځ به حتمي ورځم. د پنجشنبې ماښام ناوخته خبر شوم چې کندوزی صیب له ټولو ملګرو ناهیلی شو او په یوازې ځان یې خپل ابدي سفر پیل کړ. هغه ته به ضرور د خپلې ناروغی پر مهال خپل هغه یاران او دوستان سترګو ته ودریدلي وي چې د خپل حاکمیت، معینیت او ولایت پر مهال ترې راتاو وو، خو کله چې د مرګ پر بستر پروت و، یوازې خال خال ملګري یې سر ته ولاړ وو، د ده وروستی دیدن زما پر زړه یو ارمان پاتې شو،. پر مخه دې ژیړې ګلونه وروره! دا دنیا همداسې ده او همدا یې خصلت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شخصیتونه او دریځونه

**دا لیکنه د (۲۰۲۰) م کال د جولای میاشـــتې پر (۱٤) چې د ۱۳۹۹ ل کال د چنګاښ میاشـــتې د (۲٤) نېټې ســـره ســـمون خوري، نشر شوې ده.**

هر ټولنیز او سـیاسـي شـخصـیت چې ارزوئ، نو د حاکمیت او محکومیت پر وخت یې تجربه کړئ. عبدالرشید دوستم ښه دی که خراب؟ په تېرو دېرشـو کلونو کې یې څه کړي؟ دا ټولو خلکو



تـه معلوم دي، د هغـه پر جنـایتونو پرده غوړول دا پـه خپلـه تر جنایت پورته حالت دی. خو دوسـتم له ټولو بدرنګیو سـره سـره یوه ځانګړنه لري؛ هغه دا چې د یو معلوم دریځ خاوند دی، که

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه هم د ده دا دريځ د ده پر خپلو ځاني، ســـمتي او قومي ګټو راڅرخي، خو بيا هم تر نورو، په تېره بيا تر پښتنو سياستوالو يې دريځ څرګند دی. زه د نړۍ پر دويم تصـنعي مفکر افسـوس کوم چې د خپلې واکمنۍ دوام يې د داســـې ســترو شـــرمونو په بيه واخيســـت، چې ده يې د خپل محکوميت پر مهال تصـــور هم نه شو کولای. د غني پاچاهي به څلورکاله وروسته يا وړاندې ختمه شـي. خو د دوستم مارشـالي به د هغه تر مرګه وروسـته هم دوام وکړي. دکرزي پاچاهي ختمه شـوه، خو دا ملت لا هم د فهيم د مارشالۍ کفاره ورکوي. غني به نه وي، خو د دوستم مارشالي به ډزېږي. عجيبه خو لا دا ده چې دا مارشـالي هم په سياسي چارو او د سياسي بنبستونو د حلولو په برخه کې !؟ سړی حيران شي چې هغـه کړکېچونـه زېږولي او کـه حـل کړي يې دي ؟؟ کـه د اخلاقياتو برخه يې هم ور ســـره يو ځای کړې وای، نو بيا به يې مارشـــالۍ ته تر دې هم ښـــه توجيه پيدا شـــوې وای!؟ کله چې ښاغلي غني دا فرمان لاسليکاوه، نو ځان سره به يې ښه په خوند خندلي وي، چې همدا ملت، همدا يې جمهور رييس او همدا يې مارشـــال!؟ دا ملت دومره کمزوری شـــوی، چې زه يې قاتل ته مـارشـــالي ورکوم، خو دې ملت کې غوړه مـالان دومره زيـات شوي، چې بيا هم په رسنيو کې همدا چغې وهي چې « بابا زرکلن

(c) ketabton.com: The Digital Library

شيږ». له قدرت او ځان سره د غني د لېونۍ مينې ځانګړنه د هغه نورو مامورينو او مامورګيو ته هم لېږدېدلې ده؛ زموږ يو انډيوال و، د غني د حاکميت په لومړيو کې له دولتي ځوکيو څخه لرې وساتل شو، نو په خصوصي غونډو کې به يې د غني او په علني غونډو کې به يې د دوستم داسې غيبتونه کول، چې تا فکر کاوه له دې دواړو سره په عمر کې پوخلا نه شي، خو کله چې غني په يو وړوکي وزارت ونازاوه اوس يې نو د غني په صـفتونو خوله نه مړېږي او د دوستم پر جنايتونو او مارشالۍ داسې غلی دی، چې ته به وايې د سري د لادرکۍ اعلان دې کړی وای. نو دې ته وايي د اومغلنو سياستوالو شخصيت، چې هره شېبه د متضاد تغير په حالت کی دی، کله چې دې حالت ته ګورم، نور پر ځان هم بې باوره شم.، نو ځکه خو مې له ځوان نسل څخه هيله ده، چې زما په ګډون د هېچا پر خبرو باور مه کوئ، زموږ عمل ته وګورئ، ښه عمل د ښه شخصيت لپاره غوره معيار دی، نه غوړې خبرې او هوايي ژمنې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د دردونو فوران؛

**دا لیکنه د ۲۰۲۰ م کال د جولای میاشـــتې پر (۲۳)مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د زمري میاشـــتې له (۲) یمې نېټې ســـره ســـمون خوري، نشر شوې ده.**

په یوه حساب پنځه دېرش او په بل حساب شل کاله کېږي چغې وهم، چې پښتون ځورول کېږي، پښتون وژل کېږي، پښتون تباه




دی او پښـتون لا پسـې تباه کېږي، خو یو زیات شـمېر پښـتنو او اکثرو ناپښـتنو د نشـنلیسـت، متعصـب او فاشـیسـت په نوم تورن کړم، خو ما د خپل وس تر وروسـتي بریده د پښـتنو د مظلومیت

(c) ketabton.com: The Digital Library

چغه پورته کړه او د داسې ظلم انځور مې تر خپله وسه وکاږه چې د غوړه مال او ځانساتي پښتون ضد واکمن پښتون او د پښتنو د شـــعوري مخالفینو د ګډه نا مشـــروع تعامل په نتیجه کې رامنځته شــوی و. که کرزی او غني له عقله نه، بلکې له نســله پښــتانه نه وای، نو په ټول عمر کې به په دې سیاسي ظرفیت، دې څوکۍ ته نه وای رســـېدلي، خو د کوم قوم په برکت چې دوی واک او ځواک ته ورســـېدل، تر ټولو زیات یې هماغه قام په کې خوار او زبون کړ، ان د چنګېزخان پر وخت هم پښتانه دومره نه وو کړول شـــوي، لکه د دوی په واکمنۍ کې. تر ټولو دردوونکی حالت بیا دا دی چې د دې بدمرغیو پړه هم د همدې چارواکو او د هغو د اړوندو غوړه مالانو له خوا پر همدې پښتون قوم اچول کېږي .

نن چې په بغلان کې یو پښـتون مشـر او سـپینږیري په عامه غونډه کې خپلې جامې وویستلې، دا په واقعیت کې د ټول پښـتون قوم د دردونو او نه بیانېدوونکو غمونو یو رښتینی انځور دی .

پښتنو مشرانو او کشرانو، چاروکو او بېواکو! ځان به نه تېرباسو، د ټولنې دردوونکی واقعیت همدا دی چې نن په بغلان کې حسـن خان څرګند کړ. زما په ګډون به ډېر نور پښـــتانه هم له داســـې دردوونکي حالت ســـره مخامخ شــوي وي، خو څرنګه چې مورږ سره خپل قلم کله کله ملګرتیا کوي او رسنیو ته لاسرسی لرو، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه خو د خپلو غمونو په بیان کې داســې یو دردوونکي فوراني حالت نه یو رسېدلي .

د ډېر درد او غم خبره دا ده چې د پښــتنو او د ټول افغانســتان د ســالمیت لومړۍ درجه شــعوري مخالفین د دولت پر لومړیو او اساسي څوکیو ناست دي او د نا شعوره پښتون پاچا له خوا ورته د پښــتون وژنې او هېواد ورانونې په پار مکافات ورکول کېږي او که پښــتون بیا د دې بې عدالتۍ په مقابل کې غږ پورته کړ، نو هغه بیا د نشــنلیســت، متعصــب او د ملي وحدت د مخالف په نوم په شلو تورونو تورن شي. درباري غوړه مالان د دې پر ځای چې د ولس ننګه وکړي، یو دم خولې وازې کړې چې ولسمشره زر کلن شې او هېڅ بدیل نه لرې...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څوک باید څه له لاسه ورکړي؟

**دا لیکنه د (۲۰۲۰) م کال د جولای میاشـــتې پر (۲۸) چې د ۱۳۹۹ ل کال د زمری میاشـتې د (۷) نېټې سـره سـمون خوري، نشر شوې ده.**

که سـرېتوب او انسـانیت معیار وای، نو بیا خو به نه دا بحران او نـاورین رامنځتـه کېـده او نـه بـه دا جګړه او غمیزه. څرنګـه چې




سـیاسـتوالو سـره ځان غوښـتنه او واک غوښـــتنه مطرح ده، نو ځکه خو دا غمیزه ورځ تر بلې غځېږي. د روانې غمیزې وروســـتي علني لوبغاړي اوسـمهال د داکتر اشـرف غني په مشرۍ اسلامي جمهوریت او د ملاهیبت الله په مشـرۍ اسـلامي امارت دي. دواړه لوري پر یو بل د پردیپالنې تورونه پورې کوي، یو لوری د ولسـواکۍ او بل لوری د اسلامواکۍ توغونه توغوي. حقیقت خو دا دی چې د هر لوري په اوړو کې ښې ډېرې شګې شته، خو اوس د تور او سپین

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلومول ډېر وخت غواړي او اسانه‌کار هم نه دی. دلته د دوی پر بهرنیو ملاتړو بحث خبره اوږدوي، خو دا دوه غټ لوري باید د اوسمهال د ترخو او ناعادلانه واقعیتونو په توګه ومنل شي. همدې لورو د ولس ژوند تریخ کړی او د غمیزې د غځونې سبب شویدي. اوس د حکومت لوری وایي چې طالب لوری دې لومړی اوربند وکړي او بیا وروسته ورسره د سولې خبرې کوو. له دې‌کار څخه د غني هدف دا دی چې طالب اوربند وکړي، نو د ده تر مشرۍ لاندې همدا حکومت به په همدې شکل او ان تر دې هم په زیاتې سرتمبګۍ دوام‌کوي او بل چې طالبان ان لنډمهالی اوربند هم وکړي، نو کېدی شي د هغوی د لیکو، جذبې او جبهې د‌کمزورۍ سبب شي، نو طالب مشران هېڅکله داسې بایلونکي حالت ته حاضر نه دي او نه یې بهرني ملاتړي داسې یو حالت غواړي. اوس حکومت د دفاع او طالب د تعرض په حالت کې دی، که طالب تعرض و نه‌کړي، دا‌کار حکومتي چارواکو ته یو غټ امتیاز دی، خو په مقابل‌کې بیا حکومتي چارواکي طالبانو ته څه ډول انډولیز امتیاز ورکوي؟ له بلې خوا‌که طالب همداسې جګړې او د غني حکومت همداسې د خپل واک غځولو ته دوام ورکړي، نه یوازې دا چې دا حالت زموږ د زرګونو هېوادوالو د شهادت او د هېواد د ورانۍ سبب ګرځي، بلکې دا احتمال هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

شته چې دا حالت د ټول نظام د پاشنې تر بریده هم ورسېږي او یو ځل بیا د اویایمو کلونو سناریو تکرار شي. زموږ شریر ګاونډیان تیار همداسې یو حالت ته منتظر دي، چې طالبان د مجاهدینو او هېواد د هغوی د رقابتونو د وخت په شان، پر یو برخلیک اخته کړي،



نو ایا کومه داسې منځنۍ حللاره هم شته او کنه چې هم د نظام اډانه روغه پاتې شي او هم سوله ټینګه شي؟ د هېواد د ژغورنې اساسي لاره همدا ده چې هم نظام خوندي شي او هم سوله راشي، دا داسې هیلې او ضرورتونه دي چې د یو بل متمم دي، نه د یو بل مخالف او هېڅکله باید د یو بل پر ضد و نه کارول شي. نو اوس ښه لاره همدا ده چې له یوې خوا پر طالبانو فشار راوړل شي، چې د نظام

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د فزیکي اډانې د بقا تضـــمین وکړي، چې داکار تر ټولو دمخه د سـراسـري اوربند په ټینګښـت سـره تر سـره کېدلای شـي.له بلې خوا غني او ټامي ټیم یې او ورسـره راټاله لنډغر او نور مفسـدین، چې اوس د حکومت په اډانه‌کې د حکومت په نامه مطرح دي، د ولسي فشار له امله دېته اړ کړای شي، چې د چارو واګې پرېږدي، دواړه لوري دې د یو ټاکلي وخت لپاره د چارو واګې ناپییلو او ثالثو افغانانو ته وسـپاري، هغوی دې د عادلانه ټاکنو لپاره لاره اواره کړي، راتلونکو هېڅ ډول ټاکنو کې دې ځان نه‌کاندیدوي، بیا به وګورو چې ټامي مفکرات ټاکنې ګټي او که د جنت په مینه مســت طالبان حضـــرات او یا هم ملتپال او هېوادپال افغانان؟ د دې دریېمې لارې په تعقیب او تحقق سـره به حکومت له غلو او مفسـدینو او نظام به له پاشـلو وژغورل شـي او د دایمي سـولې ټینګښت ته به هم لاره اواره شي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښایسته کندهار ډېر ډېر یادوم

# (۱)

**دا لیکنې مې د هغه سفر انځورنه ده چې د ۲۰۲۰ م کال د جولای میاشتې پر (۲۸) مې نېټې چې د ۱۳۹۹ ل کال د زمري میاشتې له (۷) مې نېټې سره سمون خوري، کندهار ولایت ته کړی دی.**

یو خو حکومت او طالبانو ډېر ښه او د سرېتوب کار وکړ چې د لوی اختر په مناسبت یې اوربند وکړ او بله خبره دا چې مورږ د ښاغلي محمود کرزي په بلنه له ښاغلو فریدون خان مومند، حیدر



ځاځي او بیدار ځاځي سره په یو نارسمي سفر کندهار ته راغلو، په کندهار کې به د خپل سفر پر مهال تاسو ته د ښکلي کندهار د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابادۍ تصویرونه وړاندې کړو. اوس د اختر په مبارکۍ کې مساپرو هېوادوالو ته د عینو مېنې د پرمختګ څو ښکلي تصویرونه.

**(۲)**

په ماښـــام کې د عینو مېنې ترکتنې وروســـته د ښـــاغلي محمود کرزي مېلمســـتون ته لاړو، هلته مو د ډوډۍ پرمهال د کندهار له یو شمېر مخورو سره وکتل.









په کندهار کې مو د ژوندون تلوېزیون څانګه وکتله، داکوچنی چې تاســـو په تصـــویر کې ګورئ روهید نومېږي، د ژوندون تلوېزیون د کندهار څانګې د ماشـومانو خپرونه پرمخ وړي. ښـه اینده لري. جاوید اغا ته دې خدای خیر او برکت ورکړي چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ډېر زحمت يې په کندهار کې د ژوندون څانګه په ښــه ډول فعاله ساتلې ده.**

**(۳)**

**نن مو په کندهار کې د خرقې مبارکې زيارت وکړ. خرقه مبارکه د**



**نړۍ له مقدسـو زيارتونو څخه ګڼل کېږي او تاريخي کندهار ته يې زياته معنوي ښـکلا ورکړې ده.د خرقې مطهرې له متوليانو څخه ډېره مننه چې موږ ته يې نن د خرقې مبارکې د زيارت زمينه برابره کړه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## (٤)

د ستر ملي مشر میرویس نیکه زیارت ته لاړو، د نیکه اروا ته مو



د دعا لاســـونه لپه کړل، هیله مو څرګنده کړه چې د دې ســـتر انســـان او افغان د سـپڅلي روح په برکت لوی خدای ج په هېواد کې سـوله او سـوکالي راولي او افغانان د نېکمرغه ژوند خاوندان کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## (٥)

کندهار په مېړنيو ښـايسـته و او ښـايسـته دی. نن په کندهار کې د



هېواد د يو زړور بچي شـــهيد جنرال عبدالرازق مزار ته لاړو، د هغه روح ته مو دعا وکړه، د لوی خدای ج له درباره مو هغه ته د فردوس جنت او دې مظلوم ملت ته د ســولې او ســوکالۍ هيله وکړه.

## (٦)

د چهارشـــنبې پر ورځ د بېلابېلو مهمو تاريخي ځايونو تر ليدنې کتنې وروســته کندهار پوهنتون ته لاړو، د پوهنتون قدرمن رييس ښاغلي (پوهاند دوکتور عبدالواحد وثيق) د اوسمهال دکارونو او د راتلونکو پلانونو په باب هر اړخيز معلومات راکړل، بيا مو د باچاخان څېړنيز مرکز وکوت، د دې مرکز له فعاليتونو خبر شــو، بيا د قدرمن اســتاد (قانع) په ملتيا د پوهنتون مرکزي کتابتون ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاړو، داکتابتون د یو میلیون امریکایي ډالرو په لګښت په څلورو پوړونو کې په عصري ډول جوړ شوی دی او لسګونه زره ټوکه کتابونه په کې اوسمهال خوندي دي. دکتابتون مسول ښاغلي (قرانمل صیب) موږ ته دکتابتون په باب پوره معلومات راکړل، قرانمل صیب دې خیر یوسي د خپلې فرهنګي مینې له امله یې د



کتابتون بډاینې ته ډېره پاملرنه کړې ده. بیا مو د استاد قانع په ملتیا د پوهنتون مرکزي تالار وکوت خورا ښکلی جوړ شوی دی،تر دې وروسته مو د بېلابېلو پوهنځیو ودانۍ او نور ناسیسات وکتل .

کندهار پوهنتون سره له دې چې یه کم وخت کې ډېر پرمختګ کړی، خو د سیمې د عمومي ضرورت او ظرفیت په اندول لا هم نور ډېر کار او پرمختګ ته اړتیا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۷)

د چهارشنبې ورځ ماسپښین مهال په ارغنداب ولسوالۍ کې د حاجي صیب (غلام حیدرخان) او د هغه د ورونو بڼ ته لاړو. دا باغ تر (بابا ولي) زیارت لاندې سیمه کې موقعیت لري او ټول ارغنداب ولسوالي ورڅخه ښکاري. ارغنداب دومره زرغون دی چې ته فکر کوې پر ځمکه دې شین بخمل غوړولی دی او که



سړی ووایي د ځمکې پر مخ د جنت یوه ټوټه ده، نو ډېره مبالغه به یې نه وي کړې. حاجي صیب حیدرخان نه یوازې زموږ مېلمه پالنه وکړه، بلکې پر ښکلي څلوېښت جریبه باغ یې هم وګرځولو. دې باغ کې د انګورو، منو ،انارو او نورو مېوو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرګونې ونې ثمر ته رسېدلې دي. حاجي صيب د دې باغ د جوړولو داستان بیان کړ، ويې ويل چې دا يې په ډېر زحمت جوړ کړی؛ دلته مځکې لوڅې او نلان وو،خو د ده په زيات کار، زحمت او ولسي تجربې اوس پر داسې يو زرغون بڼ بدل شوی دی. ده زياته کړه چې ماته که څوک ټوله دنيا راکړي خپل کور، کلی او دا ژوند به پرنږدم.

حاجي صيب حيدر وويل موږ بايد داسې کار وکړو چې هم خپل ځان ته ګټه ورسوو او هم نورو ته. رښتيا هم ارغنداب د همداسې ولسي کاري وګړو او مشرانو په کار، زيار او تجربو اباد شوی دی. څوک چې دښکلي کندهار سفر کوي او ارغنداب ونه ګوري، نو سفر به يې نيمګړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## (۸)

**د چهارشـــنبې پر ورځ مو د کندهار د اطلاعاتوکلتور ریاســـت وکوت، رییس صـیب ښـاغلي (افغان) راته د یاد ریاسـت د تېر یو**



**کال فعالیتونو په باب معلومات راکړل او هم یې د خپلو راتلونکو پلانونو په باب رڼا واچوله. بیا مو د یاد ریاســـت اړوند موزیم، کتابتون او ننداړتون وکتل، د خدای ج په فضـل او د دې ریاسـت د کـارکوونکو د هڅو پـه برکـت پـه هره برخـه کې پـام وړ مثبـت بدلونونه او پرمختګونه رامنځته شوي دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## (۹)

د چهارشـــنبې ماښـــام مې د ژوندون ټلوېزيون د همکارانو او ملګرو په غونډه کې ګډون وکړ. په دې تصـويرونو کې چې تاسـې کوم ملګري ګورئ د دوی اکثره لـه کوم مـادي امتيـاز پرتـه لـه ژوندون سره رسنيزه ملګرتيا پالي. له دوی ټولو څخه مننه کوو .



په کندهار کې د ژوندون د څانګې مشر ښـاغلي جاوېد اغا څخه ځانګړې مننه چې نه يوازې په کندهار کې يې د ژوندون څانګه ښه فعاله ساتلې، بلکې نورو ملګرو او د رسنيزو چارو مينوالو ته يې هم ښــه کاري چاپېريال برابر کړی دی. ما هم د دې فرهنګي او رسنيز کاروان د ملګرو د قدرونې په غونډه کې برخه واخيستـه او کاري ورړتيا، زړورتيا او ملګرتيا مې ورته وستايله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۱۰)

د کندهار قدرمن والي صــيب (حيات الله حيات) د پنجشــنبې پر ورځ سهار مور ته ټولو؛ فريدون خان مومند، بيدارځائي، حيدرخان ځائي او ما يون ته بلنه راکړې وه، چې ســـهار چاى به له والي



صـيب سـره څښـو. والي صـيب خوندور چاى برابر کړى و، خو دلته د ورتګ خوندوره برخه دا وه چې والي صـــيب پر مور د نړۍ د ســـتر امپراتور او د ټولو افغانانو بابا ( احمدشـــاه بابا) د ټولواکۍ ماڼۍ او کارځاى وکوت. دا ماڼۍ چې نږدې دوه نيم سوه کاله عمر لري، د خپل وخت د معمارۍ يوه ښه بېلګه ګڼل کېږي. دا ودانۍ څوګاله وړاندې په يوه قوي انفجار کې ســـخته زيانمنه شوې وه، خو اوس يې په اساسي ډول د بيا رغونې چارې بشپړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شــوې دي. د مانۍ د بېلابېلو برخو کتنه د هر افغان د زړه جرات او پر ځان باور زياتوي او د ســـړي په ذهن کې د تېرې زمانې برم او عظمت تازه کوي. والي صـــيب د افســـوس په توګه وويل: د خواشينۍ خبره ده ؛مونږ دوه نيم سوه کاله وړاندې څه وو؟ له دې ځايه نيمه نړۍ کنټرولېدله، خو اوس...

(۱۱)

## خوښنه، بښنه او مننه

کندهار ته مې لنډ خو مثمر ســـفر درلود، په څوارلســـو کاري ساعتونو کې مې نږدې لس مهم تاريخي ځايونه وليدل او يو شمېر فرهنګي ملګرو ســـره مې هم وکتل، د کندهار له نويو پرمختياوو او ودانيزو چارو هم تر يوه بريده خبر شوم، ستونزې هم کمې نه وې، خو پر ستونزو سربېره د ژوند لپاره مبارزه هم روانه وه. زما لپاره د خوښـــۍ خبره دا وه چې هر ځل کندهار ته راځم، نو په ودانيزه برخه کې نوي پرمختګونه ګورم، داکار مونږ ته د دې پيغام راکوي چې که د دې قوم په چارو کې مداخله و نه شـــي او ســـوله ټينګه شي، نو دا ولس پر ځان دومره باوري دی چې د خپل ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پرمختګ او سوکالۍ لپار اوچت ګامونه اخیستلای شي. ښښنه په دې غواړم چې د وخت د کمښت له امله مې په کندهار کې ډېر خواږه فرهنګي ملګري او قومي مشران، چې باید لیدلي مې وای، ومې نه شــو کړای چې ویې ګورم، لوی اختر و او ښېرته باید کابل ته راغلی وای، هیله ده چې ټول دوســـتان مې له ښښــــنې برخمن کړي، له ټولو هغو دوستانو، په تېره ښاغلي محمود کرزي، جاوېد اغا او نورو څخه ځانګړې مننه کوم چې زما په دې لنډ او تنګ ســـفر کې یې زموږ مېلمه پالنه وکړه او د ګڼو تاریخي ځایونو او علمي مرکزونو د لیدو زمینه یې راته مســـاعده کړه. یو ځل بیا خوښنه، ښښنه او مننه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د فرهنگي انقلاب د یو سرلاري سفر

**دا لیکنه د ۲۰۲۰ م کال د جولای میاشـــتې پر (۳۱) یمه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د زمري میاشـــتې له (۱۰) مې نېټې ســـره ســـمون خوري، نشر شوې ده.**

نږدې یو کال او یوه میاشـــت وړاندې همدا وخت (د ۲۰۱۹ م کـال د جون پر ۲۳مـه) مې پـه علومو اکـاډمۍ کې ور ســـره وکتل.هغه وخت یې هم له خپلې روغتیا څخه شـــکایت کاوه، ما ورته وویل خدای دې راته صـــحتمند لره، درې دمو کې درېیم



منزل ته ساه نیولی پورته شو.زما د کتابونو پر لیدلو ډېر خوشـاله شـو، ویې ویل زه حیران یم چې ته په دې دومره سیاسـي نانډریو او جنجـالونو کې بیـا دې فرهنګي کـار تـه څنګـه اوزګـارېږې؟ مـا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته وویل زه سیاست د فرهنګ لپاره کوم، نه فرهنګ د سیاست لپاره. دی په خندا شـــو، ویې ویل پوه دې کړم. بیا یې راته وویل صـــحت مې ښـــه نه دی، لکه چې خدای مې خپل حضـــور ته غواړي؛ اوس څلور میاشـــتې کم نوي کلن یم، ما ورتـه وویـل، خدای دې مور ته صـــحتمند لره، مور هیله لرو چې ســـلیزه راته پوره کړې او بل زمور هیله ده چې ســـتاســـو ټول اثار راټول او د کلیاتو په بڼه چاپ شي، هغه وویل غرزی( زوی یې) راځي، کار به پرې وکړو. تر هغه وروســـته بیا لایق صـــیب په شـــش درک کې د یوه شـــدید انتحار او انفجار له امله ژور ټپونه واخیســـتل، یو کال دې ژورو ټپونو وځوراوه او نن یې نو د تل لپاره له هغه وطن او ولس څخـه د ابـد لپـاره خـدای پـامـاني واخیســـتـه، چې ده



ورته اویا کاله ترانې ویلې وې، لایق نور نه چونغر ته ترانې وایي، نه د پښتنو کوچیانو د سرګردانه ژوند سپېرو کېږدیو ته، نه به ملا سـره په جنګ وي، نه له ارتجاع سـره، نه به ویده دهقان راویښ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي او نه ویده روښـنفکر، هعه اویا کاله د دې وطن غرو رغو ته سـوې لوې ترانې وویلې، سـترې نه شـو، نهیلی نه شـو، خو تېر یو کال کې داسې وځورول شو، چې د وطن هر بوټی او هر انسان به یې سـترګو ته ودرېدلی وي، همغه وطن او همغه افغان چې ده ورته سندرې ویلې وې، خو هېچا یې د دردونو په تسکین کې مرسته و نه کړای شوه،ځومره به نهیلی شوی وي، ځومره به ماییجن شـوی وي، مورِ وبښـه ای د زمانې د ادب سـرداره او سـالاره، دلته د دې وطن د هر یو بلبل او خدمتګار وروسـتی برخلیک همداسـې دی، لکه د تا چې و، په درد دې مبارزه پیل کړه او په درد دې پای ته ورسـوله، مورِ هم په نوبت درپسـې یو، ګوره د جنت یوه باغچه راخپله کړه، هلته به بیا د دې وطن لپاره ترانې وایو د چونغر ترانې او دسپینغر ترانې....

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دا پر ژبه او قوم تجارت څه مانا؟؟

**دا ليکنه د ۲۰۲۰ م کال د اګست مياشتې پر (۲) يمه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د وږي مياشتې له (۱۲) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

زريزې او پېړۍ کېږي چې د پښتو ژبې پر وړاندې توطيې رواني دي. سوونه کلونه وړاندې کله چې سلطان بهلول لودي په هند کې واکمن شو، نو د جمعې لمانځه ته لاړ، (ملاکادن) تر لمانځه وړاندې په خپلو وعظيه خبرو کې وويل : (( نمی فهم قوم به قدرت رسيده است که از ذات دجال است يا چی که مادر را مور ګويند، خواهر را خور ګويند، بيادر را ورور ګويند و ديګر را نور ګويند...)) پر دې وخت سلطان بهلول لودي ور غږ کړ : ((ملا صاحب احتياط کو که ما هم بندګان خدا يم)).

څو پېړۍ بيا پر دې شوخند ووهل شو چې د اسلام له نظره پښتو د دوزخ ژبه ده!؟

حمزه بابا جرات وکړ او دا وهم يې مات کړ:

وايي اغيار چې د دوزخ ژبه ده

زه به جنت ته له پښتو سره ځم

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تېره نيمه پېړۍ کې، نو چې چا هم د پښـــتو د مظلوميت غږ پورته کړی، د نشنلېست او فاشيست په تور توهين شوی او له صحنې څخه ايستل شوی دی، په تېرو شلو دېرشو کلونو کې نو بيا د متعصب ټاپې زور اخيستی، هر پښتون چې د خپل قوم او ژبې د محکوميت نوم اخيستی، پر هغه نو د متعصب تور پورې شوی دی. دا پورته ټاپې اکثره د پښتو ضد نا پښتنو عناصرو له خوا پر پښتوپالو پښتنو ليکوالو لګېدلي دي او يو شمېر مړ غوږو او ځانپلورو پښتنو غوړه مالانو هم ورسره په دې کار کې ملګرتيا کړې ده. په دې تېرو څو کلونو کې بيا يو څو نورې اصطلاحګانې دود شـــوي دي؛ پر ژبـه، قوم او افغـانيـت ،(( تجـارت او دکانداري)). دا نومونې اکثره د هغو ضـــمير پلورو پښـــتنو له خوا کارول کېږي چې له معنوي او مادي فقر ســـره مخ دي. نه خپله کارکوي، نه بل کار ته پرېږدي. څرنګه چې دوی پښت پر پښت وږي پاتې شوي، انکه اوس پر خزانو هم ناست وي، د لوږې او فقر حس يې د خصــلت يوه برخه ګرځېدلې ده. دوی نو هر ملي او فرهنګي کار ته د اقتصـادي ګټې او تجارت په سترګه ګوري، د دوی تر شا بيا د هغو عناصرو انګېزه هم پرته ده چې په شعوري او فکري ډول غوارې پښتو او پښتانه په همدې متواتر مظلوميت او محکوميت کې وساتي. نو هر کله جې کوم شعوري او فکري

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتـــون د خپلې ژبې او قوم د ســـوکالۍ او پرمختګ غږ اوچت کړی، نو د دې یوې ډلې له خوا پرې د تعصب او د بلې کتګورۍ له خوا پرې د قومي سوداګر تور پرې پورې شوی دی .

ای د زمانې بدمرغه تنګنظرو! که چېرې پښـــتو ته خدمت د تجارت او ګټې وسـیله وای، نو دا تجارت به تاسـې بل چاته پرې ایښی وای؟ اول خو به مو خپله پرې سرونه مات کړي وای، ځکه چې په روح او روان کې مو د تجارت انګېزه او غریزه نغښتې ده، چې هر علمي او فرهنګي کار ته د سوداګرۍ په سترګه ګورئ. که خپلې ژبې او قوم ته د غونډو او ســیمینارونو جوړول، د رســنیو فعالول، د ښـــوونځیو او پوهنتونو جوړول، د کتابونو چاپول، د علمي کدرونو روزل او داسې نور ګټور کارونه رښتیا هم تجارت او د ګټې وســـیله وي، نو دا ګټه تاســـې وکړئ! ولې یې بل چا ته پرېږدئ؟ کاشـکې داسـې وخت راشـي چې دا ډول کارونه د ګټې وټې وسـیله شي او ټول دې ډول ګټې ته را ودانګي. زړه کې خو هر ســـړی پر دې پوهېږي چې د کار خلک کارونه کوي، کینه ګر او ناکاره پرزې بیا تورونه پورې کوي. اوس خو خوند دا کوي چې د پښتو او پښتنو له مخالفینو څخه وار او پار دومره خطا دی چې له تورونو لګولو او ځانځورنې پرته یې نور هېڅ له لاســـه نه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپلې پنځه دېرش کلنۍ کاري او فرهنګي تجربې لـه مخې د پښتنو ځوان او خدمتګار نسل ته زېرى ورکوم چې د وهمونو ډېر برجونـه مو نړولي، یو فرهنګي، ملي او فکري انقلاب پر راختو دى، د پښتنو شعوري مخالفین او د هغوى په ټلواله کې شامل بې ضـــمیره پښـــتانه ځان پلوري، ورځچاري او مضـــر احتیاط کاري ټول وارخطا دي، له تعرضـي حالته دفاعي حالت ته راتیت شـوي او نـامعقولـه دفـاع یې هم پـه نړېـدو ده، نو لږې نورې فکري مبارزې ته اړتیا ده، کابل چې به پخوا د پښـتو او پښـتنو ګورسـتان ګڼل کیده، اوس ورو ورو پر یو ستر پښتو ژبي ښار بدلېږي. اکثره پخواني وهمونه مات شــوي او نور هم پســې ماتېږي، نو ځومره چې مخالفینو ټاپې لګولې موږ او تاســـې به خپل کار ته کش ور کوو، ځومره خوند کوي چې ته کار کوې او مخالفین دې له رخې او کینې ځخه ځورېږي او یوازې تورونو لګولو ته ناســـت وي، همداسې دې ناست او ملاست اوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# يو ځل بيا مشورتي لويه جرګه !؟

**دا ليکنه د ۲۰۲۰ م کال د اګست مياشتې پر (۱۰)مه، چې د ۱۳۹۹ل کال د زمري مياشتې له (۲۰) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

جرګه او مشوره هم يو اسلامي اصل دی او هم زموږ ملي دود. جرګه د بحران د حل او د غوټې د خلاصون لپاره جوړېږي. جرګه لويه وي که وړه، معمولاً داسې پرېکړې کوي، چې له



دواړو مخالفو لورو يو څه کموي او هم دواړو لورو ته يو څه ورکوي، نو ځکه خو د جرګې د پرېکړې له امله هېڅوک ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library

بایلونکی نه احساسوي، خو دا حالت هغه وخت رامنځته کېږي چې دواړه لوري جرګې ته واک ورکړي او جرګه خپلې پرېکړې د همدې صلاحیت له امله تعمیل کړي. مشورتي جرګه یا لویه جرګه بیا دا ځانګړنه نه لري، د پرېکړې صلاحیت نه لري او مشوره یې هم د واکمن په مزاج پورې تړلې، چې مني یې او کنه او یا یې کومې برخې عملي کوي. څرنګه چې په افغانستان کې پر ټولو ملي او ان دیني ارزښتونو سیاسي معاملې شوي او ملنډې پرې وهل شوي، نو اوس د جرګو نوبت دی چې دا ارزښت هم پیکه، تکراري او کلیشه یي شي. د کرزي صیب د واکمنۍ پر مهال د سولې لویه جرګه جوړه شوه، نچوړ یې دا شو چې یو جنګسالار د سولې د عالي شورا رییس شي. بیا له امریکا سره د امنیتي تړون لپاره بله لویه جرګه جوړه شوه، کرزي صیب د هغې جرګې نظر او پرېکړې ته هم ارزښت ور نه کړ. بیا ډاکتر صیب غني له طالبانو سره د سولې په باب مشورتي لویه جرګه جوړه کړه، د هغې وړاندیزونه هم لس سلنه عملي نه شول. اوس دا دی یو ځل بیا په ډېر لږ تغیر هماغه لویه جرګه رابلل کېږي او هغه هم د څلور سوه طالب زندانیانو په باب یوازې د مشورې غوښتلو لپاره، نه دا چې د پرېکړې لپاره، ځکه چې حکومتي چارواکو لا

(c) ketabton.com: The Digital Library

وار دمخه ویلي چې دا جرګه له قانوني پلوه د یادو زندانیانو د خلاصون په باب د پرېکړې صلاحیت نه لري.

د لیکوال دې ژبه ګونګه شـــي چې حقیقت نه وایي او د پاچا دې ورمېږ مات شـــي چې خپل ملت ســره ټګي کوي او هغه ته دروغ وایي. حقیقت خو دا دی چې نـه خپلـه ډاکتر غني او نـه د هغـه د حکومت ټامي برخه جرګې او مشـــورې ســره لېوالتیا لري، نه پر دې دود خبر دي او نه هم د چا مشـــورې ته غوږ ږدي. د ډاکتر غني پـه مشـــرۍ د ملي وحدت پـه حکومت کې غني او عبـدالله دوا ړو تر (۱۰۵۰) زیات مشـــاورین درلودل. ښـــاغلي غني ته قسم ور کړئ چې کوم مشاور سره یې مشوره کړې ده؟ او مشاور ته یې هم سوګند ورکړئ چې کله دې هم جمهور رییس ته مشوره ورکړې ده؟ داسې مشاورین هم شته چې په تېرو شپږو کلونو کې یې یو ځل هم مخامخ جمهور رییس نه دی لیدلی. خپله جمهور رییس ته قسـم ورکړه چې ته خپل ټول مشـاورین پېژنې او کله دې هم له هغوی ســـره په تېرو شـــپږو کلونو کې کوم ډله ییز مجلس کړی دی؟ خو معاشونه حواله کېږي او بیت المال خالي کېږي، په تېرو شپږو کلونو کې نږدې (پنځه سوه ملیونه ډالره) د همدې بې مشـورې لوړ پوړو مشـاورانو جېبونو ته لوېدلي دي، خو مشـوره صـــفر، ان فرهنګي مشـــاورانو یې د خپل محبوب ولســـمشـــر د

(c) ketabton.com: The Digital Library

لسکونو لفظي تیروتنو سمون ته هم لاسرسی او جرائت پیدا نه کړ. نو یو څوک چې له خپل رسمي مشاور څخه مشوره نه اخلي هغه بیا پر دې مظلوم ولس دومره مهربانه شو چې دهغه اصلي او تصنعي استازي را وغواړي او د هغو مشورو ته ارزښت ورکړي؟ دا هسې د وخت او ملي پانګې ضایع کول او د عامه اذهانو مصروف ساتل دي او بس.

پر تېرې مشورتي لويې جرګې په مستقیم او نامستقیم ډول نږدې (پنځوس ملیونه ډالر ٥) لګښت راغلی و، پر دې جرګې ظاهراً (۳۳۰) ملیونه افغانۍ، خو که نور اړوند نا مستقیم لګښت يې محاسبه شي نږدې (لس ملیونه ډالره )لګښت پرې راځي. یانې د هر بندي د خلاصون په باب د مشورې لپاره موږ( ۲۵۰۰۰ډالره = ۱۹۵۰۰۰۰افغانۍ زیان زغمو) او د هر بندي لپاره لږ تر لږه له( ۱۰ ) تنو جرګه مارو څخه مشوره اخلو. دېته وايي پر جرګو مرکو او پر و طن او بیت المال مین چارواکي!!؟ څوک به ورته ووايي چې کله هم د جرګې او مشورې اساسي ضرورت وي هلته ولې پر دې ملت غږ نه کوې؟ کله چې دې پر اساسي قانون معامله کوله هلته د ملت مشوره چېرته وه؟ کله چې دې له ( ای ایس ای) سره د استخباراتي معلوماتو او دګډو همکاریو پټ تفاهم کاوه، دا ملت ولې و نه پوښتل شو؟ کله چې پر ډیورند معامله

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېدله او اغزن تار تېرېده د ملت غږ ولې وا نه ورېدل شو؟ شپږو کلونو کې کابينه تکميل نه شـــوه، پر علت او معلول يې ولې له ملت او د هغه له استازو سره مشوره و نه شوه،؟ د فسـادګرو، لنډغرو او جنګسالارانو د زور زياتي د مهارولو په باب ولې ولس سره يوه ناسته تر سره نه شوه؟ او داسې نورې په سلګونو ولې ولې؟ اوس خو ډاکتر غني غواړي که نه، دا څلور ســـوه طالب بنديان پرې امريکايان په زوره خوشـې کوي، لکه په هغه نورو کې چې يې ورته سـرې، شـنې او نورې کربښـې ماتې کړې. دی اوس غواړي خپله پړه د ملت په نامه پر داســې راټولو شـــويو اســتازو واچوي، چې د هغوی پر اکثريت په خپله د ملت شک دی چې دا لا د چا اسـتازي دي ؟؟ خو بيا هم که دوی يو فکري او ژور نظر وړاندې کړي، ځان به له ملامتی وژغوري. ياني دا چې ښــه به دا وي چې دوی ټول واک خپله ښاغلي غني ته ورکړي چې ته خپله د اســاســي قانون او د ملت د ګټو په رڼا کې فيصــله وکړه. په دې ډول به جرګه له ملامتيا وژغورل شـــي او غير له دې هم جمهور رييس د جرګې هغه خبرې مني چې د ده پر مزاج برابرې وي. د جرګې وړانديزونه هم د حکومت په نظر نهايي او قانوني نه دي او دا به هغه وخت قانوني ګڼل کېږي، چې ولسي جرګه يې د يوې قانوني مصـــوبې په توګه تاييد کړي او د ولســـي جرګې پرېکړه بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه وخت قانوني ده چې مشـــرانو جرګه یې تایید کړي او دا پرېکړه بیا هغه مهال قانوني ده چې جمهور رییس یې لاسلیک او توشـــبح کړي او کله چې بیا په رســـمي جریده کې دا قانون خپور شو، نو بیا د اجرا وړ دی.د سولې د هیت مساله هم دې ته ورته ده؛ هغه هم کوم اجرایي صـــلاحیت نه لري، یوازې پیغام به وړي او راوړي، نور کوم واک نه لري، په دې ډول به د غني د حکومت پنځه کاله پوره شـــي او د حاکمیت په پای کې به بیا چغې پورته کړي چې په هر زمان او مکان کې له کوم قید او شـــرط پرته هر ډول قرباني ته حاضـر یم راشـئ سـوله وکړئ، خو هغه وخت به ډېر نا وخته وي او په دې بهیر کې که دا حکومت د امریکایانو په مرسته همداسې تداوم ومومي، نو ډېرې وینې به توېې شي او ډېر سرونه به تولې شي.

له دې اوږده داســـتانه مې هدف دا و چې که د لومړۍ درجه چارواکو اصـــلي نیت ته دقیق شـــو، نو کیســـه خرابه ده، خو که امریکا رښتیا هم سوله غواړي، نو لومړی دې پر پاکستان اصـلي او تهدیدي فشـار راوړي او بیا دې طالبانو ته سـره کرښـه راکاږي چې سـوله غواړئ که جنګ؟ او بیا دې دلته په حکومت کې خپلو لومړۍ درجه مامورینو ته ووایي چې غلي کېنئ؛ زما پیشـــو ما ته میو؟ نو دوی چې کله دا اخطارونه احســـاس کړي، هر څوک به

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خپل حد و پېژني، عيناً لکه شوروي مشر (گرباچف ) چې کارمل ته وويل وخت دې پای ته رســـېدلی، نو بيا يې پر ځای داکتر نجيب راغی، نو که دا ډول جديت و ښـــودل شـــي د امريکا تر روانو ټاکنو وړاندې به افغانستان له يو نسبي ټيکاو او سولې څخه برخمن شي. له دې پرته به همدا د شيخچلي کيسه روانه وي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تعصب او ځان شرمونې لړۍ

**دا ليکنه د ۲۰۲۰م کال د اګسـتې مياشـتې پر (۲٤) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د وږي مياشـتې له (۳) يمې نېټې سـره سـمون خوري، نشر شوې ده.**

کله چې د يو قوم په مشرانو او چارواکو کې ملي احساس له منځه لاړ شي او له خپل ولس سره يې واټن رامنځته شي، نو بيا د خپل واک د بقا په خاطر هر ډول بې شـرمۍ ته لاس اچوي. يو زيات شـمېر اوسـني پښـتانه چـارواکي د دې خبرې ځرګند مثالونه دي. دوی د دې په خاطر چې څوک پرې د نشـنلېسـت او متعصـب ټاپه و نه لګوي، له داسـې مضـر احتياط څخـه کـار اخلي چې تر ګټې يې ضـرر څو ځلـه زيـات وي. اوس نـو دا


جمهوری اسلامی افغانستان
د افغانستان اسلامي جمهوریت
Islamic Republic of Afghanistan
۱۳۹۷
پیشنهاد
به مقام محترم ریاست جمهوری اسلامی افغانستان!
ملاحظه شد
محمد اشرف غنی
رییس جمهوری اسلامی افغانستان

سـاري مرض دومره عام شـوی چې ان هغو پښـتنو ته يې هم لاره کړې، چې عامو پښتنو هغوی ته يو څه هيلې لرلې. شـميم کټوازې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښوونځی په پښتو لوستی، لسانس یې هم په پښتو کې اخیستی، ماستري یې هم په پښتو کې اخیستې، په ختّه هم سوچه سلېمانخېل دی، جمهور رییس غني هم پخوا سوچه احمدزی و، ان تخلص یې هم احمدزی و، شېرزاد صیب هم سوچه پښتون دی، د یو اکثریت پښتون مېشتي ولایت د والي په توګه ټاکل کېږي، نو په دې منځ کې بیا کومه وېره ده چې دا مفکرین یې د خپلې ژبې پرېښېدو او هېرېدو ته اړ کړي دي؟ که دې ډول هڅو ته څوک د(( ملیتوب)) نوم ورکوي، ځان تېر باسي، دا سوچه لېونتوب او د تعصب یو نوی ډول دی چې خپله د پښتنو چارواکو له خوا پښتو او پښتنو سره کېږي. پرون یې ننګرهار ته دا ډول مکتوب ور ولېږه، نن ارزګان ته او دا لړۍ به همداسې روانه وي،

ایا ښاغلی صالح به ښاغلي بسم الله خان ته او یا هم سرور دانش به د دایکندي والي ته کله هم په پښتو مکتوب ولیکي؟ نو پښتو ضد پښتنو چارواکو! که له ولسه نه شرمېږئ، نو لږ تر لږه خو له خپلو سیالو چارواکو وشرمېږئ !

پښتنو ځوانانو راځئ چې دا وهم مات کړو او دې ډول څرګند تعصب ته نور د پای ټکی کېږدو.

څوک چې د پښتو په نوم ښاغلي دي

هغه د پښتو په مرۍ غلي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# له موضوع څخه تېښته

**دا ليکنه د ۲۰۲۰ م کال د اګسټ مياشتې پر (۲۵) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د وږي مياشتې له (٤) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

په ليکوالۍ کې له موضوع څخه تېښته دې ته وايي چې يو څوک پر يوه موضوع نه پوهېږي، نو دی د هغې موضوع پر ځای دويمه يا درېيمه موضوع تشريح کوي، يا قرينه جوړوي؛ اصلي موضوع له يوې بلې موضوع سره تړي، د هغې پر توضيح او تشريح پيل کوي، غواړي په دې ډول تا ته بې ربطه او بې ضرورته معلومات وړاندې کړي، د وخت د ضايع سبب شي او له اصلي موضوع څخه د خلکو پام بلې خوا ته واړوي.

دا ډول خلک او کرايي ليکوال اوس زموږ په ټولنه کې کم نه دي، هره حقوقي، ټولنيزه او قانوني موضوع به په يوې بلې موضوع

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورې ترړي او په يو نه يو ډول به غوارړي اصـــلي موضـــوع کږه کړي. د ساري په توګه: په ښـار کې به يو سړی په داسې شکل ولاړ وي، چې له اخلاقي پلوه به سـم نه برېښــي، نو چې ته ورته وواېي دلته ودرېدل دې مناسب نه دي، نو د کاږه منطق خاوندان به درته وواېي چې نـه تـه د ده ودرېدل څه کوې؟ ته که دومره تکړه يې لاړ شـه د ښـار سـړکونه جوړ کړه، نرخونه کنټرول کړه، انفجار او انتحار ختم کړه، دا وکړه او دا وکړه. په دې ډول بـه موضوع بلې خوا ته بوځي.
د پښتو ژبې د قانوني حقوقو په باب هم د يو شمېر لامنطقه کرايي ليکوالو نظر همدا ډول دی؛ کله چې ته پر پښـتو ژبې د کېدونکې ظلم خبره مطرح کړې، نو دوی به يو دم دا خبره په نورو خبرو پورې وتړي : او بابا هېواد په څه حالت کې دی؛ دلته انفجار دی، هلته انتحار دی، لوږه ده، قحطي ده، قېمتي ده، د وينو ســېلاب بهېږي، اول د هغو غم وخورئ بيا راځئ د پښـتو ژبې غم ته. په لســکونو نورې ســختې او لانجمنې موضــوعګانې، چې حل يې لندمهال کې ناشــونی برېښــي، هغه به ټولې د پښـتو ژبې په حقه حقوقو پورې وتړي. د دې لپاره چې ځـان ډېر ملي او د ملي وحدت خواخوږی وښـيي، نو پر نورو پښـتو پالو به بيا د ژبې د دکانداری تورونه پورې کړي، تر دې حده دا کلمې تکرار کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې فکر کوې کلو نه کلو نه يې خپله هر ډول دکانداري کړې وي او په هټيوالۍ کې پخه تجربه لري.د دوی منطق دا دی چې که په پښــتو ژبه مکتوب وليکل شــو، هغه هم د ننګرهار او ارزګان په شـان پښـتون مېشـتو ولايتونو ته، نو دنيا ورانه شـوه، ملي وحدت تباه شـو، انفجار او انتحار زيات شـو، قحطي او قېمتي اسـمان ته پورته شوه.

او د لامنطقه دليل لارويانو! دا اوس چې له ارګه را نيولې بيا تر واړه ملازمته پورې يو مکتوب هم په پښـــتو ژبه نه ليکل کېږي اوس ولې له وطن څخه نه چمن جوړ شو او نه ګلشن؟ دې ښاغلو ته بايد دا هم وويل شـي چې هر سـړی پيدا دی خپل خپل کار لره کنه. د ټولو مسايل حل او په هېوادکې د هر اړخيز ثبات او سمون راوســتل د ليکوالو، په تېره بيا د پښـــتو پالو ليکوالو کار نه دی او نه يې په وس پوره دی، دا د دولتي چارواکو او ســـياســـتوالو کار دی. که داکار هم ليکوالو ته محول کړو، نو بيا خو داکار د پښتو ژبې د قانوني حق او پرمختګ مخالفينو او نورو پلمه جوړوونکو کرايي ليکوالو ته هم راجع کېږي، چې تاســـې هم مهرباني وکړئ اول لاړ شـــئ هېوادکې ســـوله، امن او ســـوکالي راولئ او تر هغه وروســـته راځئ بيا پر ژبنيو مســـايلو بحث ته ســـره کېنو. دلته خو پښتو هم د جنګ په شرايطو کې له خپل حقه محرومه ده او هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

امن په حالاتو کې او هر کله چې چا د دې مظلومیت چغه پورته کړه، نو بیا یې د مخنیوي لپاره دوه ســـوه پلمې او نــامعقول توجیهات رامنځته شـــي. هغه هم په خپله د پښـــتنو چارواکو او د هغو د مارواکو اجیرانو له خوا .

نو د هېواد ځوان او شـــعوري نســـله! که غواړې خپله ژبه دې تر دې زیاته محرومه او مظلومه نه شي، د دې ډول حالاتو او د هغو د عاملینو پر وړاندې ټینګه او هوډمنه مبارزه په‌کار ده. تر څو چې ځانساتي، مضراحتیاط‌کاري او پښتو ضد پښتانه او د هغوی د ناقانونه عملونو توجیه‌کوونکي کرایي غوړه مالان د واک پر ګدۍ ناست وي، نو دا حالات به همداسې روان وي او که لږ مو له اخلاقي او ملي جرات څخه‌کار واخیســـت، نو بیا به نه دا ځانساتي چارواکي وي او نه دا ځانساتي غوړه مالان. د ا د هېڅا زامن نه دي دا یوازې د وخت زامن دي او بس.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خبرې اسانه دي او کار سخت دی

**دا لیکنه د ۲۰۲۰ م کال د اګسټ میاشتې پر (۲۶) مه نېټه چې د ۱۳۹۹ ل کال د وږي میاشتې له (۵) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

یو شمېر خلک چې خوله یې پر غیبت عادت شوې، د هغوی اصلاح کول اسانه کار نه دی، خپله کوم خاص فکري تولید نه لري بس د نورو غیبت ته یې کار ویلی وي، نه خپله کار کوي او نه بل څوک کار ته پرېږدي.
کله چې موږ د ژوندون تلویزیون د جوړونې تکل وکړ، هغه وخت یوازې شمشاد تلویزیون پښتو نشرات درلودل، هغه هم له خطرونو او ګواښونو سره مخ و. موږ وویل داسې رسنۍ باید




فعاله شي چې هم د ملتپالو افغانانو پر ذهن د ستمي لندغرو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظار شورا راخور وهم مات کړي، هم ملي هويت وځلوي، هم د جنګسالارۍ او فساد په مقابل کې ودرېږي، هم نوي کدرونه وروزي، هم ملي ورځې ونمانځي، هم د ټولنې ناخوالې منعکس کړي، هم په پښتنو کې اجتماعي جرات پیاوړی کړي، هم پښتو ادب، هنر او د ټولنې نورو برخو ته تر خپله وسه وده ورکړي او هم د ژوندانه په نورو برخو کې تر خپله وسه کار وکړي .ژوندون ټلوېزیون په دې برخه کې خپلې وروستۍ هڅې کړي، د حنګسالاریزم وهم یې مات کړ، د ملي شعور انعکاس ته یې لاره اواره کړه، ملي فکر یې وغوړاوه، د ځوان نسل د جرات په پیاوړتیا کې یې اساسي ونډه واخیسته، ملي او تاریخي ورځې یې ونمانځلې، په ټول کابل کې چا جرات نه کاوه چې څوک ان د خپلواکۍ ورځ ونمانځي، د لومړي ځل لپاره ژوندون دا لړۍ پیل کړه او بیا د هېواد په کچه عامه شوه. ژوندون د لومړي ځل لپاره هغه پروګرامونه او موضوعګانې نشر کړې، چې هېڅ رسنۍ یې د نشر جرات نه کاوه. کله چې د ملي هویت او برېښنايي تذکرو موضوع راغله، نو اکثریت سینه دربي په غارو ننوتل، همدا ژوندون و چې په نره یې د سختې دښمنۍ د قبلولو تر بریده دې مبارزې ته ودانګل او د بریا تر بریده یې دا موضوع پسې تعقیب کړه. طبیعي خبره چې مخالفین هم ارام ناست نه وو، ټول هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

امکانات یې وکارول چې په لاس کې یې وو؛ پر تلویزیون یې برید وکړ، بندیزونه یې پرې ولګول، ډول ډول جریمې یې پرې ولګولې، له حکومتي امکاناتو یې ناوړه ګټه پورته کړه او د تلویزیون د پرمختګ پر وړاندې یې خنډونه جوړ کړل، دوی دا وګڼله چې که دا رسنۍ قوي شي، نو د بریښنایي تذکرو په شان به د ژوند په هر ډګر کې خلک مبارزې ته تشویقوي.

ژوندون د ژوند له دغسې سختو پړاوونو تېر شوی او تېرېږي ژوندون سره چې هر افغان څومره مرسته کړې هغه موږ پر خپل وخت یاده کړې او مرستندویانو ته مو د هغو د لګښت څرنګوالی په ګوته کړی، خو ځینې خلک چې له پیسو سره یې ډېره سودا وي هغه تر هر څه وړاندې له همدې موضوع سره لېوالتیا ښیي. د دې پر ځای چې مرستدویان اعتراض وکړي، دې نورو ته وسوسه پیدا شي. وایي مړي فکر کوي چې دا ژوندي به تل حلوا خوري. زه د خدای په فضل ښه او منظم ژوند لرم، د شخصي ژوند له پلوه چاته محتاج نه یم. زه او مېرمن مې ښه معاشونه لرو او د کور پرچارو ښه حاکم یو، د همدې انتظام وجه ده چې موږ ټولنیزو او فرهنګي چارو ته ښه فرصت لرو.، هرکله چې مو پر چا د مرستې غږ کړی هغه یوازې او یوازې د ټولنیزو او فرهنګي کارونو لپاره دي، چې په حقیقت کې یو ګډ ملي مسولیت دی. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تلوېزیون تر څنګ موږ په تېرو څو کلونو کې د بېلابېلو لیکوالو نږدې دوه سوه عنوانه کتابونه هم چاپ کړي او په سوونو لویې غونډې مو هم جوړې کړې دي. زموږ له خوا د چاپ شویو کتابونو او فرهنګي غونډو شمېر په ورته برخه کې د اشرف غني د حکومت د اطلاعاتو کلتور وزارت تر کړي کاره څو ځله زیات دی.

اوس راځم دې خبرې ته چې زه کوم حکومت یم؟ زه کوم وزارت یم او یا کوم بل داسې ارګان چې د ځینو خلکو له خوا داسې یو انتخابي مقام ته رسېدلی یم چې بیا د هغو هرې غوښتنې ته باید زه د ځواب متضمن وم. زه یو عادي معلم یم او ماغوندې پنځه سوه زره نور ښوونکي په دې وطن کې ژوند کوي، عصمت قانع صیب او د نورو لیکوالو مرتبه خو ډېره لوړه ده، زما خو دومره وس و، دغه کارونه مې وکړل، اوس چې دا کارونه دوی نیمګړي ګڼي، دوی دې تر دې ښه تر سره کړي.قانع صیب او نور لیکوال دې په انفرادي او یا چا سره په ګډه یا یوه رسنۍ فعاله کړي، یا یو فرهنګي مرکز او یا دې هم یو پوهنتون جوړ کړي. که چېرې دا کارونه د ګټې وسیله وي، نو ګټه به وکړي او که د تاوان تصور په کې و، نو دې منتقدینو خو هر وخت د تاوان زغملو تېر وهلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی، تاوان به وکړي څه پرواکوي؟ .ژوندون، شمشاد، کابل نیوز او نور مو خوښ نه وي، تر دې ښایسته او قوي رسنۍ جوړې کړئ.دا خو څه کوم حکومتي ریاست او وزارت نه دی چې ما ونیو او بل څوک پر دې پوست نه شي مقررېدلی. ټولو ته لاره خلاصه ده چې هر څه وکړي. هو که بل کار نه شي کولای هر څوک چې غواړي ماته دې یو لیکلی سند راکړي چې همدا رسنۍ تر دې ښه کولای شي دا هم ور پرېږدم، خو یو څوک چې نه خپله کارکولای شي او نه بل کار ته پرېږدي او بیا انتقادونه کوي چې ترکي سریالونه داسې دي او هندي داسې او عربي داسې دي. وه وروره ته په دې اوسنۍ زمانه کې په کومه برخه کې له دنیا سره برابر یې چې په دې برخه کې به ورسره برابر شې؟ تلویزیون او تصویري رسنۍ تولیدي مواد خپروي، دا ښاغلي منتقدین دې ونیسي یوازې یو معیاري پروډکشن دې جوړ کړي چې زور یې ورته معلوم شي. په ټولو پښتنو کې یوه ښځینه ممثله نه پیداکېږي خبرې بیا له ترکي سریالونو سره د سیالۍ کوو.!؟

دا دومره اوږد داستان له دې وجې را وغځېده چې ما پر ځینو پښتنو دولتي چارواکو نیوکه کړې وه، چې ولې خپلمنځي پښتو مکاتبه نه کوي، دا خبره نو پر بې ځایه انتقادروږدو ښه نه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لګېدلي، خبره يې بيا ژوندون تلويزيون او زما کورني ژوند پورې رسولې وه. دا چې ژوندون ښه روان دی که ښه نه؟ دا په دې څه اړه لري چې دفتر کې دې پښـــتو ژبې ته خپل حق ور نه کړای شي؟ما خو ويلي چې ځينې کسان قرينه جوړوي؟ يوه موضوع له بلې بې ربطې موضـــوع ســـره تړي؛ د خپل ذهد ننداره وړاندې کوي او غواړي اصلي موضوع له ابهام سره سره مخ کړي. اوس په پښـــتو ژبه مکاتبه دې نورو خبرو پورې څه اړه لري زه په اول منزل کې اوسېږم او دی په دويم پوړ کې؟

په دې پای کې د پښـــتو ژبې او ادب خدمتګارانو ته يو وړانديز او خبرلوڅو او نورو غيبـت کوونکو تـه يوه ننګونـه لرم : يو څو مصلح پښتانه او ملتپال افغان ليکوال دې يوه داسې طرحه وليکي چې په هغې کې تر سـلو زيات داسـې ګټور کارونه په نښـه شـوي وي، چې هغه پښـتو، پښـتنو او افغانسـتان ته ډېر ضـروري وي.د دې کارونو د انحام لپاره دې شل داسې ليکوال چې ټول عمر يې نيوکې کړې وي او هغه يې هم له بې ځايه نيوکې پرته بل کار نه وي کړی او هم دې په دې شـــمېر کې خدمتګار ليکوال شـــامل کړي، زه به هم په کې يم، له حکومتي امکاناتو پرته به کار پيل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړو. بیا به وګورو چې څوک کارکولای شــــي او څوک دوړې بادوي او د بل پر کار باندې یې نیوکو ته کار ویلی دی؟

**د عـمل د خـاوندانـو په حضور کې**

**د وینا خاوند ولاړ لاس په سلام دی.**

**( استاد الفت)**

کار په خپله ســخت کار دی، لکښــت غواړي او زحمت غواړي، خبرې ډېرې اسانه دي، نه لګښت غواړي نه زحمت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# که سوله و نه شي څه به وشي؟

**دا ليکنه د ۲۰۲۰ م کال د اگست مياشتې پر (۲۶) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د وږي مياشتې له (۵) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

د امريکا د جمهوري رياست ټاکنو ته نږدې دوه مياشتې زماني واټن پاتې دی. ياده موده کې جمهورييس ټرمپ په افغانستان کې د سولې له موضوع او د خپلو عسکرو له خوندي وتلو سره خاصه لېوالتيا لري، چې هلته خپلو خلکو ته د سولې يو څرګند تصوير او د خپلو عسکرو د مسولانه وتلو يوه لاسته راوړنه



وړاندې او په دې ډول په ټاکنو کې خپلې بريا ته لاره اواره کړي.

اوس نو اسلامي جمهوريت او اسلامي امارت دوو مخالفو

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړښــــتونو ته په کار دي چې په همدې موده کې داســــې یو جوړجاړي ته سره ورسېږي چې هم د دوی عزت او غوښتنې په کې تر یوه بریده خوندي شـي او هم دا ډول جوړجاړی له نړیوال تضـــمین او د اقتصــادي مرســتو له ملاتړ څخه برخمن شــي. په امریکا کې تر ټاکنو وروســــته د ټرمپ د بریالیتوب او ناکامۍ په دواړو حالاتو کې د هغه او هم د هغه د مخالفینو د لېوالتیا کچه تر اوســــني حالته څو ځله راټيټېږي او ان د بې تفاوتۍ کچې ته ځي. که امریکـایان دلته د هر عـامل له وجې د داخلي ســـولې او د



یو پراخبنسـټه حکومت تر جوړېدو وړاندې ووځي، نو افغانسـتان به یو ځل بیا د نوییمو کلونو جګړو ته ســـتون شـــي. امریکا به د پخواني شـوروي دریځ خپل کړي، ډاکټر غني احمدزی به د ډاکټر نجیب احمدزي پر برخلیک اخته شــي، طالبان به به تر ډېره حده د اسـلامي حزب په رول کې واقع شـي، پر حکومت به یو ځل بیا د اسـلامي جمعیت او د هغو د موتلیفو ډلو له خوا کودتاه وشــي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

امرالله صالح به د عبدالحمید محتاط او فرید مزدک رول ترسره کړي. اسداله خالد به د جنرال رفیع او پکتین په رول کې واقع شي او هېواد به یو ځل بیا کورنیو او نیابتي جګړو ته راکاږل شي، د ګاونډیانو په تېره بیا د ایران، پاکستان، روسیې او نورو لرې او نږدې هېوادونو نیابتي جنګیالي به یو ځل بیا سره پر جګړو اخته شي. په دې ډول به په تېرو شلو کلونو کې چې کومې پرمختیاوې رامنځته شوي، هغه به یو ځل بیا له خاورو سره برابرې شي او خلک به بیا هم ان د اوسني نیمګړي حکومت په ارمان شي.د اوسنی وضعې دوام چې هره ورځ موږ څخه د سوونو ځوانانو قرباني اخلي، هم د زغم وړ نه دی او د حکومت انقلابي سقوط بیا بله غمیزه ده چې موږ یو ځل مخکې هم تجربه کړې ده او دا ځل یې بیا جوړونه د اوسنیو سیاستوالوافغانانو په وس هم پوره نه بسکاري.نو ټولو تېرو ترخو تجربو ته په کتو سره هر لوري ته په کار دي چې خپلې غوښتنې ټیټې او یا لږ تر لږه منځني حد ته را ټیټې کړي. د سولې بهیر داسې نه وي چې د یو لوري ټولې غوښتنې دې ومنل شي، یو څه به له لاسه ورکوې او یو څه به ترلاسه کوې. هیله ده چې مختلف او مخالف افغاني لوري د سولې او جرګې مرکې دغه عیني واقعیت او اصل په پام کې ونیسي، سوله وکړي او تر دې زیات د ملت د ځورونې او کړونې سبب نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# له ولسه لرې ولسمشر

**دا لیکنه د ۲۰۲۰ م کال د سپتمبر میاشتې پر (۱) چې د ۱۳۹۹ ل کال د وږي میاشتې له (۱۱) نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

هغه څوک چې څلوېښت کاله له خپل ولسه لرې پاتې شوی وي او بیا د یو تصادف، چانس او د ولس د ناچارۍ له وجې دولتمشر شي او د ولسمشر خطاب ورته وشي، هغه نو بیا په ځان کې ورک شي، ترې راتول غوره مالان یې نو اسمان ته




داسې پورته کړي، چې لاندې ولس ورته هډو د ادم زامن نه ښکاري. ځان ورته جامع اکمالات معلوم شي او هر ډول ګلشالي

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې چې له خولې و دوړول، نو فکر کوي چې همدا د کانې کرښې دي .

د يو سياسي مشر لپاره له خپلې ټولنې سره کلتوري تفاوتونه، نه يوازې دا چې ده ته ډېر مضر دي، بلکې ټولنې ته هم ډېر خطرناک تماميږي دولتمشر غني هم له خپلې ټولنې سره نه يوازې دا چې واضح کلتوري تفاوتونه لري، بلکې کله کله يې عملونه هم ان د ټولنې له دوديزو واقعيتونو سره په تضادکې واقع شوي دي. په تېرو ټاکنوکې د ښخو د عکس جبري کول يې له ټولنې سره د کلتوري تضاد يو څرګند مثال و، چې تر ټولو زيات زيان يې خپله همده ته واوښت. هغه وخت هم يو شمېر




غوړه مالانو او د ده شعوري مخالفانو، دی دې عمل ته وهڅاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او اوس دا دی په تذکره کې د مور نوم د لیکلو له لارې غواړي غني او زمونږ مذهبي او دودیز پال ولس لـه یوې بلې کلتوري ستونزې سره مخ کړي.

یو سـړی چې لنډۍ ته متل وایي، متل ته لنډۍ، عادي شـعر له مخې نه شي لوستلای، نظم په نثر او نثر په مسجع نثر اړوي، د ټوکې زمان او مکان نه پېژني، د خپل اواز تون نه شي کنټرولولای، د عاشـورا او ماتم په ورځو کې هم خلکو څخه د چکچکو هیله کوي، پـه کمپاینـي غونـډو کې حیوانات پر ونو خبرو وي، د خپلې ژبې او لاسـونو د کنټرول او مهارولو واک وځواک نه لري او په سلګونو نور ناکنټروله رواني مشکلات لري، اسلامي بحثونه یې خو یې پر ځای پرېږده، نو په داسې یو حالت کې بیا د ملک نورو چارواکو ته په کار دي، چې د ټولواک د عمل او وینا د مهارولو تار په لاس کې ولري چې حالات تر دې نور هم خراب نه کړي.
اوس نو چې جمهور رییس غني هره خبره وکړي غوړه مالان هغو ته د تاییـدي مرغلرو اب ورکړي او هغه نور هم وهڅېږي چې ورځه پرې خبرې دې تر شاتو هم خوږې دي!؟

د غني لفظي او محتوایي تېروتنې ډېرې دي، خو اوس راځم دې یوې نوې کړۍ ته چې هغه هم د ښـځو او نرښـځو د حقوقو مدیانو له خوا مطرح شـوې ده، دوی یو ځل بیا همدې غني او

(c) ketabton.com: The Digital Library

عام ولس ته داسې دام ایښی دی؛ چې زیان یې هم غني او ولس ته متوجه دی .؛ په تذکرو کې د مور نوم لیکنه .

۱–د نړۍ په اکثرو اسلامي او نااسلامي هېوادونو کې دا خبره دود نه ده چې حتمي دې په تذکرو کې د مور نوم ولیکل شي.

۲–په افغانستان کې به دا کار د دې سبب شي چې یو شمېر نالوستي او کملوستي خلک د تذکرې له اخیستلو ډډه وکړي.

۳–د تذکرې د نه اخیستلو په حالت کې به هغه ډلې او سیاسیون ډېره ګټه وکړي چې د اکثریت افغانانو له مذهبي او دودیز جوړښت څخه ناوړه ګټه پورته کوي.

٤ –دا موضوع یه په ولسي او مشرانو جرګه کې د برېښنایي تذکرو پر سر، تېر حل شوي جنجالي بحثونه یو ځل بیا را تازه کړي.

٥ –د افغانستان کورنیو او بهرنیو دښمنانو ته به یو ځل بیا چانس برابر کړي چې د (مور )ستون د زیاتولو په حالت کې د (ملت) ستون حذف هم مطرح کړي.

٦ –د مور سپېڅلی نوم چې په نړۍ کې هېڅ بدیل او انډول نه لري، دا به هم پر یو متازع بحث بدل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷ –په پاسپورټ کې چې د پلار نوم ضرور و، پاسپورټ بې پلاره شو، خو دلته چې کومه مشخصه اړتیا نه محسوسېږي، دلته بیا د مور نوم پر لیکلو ناضروي ټینګار کېږي.

۸ –اوس به نو په تذکره کې هر څوک د تظاهر لپاره د خپلې مور تر نوم وړاندې ضـرور د ( بي بي ) مختاړی او پیوند هم زیاتوي؛ ټولې تذکرې به له بیبیانو ډکې شـي، خو د غني په شـمول به هېڅ کاذب سـیاسـتوال د کومې بي بي مور اوښـکې وچې نه کړي او هغې ته به دا زېری ور نه کړي چې نور سـتا کلاب ګلاب زامن په جنګ کې نه مري .

۹ –اوس نو نور په افغانسـتان کې ټول مشـکلات حل شـول، یوازې د میندو همدا مشـکل پاتې و چې په تذکره کې دې د نړۍ د اکثرو هېوادونو د عرف خلاف د دوی نوم ولیکل شي.

۱۰ –هغو خلکو چې تر اوســه د مور نوم له لیکلو پرته تذکرې اخیســتي، هغوی به خپلې تذکرې بېرته بدلوي؟ د دې احتمالي بدلون او په ډیټا بېس کې تغیر راوستل به څومره وخت او لګښت غواړي؟

۱۱ –افغانسـتان کې یو مشـکل دا دی چې څوک د مور دعزت جوګـه نـه وي هغـه بـه د مور د حقوقو دعوه کوي، طلاقې بـه د کورني ژوند د بنســه والي چغې وهي، دکتاتوران به د جمهوریت

(c) ketabton.com: The Digital Library

شــعار پورته کوي، زورواکي به د ولســـواکۍ نارې وهي، هر څه سرچپه روان دي.

ما باندې مې خپله مور ګرانه ده، زه د خپلې مور نوم د زړه په پاڼو کې لیکم، که څوک یې په تذکره کې هم په خپله خوښــــه لیکي مخالفت یې نه کوم، خو جبري کول یې خپله جبر ته لاره برابرول دي. زه د خپل وطن پر کلتور هم ښه پوهېږم. زه دا د ښځې حق ګڼم چې له نارینه سره مساوي حقوق ولري، خو بېوخته اذانونه کول د چرګ پر مرګ تمامېږي او تر ګټې یې زیان زیات وي، نوره دې خوښه مفکره او عقل کله!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انسان د تعمیم، تعمیر او تغیر وړ دی

**دا لیکنه د ۲۰۲۰ م کال د سـپتمبر میاشـتې پر (۳) یمه،چې د ۱۳۹۹ ل کال د وږي میاشـتې له (۱۳) مې نېټې سـره سـمون خوري، نشر شوې ده.**

د طالبانو نظام نوی ړنګ شـوی و، زه په ختیزو ولایتونو کې د بیړنۍ لویې جرګې د ټاکنو لپاره د دارالانشا مسـول وم، جمعیت تنظیم هغه مهال په ډېر زور کې و، هلته یې په ټاکنیزو چارو کې سـخته مداخله کوله او ما دې مداخلې ته اجازه نه ورکوله، سـید احمد سـاپي صـیب له یاد تنظیم سـره ټینګه رابطه او خواخوږي درلودله، زما او د دوی تر منځ سـخته خوابدي رامنځته شـوه، خبره وه تېره شـوه، یو وخت بیا سـاپی صـیب له جمعیته هم خوابدی شـوی و، یو ځل چېرته سـره مخامخ شـو، ښښـنه یې وغوښـته، راته یې وویل چې ما د جمعیت لپاره کار کاوه او تا د ټول افغانستان لپاره، نو ځکه زه درڅخه ښښنه غواړم. سره له دې چې هغه مهال له ده سـره په چلند کې موږ هم له یو څه تېزۍ کار اخیسـتی و، خو دی په ښښـنه کې تر ما دمخه شـو، یو وخت بیا په زابل کې ښاروال شو، دوه ځله ژوندون تلوېزیون ته راغی، د زړه خواله یې راسـره وکړل، په فکر، نظر او ټولنیز چلند کې یې بشـپړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تغیر راغلی و؛ یو ملي کرکټر ورڅخه جوړ شوی و، هغه وخت ما ته د سقراط دا خبره رایاده شوه چې: ((انسان د تعمیم او تغیر وړ




دی باید و نه وژل شـي.)) هدف دا دی چې د یو چا د سـیاسـي نظریاتو او افکارو له امله باید هغه له فزیکي امحا سـره مخ نه شي. زموږ ټولنه بدمرغه ده؛ دلته اکثره هغه کسان چې له ټولنیزو او سیاسـي کړلیچونو څخه تېر شي، فکري بلوغ ته ورسـي او د ټولنې د خدمت جوګه شـي، نو بیا ورته مرګ مخامخ په لاره کې ولاړ وي. همدا شېبه خبر شوم چې خوږ ورور سید احمد ساپی هم نور د ابد لپاره له موږه جلا شو، لاره یې روښانه او ځای یې جنتونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نظام او سوله لومړیتوب دی

**دا لیکنه د ۲۰۲۰ م کال د سپتمبر میاشتې پر (۷) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د وږي میاشتې له (۱۷) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

اوس چې په دوحه کې د طالبانو او حکومت تر منځ خبرو ته تیاری روان دی، نو د جمهوریت تر چتر لاندې د ځانخوښو لومړۍ درجه واکمنو له خوا ( اوربند) د اساسي شرط په توګه مطرح کېږي او دا خپله سره کړښه ګڼي، خو دا نه وایي چې د اوربند په مقابل کې څه شی له لاسه ورکوي؟ او د څه شي معوضې ته تیار دي؟



له بلې خوا بیا طالبانو تر دې دمه کوم څرګند شرط نه دی وړاندې کړی، خو داسې اوازې دي چې کېدی شي هغوی د اوربند په مقابل کې د موقت،

(c) ketabton.com: The Digital Library

سـرپرسـت او یا هم انتقالي حکومت شـرط وړاندې کړي!؟ که شـرطونه یوازې همدا وي او تر شا یې بله اجندا او محتوا نه وي، نو دا خو دواړه دومره سـخت شـرطونه نه دي؛ ناپیېلي جرګه مار کولای شي د دواړو لورو دا شرطونه ومني او عملي یې کړي، خو پر یو بل شـرط چې د غني، صـالح او دانش په مشـرۍ اوسـني حکومت ته ووایي چې ستاسې له خوا د اوربند شـرط ومنل شـو، تاسـې یې باید په مقابل لـه حکومت څخه مسـتعفي شـئ، ځکه چې دې کار سـره اوربند ټینګېږي او سوله رامنځته کېږي، که ستاسې هدف د خپل قدرت دوام نه وي، نو اساسي شـرط مو ومنل شـو. که دوی وایي چې موږ په هېڅ ډول موقت، سرپرست او انتقالي حکومت نه غواړو، نو دې ښاغلو ته باید وویل شي چې غني خو د بن له کنفرانسه را نیولې بیا تر دې دمه په پرله پسـې ډول په مسـتقیم او نامسـقیم ډول د موقت، انتقالي او سـرپرسـت حکومت برخه وال و، ان د ده خپل حکومت چې له عبدالله سـره یې جوړ کړ، د دوو کلونو لپاره و او موقته بڼه یې لرله. بیا جرګه جوړېدله چې جوړه نه شوه او بیا هغه ګډ حکومت پنځو کلو ته وغځېد. دا اوسـنی حکومت

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې هم چې د مصالحې په نامه جوړ شوی، مشارکتي بڼه لري. دا اوس هم له څو کلونو راهيسې حکومت سرپرست نه دی؟ ايا غني په شپږو کلونو کې د داسې منتخبې او بشپړې کابينې بېلګه وړاندې کولای شي چې هغې دې له قانون او معياد سره سمه له ولسي جرګې څخه د باور رايې اخيستې وي؟ نو يو سړي چې د خپل واک اکثره موده په موقت، انتقالي او نا انتخابي ډول تېره کړې وي، پر ضمير، وينا او عمل، ټولو يې پوره پوره شک کېدلای شي. هغه نو بيا څنګه د موقت حکومت له اصطلاح څخه د نورو پر ضد تېره توره جوړه کړې وي؟ بله پوښتنه دا ده چې که طالبان له کوم قيد او شرط پرته اوربند وکړي، نو دا مانا ورکوي چې غني به له ډز او ډوز پرته خپل واک ته دوام ورکوي.، نو طالب ته په کې څه پاتې شول؟ او غني او صالح په کې څه شی له لاسه ورکړل؟ په داسې حال کې چې د غني مرستيال طالبانو ته بار بار همدا وايي چې که طالبان اوربند وکړي نو همغه مهال ختمېږي.

درېيمګړی کولای شي چې طالبانو ته هم ورته دليل وړاندې کړي، چې ورورجانه، طالبجانه اوربند به منې، خو د موقت حکومت شرط به په دې مانا نه وي چې ملت له دغه مړژواندي حکومته هم بې برخې کړې او دلته د شلو کلونو په بهير کې جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شـــوي حکومتي، پوځي، مدني او ملي بنســـټونه رنګ کړې، د اویایمو کلونو پېښــې تکرار او هېواد یو ځل بیا د ایران، پاکســتان او عربو او عجمو د نیابتي جګړو ډګر کړې! نو طالبجانه ته به اوربند منې او په ملي او نړیواله کچه به دا تضـــمین ورکوې چې دلته که تر اوربند وروسته موقت،سرپرست او یا ناپېیلې حکومت رامنځه کېږي، بیا به پرې څوک ډز نه شي کولای .

ناپېیلی، توافقي یا انتقالي حکومت که د هر څومره مودې لپاره وي باید په بې طرفۍ ســره خپلې چارې ســنبال کړي، د اوســني حکومت له خوا ټول قانوني کارونه او پرمختیایي پروژې پســـې تعقیب کړي، د اساسي قانون د تعدیل طرحه تیاره کړي، د نظام د ډول په باب له ټول ولس څخه نظر پوښـــتنه وکړي، که خلکو امارت غوښـــته د امیر د ټاکلو لارې چارې دې عملي کړي او که خلکو جمهوریت غوښـــته، نو د عادلانه ټاکنو لپاره دې ترتیبات ونیســـي. ناپېیلی حکومت دې ملت او ټولو مطرحو خواوو ته دا لیکلې ژمنه هم ورکړي، چې غړي یې د راتلونکې منتخب او یا نیمه منتخب حکومت هېڅ انتخابي او ناانتخابي څوکیو ته د نوماندۍ حق نه لري، نو په دې ډول به د واک د ســـالم انتخابي انتقال لپاره لاره اواره شـــي. د نظام فزیکي اډانه به هم خوندي شي او سوله به هم ټینګه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې خبرې واضـــح کول هم په کار دي چې جمهوریت څه د غني، امرالله او دانش د پلار میراث نه دی چې دوی یې تر شـــا ځان پټ کړي، غني خپله یو ځانخوښی او متکبر شخص دی چې اکثره تولنیز اخلاق یې د جمهوریـت خلاف دي او دواړه مرستیالان یې د دوو داسې جګړه مارو تنظیمونو غړي دي چې د لنډغرۍ له کلتور پرته نور هېڅ نه لري، دلته جمهوریت هم خپل طبیعي پلویان او هم خپل وارثین لري چې تر غني او نورو کاذبینو په ســوونو ځله جمهوریت ته ډېر ژمن دي. په دې بله خواکې بیا طالب هم یوازې د اســـلامي نظام او امارت وارث نه دی، خدای پاک دا ملت په طبیعي ډول مســـلمان پیداکړی دی، که طالب نه و هم دا ملت ملســـمان و او که طالب وي هم د دې ملت په اســـلامیت کې کوم کمی او زیاتی نه راځي، دا ملت نه هغه ډول تریخ امـارت غواړي چې طـالبـان یې تمثیلوي او نـه هغـه ډول شرمېدلی جمهوریت غواړي چې غني، صالح او نور مفکرات یې ډنډوره غږوي، نو د خدای په خاطر نور دا ملت د امارت او جمهوریت په لمبو کې مه ســـوزوئ، ملت ته حق ورکړئ چې امارت غواړي که جمهوریت او یا هم ژوند او انسانیت؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مخالفت به هم کوو او ورورې به هم کوو

**دا لیکنه د ۲۰۲۰ م کال د سپتمبر میاشتې پر (۹) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د وږي میاشتې له (۱۹) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

ښاغلي امرالله صالح سره مې د نظر او فکر اختلاف درلود او لا يې هم لرم، خو دا د افغانیت او نارینتوب اصل نه دی چې پر هغه دې د مرمیو باران وي او زه دې خوښي څرګندوم، کړم، موږ



به اختلافات هم کوو، خو د یو بل پر درد به هم دردېږو، موږ که اختلافات لرو، نو داسې ډېر مشترکات هم لرو چې تر اختلافاتو څو ځله خواره او ځواکمن دي؛ د پاکستان د پښو او ښکاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

توطیو، د ډیورند د تحمیلي کرښې او د پنجابي ښکېلاک له لوري زموږ د نیول شــوې خاورې په باب د ښــاغلي صــالح څرګند او غوځ ملي دریځ هغه ستر مشترک ټکي دي چې هېڅ اختلاف یې انډول نه شــي ګنډل کېدی. البته که کله یې دا نظر بدل شــو زموږ ارزونه به هم بدلېږي. دا دویم ځل دی چې پر ده مرګوني بریدونه کېږي، هر څومره چې د دې بریدونو پلټنه وشـي ریښــه یې بهر ته رســـي او زیان یې افغان ولس ته. زه دا نه وایم چې د امرالله خان صالح له لاس او خولې به د تنظیمي جګړو او د خپل حاکمیت پر مهال څوک نه وي ازار شوي، دا به ضرور شوي وي، خو د دې په مقابل کې مې پرې مرګ هېڅکله نه لورېږي، صـــالح بـاید ژوندی وي چې بیا داسې یو وخت راشـي چې موږ له ده څخه د خپل ځورول شــوي ولس په باب ګیله هم وکړو او د جبران لپاره یې ترې د معوضې غوښتنه هم وکړو، صالح باید ژوندی وي چې زموږ نوي نســـل ته له یو جګړه ییز تنظیمي بهیر څخه یو مدني، سـیاسـي او فرهنګي بهیر ته د اوښـتون تجربه بیان کړي، صــالح باید ژوندی وي چې د جګړې او سـولې د نسـل داسـتان څرګند کړي، صــالح باید ژوندی وي چې د حاکمیت پر مهال د منطق په دایره کې خپل مخالف وزغمي، صـــالح باید ژوندی وي چې په ګډه تنظیمي لنډغرو او ملایي تنګنظرانو ته معقوله اعتدالي لاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیداکړو او صالح باید ژوندی وي چې په ګډه او یووالي سره د پنجاب د ستراتېژیک عمق د توطییو مخه ونیسو. زه چې کله (صالح )او نورو (صالحانو )ته د روغتیا او ژوندانه هیله لرم، ورته هیله د هغه مخالفینو (طالبانو ) ته هم لرم، دا دعا هم کوم چې نه دې نور د هغوی له لوري په انتحار او انفجار کې کوم افغان وژل کېږي او نه دې له دې خوا په بمبار کې کوم هېوادوال له منځه وړل کېږي؛ نه دې انتحار او انفجار وي او نه دې چاودنې او بمبار. خدای(ج) دې داسې وخت راولي چې (غني )او (برادر )سره یو ځای شي، د مېز یوې خواته (متقي) ولاړ وي بلې خوا ته (صالح )، نو بیا به رښتیا هم یو (عبدالغني برادر) رامنځته کړي، نو چې په نظام کې هم (صالح) وي هم (تقوا)، هم په کې (اشرف ) وي، هم په کې (غني ) او هم په کې (برادري )، نو مور ولس نور څه غواړو؟حکومت دې همدوی ته مبارک وي او مور ته دې سوله او امن را ډالۍ کړي. د همدې ورځې په ارمان.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# که مو په اوړو کې شګه نه وي!؟

**دا لیکنه د ۲۰۲۰ م کال د سپتمبر میاشتې پر (۱۱) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د وږي میاشتې له (۲۱) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

دروغ ویلی شئ، رشوت اخیستلی شئ، فسادکولی شئ، دوړې ویشتلی شئ، خلک تېر ایستلی شئ، پل الوزولی شئ، ښوونځی سوزولی شئ، انتحارکولی شئ، انفجارکولی شئ، بمبارکولی شئ، ځان الوزولی شئ، بل الوزولی شئ، په داخل او خارج کې سوداګري کولی شئ، ځان پلورلی شئ، بل خرڅولی شئ، ضمیر پلورلی شئ، بندونه جوړولی شئ، بندونه الوزولی شئ، په هوايي دهلېزو کې ګرځېدلی شئ، ټاکنو کې درغلي کولی شئ، ځان شرمولی شئ، تر ځمکې لاندې د ګناه او عذاب کچه معلومولی شئ، د جنت باغچې او د دوزخ لمبې بیانولی شئ، یو دوه درې ښکاره او نهه لس پټې مېرمنې کولی او پاللی شئ، خپل جېب ډکولی او د بل تشولی شئ، کونډې او رنډې، یتیمان او بېوزلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرولی شئ، څه روا او ناروا نه دي چې تاسې يې نه شئ کولی؟ هر څه کولی شئ، خو يوازې سرېتوب او سوله نه شئ کولای؟ ايا سوله تر دې ټولو نورو کارونو سخت کار دی؟ او زيات لګښت غواړي؟ نه هېڅکله نه، که ستاسو په اوړو کې شګه نه وي، نو ژر دې خونړي جنګ ته د پای ټکی ايښودلی شئ، جګړه تر سولې زرځله سخته ده، نو چې جګړه کولی شئ، سوله هم کولی شئ، خو کله چې خپل ضمير سره مشوره وکړئ! دا ځل د ضمير او ايمان خبره ده، راشئ د دې مظلوم ولس په خاطر خپل ګرېوان ته سر ټيټ کړئ، خپل ضمير سره مشوره وکړئ، د خپل قدرت او کاذب شهرت په خاطر نور جنګ ته دوام مه ورکوئ، خپل منځ کې سوله وکړئ، دا ملت دومره صبور ملت دی چې ستاسو له تېرو جنايتونو به هم در تېر شي او د راتلونکي واک و ځواک لپاره به هم درته مشکل پېښ نه کړي. نو د سولې له دې وروستي فرصته ټول اعظمي ګټه پورته کړئ. کنه نو د ملت سوي اوسېلي به مو يو وخت د نابودی کندې ته ورټېلوهي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تذکره د مور لپاره که مور د تذکرې لپاره؟؟

**دا ليکنه د ۲۰۲۰ م کال د سپتمبر مياشتې پر (۱۸) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د وږي مياشتې له (۲۸) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

په تذکره کې د مور نوم د ليکلو موضوع ډېره وشاربل شوه. اصلاً که دا موضوع حساسه نه وای دومره جنجالي بحثونه نه



رامنځته کېدل. دلته ډېر بحثونه له ناسم پوهاوي څخه رامنځته شوي دي. ځيني خلک چې د تذکرې پر مخ د مور نوم دليکلو اورپکي پلويان دي او د جمهور رئيس هره پرېکړه د تعقل زيږنده

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګڼي، هغوی دا موضـوع داسې تعبیروي چې ګڼې څوک په تذکره کې د مور نوم د لیکلو مخالفت کوي، هغه ګڼې مور او ښـــځینه قشر ته د تذکرو د ورکړې مخالف دي!؟ خبره داسې نه ده؛ دلته له نومونو او اصطلاحاتو څخه ناسمه سیاسي ګټه پورته کېږي. دا ډول مقصدونه او تعبیرونه باید سپین شي. د تذکرې پرمخ د مور نوم لیکل مور ته د درناوي او هغې ته د تذکرې د ورکړې مانا نه ورکوي، بلکې دا مانا ورکوي چې د یو شـخص په خپله تذکره کې دې د هغه د مور نوم ثبت شـــي. له دې کار څخه د ځینو خلکو سـیاسـي موخه دا ده چې په ټولنه کې یو شـمېر کلتوري او مذهبي حساسیتونه شته او یا له دین څخه مختلف تعبیرونه، نو یو شـمېر خلک به په اسانۍ سره د تذکرو اخیستو ته حاضر نه شي او دوی به له دې کار څخه بیا خپله سیاسي ګټه پورته کړي. ښـه خو دا وه چې حکومت پر ټولو خویندو او میندو، په ټوله کې پر ټولو ښـځو او نرو د برېښـنایي تذکرو اخیسـتل جبري کړي وای، نه د بل چا په تذکره کې د مور نوم. یوې مور ته خپله تذکره ډېره ضروري ده که د هغې د لور او زوی په تذکره کې د هغې نوم لیکل؟؟ یوه مور په خپله تذکره ووټ ورکولای شي، پاسپورټ اخیستلای شي او یا نور ضــروري خدماتو ته لاســرســی لرلای شــي که د اولاد په

(c) ketabton.com: The Digital Library

تذکره؟؟ دلته د خاصـــو کړیو هدف دا نه دی چې مور ته دې درناوی وشـــي او یا دې د هویت او تذکرې خاونده شـــي، بلکې هدف یې دا دی چې د مور له مقدس او عاطفي نوم څخه سیاسي ګټه پورته شـــي او د نورو د تذکرو مخه ډب کړي. جمهور رییس غني لا هم په هغه فکري دریځ کې نه دی چې پر حکومت د یو شـمېر واکمنو متعصـبو سـتراتیژیکو کړیو، ملت ضـد پلانونه شـنډ کړي، هغوی ان په دې دریځ کې دي چې خپله د جمهور رییس د احسـاسـاتي چلند په لاس د هغه خپلې پښـې غوڅې کړي. د دې لپاره چې دا بحث نور هم بحران ته لاړ نه شـي، د مور سـپېڅلي مقام ته هم درناوی وشـــي، له هغه څخه ناوړه ســـیاســـي ګټه هم پورته نه شي او د برېښنایي تذکرو د وېش ملي بهیر هم له ځنډ او خنډ سره مخ نه شي، نو دلته دغه څو وړاندیزونه کوو:

۱–لومړی باید د حکومت اوســـنۍ طرحه او د جهمور رییس فرمان قانوني پړاوونه بشپړ کړي : تر هغه مخکې دې په دې برخه کې هېڅ ډول اقدام نه کېږي .

۲ –ملي شـــورا باید د حکومت له خوا له وړاندیز شـــوي تعدیل پرته د تذکرو پر نور تېر بهیر د بحث حق و نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ –که په یو نه یو ډول همدا تعدیل د تطبیق پړاو ته رسـي، نو بیا دې اختیاري شـي، چې هر شـخص په خپله خوښـه په خپله تذکره کې د مور نوم لیکي او کنه؟

٤ –جمهور رییس بـایـد د یو ځانګړي او یا هم د همـدا ډول یو فرمان له لارې پر ټولو افغانانو ( ښـځو او نرو) د برېښـنایي تذکرو اخیستل جبري او حتمي کړي. په دې ډول به هره مور او خور په خپله د تذکرې خاونده شـي، نه دا چې د بل چا په تذکره کې يې د نوملیکنې له لارې سمبولیک او تصنعي درناوی وشي.

٥–د مور او خور، په ټوله کې د ښـځینه قشـر لپاره دې د تذکرو فیس معاف شي، حکومت که رښتیا هم د ښځو د حقوقو رښتینی پلوی وي، نو دا اقتصـــادي بوج دې وزغمي.په دې ډول بـه د میندو او ښـځو د حقوقو د اصـلي او سـیاسـي مدعیانو نیتونه او عملونه ولس ته څرګند شي او د ټولو ناوړه سیاسي غرضونو مخه به هم ونیول شي.

یادښـــت: زه د هغو لومړنیو افغانانو له جملې څخه وم چې خپلې مېرمن، لوڼو او زامنو ته مې په ډېر ویاړ ســـره برېښـــنایي تذکرې واخیستې، مور مې وفات وه، کنه هغې ته مې هم پر همدې وخت تـذکره اخیســـتـه او کـاغـذي تـذکره مې لا ډېر کلونـه پخوا ورتـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخیســـتې وه. نو راځئ ټول پر دې ټینګـار وکړو چې خوینـدو، میندو او لوڼو ته تذکرې واخلو، نه دا چې پر بل چا باندې د مور نوم د لیکلو له امله دومره فشـار راړو چې له تذکرې اخیسـتلو ډه ډه وکړي، هم تذکره لاړه شـي او هم د مور نوم.نور راشـئ چې د تذکرې اخیســتل پر هر افغان ( ښــځه او نر) جبري کړو او د مور نوم لیکـل او نـه لیکـل اختیـاري. همـدا د عـدالـت لاره ده او د سیاسي توطیو مخه هم په دې ډول نیول کېدی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نو ګیله مې ځکه وکړه !؟

**دا لیکنه د ۲۰۲۰ م کال د اکتوبر میاشـــتې پر (۱۷) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د تلې میاشتې له (۲٦) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

معنوي صیب متعصب نه دی، خو زه متعصب یم.

اخلاقي صیب متعصب نه دی، خو زه متعصب یم.

احمد ضـــیا مســـعود، احمدولي مســـعود او صـــلاح الدین رباني متعصبین نه دي، خو زه متعصب یم.

مجیب الرحمن رحیمي متعصب نه دی، خو زه متعصب یم.

فوزیه کوفی او حفیظ منصـــور متعصـــبین نه دي، خو زه متعصـــب یم.

عبدالله عبدالله او امرالله خان صالح د تعصب په کندولي کې نه دي رالوی شوي، خو زه متعصب یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

محقق او خليلي متعصبين نه دي، خو زه بيا متعصب يم.
عليپور او قيصاري متعصبين نه دي، خو زه بيا متعصب يم.
دوستم هېڅکله هم تعصب ته لمن نه ده وهلې، خو زه بيا متعصب يم.
جنرال مالک يو بشرپال! انسان دی، خو زه متعصب يم.
سرور دانش او حکيم شجاعي هېڅ تعصب نه لري، خو زه متعصب يم.
عطامحمد نور او فرهاد عظيمي متعصبين نه دي، خو زه متعصب يم.
د حکومت ټول رګونه همدې ډول تعصب او تعصبګرو نيولي، خو هېچا هم ورته د انتقاد ګوته ونه نيوله، خو زه پر نه ګناه د خپلو او پرديو له خوا د تعصب پر تور تورن شوم. تر پرديو خپلو ډېر وکړولم، ډېر تورونه يې رابانديې پورې کړل، ډېر بنديزونه، ګواښونه، خطرونه او اخطارونه مې و زغمل او دا هم د هغه چا په واکمنۍ کې چې د لومړي ځل په بريا کې يې ما اغېزناک رول لوبولی و؛ ځان مو خوار کړ، خو (اشرف ) مو ( غني ) کړ. ما د هغه لپاره د هغه له دښمنانو سره ښه په نره دښمني وکړه، خو ده بيا د خپل واک د نشې د خړوب لپاره د هېواد له دښمنانو سره هم ټينګه دوستي وکړه، اوس نو د هغوی په اشاره موږ ته د سزا

(c) ketabton.com: The Digital Library

حد هم ټاکي، زما د ویده قوم غوره مالان بیا ورته د تایید سر هم خوځوي، نو ((ګیله مې ځکه وکړه)).

هو زه ځکه متعصب یم چې ما د هېواد د سالمیت او مالکیت غږ پورته کړ، ما په واقعي مانا د ملي وحدت غږ اوچت کړ، ما د انسانیت، اسلامیت او افغانیت ناره پورته کړه، ما د هر افغان د تساوي او د واحد ملت د سوکالۍ چغه پورته کړه، خو هر څومره چې د دې وطن پر غم او درد باندې ستي یمه، (( بیا هم دوزخمي یمه)) نو ((ګیله مې ځکه وکړه و زما یاره شېرینه، زه ستا...)).

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یوازې یو توافق

**دا لیکنه د ۲۰۲۰ م کال د اکتوبر میاشـــتې پر (۱۸) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د تلې میاشتې له (۲۷) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

دا منو چې د نظر، فکر او عقیدې اختلاف به وي، که دا اختلافات نـه وای، نـو بـیـا خـو دا دومـره اوږده فـاصـلـه




او دا دومره بېرحمه جګړه نه رامنځته کېدله. امریکایان دلته راغلل رنګارنګ وسـلې یې دلته راوړې او ټولې یې وکارولې. له ورې ماشینګنې خبره د مور تر بمه ورسېدله. اوس چې د روسانو په شان بېرته پر وتو دي، نو دا وسلې چېرته وړي؟ دا وسلې خو همدلته ډزېدلي، همدلته یې کلي او کورونه وران کړي، نو ولې بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

روغې او جوړې بل چېرته لاړې شي؟ پروسږکال همدا وخت مو له څو تنو ملګرو سره په قطر کې د طالبانو د سياسي دفتر مشرتابه سره وکتل، د ګڼو خبرو ترڅنګ هغوی موږ ته وويل چې موږ به ان شاالله له امريکايانو سره داسې يو توافق ته رسېږو، چې د وتلو پر مهال به خپل ټول جنګي وسايل افغانستان ته پرېږدي، دوی به يوازې د سر د خونديتوب په تضمين له افغانستانه وځي. خو اوس چې ورته ګورو ټاميان او طالبان، چې دواړه اوسمهال د واک مدعيان دي رنې ورته ګوري، د هغوی وسايل له هېواده



وځي، د امريکايانو هم سر خوندي دی او هم مال. د اندېښنې خبره دا ده چې دا وسايل ټول د پنجاب او د پاکستان د پوځي استخباراتو لاس ته ورځي او هغوی به دا وسله يو ځل بيا يو وخت افغانستان کې دزوي. افغانانو ته يوه لويه جګړه په مخ کې پرته ده او دا جګړه د پنجاب د نېت، هدف او عمل پر وړاندې جګړه ده. له نامسلمان يرغلګر سره افغانانو ته جګړه ډېره اسانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ده، انګريز، شوروي او امريکا يې ځرګند مثالونه دي، خو شيطان صفته مسلمان، لکه پنجاب سره ورته جګړه اسانه نه ده.د پروني**



**مجاهد د جهاد ثمر هم دې پنجاب لوټ کړ او د طالب د تورې د نتيجې ګټې ته هم همدا پنجاب سترګې پر لار دی. اوس نو بايد طالبان او ټاميان دواړه له ډېره هوشه‌کار واخلي، يو لوری د وطن د ازادۍ شـــعار ورکوي او بل لوری د هېواد د ســـاتنې، نو په هر ډول دواړو ته وســـله په‌کار ده، نو دا تياره لاســـته راغلې غنيمت وسـله مو ولې له لاسه ووځي؟ په‌کار خو دا ده چې د امريکا دې دواړو مخالفو او خواخوږو لورو لا وار دمخه امريکايان پر دې قانع کړي وای چې کاکا ته خو ځې، خو دا وسـله زموږ په‌کار ده. د مفکر ټاميانو ورته ويلي وای؛ تاسـو چې دا عصـري وسـله موږ ته پرېښږدئ، نو طالبان خو مو په يوه ورځ کې له سـتوني تېروي!؟ او طالبانو ورته ويلي وای چې کاکا مې سې، زه دې د سر تضمين**

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم، نه ستا د وسلو، ځکه دې وسلو خو زه وژلی یم. نور ډېر دربانديې نه‌کوم خو وسله به دې همدلته پرېږدې !

## په شا چې کله‌ګورې نو په موسکو شونډو ګوره

## اشنا! پښتانه نه‌کړي پښېمانه سره جنګ

خو په خواشینۍ سره باید ووایو، چې زموږ متخاصمو سیاستوالو کې لا د ملي شعور دې عنصر ډېره وده نه ده‌کړې. اوس‌که څه هم ډېر وخت ضایع شوی، خو بیا هم‌که دواړه لوري لږ تر لږه پر دې یوې موضـــوع هم توافق وکړي چې امریکایان دې ته اړ کړي چې خپلې پوځي اډې رنګې نـه‌کړي او روغې جوړې یې افغان لوري ته وسپاري او بل خپل پاتې پوځي وسایل دلته دولت ته پرېږدي او د دې تر څنګ هغه وسـایل چې تر دې دمخه یې له افغانستانه ایستلي، هغه پاکستان ته پرې نه ږدي؛ یا یې ځان سره یوســـي او یا یې ویجاړکړي. نو که دا دوه مخالف افغان لوري اوســـمهال لږ تر لږه پر دې یوې موضـــوع هم خپلمنځي توافق وکړي بیا به یې هم د خپلو تېروتنو او ګناه وو بار یو څه‌کم‌کړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# برېښنايي تذکره او د ولسي جرګې د ځينو غړو نننی طرحه

**دا ليکنه د ۲۰۲۰ م کال د اکتوبر مياشـــتې پر (۲۸) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د لړم مياشتې له (۷) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

په تېرو څلوېښــتو کلونو او په تېره بيا د بن تر کنفرانس وروســته




په تېرو دوو لســيزو کې افغاني هويت ته ســخت ګواښــونه متوجه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شــوي او لاهم دا خطرونه دوام لري. په برېښــنايي تذکره کې د ملي هويت يادونه هم د يو شــمېر پرديپالو پر زړه نه اوارېدله، نو ځکه خو يې په دې برخه کې ګڼ شــمېر جنجالونه جوړ کړل، خو د دې ملت د ويښو بچيانو په دقيقې مبارزې له منځه لاړل .

څو موده وړاندې په حکومت کې د يو شمېر ايرانپالو کړيو له خوا بيا هڅه وشـوه چې په تذکره کې د مور نوم د ليکلو په پلمه داخل شـوې موضـوع يو ځل بيا پر يو بل ډول متنازع کړي، مور چې د کوم جنجال اټکل کاوه، هغه نن په ولســـي جرګه کې د همدې يو شمېر هويت ضد اشخاصو له خوا څرګند شو. خو د لوی خدای ج فضــــل دی، د غله پر ږيره خلی وي او د درغلګر په اوږو کې شګه. د شيطان کار له ببرې سره مل وي، د تېر په څېر يې يو ځل بيا له ببرې او درغلۍ څخه کار واخيســت، نو ځکه يې دا کوږ بار تر منزله نه رســېږي. طرحه يې وړاندې کړه، خو نيمګړې او د قانون خلاف. دلته غواړم د همدې طرحې پر نوعيت، ناقانويت او د هغې پر راتلونکي احتمالي برخليک لنډه رڼا واچوم:

۱-د ولسي جرګې يو شمېر غړي کولای شي (( د جرګې د غړو طرحه)) په نامه يوه طرحه وړاندې کړي، خو دا طرحه به هغه وخت د يوې طرحې په توګه د بحث وړ ګرځي، چې د جرګې

(c) ketabton.com: The Digital Library

عمومي غونډې ته يې څرنګوالی قرات کړي، عمومي غونډه يې د رد او تاييد واک لري.

۲-د نفوسو د احوالو د ثبت په اړه د ولسي جرګې نننۍ طرحه په داسې حال کې ولسي جرګې ته د رايې اخيستنې لپاره وړاندې شوه چې عمومي غونډه يې پر محتوا اصلاً خبره نه وه.پر جعل، تقلب، عجلې او ناخبرۍ باندې د يوې طرحې تېرول خپله يو قانون ضد عمل دی.

۳-طرحه قانون نه دی، يو نظر دی، دا به هغه وخت د يوې مصوبې بڼه خپلوي چې د ولسي جرګې اکثريت کمېسيونونه يې تاييد او تر هغه وروسته يې د عمومي غونډې اکثريت غړي هم تاييد کړي ،نو بيا د يوې مصوبې بڼه خپلوي او د قانون په توګه بيا هغه وخت منل کېږي، چې مشرانو جرګه هم همدا مصوبه تاييد، جمهور رييس يې لاسليک کړي او په رسمي جريده کې چاپ شي .

٤ -له پورته پړاوونو پرته د ولسي جرګې د ځينو غړو هره طرحه او ان تاييدي مصوبه، نه قانون دی او نه قانوني التزام لري.مشرانو جرګه او بيا جمهور رييس د هغو د رد او تاييد پوره پوره صلاحيت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵–د ولسي جرګې د يو شمېر غړو ننني طرحه سر له همدا اوسه د ولســـي جرګې د نورو غړو له خوا رد شـــوې او په دې اړه ګڼ شـمېر لاسـليکونه راټول شـوي، که چېرې کمېسـيونونو ته حتمي طرحې ځي، نو دوه طرحې بـه ځي، خو کـه پـه کمېســـيونونو او عمومي غونډه کې د هرې طرحې رد يا تاييد وشـــي، بيا هم د قانون او په تېره بيا د قانون د انفاذ په مانا نه دی.

٦–زيـات احتمـال دی چې د ولســـي جرګې د ځينو غړو ننني طرحه په اکثريت کميســـييونونو کې رد شـــي، يا يې مقابله طرحه ومنل شي.

۷ –تر ټولو مهم ټکی دا دی، کله چې يوه مسوده د ولسي جرګې له خوا پاس شوې وي، مشرانو جرګې هم تاييد کړې وي او يا يې د مشـــترک کمېســـيون لـه خوا پـاس کړې وي، جمهور رييس لاسـليک کړې وي، رسـمي جريده کې چاپ او د نافذ قانون بڼه يې خپله کړې وي، ولســـي جرګه د دوه ثلثو رايو په کارولو ســـره کولای شي هغه قانون بدل کړي او دا اوسنۍ ولسي جرګه په هېڅ ډول د دې توان نه لري چې د نفوســو د احوالو د ثبت د اوســني قانون خلاف دوه ثلثه رايې راټولې کړي.

۸– نتيجه دا ده چې د برېښــنايي تذکرو وېش به همداســې روان وي، مخالفين کولای شي خپل قهر پر دې سوړ کړي چې هېڅکله

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دا تذکره وانخلي، د افغانســتان تذکره یو ویاړ او پرتم دی، نو د دې هویت مخالفین باید پر دې ویاړ ویاړمن نه شي او تر هغه باید دا تذکره ور نه کړای شي، چې توبه یې نه وي ایستلې. خو د دې تذکرې پلویان باید د تذکرو اخیســتلو ته کش ورکړي، د کورنۍ هر غړي په تېره بیا ښــځینه قشــر ته تر ټولو لومړی دا ویاړمنه تذکره واخلي.**

**اوس د عمل وخت دی د اندېښــنې او مبارزې پړاو مو تېر کړی دی. ټول د برېښنايي تذکرې د اخیستو پر لوري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د دعاګانو مستحق

**دا لیکنه د ۲۰۲۰ م کال د اکتوبر میاشـــتې پر (۲۹) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د لړم میاشتې له (۸) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

تېره جمعه له حاجي صـیب خان محمد باز منګل او د افغانســتان د سـوداګرو خونې له یو شـمېر غړو سـره، چې د هېواد د بېلابېلو سیمو استازولي یې کوله او مخور شخصیتونه وو، د ننګرهار دره نور ولسـوالۍ ته لاړو، ولسـوال صـیب ډاکتر هجرت ګردیوال او نـورو قـدرمـنـو مشـــرانـو زمـوږ ډېـر عـزت وکـړ. بـیـا مـې



مېلمانه په ښېوې ولسوالۍ کې (ناکامورا پارک ) ته دعوت کړل، هلته په دې پارک کې اوس د ناکامورا نوی یادګاري څلی جوړ شـــوی دی. له زړه مو ورته دعاګانې وکړې. دا زرغون پارک د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه د زیار او خولو په برکت جوړ شـــوی، اوس د هغه یادګاري ځلی هم دلته ودان شـــوی دی. چا چې ناکامورا ژوندی لیدلی و او اوس د دې یادګاري ځلي په لیدو د هغه د ژوند او مرګ دواړه تصـــویرونه له ذهنه تېر کړي، نو پر خپـل ولس بــه ډېــر خواشـــینی شــي. زه د خواشـــینۍ تـر څنـګ ځان تـه یو څه ډاډ پـه دې ورکوم چــې پــه



همدې ډګر کې مې له خپلو ملګرو سره یو ځای د ده په ژوندکې د دې رښـــتیني اتل د قدرونې او ســـتاینې لپاره یوه درنه غونډه جوړه کړې وه، هغه وخت چې ناکامورا د خلکو مینه ولیده، نو له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرې خوښـې یې له سـترګو اوښـکې راغلې. که پر هغه مهال مې هغه‌کار نه وای کړی، نو اوس به لا ډېر خواشـــینی وم. اوس نو د بل هر هېوادوال په شـــان له مور سـره له دعاګانو پرته بل څه نه



شـــته، الله ج ډېر مهربان دی. خدای دې ورته مغفرت نصـــیب کړي. خو د دې تر څنګ پخوانیو او اوسـنیو فیسـبوکي چارواکو ته هم لږ شرم په‌کار دی چې د نړدې یو کال په بهیر کې یې د دې سـتر انسـان د قاتل او قاتلانو څرک و نه شـو لګولی. نه پلټنه وشـوه، نه څېړنه او که شـوې هم وي د مافیایي کړیو او نورو مضرو مصلحتونو له ډاره له ولس سره څه نه دي شریک شوي. دوی لا اوس هم په مجازي نړۍ‌کې مصروف دي او د خپل ولس د ترخه ژوندانه ترخو واقعیتونو ته نه دي راکوز شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوی سره يې اوس گز کړه!

دا ليکنه د ۲۰۲۰ م کال د نومبر مياشتې پر (۷) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د لړم مياشتې له (۱۷) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.

نه مې غوښتل چې د درې کسيزو او پنځه کسيزو ډلو ټپلو په باب خپل غبرگون څرگند کړم، خو ددې لپاره چې له يو شـــمېر ناخبره هېوادوالو سره پوښتنې پيدا نه شي، د يو څو ټکو ليکلو ته اړ شوم:




پر کابل پوهنتون خونړی برید وشـــو، د دې برید تر شـــا خونړي لاســـونه وو، پر حکومت د واکمنې اصـــلي اســـتخباراتي کړۍ (نظارشـــورا) له خوا طالبانو ته گوته ونیول شـــوه، طالبانو په پېښـــه کې لاس رد کړل، داعش ته منســـوبې یوې ټولنیزې رســـنۍ، دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

غمیزه د (پنجشیري )او (خراساني ) په نوم د خپلو دوو غړو کار وباله، خو طالب ضد واکمنو ډلو هر څه پر طالبانو واړول. دا چې دا کار هر چا کړی، یو رزیلانه کار ګڼل کیږي او بشـــري ضـــد جنایت دی. خو مخکې تر دې چې اصـلي دښـمن معلوم شـي تر هغه پورې ټول مســـولیت د حکومت پر غاړه دی. خو کوم څه چې د دې برید په اړه شکونه پیداکوي هغه خپله په حکومت کې د جنګي جنایتکارو ډلو له خوا د جنایت د اصـــلي مجري پل غلطول دي: ایا دا حمله انتحاري وه؟ انفجاري وه؟ که په هدفي ډول د لاسـي وسـلو په وسـیله د محصـلینو په نښـه کول وو؟ که انتحاري وه د هغوی مړي او اثار څه شول؟ که بریدګر د حکومتي سـرتیرو له خوا ووژل شـول، جسـدونه یې څه شـول ؟څوک وو؟ داعش وو کـه طـالبـان؟ کـه طـالبـان وو د کوم ځـای وو؟ او کـه داعشیان وو د کوم ځای وو؟ دا چې دا خلک چا او څنګه تر دې ځایه را ورسـول؟ دا څوک وو؟ تر پېښـې وروسـته څنګه ژر هغه شعارونه پر دېوالونو وځړول شول چې د حکومتي چارواکو او په تېره بیا د امرالله صـالح له خوا پخوا هم زمزمه کېدل؟ ایا د شـهید شـویو معصـومو محصـلینو کورنۍ او یا نور دردېدلي محصـلین په دې ستر غم کې د دې جوګه وو چې د خپلو شهیدانو د جنازو تر خښولو وړاندې؛ ماښام ناوخته او یا هم پر شنه سهار، سیاسي او داسې شعارونه، چې د معلومو واکخوښو فاسدو حکومتي کړیو د قدرتغوښـتنې بوی ترې راځي، چاپ او د پوهتنون پر دېوالونو یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

را وځروي؟ دا او دېته ورته نورې ډېرې پوښتنې شته چې په دې پېښه کې د يوې بلې حکومتي تروريستي ډلې لاس لرل هم له شکه نه لرې کوي. دا تروريستي ډله د جمعيت او نظار شورا هغه ډله ده چې اساس يې پر توطيه، دسيسه او وژنه ولاړ دی. دا ډله اوس په امنيتي سکتور کې پراخ نفوذ لري او د طالب دښمنۍ تر چتر لاندې يې د مفکر صيب د واکپالنې د غريزې پر اوږده توپک اېښی، افغانوژنې او په تېره بيا پښتون وژنې ته ادامه ورکوي. جمعيت او نظار شورا بيا د پل غلطولو او له مسوليته د تېښتې لپاره ځينې واړه موتلفين او په اصطلاح ځينې مدني فعالان هم لري چې د ملي او سياسي شخصيتونو د توهين لپاره له هغوی څخه کار اخلي، (راوا) سازمان او يا د (همسبتګۍ )ډله له همدغو موتلفينو څخه ده؛ پښتون ضد انګېزه د دې ډلو مشترک ټکي دي. اوس نو د دې لپاره چې د پوهنتون له غميزې څخه د خلکو پام بلې خوا ته واړوي، باينرونه يې چاپ کړي او د ځينو نورو استادانو تر څنګ يې زما او د ډاکټر ځلاند انځورونه هم په کې را وړي دي. د دې کار اصلي علت دا دی چې موږ سوله غواړو او د سولې په راتګ سره بيا د دغسو جنايتکارو ډلو د جنايتپېښونې لپاره هېڅ مجال نه پيداکېږي. موږ تېر کال څکه طالبانو سره د خبرو لپاره قطر ته لاړو، چې طالبانو ته دا ووايو چې د تاسو د جنګ دوام ټول افغانستان او په تېره بيا پښتنو ته اوږدې غميزې زېږوي، ستاسو له جنګه جمعيت او نورې ډلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناوړه ګټه پورته کوي، هم د نړیوالو په مرسته خپل واک غځوي او هم ټولوژني او افغانوژنۍ ته دوام ورکوي.نو په هر ترتیب چې وي تاسې باید هم سوله وکړئ او هم د نظام اډانه خوندي کړئ. زموږ له دې ژور او هدفمن سفر څخه، نو نظار شورا او یو شمېر فیسبوکي مفکرینو د طالب تاییدونې مفهوم واخیست او موږ یې د طالبانو د پلویانو په تور تورن کړلو. که چېرې طالبانو سره خبرې اترې کوم جرم وي، نو بیا خو احمدشاه مسعود او ډاکتر غني تر ټولو غټ مجرمین دي چې تر هر چا وړاندې یې د خپل قدرت د تر لاسه کولو لپاره له طالبانو سره پټې خبرې کړې وې، موږ د قدرت لپاره نه، بلکې د سولې لپاره مو ورته لمن غوړولې وه.د پوهنتون پر هغه استاد دې لعنت شي چې په خوب، خیال او ذهن کې یې د داسې ناوړه پېښې تصور پیداکېږي. زه یو عاطفي شخص یم ان پر خپلو سرسختو مخالفینو مې هم مرګ نه لورېږي، مسعود، رباني، مزاري او نور، چې د زرګونو افغانانو قاتلین وو، بیا مې هم پرې مرګ نه لورېده، ما ویل خدای ورته پر هغې دنیا خپله سزا ورکوي، نو څنګه دې ممکنه شي چې د داسې یوې غمیزې تصور دې وکړم. کابل پوهنتون مې کور دی او خواږه محصلین زما خپل اولادونه، زما لور ( هیله ) له همدغه ټولګي او همدغه پوهنځي څخه دوه کاله وړاندې فارغه شوه، چې همداګلالي محصلین په کې شهیدان شول. دېرش کاله مې په خپل دې کور کې تدریس کړی او هېڅکله مې په تدریسي ساحه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې سیاسي خبره نه ده کړې. نو دښمن دومره مکار دی چې هم دې وژني، هم دې جنازې ته درځي، هم دې پر ژوند سیاسي تجارت کوي او هم دې پر وینو. ای ساده زړو هېوادوالو! یو څوک چې زما په باب، چې په ټول عمر کې مې یوه مرغۍ نه ده حلاله کړې، داسې قضاوت او داسې دروغجن تبلیغات کوي، نو هغه به سولې ته څنګه لېوال شي؟ ګورئ! د سولې او هېواد اصلي دښمنان همدغه دي چې د نظام له غېږې د نظام لمنې ته اور اچوي، له نظامه بهر مخالفین لا له نظامه ډېر لرې دي، که غواړئ چې هم سوله راشي او هم نظام خوندي شي، نو د حکومت او نظام په اډانه کې د شمالټلوالې او د هغوی د اړوندو موتلیفو لنډغرو مخه ډب کړئ، اصلي نسخه او کاري نسخه همدا ده او بس.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په سیاست کې ټولنیز اخلاق

**دا لیکنه د ۲۰۲۰ م کال د ډسمبر میاشتې پر (۲) یمه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د لیندۍ میاشتې له (۱۲) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

سیاست یو ټولنیز علم او هنر دی، خوشال بابا سیاست ((جهانداري)) بللې ده. څوک چې ټولنیز اخلاق نه لري او یا ټولنیزو ارزښتونو ته درناوی و نه لري، نو چې سیاسي ډګر ته را دانګي، که په خپله علمي برخه کې هر څومره بریالی وي، خو په سیاسي ډګر کې به نه وي. غوره مثال یې خپله همدا اوسنی



جمهور رییس (اشرف غني ) دی. د ډاکتر غني فکر، لیدلوری او ان احساس د ډاکتر عبدالله او په ټوله کې د شمالټلوالې تر بل هر مشره څو ځله ښه او د دې وطن په ګټه دی. خو په مقابل کې بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالله او د ټلوالې ځينو نورو مشـــرانو د خپلو پلويانو او ټولنيزو مناسباتو په پاللو کې تر غني څو ځله زياته خپله لوړتيا ښودلې ده. غني د ملاريا ګولۍ او يا هم هغه چمبړ خيال ته ورته دی، چې ډېر تريخ او بد خوند لري او ترسـتوني په ډېرې سـختۍ تېرېږي، خو په ګېډه او بدن کې دننه يو شمېر پټ مرضونه په ښه ډول تداوي کولای شي، په مقابل کې بيا ټلواله او د هغې مشران د زهرو هغې ګولۍ ته ورته دي چې په شاتو کې تاوه شوې؛ خوړل يې اسانه او خوندور دي، خو په بدن کې په لســګونه ډوله ناروغۍ راپيدا کوي. زموږ په ټولنه کې د ګوتو په شـــمار خلک پر دغه نزاکت پوهېږي. هغوی چې مفکر صيب ته غوړه مالي نه کوي او ټلوالې سره په لوټ او تالان کې د ايتلاف لمن نه نيسي، هغوی له دواړو لورو څخه تر ګواښ لاندې دي. اوس نو غني ته يوازې هغه غوړه مالان او ټاميان ورپاتې چې د دې وطن له ارزښـــتونو څخه ډېر لرې دي او د غني د خوشالۍ په خاطر د سرکوزۍ هغه وروستي حد ته رسېدلي دي. غني بيا د ځانپالنې او ځانخوښونې پر داسې يو ناعلاجه ناروغۍ اخته دی، چې له غوړه مالۍ پرته يې پر بل هېڅ شي ګوزاره نه کېږي. رښتيا ويل ورته داسې دي، لکه د توپ مرمۍ چې پرې ور خوشـــې کوې. هغه غوړه مالانو داســې تلقين کړی چې فکر کوي ټول ملت ورڅخه خوشـــاله دی، په وطن،

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیمه او نړۍ کې هېڅ بدیل نه لري، خو پر دې لا نه دی خبر چې د رومانیې د جمهور رییس (نیکولای چایسسکو) په شان یې ان تر ستېج لاندې خلک هم مخالف دي. اوس نو امرالله خان صالح هم د ده د کمزورۍ همدا ټکی ښه تشخیص کړی دی؛د ده مبالغه ییزو توصیفونو ته یې کار ویلی، لاس کوي او ګوړې راباسي. بله خوا بیا جمعیت او نظار شورا د مخالف او موافق په دوو رولونو کې په نوې بڼه د پخوانیو امتیازونو پر خوندیتوب سربېره نوي نوي امتیازات تر لاسه کوي. د نظار شورا لنډغر بیا هغه ماران دي چې څومره ګرمېږي خطر یې زیاتېږي. دوی نه یوازې خپل غړي پالي او خپلې ریښې ځغلوي، بلکې د ملي یووالي د تصنعي تمثیل پوره قابلیت او مهارت هم لري او یو شمېر پښتانه سیاستوال د ملي یووالي د سمبولونو په توګه هم کارولی شي. د تمثیل دا څپه بیا هغه وخت لا پسې ګرمه شي چې یو شمېر فیسبوکي سیاستوال او نوي غوړځني ځوانان هم ورسره د دې کاذب ملي وحدت د تمثیل او اتڼ انتره تاوه کړي.د غني په مشرۍ اوسنۍ کابینې ته د ولسي جرګې د رایې اچونې بهیر د غني د برخې د حکومتي ټیم بې کفایتي او د ولسي جرګې د یو شمېر پښتنو او ملتپالو وکیلانو کمسېوادي یو ځل بیا په ډاګه کړه.له مجهول الهویته (اجمل احمدي) پرته چې باید ناکام شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وای، غني ته منسوب نور درې نوماند وزیران هم ناکام شول. په حقیقت کې د غني د حکومتي برخې له لوري یوازې دوه وزیران بریالي شــوي دي، هغه نور چې د غني په نوم معرفي شــوي، هغه هم د غني د ایتلافي ټکټ برخه وو، چې ریښتــــه یې بیا هم په یو ځای کې ټلوالې ته رســـي.عبدالله ته د منســـوبو وزیرانو له خوا د جګو رایو اخیســـتل که څه هم په ولســـي جرګه کې د پښـــتنو او ملتپالو وکیلانو د تر ایســـتنې او له هغو ســـره د ژمنې ماتونې له لارې تر سـره شـوي، خو بیا هم غني او ټول ملت ته ډېر تریخ او بد پیغام لري : غني ته یې بد پیغام دا دی چې (( د ملت په کور)) کې تر غني د عبدالله تاثیر او منښـــت زیات دی او که دا خبره رښـــتیا همداســـې وي، نو بیا خو دوی د جمهوري ریاســـت تېرو ټاکنو ته هم نغوته کولای شـــي او ملت ته یې بیا تریخ پیغام دا دی چې ولسـواکي او د فسـاد پر ضـد مبارزه یو تش شـعار دی، اوس هم اساسي واک جنګسالارانو او فسادګرو سره دی؛ چا چې ډېر خیانت کړی هغه تر هر چا د زیاتو رایو د خپلولو وس لري. غني ته خو د شـــرم خبره دا ده چې د ده په ټکټ کې مخابراتو وزارت ته نومانده وزیره (خاوري ) چې اصـــلاً د (حاجي محقق ) ســـهم دی او د (ســـرور دانش )له چینله پر مفکر صـــیب تحمیل شـــوې، هغه په جګو رایو بریالي کېږي، خو (رنګینه او ساپۍ )چې د ډاکتر

(c) ketabton.com: The Digital Library

غني مستقيم سهم و او په هيڅ وجه تر (خاوري )په سواد کې کمې نه دي، نه بريالی کېږي، نو دې کې دې غني خپل ګرېوان ته سر لړ ورکښته کړي. که غني په ولسي جرګه کې په ناقانونه ډول د غزني په استازی (يوولس )ايرانپالي وکيلان نه وای کېنولي، نو د غني د ټکټ يو نوماند وزير به هم نه و ناکام شوی. خبرې ډېرې دي، ليکنه اوږدېږي. خو خدای دې د دې ملت مل شي. شعوري ملتپالو افغانانو ته که څه هم شمېر يې کم دی، په کار ده چې سره منسجم شي او دا وطن د مفکر او ټاميانو له وچ تکبر او لېونتوبه او د شمالټلوالې د واک له حرص او لندغرتوبه وژغوري. په سپين لباس کې د تيارو پلويان لا بل جنجال دی، چې تر دې دوو واکمنو فاسدو ډلو وروسته د هغوی پر وړاندې هم جلا مبارزه په کار ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# که نظام ړنګ شي!؟

**دا لیکنه د ۲۰۲۰ م کال د ډسمبر میاشتې پر (۳) یمه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د لیندۍ میاشتې له (۱۳) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

دا منو چې د دولت مشرتوب له نورمال ټولنیز چلند څخه برخمن نه دی.

دا منو چې سیاسي مشرتوب د اضدادو له یو مجموعې څخه رغېدلی.



دا منو چې دیني او ملي ارزښتونو څخه لرې او متضاد اشخاص د دولت پر حساسو رګونو واکمن دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دا منو چې اداري فساد، لوټ او تالان خپل اوج ته رسېدلي.**
**دا منو چې د ملت او دولت تر خواخوږو زيات، ملت دښمنه، دولت دښمنه او هېواددښمنه عناصر پر حکومت واکمن دي.**
**دا منو چې د ولس او حکومت تر منځ زيات واټن او ان تضاد رامنځته شوی دی.**
**خو له دې ټولو ناخوالو، ستونزو او بدرنګيو سره سره ايا اوس د دې وخت دی چې ربړ نور هم کش کړو؟ هر څومره چې دا ربړ کشوو د خوشې کېدو پر مهال يې فشار او خطر لاپسې زياتېږي.**
**نو حل لاره څه ده!؟**



**يو نظام او حکومت شته، ښه نه دی، خو تر نشت څخه ښه دی.**
**موږ د بې نظامۍ تجربه کتلې، هغو نسلونو چې د بې نظامۍ او ګډوډۍ درد ليدلی هغوی پر دې نزاکت ښه پوهېږي، چې نظام او**

(c) ketabton.com: The Digital Library

دولت د یوې ټولنې لپاره د نوش دارو حیثیت لري. اوس موږ د نیوکې لپاره یو ادرس او مخاطب لرو، که څه هم دا ادرس مو یو څه تت او مخاطب مو هم پر غوږو یو څه درونند او بې تفاوته دی، خو بیا هم یو ادرس دی، نو په هر ترتیب چې وي باید بې ادرسه او بې هویته نه شو.

موږ په شـــلمه پېړۍ کې دوه ځله د نظام ړنګونې او نظام پاشـــنې تجربه لیدلي، چې هېواد یې په پېړیو پېړیو د نړۍ د تمدن له کاروانه شـــاته کړ. البته هم نظام، هم دولت او هم حکومت فوق العاده تغیر او بدلانه ته اړتیا لري، تغیر او بدلون د نظام د پاشنې او ړنګونې مفهوم نه لري او نه هم هر تغیر او بدلون مثبت پیغام او عواقیب لري. بلکې هر تغیر باید د نظام د فزیکي اډانې د خوندیتوب د تضـمین په شـرط رامنځته شـي. اوس وېره دا ده چې که چېرې د طالبانو او حکومت تر منځ خبرې ناکامې شي، نو د نظام د ړنګېدو خطر او احتمال به زیات شـــي.دلته مشـــکل دا دی چې د اوســـني حکومت چلونکي تر یوه بریده د نظام چلونې ظرفیت او مهارت لري، خو د نظام ســـاتنې لپاره د قربانۍ وس، احســاس او جذبه نه لري، خو طالبان بیا د نظام ســاتنې ځواک او ولوله لري، خو د نظام چلونې او پرمخبیونې پوره مهارتونه نه لري، نو د حل منځنۍ لاره همدا ده چې له دې دوو ځواکونو څخه پر خپل ځای ګټه پورته شـــي او د روغې جوړې لاره خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library

شــي. د ټکر او اوســني حالت د تداوم او یا هم انقطا ع په حالت کې د یوه لوري هم خیر نه شته، نه د دې حکومت ګډوله ترکیب ( غربپلوي ټامیان+ تنظیمي لنډغر) او نه هم طالبان له دې حالت څخه تر پایه اساسي ګټه پورته کولای شي. داسې وخت به راشي چې اوسني واکمن به ټوله ګټلې پانګه بایلي او طالبان به څلوېښتو هېوادونو سره د ګټلي جنګ شهرت، دوی به هم د مجاهدینو پر برخلیک اخته شــي. ملت به هم یو ځل بیا خپل اوســنی نیمګړی ادرس هم له لاســه ورکړي، بیا به ګډوډي، غمونه او دردونه وي او د ملامت او سلامت د معلومونې بحثونه .

افغـانـان پـه خپـل منځ کې د روغې جوړې، پخلاینې او زغم پوره



تحربه لري، خو په دې منځ کې چې کومې دوه مضــرې حشــرې کار کوي، هغه د ایران او پاکســتان اســتخباراتي ادارې دي، چې دوی غواړي افغانســتان یو ځل بیا د جهاد او الحاد په نامه د اوبایمو کلونو حالت ته ستون کړي. زموږ دا (( بې ابه )) ګاونډیان

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اوبو له سخت کمښت سره مخ دي، هر کال د (۵۳) ملیارده ډالرو په ارزښت د افغانستان اوبه په وړیا ډول دې مضرو ګاونډیو ته تویږي، اوس چې د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د اوبو او برېښنا بندونه جوړېږي، نو د دوی پر زړه لمبې بلېږي. د سلما، کمال خان، پاشدان، کجکي، فراه، بدخشان، شاه عروس، شاتوت، کونړ، لغمان او نورو سیمو بندونه او اوبه خور سستمونه که جوړ او بشپړ شي، نو په صنعت او کرنې دواړو کې به ډېر پرمختګ وشي. اوس که څه هم په دولت او حکومت کې ډېرې زیاتې نیمګړتیاوې شه، خو یو څه ټک وپک کار هم روان دی.که له تدبیر څخه کار وانخستل شي او هر یو د خپل کاذب او د نورو له خوا د ورکړل شوي زور پر اس سپاره وي، نو وېره دا ده چې تېر تریخ تاریخ یو ځل بیا تکرار شي. اوس د ټولنې دریېم او اساسي قشر یانې د ولس خبیرو اشخاصو ته هم په کار ده چې د بې تفاوتۍ او مضر احتیاط له دایرې را ووځي او پر ښکېلو لورو غږ وکړي چې مورږ هم موجود یو، دین، ملت او دولت باید نور د یادو ډلو له انحصاره خلاص شي او د یوې سالمې ټولنې جوړېدو ته لاره اواره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# معلوم مقتولین او نا معلوم قاتلین

**دا لیکنه د ۲۰۲۰ م کال د ډسمبر میاشتې پر (۲۳) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د مرغومي میاشتې له (۳) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

په هېوادکې د وینو رود روان دی، هېڅوک د پوښتنې نه شته؛




حکومت هم د خواشینې پیغامونه نشروي او پېښې غندي او ولس هم. یوه ورځ فیسبوکی ماتم وي تېر شي او هېر شي، بیا بله دردوونکې پېښه وشي، پخوانۍ هغه هماغسې تر خېړنې لاندې ناخېړلې پاتې شي.خلک له مرګ سره عادي شول، هر سهار چادونه او ترور د ښار دکلتور یوه برخه شوه، خو واکمن لا هم د واک او شهرت د لایتناهي هوسونو په ډنډکې ډوب دي، اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم ورته ځان تر هر چا غوره برېښــــي، ولس تباه شـــو، خو دوی اوس هم ځانونه ولسمشر او مرستیال ولسمشران ګڼي، درباري غوړه مالان او کرايي فیســـبوکیان یې لا هم د بې کفایتۍ د پټونې لپاره سل دلایل لټوي، ضمیر مړو لیکوالانو لا هم د مضر احتیاط له امله چوپه خوله غوره ګڼلې، که نه خو هر څه معلوم دي، تر هغه چې نامعلوم قاتل پسې ګرځو راځئ د معلوم مسول ګرېوان ته لاس ور واچوو. تر هغه چې اجرتي نـامعلوم قـاتلان معلومېږي، جمهورریيس، د هغه مرستیالان او د امنیتي سکتور لومړۍ درجه مسولین د دې ډول وژنو اصلي مسولین ګڼل کېږي. بل چا پسې مه ځئ د دوی ګرېوان تـه لاس ور وړئ، کـه لاس نـه شـــئ ور وړلای، په ښېراوو کې یې له یاده و نه وباسئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دا هوايي دهلېز بيا څه مانا؟؟

**دا ليکنه د ۲۰۲۱ م کال د جنورۍ مياشـــتې پر (۵) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د مرغومي مياشـتې له (۱۶) مې نېټې سـره سـمون خوري، نشر شوې ده.**

دهلېز د انګرېزي ژبې د (corridor) ژبـاړه ده چې د دالان يـا همدې دهلېز مانا ورکوي. يانې د دوو دېوالونو يا موانعو تر منځ پرتې سـيمې ته دهلېز يا کوريدور وايي. له اصـطلاحي پلوه له پيل




يا ابتدا څخه بيا تر مقصـــده پورې د لارې هغه مسـير دی چې تر ډېره بريده د ســـوداګريزو مقصـــدونو لپاره کارول کېږي. دا ډول لارې يا دهلېزونه هم د هېواد په داخل کې وي، هم د هېوادونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر منځ او هم په نړيواله کچه. غوره مثال يې د وريښـــمو لويه لار وه چې ګڼې ســـيمې او هېوادونـه يې ســـره نښـــلول.دې ډول کوريـډورو کې عـام ســـړکونـه، لويې لارې، اورپټلۍ او نورې مواصلاتي لارې ټولې شاملېږي.

دکوريډور اصــطلاح معمولاً د ځمکې پر مخ د فزيکي موانعو تر منځ د يو فاصــل خط لپاره کارول کېږي، خو د فضــا، خلا يا هوا لپاره ځکه منطقي نه برېښـــي چې هلته داســـې فزيکي موانع يا




دېوالونه نه شـته، چې يوه حايله سـيمه دې رامنځته کړي.البته هر هېواد خپـل هوايي حريمونـه لري چې حـدود يې معلوم دي اود امنيتي دلايلو له کبله د نورو هېوادونو الوتکو ته د يو مشـــخص مســـير له لارې د تـک راتـګ اجازه ورکوي، د هوايي ليکې يا کرښې اصطلاح څه نا څه معمول ده، مانا دا چې په يوه مشخصه هوايي ليکـه يـا خط يو هېواد بـل تـه الوتنې کوي، خو د هوايي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهلېزونو اوسنۍ اصطلاح ځکه ډېره معقوله نه برېښي چې دا اصطلاح دلته له سیاسي دروغو سره تړلې ده. د ساري په توګه چین ته د هوایي دهلېزو له لارې جلغوزي ولېږدول شول، ترکیې او اروپا سره نوي هوایي دهلېزونه پرانیستل شول!! ایا ترکیې، هند، چین، روسیې، اروپا او نورو هېوادونو سره مونږ پخوا د هوایي ترانسپورت له لارې صادرات نه درلودل؟؟ ایا د افغانستان وچه مېوه، غالۍ او نور تولیدات د هوایي ترانسپورت یا هوایي لیکې له لارې هلته نه صادرېدل؟ هغه وخت کې د هوایي دهلېز اصطلاح چېرته وه؟ همدا الوتکې وې او همدا هوا او فضا وه، او اوس هم ده، نو دا هوایي دهلېز بیا په کې له کومه شو؟ که څوک ووایي چې چین ته د هوایي ترانسپورت یا هوایي لیکې له لارې افغاني مېوه ولېږدول شوه او یا که ووایي چې د هوایي دهلېز له لارې مېوه ولېږدول شوه، نو په مېوه، الوتکه، هوا او فضا کې به څه توپیر رامنځته شي؟؟ خبره دا ده چې دلته کاذب سیاستوال غواړي د دروغجنو الفاظو له لارې یوې ثابتې محتوا ته یو بل رنګ ورکړي او په دې ډول د خلکو ذهن مصروف کړي. درباري غوړه مالان او کرایي لیکوالان بیا څو موده ولس پر دې بوخت وساتي چې دغه دی له خیره سره بنده فضا خلاصه شوه او اوس به نو وطن له خیره سره شړشم شي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوک شـــته چې له دوی څخه وپوښـــتي چې دهلېز خو ســـړی بندولای هم شي، خو دا هوايي دهلېز به څنګه بندېږي؟
نو تر څو چې دا ســـاده او ســـپين زړی ولس وي، نو همداســـې چالاکه او کاذب سـياسـتوال به يې تېرباسـي، هغوی به دوی ته د ســـاده ګانو او دوی به هغوی ته د هوښـــيارانو په نظر ګوري او حالات به همداسې روان وي...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# يرغمل شوی جمهوريت

**دا ليکنه د ۲۰۲۱ م کال د جنورۍ مياشـــتې پر (۲٦) مه، چې د ۱۳۹۹ل کال د سـلواغې مياشـتې له (۷) مې نېټې سـره سـمون خوري، نشر شوې ده.**

د شــورويانو د يرغل او د جهاد پر مهال به چې کله مجاهدينو د خلکو لـه کليو او کورونو او ان جومـاتونو څخـه پر حکومتي او




بهرنيو ځواکونو ډزې کولې، نو حکومتي ځواکونه به له ســختو ننګونو سـره مخ وو، که کلي يې ويشـتل، کورونو او ولسـي خلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته زیان رسېده او که نه یې ویشتل د مخالفینو تر یرغل لاندې راتلل او زیات زیان ورته رسېده. مجاهدینو به تر یو څو هدفي او بې هدفه ډزو وروسته له کلیو پښې سپکې کړې، خو حکومتي ځواکونو به کلي پر بل مخ واړول. اوس مهال بیا د شوریانو ځای امریکایانو ونیو، د ډاکتر نجیب د حکومت ځای د ډاکټر غني حکومت ونیو او د مجاهدینو میراث بیا طالبانو ته پاتې شو، خو ملت، د هغه جغرافیه، د جنګ د اصلي خواوو عملونه او ملت ته یې متوجه زیانونه پر هماغه بڼه او کیفیت پاتې دي. اوس لا په



کې د جمهوریت په نامه یو بله مصنوعي او اومغلنه ډله بله هم زیاته شوې، چې د نظام او جمهوریت په نامه د جمهوریت له ادرسه پر خلکو ډزې کوي، دوی لکه د چریکي جنګیالیو په څېر چې کلي به یې یرغمل کول، دوی اوس ټول نظام، ولس او

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمهوريت يرغمل کړی دی. د جمهوريت تر شا پټ دي، له هغه ځايه د جمهوريت او ولس پر ضد ډزيې کوي، هر با شعوره افغان چې د دې مفسدې ډلې پر ضد غږ پورته کړي، نو د حکومتي امکاناتو په ناوړه کارونې سره په ټوليزو رسنيو کې پلورل شوي غږونه راپورته کړي، چې هلئ نظام په خطر کې دی، هلئ جمهوريت په خطر کې دی، ولې جمهوريت تخريبوئ؟ ولې نظام ړنګوئ ؟؟ دوی هماغه جمهوريت يادوي چې محقق په کې د مفکر مشاور وي، دوستم په کې د نړۍ د دويم مفکر په لاسليک مارشال وي، قومندان عطا او نور نازولي په کې د قدرت د شرکت ونډوال وي. نظار شورا او د هغوی لنډغر په کې د واک محور وي، يو څو ټاميان يې د ولسواکۍ ممثلين وي، بي بي ګل او څو نور لبنانپالي يې بې دليله، بې بديله او بې مسوليته واکمنان وي، خو چا چې ځلوېښت کاله د ولس پر هر درد اوښکې تويې کړي وي، هغه دې د ملتپالنې په تور له تومتونو او کړاوونو سره مخ وي. هغه جمهوريت چې فساد، دروغ، هوايي ژمنې او لوټ او تالان يې اساسي ځانګړنې وي، هغه به د څه شي جمهوريت وي؟ بده خو يې لا دا ده چې د همداسې يو جمهوريت او همداسې يو مبتذل حالت له ادرسه بيا پر ولس او د هغوی پر ارزښتو ډزې هم کيږي او په ډېره بې شرمۍ سره بيا ولس ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملامتيـ ګوتـه هم نيول کېږي. اوس نو غمځپلي ملـت او د هغو رښـتينو اسـتازو ته خورا ګرانه ده چې دلته په سـپينو شـيدو کې دا ګډېږ شـوې اوبه سـره جلا کړي، منافقين له صـادقو وګړو بېل او مفسـدين هم په ډېر مهارت سـره ايل کړي. په دې منځ کې بيا بل خطرناکه ويروس هغه غوړه مالان دي چې له منطقي دليل پرته د مفسـدو او پرديپالو چارواکو هرې اشـتباه، خطا او ناروا کړنې ته دلايل لټوي، د غوړه مالانو افراط کله تر دې بريده ورسـېږي چې اصـلي مدعي له خپلې خبرې او دعوې تېر شـي؛ خپله اشـتباه او خطا هم ومني، خو دوی به بيا هم د هغوی سـپيناوي ته ملا تړلې وي، نو موږ په دغسـې يوه پليته زمانه کې ژوند کوو، نو راتلونکی نسـل دې له موږه ډېره ګيله نه کوي چې موږ هغوی ته لاره صـفا نه کړه او ډېر اغزي مو ورته له لارې ټول نه کړای شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کابینې په غونډو کې څه تېرېږي؟؟

**دا لیکنه د ۲۰۲۱ م کال د جنورۍ میاشـــتې پر (۲۶) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د سلواغې میاشـتې له (۷) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

خلک به په بهر کې داسې فکر کوي، چې افغانستان کې یو حکومت دی، یو جمهوریت دی، دلته به د وزیرانو شورا یا کابینه وي، غونډې به د تعقل او پراخنظرۍ پر اساس وي، نظر به اورېدل کېږي او بیا به په ګډه د معقولیت او اکثریت پر بنسټ



پرېکړه کېږي، خو کـه څوک د دې جمهوریت عملي بڼې تـه وګوري، نو ریښنه یې ان د فرعونیت د کور تر وره پورې رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمهور رییس په خپلو خبرو ســـره غونـډه پیـل کړي، وزیران، سرپرستان او مرستیال وزیران قلمونه او پنسلونه راواخلي، ځان د جمهور رییس د مهمو خبرو پر لیکلو مصـروف کړي، هېڅوک پورته نه ګوري، نه له کاغذه سر پورته کوي او نه د جمهور رییس خواته ګوري. ځینې هســـې مخې ته پر پرتو کاغذونو خطونه او نقشې کاږي او ځانونه مصروفوي، د جمهور رییس لیکچر کله یو



ســاعت، کله یو نیم ســاعت او کله هم دوه ګړۍ دوام وکړي، پر ټولو مســـایلو تکراري او مبتذل بحث وشـــي او په دې ډول د کابینې د نن ورځې غونډه پای ته ورسېږي. نه څوک د پوښـنې حق لري، نه د شـــننې، نه د ګروېږنې او نه هم د ارزونې، دا ټول کـارونـه خپلـه جمهور رییس تر ســـره کوي. پوښـــتنه کول، د وضـاحت غوښـتل او ان ګوته پورته کول دا ټول د دندې د اختتام

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مانا دي، نو ځکه خو اکثرو وزیرانو او ګډونوالو خپل ســـرتیتی د مقام تر اختتامه غوره ګڼلی دی. دا سرونه چې په ارګ کې د یو بل سر پر وړاندې ټیټ دي، بهر کې د ولس پر وړاندې ډېر جګ جګ کېږي، هر یو د ولسواکۍ او سرلوړۍ مرغلرې هم دوړوي، خو له هغه حالته یې ولس نه دی خبر چې هلته د یو ســـر پر وړاندې څومره ســـرونه ټیټ دي او هغه یو ســـر چې بیا دلته لوړ ښـــکاره کېږي هغه بیا په یوه ټېلېفون هغه بل لوړســـري ته څومره سرټیتی وي. د ارګ د ټیټسرو کیسه زموږ په ټولنه کې د فرعون د دربار د کیسې یو ژوندی تمثیل دی؛ د فرعون د دربار ډاکټر او مشاور ( ډاکټر سینوهه) کیسه کوي: ((هغه سرونه چې د خلکو په منځ کې خلکو ته ډېر لوړ ښـــکارېدل، هغه به د فرعون په دربار کې ډېر ســـر ټیټي وو، کله چې به دربار ته راننوتل، نو د فرعون پر لاسونو او پښو به پرېوتل، د هغه لاسونه به یې ښکل کړل او بیا به ســـرټیټي څوګامه پر شـــا روان شـــول، ځینو به ما ته هم ډېره مخلصـانه او عاجزانه غوړه مالي شروع کړه چې په غیاب کې یې فرعون ته د بهادرۍ او وفادارۍ کیسې وکړم...))

درې زره کاله وروسته هم د انسان د قدرت خوښـونې په غریزه کې کوم خاص توپیر نه دی راغلی؛ اوس هم د واکمنو په سر کې د فرعونیت نشـــه په څپو ده او اوس هم ډېر ســـرټیټي په دربار کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هماغه دنده تر سره کوي؛ هغه وخت هم يو فرعون په خپل دربار کې خپل يو ځانګړی ډاکټر او مشـــاور درلود او د خلکو په منځ کې به ظاهراً ډېر جګسري په دربار کې ډېر ټيټسري وو، اوس هم په دربار کې يو ډاکټر او مشـــاور شـــته او هم يو فرعوني کرکټر او هم د هغه په سـر کې د واک د نشـې د خړوب لپاره پوره سـرټيټي غوړه مالان او د واک معتادان .

د وزيرانو شـــورا په غونډه کې د وزيرانو لپاره د خوښـــۍ شـــېبې هماغه وي چې غونډه د پای شـــېبو ته نږدې شـــي او په دې ټول بهير کې جمهور رييس پر کوم وزير قهرجن غږ او نيوکـه و نـه کړي. پـه دې ډول غونـډه د ملـک د خير، فلاح او عملي پروګرامونو په هيله پايته ورسېږي !!. کله کله غونډه دومره اوږده شـي چې په اجنداکې دکوم وزارت له خوا نيول شـوې موضـوع اصولاً له کوم بحث پرته تصويب شي او چا ته پرې د خبرو بحث او مجال پيدا نه شي.

يو وزير راته کيســـه کوله چې موږ خو دکابينې غونډې ته نه ځو، موږ خو ټولګي کې ناسـت يو، معلم صـيب راشـي له کومې وقفې پرته يو ســـاعت يو نيم ســـاعت درس راکړي او موږ په کې نه د پوښـتنې او نه هم د تفريح حق لرو، ټولګی رخصـت شـي او موږ بېرته له خپلو دوسيو سره دفتر ته راشو، جالبه خو لا دا ده چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

غونډې په پای کې کله کله جمهور رييس پر موړه په موسکې بڼه غږ وکړي چې ګورئ تاسې داسې فکر و نه کړئ چې زه دلته معلم يم او تاسو شاګردان، چې زه يوازې ليکچر درکوم او بس، خو څه وکړو دلته ځيني داسې مسايل شته چې په واضح ډول بايد پرې يوې نتيجې ته ورسېږو او بيا پرې د يوې اجماع په شکل تصميم ونيسو منتها تصميم بايد دسته جمعي وي .

دا زموږ د حکومت د لوړې مرجعې دکاري غونډې د يوې برخې تصوير و، داسې نور رنګين انځورونه بلا ډېر دي چې پر خپل وخت به يې تر خپله وسه انځورنه وشي!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جمهوریت که بربریت ؟

**دا لیکنه د ۲۰۲۱ م کال د جنورۍ میاشتې پر (۲۹) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د سلواغې میاشتې له (۱۰) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

جمهوریت د خلکو له خوا د خلکو په رایه د حکومت ټاکل دي، دا حکومت خلکو ته د خدمت او ځواب ورکولو مسولیت لري. جمهوریت د بیان ازادي ده، جمهوریت د اتباعو تر منځ د حقوقو تساوي ده، جمهوریت د قانون حاکمیت دی،



جمهوریت غلا نه ده، جمهوریت لوټ او تالان نه دی، جمهوریت د څو محدودو هلکانو په لاس د واک انحصار نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی، جمهوریت کې دروغ نه شته، جمهوریت کې خیالي ژمنې او هوایي دهلېزونه نه شته، جمهوریت کې د ولس تېرایستل نه شته، جمهوریت د هر ابهام لپاره د سپیناوي لاره ده، جمهوریت د خپل واک د بقا لپاره پر جنګسالارانو ډډه لګول نه دي، جمهوریت پر ګاوندیو د خاورې پلورل او له هغوی سره پټې معاملې نه دي، جمهوریت د غوړه مالۍ او کنځلمارۍ ترویج نه دی، جمهوریت د خپل کلتور تر پښو لاندې کول نه دي، جمهوریت کې د جمهور رییس مېرمن له جمهور رییس سره موازي او نامسولیته صلاحیتونه نه لري، جمهوریت کې د هېواد د عزت او هویت دښمنان د هېواد پر حساسو رګونو واکمن نه



وي، لنډه دا چې جمهوریت سرېتوب او سوکالۍ ته در سېدو یوه غوره لاره ده. خو راځو دې خپل جمهوریت ته چې دا پر کومو عملي معیارونو ولاړ دی؟ دلته خو چې تر ټولو مظلوم واقع شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه همدا بېچاره جمهوریت او د هغه همدا اساسي قانون دی او تر ټولو زیات چې توهین شوی او تر پښو لاندې شوی، هغه خپله پر همدې قانون د قسم خوړلي جمهور رییس له خوا شوی دی، دویم د خلکو رایه ده چې کمه وه که زیاته خو دواړه ځله یې د باد بنکه کړه، درېیم ژمنې او دروغ دي چې له شـــرعي او ټولنیز پلوه هېڅ جواز نه لري، خو دلته د دولتمشر له خوا داسې کارول کېږي، لکه د ډوډۍ خوراک، نو هغه جمهوریت چې غلا، فساد،



دروغ، ناامني، جګړه او د مقام د ساتنې لپاره غوړه مالي په کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیاسي کلتور یوه برخه وي، هغه به جمهوریت وي که انارشي؟ هغه جمهوریت چې شلکلن غله او دېرشکلن جنګسالاران یې د بدن اساسي غړي وي، (( مسعود شناسي او مزاري شناسي )) یې د بقا او وحدت محتوا وي، له پنجاب سره یې د قدرت دبقا په خاطر پر خپله خاوره د اغزن تار پر تېرولو رضا وي، دوستم غوندې جنګسالار یې د دولتمشر په لاسلیک مارشال وي، محقق غوندې مېخکوب یې امنیتي سلاکار وي، علیپور، شجاعي او قیصاري غوندې جګړه ماران یې بیا سیمه ییز اتلان وي، د طالبانو استادان؛ د جهادي تنظیمونو اکثره مشران یې د واک شریکان او مفتیان وي، د جګړه مارو تنظیمونو اصلي مهم لوبغاړي یې د دولت مرستیالان وي، نو دا به جمهوریت وي که کوم بربریت؟ دا خپله د بربریت یو ډول دی، کېدی شي یوازې د نظام فزیکي اډانه یې، چې هغه هم د بهرنیانو، په تېره بیا د امریکایانو په پوځي زور راټینګه ده، د جمهوریت شکلي بڼه ولري، نور نو دا جمهوریت په دې روان حالت له بربریت او انارشۍ، لوټ او تالان نه پرته بل څه نه دي.

د دولت دربکوني ارګانونه چې پر یو بل د غلا تور پورې کوي، نور نو بل کوم ثبوت ته اړتیا ده؟ پارلمان وایي چې جمهور رییس، ارګ او واکمن ټیم یې غلا کوي او له هېواده پیسې او پانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وباسي، حکومت وايي چې د پارلمان غړي کمېشنکاري کوي، په غلا او فساد کې شريک دي، پر عدلي او قضايي ارګانونو هم د فساد او رشورت تورونه لګېږي، ولس خو له درېواړو تر پوزې راغلی، نو بيا دا څوک پاتې شول چې ولس پر هغو ډډه ولګوي؟ اوس د نتيجې په توګه ويلای شو چې همدغو دروغجنو او فسادګرو هم جمهوريت بدنام کړ او هم يې د بربريت تر پولو رساوه. دوی ظاهراً د جمهوريت چغې وهي، خو په حقيقت کې د مدنيت په لباس کې مافيايي بربريان دي، د هدغو پرديپالو غلو او زورواکو د واکمنۍ تداوم دی چې د طالبانو غوندې د يو سخت دريځه حرکت بيا راټوکېدو ته يې بستر برابر کړ. يو ځل مخکې هم د همدې شر او فساد د اعمالو په نتيجه کې دې تحريک سر را پورته کړی و او اوس يو ځل بيا دې شکلن شر او فساد ورته د بيا ظهور لاره اواره کړه. د يادونې وړ ده چې کرزي او غني په تېرو شکلونو کې، کرزي تر ډېره او غني تر يوه حده د واک سمبوليک رول لرلی دی، نور نو د واک اساسي بدنه هم پخوا او هم اوس د جنګي تنظيمونو او فسادګرو په واک ده، که طالبان نه وای هم، يو بل ملي حرکت به ضرور د جمهوريت په نامه د دې روان وحشت پر وړاندې را پورته کېده، خو اوس د ملت بدمرغي دا ده چې يوه بې شرمه تفريط يو سخت دريځه

(c) ketabton.com: The Digital Library

حرکت وزېړاوه، که چېرې له کوم سـیاسـي تدبیر پرته په انقلابي ډول یو افراط د بل تفریط ځای ونیسـي، نو تېر تاوجن تاریخ او ناورین به یو ځل بیا تکرار شـي. د ملت ویښـو روانډو ته خو په کار وه چې د دې افراط او تفریط تر منځ یې پر یوې درېیمې ملي او معتدلې لارې فکر کړی وای، خو په خواشـینۍ سـره چې دا قشـر هم سـره وېشـلی او پاشـلی دی او یو پامونږ شـمېر یې د دې کـاذب جمهوریـت، د ډاکتر غني پر افراطي سـتاینـه او د خپلو ځوکیو پر ساتنه مصروف دي. اوس دې نو دا مظلوم ملت یوازې د خدای مهربانۍ او د زمانې د کوم چانس ترحم ته انتظار کاږي او بس.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کنځلماري او زورواکي

دا ليکنه د ۲۰۲۱ م کال د جنورۍ مياشـــتې پر (۳۰) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د سـلواغې مياشـتې له (۱۱) مې نېټې سـره سـمون خوري، نشر شوې ده.

(ځوک يې چې اوسېله نه لري دا ليکنه دې نه لولي )

هر کله چې د چا منطق کمزورى شـــي، نو ژبه يې کنځلو ته اړم شي.

يوه يوه نيمه لسيزه مخکې خلکو داسې فکر کاوه چې شر، فساد او زورواکۍ پـه حکومـت کې ريښــــې ځغلولي، نو دا کـار هم د اصــلاحاتو مخه نيسـي او هم په اوږده موده کې د حکومت او ان د نظام د ړنګېدو سـبب ګرځي، خو له تېرو اوو کلونو راهيسـې د کنځلمارۍ په نوم يو بل مکروب هم له تېرو ناخوالو سره ملګری شـو، اوس له يو شـمېر سـپانسـرشـويو کنځلمارانو سـره يو شـمېر نوي اومغلن احسـاسـاتي کنځلماران هم ملګري شـوي او غواړي له ډېرو شـــعوري او ملتپالو افغانانو څخه د حقيقتونو د بيان حق واخلي، دا کنځلماران په واقعيت کې ډېر نه دي، خو د مســـتعارو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایډیانو له لارې غوارړي مجازي فضـــا ګرمه کړي او پر حقیقتونو خاورې واړوي، زموږ یو شـمېر کارپوه خلک هم د خپل عزت او هم د خپل شـخصـي حریم د خوندیتابه لپاره د ډېرو واقعیتونو له بیان څخه ډډه کوي او په دې ډول د نن ورځې ترخه واقعیتونه د راتلونکي تاریخ له حافظې څخه فنا کېږي.د کنځلمارانو منطق به هغه وخت در معلوم شـي چې سـتا د لیکنې د یوې برخې ان د




یوې جملې لپاره هم د رد دلایل و نه لیکي، ان لیکنه په معکوس ډول تعبیر کړي، خو بس د خور، مور، مېرمنې او اولادونو کنځلو ته به یې ژبه ارم کړي وي.دوی فکر کوي چې بس نو دا مبارزه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شـوه او پر دې به پاني پت فتح کړي، دې کې بیا داسـې اشـخاص هم شامل دي چې عادي املا او انشاً يې هم سمه نه ده. خو خیر په هر ترتیب دا اوس زموږ د ټولنې د واکمنو سایستوالو تولیدات دي، باید دسمون لپاره يې هڅه وشي د تخریب پر وړاندې يې له پوره زغم او مقاومت څخه کار واخیسـتل شـي. زموږ یو شـمېر مطرح هېوادوال دکنځلو له داسې بهیر سره مخامخ شوي او زه هم څو ځله له دې ډول یو حالت سره مخامخ شوی یم او بیا يې هم احتمال شـته چې له دې ورته حالاتو سـره مخ شـم. خو زه خپلو هېوادمینو هېوادوالو تـه ډاډ ورکوم، چې هېڅکلـه بـه د حقیقت له بیان څخه ډډه و نه کړم .

څو سـاعته وړاندې مې د ( جمهوریت که بربریت ؟) په نوم یو لینکه خپره کړه، نو سـملاسـي ورسـره دکنځلو باران پیل شـو، د لیکنې اصـلي محتوا دا ده : داکوم کسـان چې اوس د جمهوریت ډېرې چغې وهي دا جمهوریـت تـه ډېر ژمن نـه دي، د همـدې جمهوریت تر نامه لاندې غلا، لوټ او تالان روان دی، دا فسـاد او تفریط به ددې سـبب شـي چې د طالبانو په نامه د یو سـخت دریځه حرکت واک ته لاره اواره کړي، په لیکنه کې په ډېر دقت سـره ویل شـوي چې د جمهوریت په نامه د خور شـوي فسـاد اوسـنی تفریطي حالت او بیا يې په انقلابي ډول یو افراطي حالت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته ځای پرېښودل، نه د جمهوریت، نه د نظام او نه دولس په ګټه دي. نو ځکه یې باید پر ځای یوه ملي او معتدله لاره خپله شي، چې هېواد یو ځل بیا تېر ناورین ته ستون نه شي.

هېڅ کنځلمار لیکنه نه په دقیق ډول لوستې او نه یې د رد لپاره منطقي ځواب ور کړی دی. له دې کنځلو څخه څو مسایل څرګندېږي چې دلته ورته په لنډ ډول نغوته په کار ده:

۱–په حکومت کې خاصې کړۍ شته چې د ښکنځلو لپاره یې یو شمېر اشخاص ګومارلي او په دې ډول هڅه کوي د شعوري افغانانو له خوا د حقیقت د غږ مخه ډب کړي.

۲ –هر مخالف ناوسلوال سیاستوال او قلموال باید دومره توهین شي او ناموسي کنځلې ورته وشي چې بل قلموال بیا د حقیقت بیان ته زړه ښه کړي.

۳–له خلکو څخه باید لاره ورکه شي، د هېواد غدار او خدمتګار باید و نه پېژندل شي.

٤ –حکومت کې جاري فساد باید پټ پاتې شي، خلکو څخه د نظام او مفسدو چارواکو تفکیک ورک شي، نظام مانا غني، نظام مانا دوستم، محقق، صالح او د حکومت نور فاسد چارواکي او جنګسالاران.که د دوی نوم دې واخیست مانا نظام دې تخریب کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵–اصــــلي وطن پلوري، ډيورند خرڅي، معاله ګر، پنجاباپالي هم بايد خلکو ته د پاکستان ضد څېرو په توګه معرفي شي او رښتينې هېوادپالي او پنجاب ضد څېرې بايد په معکوس ډول معرفي شي، يانې د غله پر ځای د کورخاوند د غله په توګه معرفي شي.

٦ –د اساسي قانون او د جمهوريت له اصولو سرغړاوي څخه بايد د خلکو پام بلې خواته واړول شي.

۷– خپله هره نيمګړتيا پر مخالف لوري بار شي.

۸ –غلا، فساد او بې مسـوليتی ته پر همدې ډول ادامه ورکړل شــي او دېته ورته نور رزالتونه د دې پالييســی يوه برخه ده او دا ټول د نومورکو، نومبدلو او بې هويته کنځلمارو په خولې تر سره کېږي، نو که دا خبره نه وي زما په تېره لينکه کې څه وو؟ چې کنځلمارو د کنځلو خولې خلاصې کړې ؟؟ هر څوک حق لري دا ليکنه رد کړې، خو چې کنځلو ته اړم يې مانا منطق نه لرې.

انتقاد خپله د جمهوريت يو اصــل دی، نو دلته عجب جمهوريت غوښتونکي دي، د نورو د مودب انتقاد حق ته هم د دکتاتوری او کنځلماری په ژبه ځواب ورکوي او بيا دا نومېتي کنځلماران څوک دي چې له ما څخه جمهوريت ګټي ؟؟، ما چې کله د جمهوريت لپاره مبارزه کوله هغه وخت اشــرف غني احمدزي له ډاره سونږ هم نه شو کولای او دغه کنځلماران کېدی شي اکثره

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې دنيا ته راغلي هم نه وو.زما د ليکنې په مقابل کې داکنځلې خو دا مانا لري:حکومت کې فســـاد نه شـــته او عمري عدالت چالان دی، دوســـتم، جنرال مالک ډېر ښـــه خلک دي؛ هېڅ جنايت يې نه دی کړی، نظار شـــورا او نور جنگي تنظيمونه او رنگارنگ فســـادگر په حکومت کې هېڅ ونډه نه لري، ټول له مخې ښه خلک په حکومت کې راټول شوي؟ پر ډيورند کرښه او اغزن تار حکومت معامله نه ده کړې او پر ضـــد يې بغاوت کړی، محقق، خليلي او نور ايرانپپالي د اوســـني حکومت ونډوال نه دي؟ حکومت کې هېڅ فســـادگر او رشـــوتخور ځای نه لري؟ هر ځای کې امن وامان دی او حکومتي چارواکو له ځانه ســـيميټي ديوالونه نه دي راتاو کړي؟ دولتي څوکۍ بولۍ ته نه وړاندې کېږي؟ او داســـې نورې ســـواليې؟ که دا ټولې نيمگړتياوې په حکومت کې نه وي، نو بيا خو هر څه گلي گلزار دي، نو د همدغو کنځلمارو وارخطاينه بيا په څه ده؟ بيا خو له کنځلو پرته هم خلکو ته همدا عمري عدالت ځواب ويلای شي.

اوس راځم لږ شخصي بحث ته، د ښاغلي داکتر اشرف غني او خپل ځان پرتلنې ته :

زه د ښاغلي شخصيت ته درناوی لرم او پر (٢٠١٤ م)کال ما او زما ملگرو د هغه په برياليتوب کې اساسي نقش لرلی دی، هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نړۍ په کچه يو غټ عالم دی او زه د هېواد يو عادي کملوستی او کمسـواده وګړی، خو دا خبره هم په ډاکه او په زغرده کوم چې زه پر دې وطن څومره دردېږم او کړېږم او څومره مې پرې ژړلي، د غني ټول احسـاس زما د درد او احسـاس زرمې برخې ته هم نه رسـي. زه دا اعتراف هم کوم چې تر څلوېښـتو کلونو، زده کړو، تدريس او تجربې وروســـته پر دې پوهېږم چې پر هېڅ شـــي نه پوهېږم، خو غني صـــيب تـه لا هم نور مزل پـاتې دی چې دې مرحلې ته ورسـېږي او يا دی پرې اعتراف وکړي. ما هغه وخت د جنګســـالارانو پر ضـــد مبـارزه کولـه چې غني لا د همـدې جنګســـالارانو، چې همدا اوس د ده په واکمنۍ کې مزي کوي، له وېرې وطن ته نشـــو راتللی. ما د زورواکو د حاکميت پر مهال د هغوی پر وړانـدې بغـاوت کړی و، خو غني د خپـل حـاکميـت پر مهال هم له هغوی سـره د ايتلاف لمن ونيوه. ما د اسـاسـي قانون پـه لويـه جرګـه کې د قـانون جوړونې او جمهوريـت لپـاره مبـارزه کولـه، خو غني او ده تـه ورتـه نورو وزيرانو، چې هغـه وخـت د انتقالي اداري غړي وو، د خپل ځان لپاره تېشـه وهله. هغه وخت يې چې له دوستم سره د اساسي قانون د ځينو مادو د تعديل لپاره معامله کوله، ما او ځينو نورو هېوادوالو يې مخه ونيوله.تر اوســـه مې د خدای په فضـل هېڅا سره کړې ژمنه تر پښو لاندې کړې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده او ضرور مې عملي کړې ده او غني بيا داسې شخص دی چې زما په شمول يې ګڼو افغانانو سره خپلې ژمنې څو څو ځله تر پښو لاندې کړي، دا چې ځينې وايي دا کار دې د غني له برکته په نصــيب شــوی؛ تلوېزيون دې د غني له برکته جوړ کړی، مېرمن دې د غني له برکته پارلمان کې ناسته ده او داسې نور.. او ساده مخلوقه! غني زموږ له برکته جمهور رييس دی، همدا ژوندون تلوېزيون و چې پر (۲۰۱٤ م) کال يې د غني په بريا کې اساسي نقش ولوباوه، درې ځله د غني د کمپاين په تور جريمه شـــو، زما مېرمن د غني تر واکمنۍ وړاندې دوه دورې د ننګرهار د خلکو منتخبه وکيله وه، غني چې څومره موږ ته په خپله واکمنۍ کې زيان اړولی، هېڅ هم دومره نه يو کړولي، خو موږ بيا هم ځان ځکه غلی نيولی و، چې تر ځينو جنګســـالارانو بيا هم ښـــه دی، موږ فکر کاوه چې د غني افراطي مخالفت به د نظام د کمزورۍ او د زورواکۍ د بيا غوړېدو سـبب شــي، موږ زورواکي او د نظام خلا تجربه کړې وه، هغه درد چې موږ حس کړی دی، هغه نه غني او نه يې کورنۍ احســـاس کړی دی. دا منم چې د غني نړۍ پېژندنه به تر ما غوندې خلکو څو ځله زياته وي، خو دا به هم بې انصـــافي وي چې څوک دې داســـې فکر وکړي چې د هېواد پر کورنيو او نړولنيزو تعاملاتو کې دې دی تر موږ زيات ژور پوهېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او یا دې زیات دردېږي. دا د قدرت د وخت ملېمانه دي، هوایي مرغان دي چېرته یې ښه او هلته یې شپه، خو زه د خپل وطن درد هېڅکله نه شم هېرولی.

زه د ټولنې یو عادي انسان یم، ما او زما په شان هېڅ بل څوک له هېڅ واکمن جمهور رییس سره مه پرتله کوئ، تاسې کولی شئ د واک تر مودې وړاندې هغه وخت چې اشـــرف غني احمدزی په داخل او خارج کې د پوهنتون اســتاد و او زه یون چې د پوهنتون استاد یم، موږ سره پرتله کړئ؛ افغانستان ته مو کړي کارونه سره پرتله کړئ، دا ډېره ســـتوغه خبره ده چې یو ســـړی دې په خپله ځان بل چا سـره پرتله کړي او خپل ځان دې خپله وستایي، دا به یوه تـاریخي قضـــاوت او نـاپیېلې پرتلنې تـه پرېږدو، خو د هغو کنځلمارو پر حال هم افســوس په کار دی چې یو چا څلوېښـــت کاله د دې وطن پر هر درد او ټپ ژړلي وي او بیا یوازې د څو ورځو واکمن ته د غوړه مالۍ په خاطر هغه وښکنځل شي، له دې څخه د پښـتانه قوم د لوسـتو او نیملوسـتي قشـر د سـیاسـي او اجتماعي شعور کچه او د منطق ضعف هم ښه معلومېږي، چا چې نن مـاتـه کنځلې کړي، ډېر ژر بـه یې ځـان تـه هم وکړي. خبرې ډېرې دي خو دلته یې نورې را غوټه کوم، زه داسې افغان پښـتون یم چې د چا پـه څو ســـپوره خبرو او کنځلو لـه خپلـه هوډه نـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تېرېږم، له حقیقته سترګې نه پټوم، ما چې هغو ترخو جنګسالارانو سـره ډېرزولې، نو داکنځلماران یې لا د چا زامن دي؟ زه داسـې پښتون هم یم چې چا ته خپل غچ پرېږدم، په تلو تلوکې دا خبره کوم چې هر چا چې ما ته هر ډول ترخې خبرې او کنځلې ډالۍ کړې وي، د بودا په خبره دا ډالۍ ما قبوله نه کړه او نه مې د ځان لپاره مناسبه وبلله، نو ستاسو دا ډالۍ بېرته تاسې ته ډالۍ شوه، خوښـه مو چې خپل ځان ته یې ډالۍ کوئ، که د خپلې کورنۍ غړو؛ مور او پلار ته او یا هم که خپل بابا ته مو، خو که د کورنۍ غړو ته یې ډالۍ نه کړئ، ښـه به وي، ځکه کېدی شـي هغه درانه خلک وي او قبوله یې نه کړي، نو تاسو یې خپل ځان او خپل بابا ته خوښه کړئ او که ځان او بابا ته مو هم مناسبه نه ګڼئ، نو بیا یې هېچاته مه ډالۍ کوئ ځکه چې دا ډالۍ بیا پر ډالۍ نه ارزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فاطمیون د ارگ تر څنډو

**دا لیکنه د ۲۰۲۱ م کال د جنورۍ میاشـــتې پر (۳۱) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د سـلواغې میاشـتې له (۱۲) مې نېټې سـره سـمون خوري، نشر شوې ده.**

کېدی شي یو شمېر هېوادوالو ته لا تر دې دمه د فاطمیونو رینبـه او انګېزه پوره معلومه نه وي، نو ځکه غواړم دلته یو څو لنډې څرګندونې وکړم:

## د پنځېدو انګېزه :



د ایران د سپاه پاسداران ډله تر ایرانه بهر د پوځي فعالیتونو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ((سپاه قدس)) په نامه یوه پوځي او تروروستي ډله لري. دا ډله په لبنان، یمن، عراق، سوریې او یو شمېر نورو عربي هېوادو کې فعالیت لري، قاسم سلېماني د دې ډلې مشر و. دا پوځي ډله بیا د (( مدافعین حرم)) او (( دفاع حرم اهل بیت)) په نوم نورې ډلې لري، چې یوه ډله یې همدا ( فاطمیون) یا ( لشکر فاطمیون) ده.

## د جوړېدو نېټه:

د فاطمیون لښکر د (۱۳۹۰ او ۱۳۹۲ ل)کلونو په بهیر کې د همدې قاسم سلېماني له خوا جوړه شوه، لومړنۍ مشر یې (علي رضا توسلي ) و چې پر (ابو حامد) هم مشور و، نوموړی بیا پر (۱۳۹۳ل)کال ووژل شو .

د جلب او جذب سرچینې :

د فاطمیونو لښکر اکثره غړي هغه افغان شیعه ګان دي چې په ایران کې اوسي، خو له کابل، بلخ، بامیانو او ځینو نورو شیعه مېشتو سیمو څخه هم ورته دلته د ایران پلوه سیاسي ډلو په وسیله افراد ور جذبېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## امتیازات :

د دې ډلې غړو ته د ایران حکومت له خوا، ایرانۍ تذکره، اقامه، میاشــتنی معاش او تقاعد ورکول کېږي، د وژل شــویو کســانو د تدفین مراســم او د کورنیو د غړو پالنه او ځینې نور ســهولتونه هم په دې امتیازانو کې شامل دي.

## د فعالیت ساحه :

د دې ډلې عسکر په عراق، یمن، سوریې، لبنان او ځینو نورو عربي هېوادو کې جنګېدلي، خو افغانستان کې یې هم د طالبانو پر ضد جګړه کې برخه اخیستې ده، خو په تېرو شپږو اوو کلونو کې یې د جګړې زیات تمرکز په ســوریه کې د حکومت مخالفو ځواکونو پرضد پر جګړه راتېول و.

## شمېر:

دا یوه لویه عسکري لوا ده چې ثابت تشکیل یې اتلس (۱۸) زره پوځیان دي، خو ویل کېږي چې (۳۷) زرو کسانو ته یې هم شمېر پورته شـوی او که ټول کارېدونکي او کارول شـوي اشـخاص یې محاســبه شــي، نو شــمېر یې تر پنځوس (۵۰) زرو کســانو هم اوړي، چې له دې جملې څخه یې په سوریه کې تر لس (۱۰) زرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنو زيات وژل شوي او تر دې زيات نوريې ټپيان شوي دي.يانې کلني تلفات يې څه کم دوه زرو تنو ته رسېږي.

**لګښت:**

د دې لښــکر د هر غړي مياشــتنى معاش تر دوه نيم مليونه تومنه رســيږي يانې د شــپږ ســـوه او پنځوس (٦٥٠)امريکايي ډالرو



شـاوخوا کې. د دې لوا د فعالو عسـکرو مجموعي کلنى لګښـت تر (دوو مليـاردو ډالرو) زيـات دی.يـانې زموږ د کورنيو چـارو وزارت تر ټول کلني لګښته هم څو ځله زيات.

اوس راځو دېته چې دا لښـــکر افغانســـتان کې څه کوي؟ څه به کاندي؟ او هېواد ته به يې خطر تر کومې کچې وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پوځي خطر:

دا لښــکر همدا اوس په میدان وردګو او نورو ســیمو کې عملاً له یو شــمېر ځایي خلکو، کوچیانو او حکومتي عســکرو ســره پر جګړه بوخت دی، حکومت یې لا تر دې دمه په مهار او بې وســلې کولو کې پاتې راغلی او دا ډله لا حکومت او ارګ ته اخطارونه رالېږي.

## د فاطیمونو سیاسي ملاتړي :

افغانستان کې د فاطمیونو خطر ځکه زیات انګېرل کېدی شي چې د حکومت په داخل کې له ســیاســي، قومي، مذهبي او ان پوځي ملاتړه برخمن دي. دې ډلې دلته د سیمه ییزو حکومتي پولیسو او پاځونوالو په توګه له حکومته د رســمي یونیفورم، لباس او وســلې جواز تر لاســه کړی، له معاشــه هم برخمن دي او ان له عدلي او قضــايي ارګانونو د معافیت وس او وســایل هم لري.

ســرور دانش د جمهور رییس دویم مرســتیال او اوســنی امنیتي ســلاکار (محقق ) په ښــکاره ډول د دې ډلې ملاتړي دي، یوازې توپیر په دې کې دی چې دوی علیپور او نور وســلوال جګړه مار د فاطمیونو په نوم نه یادوي، نوره محتوا خو هماغه ده.

نه یوازې یاد کسان، بلکې د خلیلي او محقق په مشرۍ د وحدت حزب دواړه ډلې، د هغوی اړوند حکومتي منســوبین، په پارلمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې ناســـت د غزني يوولس ناقانونه وکيلان او نور اکثريت هزاره وکيلان په مستقيم او نامستقيم ډول د فاطميونو د لښکر ملاتړي دي. څرنګه چې محقق او دانش دواړه په ارګ کې د امنيت شورا په غونډو کې حضــور لري، نو ځکه خو ويلی شــو چې فاطميون اوس عملاً ارګ ته داخل شــوي او يا لږ تر لږه دارګ څنډو ته رسېدلي دي.

## راتلونکی پلان او ګواښ:

ښــاغلی غني فکرکوي چې هزاره توکمو مشـــرانو ته به د زياتو دولتي امتيازاتو او د هغوی د همدې مليشه يي او قومي ځواک په وسيله پر طالبانو او امريکايانو فشار راوړي چې ګنې غني د خپل واک د تداوم لپاره نور بديلونه هم لري، خو د ده ســر لا هم تر دې دمه د دې جنګېدلي ډلې پر ســياســي مهارتونو او چلونو خلاص نه دی. دا ډله د امتياز لپاره هرې بېشـــرمۍ ته تياره ده، چې وخت يې راشي د نوک پر ځای سوک منډي، له ايران سره ځانته لاره لري له امريکې ســره ځانته. محقق پر خپل او د دانش پر امتيازاتو ســـربېره دکورنيو چارو، دفاع، ماليه وزارتو ترڅنګ په نورو وزارتوکې هم يو يو معينيت او ځينوکې مهم رياســـتونه غواړي. دا به هم خوندي کړي، په پوځي تشکيلاتوکې به د قومي مشــارکت له امله همدا ملېشــې هم ځای پر ځای کړي او بيا کله

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې پر غني فشار زيات شو له خوربې ګوتې به يې ونيسي او نور امتياز به هم ترې واخلي او که د غني د ګوښه کېدو حالت محسوس شو، هغه به د فاشيست په نوم پر سپين ميدان يوازې پرېږدي او دوی به په حکومت کې او له حکومت څخه بهر د يو قوت په توګه پاتې شي؛ بيا به دنيا، طالب او يا کوم بل قوت سره د اينده حکومت په باب د يو جهت په توګه مطرح وي. داسې احتمال هم شته چې د ايران له خوا په قصدي ډول د داعش په نامه د تېر په څېر د شيعه ګانو پر څو مرکزونو بريدونه وشي او غني دې ته اړ کړي چې د هغو سيمو د ساتنې لپاره د پخوا په څېر سيمه ييزې شيعه ملېشې منظورې کړي او همدا د فاطميونو ملېشې به بيا د ايران د بهرنيو چارو د وزير په اصطلاح حکومت سره د سيمه ييز امنيت په تامين کې مرسته وکړي !؟

## حللاره هم شته که نه شته؟

حل لاره شته، اوس هم لا ناوخته نه دی، غني او په حکومت کې د هغه اړونده برخه دې د فاطميونو د ملېشو، چې اوس يې د شجاعي، عليپور او نورو په وجود کې تصوير ښکاره کېږي، پر وړاندې غوڅ اقدام وکړي، بې وسلې دې کړي او د قانون منګولو ته دې وسپاري. محقق او نور تنظيمي جګړه ماران دې بېرته پر کور کېنوي، د هزاره قوم د راضي کولو ټول مسوليت دې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدي بې رايو معاونيت په امتياز، ســـرور دانش ته وســـپاري. له طالبانو سره دې د سولې خبرې رښتيني مسير ته ورسمې کړي، پر هيت دې له سره غور وکړي، د دوستم د جنبش، نظار شورا او وحدت ډلې پر ملېشو دې ډډه نه لګوي، د مسعود شناسۍ او مزاري شناسۍ شعارونه، چې اصلاً د فساد لوټ او بربادۍ محتوا ګنـل کېږي، دا ټول دې يوې خوا تـه پرېږدي، د افغـانيـت او اســلاميت لاره دې خلاصـه کړي، پوځ دې ژر تر ژره له تنظيمي مکروبونو پاک کړي، که داسې نه وي، نو دی خپله د فاطميونو د لښکر يو اصلي پالونکی او زمينه برابروونکی ګڼل کېږي او ملت ته د زيان تر څنګ به يې ده ته هم زيان ورســـي، خبره به د ډاکتر نجيب برخليک ته ورته يو حالت ته ورسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# له سمو عنوانونو ناسمه ګټه اخیستنه

**دا لیکنه د ۲۰۲۱ م کال د جنورۍ میاشـــتې پر (۳۱) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د سـلواغې میاشـتې له (۱۲) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

یوه کلیواله او نالوستې سیمه کې یو سړی اوسېده، نوم یې (اسلام) و. د سړي نوم که څه هم ډېر ښکلی و، خو ده کې یې د نوم هېڅ ډول خصـــوصـــیات موجود نه وو، د خلکو ځمکې یې په زوره نیولې، خلک یې ټکول، له هر چا سره به یې دعوه وه، ان چا چې



به کوژده او واده کول، ده به له طرفینو خپل قلنګ اخیســـت، کمیس او بدن، ورون او پرتوګ به یې په جنګ اچول، زامن او وربرونه یې هم ټول بدماشان وو، چې چا به سونګ وکړ، نو اسلام به خپل کورني لښکر ته امر وکړ، سړي به څو ځان خوځاوه، مخ او څټ به یې د اسلام لښکرو سره یو کړی او بیا به یې په کنځلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کنځلو د کور پر وره ور دننه کړی و. که چا به کله هم دې کې د اسلام نوم لړ په بده یاد کړ چې اسلام داسې دی او یا هسې، نو دې کې به د اسلام زامنو او وریرونو هغه سړی له ستوني را ونیو چې اســـلام ته توهین کوې، ته دخدای دین ته کنځلې کوې، ته مطلق کافر شوې، سړي چې به څو خوله منطق ته جوړوله چې نه وروره د خدای دین (اسلام ) نه ښیم، دغه بل اسلام یادوم، نو دوی به ترې د بوسو خوسی جوړ کړی و. د اسلام له اعمالو ټول کلی تر پوزې راغی، خو چا سونږ نه شو کولی، اسلام چې کلیوال



ښه وځپل، نو تر هغه وروسته یې ورور سره شخړه راغله، ورور یې هم تر پوزې راوســـت، ټوله ځمکه او جایداد یې ترې ونیول، ورور یې هم مجبور شو، له زامنو سره یې تر مصلحت وروسته اسلام له اوجرتي قاتلانو سره اجاره کړ، کله چې اسلام د کلي په مسجد کې د ماسخوتن تر لمانځه وروسته د کور پر لوري روان و، قاتلانو په تبرګیو ټوټې ټوټې کړ او په یوه بوجۍ کې واچوه، کله

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې اسلام مړ شو کلیوال زړه کې ډېر خوشاله شول او کلي کې خلکو ایله د ارامۍ تنفس وکړ. اوس نو دلته یو شمېر خلکو او خپله مفکر صیب د جمهوریت له ښکلي نامه څخه همداسې یوه وسیله جوړه کړې ده : غلا، لوټ، تالان، بې عزتي، شر او فساد، ناامني، زورواکي او لاقانونیت خپل اوج ته رسېدلي دي ،بربریت، وحشت، فقر او تنګلاسي په څپو دي، چې ورته ووایې وه وروره دا خو جمهوریت ضد عمل دی، دې یوه کار ته خو هم په جمهوریت کې اجازه نه شته، نو یو دم یې کنځلمار برېڅي کنځلو ته اړم شي چې هلئ دوی خو امارت غواړي، دوی خو موقت حکومت غواړي، هلئ چې دا د پنجاب خبره ده، هلئ چې دا دایران خبره ده او دوه زره سپېروني به سره یو ځای کړي، وه وروره د ایران او پاکستان تالیخټي خو همدا اوس تاسو په حکومت کې کېنولي، پټې او ښکاره معاملې خو تا ورسره رواني کړي، اغزن او زهرجن تار خو یې ستا په واکمنۍ کې زموږ دملت پر سینه تېر کړ، خو چاته یې وایې؟

دا خپله د جمهوریت نسخه ده چې موږ یې یادونه کوو، موږ د همدې نسخې عملي کېدل غواړو، همدا درمل د مفکر د ناقانونه کارونو، نا مشروعو ایتلافونو، د بیت المال په پیسو د جنګسالارانو د پاللو، د بې ځایه ګومارنې او شر او فساد د ځالو د ړنګونې تر ټولو ښه درمل دی. امارت، خلافت او نور چې څوک غواړي هغه خپل مدعیان لري هغه کې خو به د کلي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلام په شان ته غير له هغې هم نه يې، خو مور خو د جمهوريت په چوکاټ کې د عدالت تامين غواړو. عجيبه بې خونده زمانه ده؛ اوس مور ګورو، افغانيت له بې بې ګلې، اجمل احمدي او نورو ټاميانو ځخه زده کړو، معياري ژبه او د شعر ښه خوره دکلمه له ښاغلي غني ځخه زده کړو، انساني معيارونه له دوستم، محقق، عليپور ،قيصاري، شجاعي، نظار شورا، وحدت، جنبش او نورو واکمنو تنظيمونو ځخه زده کړو، د وطني اخلاقو د پاللو لپاره د مسعود شناسۍ او مزاري شناسۍ کورسونه ونيسو، بيا به نو مور په اســـاســـي مانا د جمهوريت پالونکي يو او کنه اوس خو د جمهوريت مخالفين يو او دوی يې نو سرسخت پلويان !؟

اصلي خبره دا ده چې که غواړئ جمهوريت دوام پيدا کړي، نو دا پورته ياد توليدات او مکروبونه يې بايد له رګونو لرې شـــي او يا يې درملنه وشـــي، چې هم جمهوريت ټينګښـــت ومومي او هم د خلکو غوښـــتنو ته ځواب ووايي، نو که د جمهوريت په نامه لوټ او تالان همداســـې روان وي، نو بيا خو ورو ورو خبره خپله وحشت او بربريت ته برابرېږي، لکه څنګه چې برابره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په نوبت نوبت روان دي کاروانونه

**دا ليکنه د ۲۰۲۱ م کال د فبرورۍ مياشـــتې پر (۲) يمه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د سـلواغې مياشـتې له (۱٤) مې نېټې سـره سـمون خوري، نشر شوې ده.**

د جمعيت اصـــلاح تنظيم پر جوړښـــت او د ځينو غړو پر فکري محتوا يې زه هم د ځينو نورو افغانانو په څېر خپل ملاحظات لرم، خو دا فکري توپيرونه هېڅکله هم دومره متضـاد او د اهميت وړ



نه دي، چې موږ دې پرې له انسـاني او اسـلامي ارزښـتو تېر شـو، انســـان د تعميل، ترميم، تغير او بدلون وړ دی، هېڅوک حق نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري چې د چا د فکري مسـیر په خاطر د هغه د ژوند پر رګونو د مرګ چـاړه راکـاږي. دوکتور محمـد عـاطف د هېواد يوه لويـه علمي ستړه وه، شهادت يې ټول ولس ته يوه لويه علمي ضايعه ده، د داسې انسانانو پر قدر هغه وخت سړی پوهېږي چې دی نه وي او خلا يې هم څوک ډکولای نه شـي. اسـتاده، دوکتوره، عالمه او د دين داعي عاطفه! د نوي سفر لاره دې روښـانه .. کله چې دې هلته له خپل رب سـره ملاقات وشـو، نو د خپل ځورېدلي او پر دين مين ولس ربښتينی تصوير دې ورته وړاندې کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# و ناروغه ياره الله دې روغ کړه!

**دا ليکنه د ۲۰۲۱ م کال د فبرورۍ مياشــتې پر (۲) يمه، چې د ۱۳۹۹ل کال د سـلواغې مياشـتې له (۱٤) مې نېټې سـره سـمون خوري، نشر شوې ده.**

د لر اوبر افغان وطن د سـوي بڼ خوږژبی بلبل ( مطيع الله تراب) د ناروغۍ پر بســـتر پروت دی، لوی خدای ج ډېر مهرباته دی، تراب ته به خدای ج روغتيا ورکړي او ژر به يې روغ کړي. بيا



به د وطن ترانې و وايي، بيا به ژوندون کې د ژوند او د لر او بر وطن د پيوســتون شـعرونه زمزمه کړي، بيا به د خلکو زړونه باغ باغ کړي، نو ځکه خو ټول ولس دعاګانې کوي چې تراب يې ژر روغ شـي، د تراب رغېدا نه يوازې د ټول ولس د زړه ارمان دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلکې د هغوی تنګنظرو او پردیپالو غوړه مالو پښتنو، کرایي لیکوالو پر مخ به هم یوه کلکه څپېړه شي، چې بیا به ضرور د پښتنو د یو شعوري مرکز د تخریب لپاره خولې وازوي چې تراب که یون سره ملګرتیا نه لرلای او ژوندون کې یې بار بار شعرونه نه وای ویلي، نو دی به نه مړ کېده، نو همدوی یې د



مرګ سبب شول !؟ نو تراب دې روغ رمټ وي، تراب دې ژوندی وي او که مور ژوندي وو او لږ مجال هم و، نو نوي کال کې به له خیره سره تراب د ژوندون پر سټېج د لر او بر وطن د پیوستون لپار د مینې ترانې زمزمه کړي.د همدې ورځې په هیله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د یو ژوندي مړي وصیت

| |
|---|
| **دا لیکنه د ۲۰۲۱ م کال د فبرورۍ میاشـــتې پر (۲) یمه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د سـلواغې میاشـتې له (۱٤) مې نېټې سـره سـمون خوري، نشر شوې ده.** |

**خپل وصـیت ولیکئ، خپلې مېرمنې سـره یې پټ خوندي کړئ، د ماشـــومانو د زده کړې او کورني میراث حق مو په لیکلې بڼه ثبت او په کمپیوټر کې یې خوندي کړئ، هغوی ته ووایئ چې تر مرګ وروســـته لیک پرانیزي، د خپـل قبر لپـاره ځمکـه مخکې تر مخکې تثبیت او بـیـه یـې پـرې کـړئ، د قبرکېـدونکي او تـابوت جوړوونکي او د جنـازې لپاره د ملا حق مخکې تر مخکې ادا کړئ، کـه د چـا پور دربـانـدې وي، پوروـنـه یـې خـلاص کـړئ، هـغـوی چې پر ژوندني یې ښــه ډېر ښــکنځلې یې، هغوی تـه**



(c) ketabton.com: The Digital Library

ووايي چې تر مرګ وروسته دې اتل نه کړي، ورته ووايي چې زه هماغه شخص وم چې تر مرګ دمخه تا يادولم، زه نه يم بدل شوی، ته هم خپل قضاوت مه بدلوه، د يتيمانو او بېوزلو لپاره تر خپله وسه يو روزنځای او پالنځی جوړ کړئ، چې کله لوی او ستر شي په دعاکانو کې دې هېر نه کړي، مرګ ته پوره تياری ونيسئ، خپل ټول يادښتونه او د زمانې د ظلمونو جريانونه راټول او راتلونکي نسل ته يې په خوندي ډول انتقال کړئ، د نن خبره سبا مازيګر ته مه پرېږدئ، د ژوند پر يوې شېبې هم باور نه شته، خپلو خپلوانو او ملګرو ته مو وواياست چې په جنازه او فاتحه کې مو ګډون ونه کړي، ځکه د دې احتمال شته چې يوه جنازه په لسګونو نورې جنازې وزېږوي. خلکو ته ووايئ چې نه غواړم تر مرګ وروسته هم د چا دتکليف سبب شم، عامه ځايونه په خپلو قبرونو مه په تنګوئ، سر له همدې شېبو له ټولو پاتې ژونديو څخه خدای پاماني واخلئ، وصيت ځکه وليکئ چې وصيت پر ژوندي د مړي حق دی، موږ خو لا پخوا مړه شوي يو، خو هسې په ژونديو کې حساب يو، موږ د ژوند حق نه لرو، موږ ژوندي مړي يو، هسې د ژونديو برخه خورو، نو ځکه خو د يو ژوندي مړي په توګه دا حق لرو چې خپل وصيت وليکو او راتلونکي ژوندي نسل ته يې انتقال کړو او دوی ته ووايو چې پر ژوندني مړه وګړي وو، خو د ژونديو په نومونو يادېدلو....

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کمال خان بند، یو ښه زېری او راتلونکې هیلې

**دا لیکنه د ۲۰۲۱ م کال د فبرورۍ میاشـــتې پر (۳) یمه، چې د ۱۳۹۹ل کال د سـلواغې میاشـتې له (۱۵) مې نېټې سـره سـمون خوري، نشر شوې ده.**

هر څوک چې ویښ ضـــمیر ولري، نو د هېواد د هرې لوېشـــتې خاورې پر ابادۍ خوشـــالېږي، د کمال خان بند جوړېدنه ټول هېواد مینو افغانانو ته یو ښـه زېری دی. موږ به نور هم د خوښـیو داسـې زیري ولرو چې که هر یو خپل مسـولیت ته پاملرنه وکړو، موږ د دریاب تر غاړې ترې ولس یو، خو نور باید د ژونـد هنر زده کړو، پر خزانه ناست یو، خو لا هم غریب او فقیر یو .



خوړې اوبه زموږ داسـې یوه شـتمني او داسـې یوه خزانه ده چې لوی خدای ج یوازې په استثنایي ډول موږ ته راکړې ده او نور کم خلـک؛ عرب او عجم ترې برخمن دي. د دې لپـاره چې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

شـــتمني وپېژنو، ژونـد پرې وکړو، خونـد ترې واخلو، ګرانو هېوادوالو سره به دغه لنډ معلومات شريک کړو:

## د نړۍ د اوبو حجم:

د ځکمې د مخ اويا(۷۰) سلنه پر اوبو پوښـل شوې، چې د ټولې ځمکې د مجموعي حجم (زرمه ) برخه جوړوي. په دې کې اوه نوي (۹۷) سلنه تروې او يوازې درې(۳) سلنه اوبه خوږې دي. نړيوال بانک وايي چې يوازې دوه نيم (۲،۵) ســـلنه اوبه خوږې دي او ملکري ملتونـه بيـا وايي چې اوس پـه نړۍ کې يو



اعشـــاريه دوه (۲،۱) مليارده وګړي، چې د ځمکې دکرې اتلس (۱۸) سلنه خلک جوړوي، همدا اوس خوږو اوبو ته لاسرسی نه لري.

## د افغانستان د اوبو حوزې او سرچينې :

افغانســـنان د اوبو پنځه لويې حوزې لري، چې د شـــمال، امو، هلمنـد، هريرود او کـابـل د حوزو پـه نومونو يـادېږي، يوازې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلمند د حوزې په باب له ایران سره د حقابې یو تړون شته، نورو ګاونډیو سره په دې هکله کوم تړون نه شته.نورې وړې حوزې هم شته، خو په ټوله کې په همدې نومونو کې رالنډېږي. د اوبو د سرچینو له مخې افغانستان په سربندکې دی، یانې زیاتره سرچینې یې خپلې دي، نو له حقوقي، قانوني او د حقابې د حقوقو له مخې په قوي دریځ کې دی.

## د افغانستان د اوبو حجم :

افغانســـتان په کال کې پنځه اویا (۷۵) ملیارده متره معکبه اوبه لري، چې لـه هغې جملې څخـه یې اوه پنځوس (۵۷ ) ملیـارده



متره معکبه اوبه د ځمکې پر ســر او نورې اته لس (۱۸) ملیارده یې تر ځمکې لاندې اوبه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له نېکه مرغه چې داوبو ډېر زیاته برخه، یانې تر نوي (۹۰) سلنې پورته ټولې يې خوړېږې اوبه دي، د خوړو اوبو د مقدار له پلوه کیدی شي افغانستان په نړۍ کې ساری و نه لري. خو په خواشینۍ سره باید ووایو چې زموږ د ځمکې د سطحې له ټولو اوبو څخه یوازې شل ملیارده (۲۰) ملیارده متره معکبه اویو څخه په هېواد کې ګټه پورته کېږي او نورې اوه دېرش (۳۷) ملیارده متره معکبه اوبه په وړیا ډول د ګاونډیو هېوادونو ځمکې او هوسونه خړوبوي.

## د افغانستان د اوبو کلنی قیمت:

د هغې مینې له امله، چې د خپل هېواد او د هغه له خوږو اوبو سره مې لرله، په ژوندون ټلویزیون کې مې نږدې پنځه کاله وړاندې (( افغانستان د خپلو اوبو په لمبو کې)) تر سرلیک لاندې



یو علمي او ګټور سیمینار جوړ کړ، دا په دې باب تر دمه په خپل ډول کې یو بې جوړې سیمینار و. په سیمینار کې د همدې برخې

(c) ketabton.com: The Digital Library

متخصـصـینو دهېواد د اوبو د کلني قېمت، د ایران او پاکستان له خوا په هېوادکې د بندونو او اوبه خور سـسـتمونو پر وړاندې د توطیو او نورو مسـایلو په باب هر اړخیزه رڼا واچوله.دوی دا هم وویل چې ګاوندیو هېوادونو ته د هېواد د روانو وړیا اوبو ارزانه قېمت هر کال تر دوه پنځوس (۵۲) ملیاردو ډالرو پورته کېږي، دوی زیاته کړه چې د اوســني مقیاس له مخې دا د افغانســتان د (اوو کلونو ) عادي او پرمختیایي بودجه ده. که موږ یوازې خپلې اوبـه مهار کړو او نور هېڅ هم ونـه کړو همـدا هم زموږ لپـاره د کیمیا بوټي په شان ارزښت لري.دوی د هېواد او په تېره بیا مرکز کابل کې هم د اوبو پر ناتدبیره اسـتعمال اندېښــنه وښــوده، دوی وویـل : اوس په کـابل کې د اوبو د کـاروني کلنی ضـــرورت دوه دېرش (۳۲) ملیونه متره معکبه دی، خو پر (۲۰۳۰م ) کـال بـه دا اړتیا دوه شپېته (٦۲) ملیونه مترو معکبو اوبو ته پورته شي، نو ځکه سر له همدا اوسه ورته تدبیر په کار دی.

## د کمال خان بند او نور بندونه:

په تېرو لس دولسو کلونو کې په هېوادکې پر یوسلو شلو(۱۲۰) زیاتو لویو او وړو بندونو کار شـــوی او همدارنګه د اوبـه خور سستمونه جوړ شوي دي، اوس هم په هېوادکې تر یولسو (۱۱) زیـات لوی او پـه لســکونو واړه بنـدونـه تر کـار لانـدې دي، پر (بخش اباد او مچلغو) بنـدونو کـارونـه روان دي، په هرات کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

(پاشدان) بند چې د يوسلو اتلس (۱۱۸ ) مليونه ډالرو په لګښت يې کار پيل شـــوی و، تر پنځوس (۵۰) متره لوړه ارتفاع لري، نوي (۹۰) ســـلنه‌کار يې بشـــپړ شـــوی، ډېر ژر به هلته هم اوبه زېرمه شـــي، دا بند هم نږدې پنځوس (۵۰) مليو نه متره معکبه اوبه زېرمه‌کوي او په لسګونو زره هکتاره ځمکه خړوبوي. خپله دکمال خان بند چې د اته اويا (۷۸) مليونه ډالرو په ارزښـــت د شـــپاړس متره په ارتفاع جوړ شـــوی، دوه پنځوس (۵۲) مليونه متره معکبه اوبه زېرمه‌کوي، د ټولو برخو تر بشپړېدو وروسته يو ســـلو څلور اتيا (۱۸٤) زره هکتاره، ياني د ننګرهار دکانال نږدې اوه برابره ځمکه خړوبوي او نهه (۹) ميګاواټه برېښـــنا هم توليدوي.ټولو هېوادوالو ته يو ښه زېری دی.

## ګاونډيان انديښنې او تدبيرونه:

طبيعي خبره ده چې دا ډول پرمختګونه زمونږ دکم ابه‌ګاونډيو، په تېره بيا د ايران او پاکستان پر زړه نه اوارېږي، دوی له لسګونو کلونو راهيســـې د دې ډول ملي او پرمختيايي پروژو پر وړاندې توطيې جوړې کړي او بيا به هم خنډونه جوړوي، نو له اوســـنيو حکومتي چارواکو، طالبانو او ټولو مخالفو او موافقو ســـياســـتوالو څخه هيله‌کوو چې د داسې ملي پرژو په باب بايد مشترک دريځ او ملي اجماع ولري، په نورو مسايلو کې که هم اختلافات نه وي ښـه‌کار دی، هغه خو به يو ايډيال حالت وي، چې اوس شـونی نه برېښـــي. خو په دې ملي رغاونيزو پروژوکې اتفاق ټولو ته په‌کټه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی، طالبان ورونه هم باید په دې پوه شي چې د ایران او پاکستان زور ورسي، نو قسم دی چې که د اوداسه اوبو ته مو هم پرېږدي. ټول عمر به پر تیمم ګوزاره کوئ، نو ځکه باید له حکومت ســره د یو ګډ میکانیزم له لارې د داسې ملي پروژو امنیت ونیسئ، له حکومتي چاروا کو څخه هم په ټینګه هیله کوو چې د کمال خان، سـلما، پاشـدان او څو نورو مثبتو پروژو څخه د خپلو نورو بې کفایتیو او غلاوو د پټونې لپاره ناوړه سیاسي ګټه مه پورته کوئ، هر څه خپل طبیعي مسـیر ته پرېږدئ او د ملت خوشـالي بیا پر سیاسي ناندریو مه اړوئ .ټول باید د مضـرو ګاونډیو مضـرو حشراتو او حرکاتو ته متوجه اوسو، تر څو چې دا کم ابه ګاونډیان تږي او بې ابه نه شـي دوی نه اصـلاح کېږي. په تلو تلو کې د هېواد هغو سرتېرو او ساتندویانو ته د دعا لاسونه پورته کوم چې د دغسې ملي پروژو د ساتنې لپاره یې ځانونه شـهیدان کړل. له حکومته جدي غوښـتنه کوم چې د کمال خان او نورو بندونو د پرانیسـتې پر مهال د دې نومورکو اتلانو یاد تازه کړي، څلي دې پرې جوړ کړي او د کورنیو پر پـاتې غړو دې ورتـه د مینې او مهربانۍ لاس راکاږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فاطمیون څنګه مهاربدلی شي؟

**دا لیکنه د ۲۰۲۱ م کال د فبرورۍ میاشـــتې پر (۵) مه، چې د ۱۳۹۹ل کال د سلواغې میاشتې له (۱۷) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

دې کې هېڅ شک نه شته چې د فاطمیونو اصلي سرچینه د ایران اخونـدي رژیم دی، انګېزه یې هم بهرنۍ ده، لیـدلوری یې هم بهرنی دی، خو کورنۍ انګېزې او د ملاتړ ســـرچینې هم لري.



ځینې مهمې دولتي او سیاسي کړۍ یې د ملاتړ څرګندې سرچینې دي. د جمهور رییس دویم مرســـتیال ســـرور دانش، د هغه ټول حکومتي بانـډ، د خلیلي، محقق، مدبر، اکبري، انوري، او نورو هزاره مشـرانو اکثره سـیاسـي ډلې چې د امتیاز لپاره سـره وېشـل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوي او د هدف پر مهال ټول سره متحد دي، دا ټول په حقيقت کې فاطميون دي،. عليپور يو لنډغر دی چې دوی د خپلو اهدافو لپاره وړاندې کړی، يو وخت عبدالعلي مزاري د (شــفيع دېوانه ) په وســيله د خلکو په ســرو کې مېخونه ټکوهل، اوس دانش او خليلي د عليپور په وســيله د خلکو عزت او دولتي حاکميت ته ګواښ متوجه کوي.

که حکومت وغواړي عليپور او ده ته ورته نور لنډغر مهار کړي، نو د کنټرول لپاره يې نورې ډېرې لارې شــته، خو يوه لنډه او اســانه لاره يې دا هم ده چې حکومت په حکومت کې د دې



ډلو د يو شمېر سياسي لنډغرو او مافيايي کړيو ناقانونه امتيازات ختم کړي. د ســاري په توګه کريم خليلي تـه دې د( ۱۳۵ ) ساتونکو د ورکړې امتياز ختم کړي، يوازې دوه ساتونکي يې بس

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي، د محقق او دې ته ورته د نور جګړه مارانو امتيازات دې پايته ورسوي. يوازې د محقق، خليلي او څو تنو نورو اشخاصو د ساتونکو په معاش نه يوازې په بهسودو ولسوالۍ، بلکې د ميدان وردګو ولايت په زياتو



برخو کې امنيت ټينګېدی شي، بيا به نه عليپور وي او نه به يې دا کابل مېشتي سياسي مافيا او دولتي فاطميون.

يوه بله خبيثه کړۍ چې دا دولس ديارلس کاله کېږي د غزني د خلکو په استازۍ په ولسي جرګه کې ناقانونه غړيتوب لري او تر عليپور او نورو فاطميونو هم د ايران ګټو ته زياته ژمنه ده، د دې کړۍ لرې کول خو يوازې د جمهور رييس يوې اشارې او د ټاکنو د کمېسيون يوه عادي مکتوب ته اړتيا لري، که افغانستان کې سترې محکمې، د اساسي قانون پر تطبيق د څار کمېسيون، ټاکنيزو کمېسيونونو او يا هم د همدې برخو کومې اړوندې متخصصې ادارې وويل چې له ټانکو پرته د غزني د يوولسو هزاره وکيلانو د کار امتداد

(c) ketabton.com: The Digital Library

قانوني دی، نو مورږ به ووایو چې بېشکه دوی وکیلان دي، چې په یو ځل ټاکنو ان نږدې پنځه لس کاله هم خپل کار ته دوام ورکولای شي. دا وکیلان که له هزاره توکمه نه وای، نو دوه دوه ورځې به یې هم کاري موده نه وای غځول شوې، خو کله چې په سیاسي واکمنو کړیو کې سیاسي رزالت داسې یو پړاو ته رسېدلی وي، سړی به ګیله له چا وکړي؟

که جمهور رییس غني غواړي د ایران فاطمیونو ته د



اوبو د مهار تر څنګ بله اساسي څپېړه ورکړي، نو یوه لاره یې همدا ده چې دولتي فاطمیون له دولتي مقامه او دولتي امتیازه راګوزار کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملي پوځ : هم ملاتړ او هم سمون

**دا ليکنه د ۲۰۲۱ م کال د فبرورۍ مياشــتې پر (۲۶) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د کب مياشتې له (۵) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

چا چې په هېواد کې د نظام او پوځ د نشــتوالي خلا ليدلې وي، هغه د دې دوو مهمو او حياتي ضــرورتونو پر اهميت تر هر چا بــه پوهېږي. نو ځکه خو د نظام او پوځ د ړنګونې تجربه بايد



هېڅکله بيا تکرار نه شــي او هېچا ته بايد د دې مجال او اجازه ور نه کړای شــي چې د خپلو او پرديو د ســياســي غرضــونو او مرضونو لپاره تېره ترخه تجربه يو ځل بيا تکرار کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تېرو شلو کلونو کې د ګاونډیانو او کورنیو مغرضو عناصرو له مداخلو سره سره ملي پوځ تر یوه حده غوړېدلی، له شکلي پلوه یې پاموړ پرمختک کړی، ملي انګېزه او سلیقه یې هم ورو ورو تر ګاونډیو ښه کېږي، خو د وسلې او مهماتو له پلوه لا هم نور او پر ځان بسیا مزله ته اړتیا لري.د بن تر کنفرانس وروسته پاکستان په متواتر ډول لـه امریکـایـانو او نړیوالو دا غوښـــتنـه کولـه



چې د افغانســـتان پوځ باید تر هغه حده پیاوړی نه شـــي چې په سیمه کې د پاکستان د سیالۍ جوګه شي او یا د دوی برلاسی ونګوي، نو په همدې خاطر یې له امریکا سـره خپله همکاري په دې پورې وتړله چې افغانستان ته به عصري جنګي الوتکې، درانه توپونه او ټانکونه نه ورکوي. افغان واکمن چارواکي چې دا مهال تر ډېره کچه له تنظیمي عناصـــرو او مفســـدینو جوړ وو، د دې جوګه نه شـــول چې نړۍ ته قناعت ورکړي او خپل پوځ غښـــتلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي، دوی د پوځ د ځواکمنۍ پر ځای د پوځ د کمزورتیا سبب شول؛ د جهاد او مقاومت په نامه یې پوځ ته نوي مکروبونه ور داخل کړل؛ چا د پوځ تېل غلا کړل، چا البسه، چا وسله او چا هم د پوځ د سرتېرو ډوډۍ په بده ووهله، د پوځ مشرتابه د جهاد او مقاومت په نامه تر ډېره بریده د جمعیت او نظار شورا تر انحصار لاندې راغی. د ډاکتر غني له واکمنۍ سره سم په پوځ



کې یو څه سمون راغی، خو لا هم ډېر نور سمون ته اړتیا ده، اوس لا هم د ملي پوځ پر موټرو د تنظیمي لنډغرو مشرانو تصویرونه راځوړند دي، دا انځورونه به ځینو غوړه مالانو ته عادي خبره ښکاري، خو دا سرسري موضوع نه ده، دا په پوځ کې د همدغو عناصرو د اغېز ښکارندويي کوي. اوس د هېواد پوځ نه یوازې له طالبانو او نورو دولت مخالفو ځواکونو سره مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دی، بلکې په داخل کې له یو داسې سیاسي سرطان سره هم مخ دی، چې تر هغه بهرني مخالفه څو ځله خطرناک دی.**

**اوس نو که څوک رښتیا هم د هېواد پر پوځ دردېږي، د دې پوځ د بقا او هېواد ته یې د درملنې او اړتیا تر ټولو غوره لاره دا ده چې پوځ باید په بشپړ ډول له سیاسي مکروبونو وژغورل شي، پوځ کې نه د جمعیت، نه د وحدت، نه د اتحاد، نه د حزب، نه د خلق او پرچم، نه د طالب او نه هم د نورو تنظیمونو لېوالو عناصرو ته اړتیا شته او نه هم د هغوی افکارو ته. لکه څنګه چې ځینو ته د پوځ پر موټرو د حکمتیار، ملا عمر، حقاني او نور تنظیمي مشرانو د عکسونو لګول یوه لویه ګناه او خطا ښکاري، همداسې بیا د مسعود، رباني، مزاري او دوستم پالنه او د ملي پوځ پر وسایطو د هغو د تصویرونو نصب هم لویه ګناه او خطا ده. اوس خو دردوونکی حالت دا دی چې یو شمېر پخوانیو جنګسالارانو د همدې ملي پوځ د بې دریغه قربانیو پر اوږه توپک ایښی او خپلو سیاسي مخالفینو سره د حساب تصفیه کول غواړي. دا پوځ به هغه وخت د خلکو باور او ملاتړ راخپل کړي لکه څنګه چې د نظام مخالف؛ طالب پسې الوتکې پورته کوي او تر وروستي حده قهریه قوه کاروي، دغسې د نظام د نورو نظام خورو مخالفانو، جمعیتي،**

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنبشـي او وحدتي عناصـرو، عطا، قيصـاري،، دوسـتم، محقق، عليپور، شـجاعي او نورو پر ضـد هم ورته قهريه قوه وکاروي. ځينې به دا پلمه وکړي چې دوی خو ګټې د نظام مخالف نه دي. زه فکر کوم چې د نظام تر ټولو اساسي مخالفين همدغه عناصر دي؛ هم نظام خوري او هم نظام تخريبوي او يوه ورځ هم چې د حکومت له امتيازه بې برخې شـي تر طالبه زيات د وسـلوال بغاوت ګواښ کوي.

ښه لاره همدا ده چې د هېواد ملي پوځ په بشپړ ډول ملي شي، له تنظيمي اسارته او مرضـونو وژغورل شـي، قرباني يې د سياسي جوارګرو او معامله ګرو خورجين ته لاړې نه شـي او يو ځل بيا تېره ترخه تجربه تکرار نه شي.

ملي عناصـرو ته په کار دي چې د پوځ د قربانۍ د قدردانۍ تر څنګ په دې لاره کې هم هڅه وکړي چې زموږ ملي پوځ د کلمې په اساسي او بشره مانا ملي، غښتلی او پياوړی شي. ملي پوځ د هېواد د ځمکنۍ بشپړتيا اساسي ضـامن دی، سياستوال د اوبو ځګ دی، د سـترګو په رپ کې پيدا او فناه دي، نو راځئ د اوبو ځګ لپاره خپله نوش دارو له لاسه مه ورکوئ، ملي پوځ يو ملت او هېواد ته د ورپېښـو مرضـونو او خطرونو لپاره سـپر او درمل دی، د هېواد د ملي پوځ د لا پياوړتيا، سـمون او پرمخيون په هيله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وايي بديل نه لري!؟

**دا ليکنه د ۲۰۲۱ م کال د فبرورۍ مياشـــتې پر (۲۸) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د کب مياشتې له (۷) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

د ډاکتر غني په حکومت کې چې پر هر بې کفايته شـــخص نيوکې وشي، نو د افراطي غوړه مالانو له خولې يو دم انګولا خوره شي، چې دا خو نو بديل نه لري، څوک يې پر ځای راشـــي !؟ خبره پر مخالف طالب، ملا او نورو ور حواله کړي او خپلې




خبرې ته يوه بې منطقه او بې احساسه قرينه برابره کړي. اوس نو هېوادپال افغانان مجبور دي د هرې ادارې لپاره بديل هم مخکې تر مخکې د بېلګې په توګه وړاندې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقيقت دا دی چې دلته څوکۍ بې بديله دي نه اشـــخاص، که د اجمل احمدي په نوم يو شخص او يا دې ورته نورو اشخاصو پر دولتي مقامونو کار نه کولای، نو چا به يې په عمر کې نوم هم نه و اورېدلی .

پر اشـــخاصـــو بحث که څه هم ډېر زيات معقوليت نه لري، ځکه چې انساني نفس د دې سبب ګرځي چې له اشخاصو څخه وخت پر وخت ښويېدنې او تېروتنې وشي، نو ځکه خو ښـه خبره دا ده چې سستمونه محکم ورغول شي، خو که اشخاص بې کفايته وي جوړ ســـــــتمونه هم له کاره غورځولی شـــي. نو دلته ســـړی مجبورېږي د شخص لپاره د شخص او د سستم لپاره د سستم پر بديل غور وکړي.دلته غواړم د ځينو په اصـــطلاح د همدې بې بديله اشخاصو له جملې څخه يوازې د يوې بېلګې يا يو بې بـديلـه بـديـل پـه بـاب بـحث وکړم:



**۱–بې بديله شـــخص؛ اجمل احمدي :**

نه يې نسـب معلوم دی، نه يې ځای او ځايګی، نه يې هوجره معلومه ده او نه هديره، نه يې کلی معلوم دی او نه هم ولس، نه يې هويت معلوم دی او نه يې ملت،

(c) ketabton.com: The Digital Library

لس کاله وړاندې يې نه د دې هېواد تذکره لرله او نه پاســـپورټ، يوازې پر يوې بهرنۍ ژبې؛ انګرېزي پوهېږي، احتمـالاً پر عربۍ هم. پښـتو، دري او نورو هېوادنيو ژبو سـره نه لېوالتيا لري او نه اشـنايي.نه د دې هېواد له کلتوره خبر دی او نه يې له دسـتوره، يوازې کېدی شي په اقتصادي برخه کې يو څه تخصصي زده کړې ولري، نور نو نـه خـاص کمـال لري او نـه خـاص جمال نه لري، خو کمال يې پـه دې کـې دی چـې لـه جمهور رييس غني سـره رابطه لري، د هغه خوښېږي او ويل کېږي چې د خپلوۍ رګ يې د هغه تر کوره هم ور رسېږي. اوس نو که ټول



ملت يوې خوا ته وي او اجمل احمدي بلې خواته، ښـــاغلي غني ته بيا د احمدي تله درنه ده او دا هم د جمهوريت په رنګينه او قانوني فضـا کې!! **۲ –وطني بديل؛ خان افضل هډه وال** : دې بله خوا کې بيا وطني بديل پر کور ناست دی، دی هم افضل دی، هم خان او هم هډوال، هم ښـــاري دی هم کليوال، هم يې هوجره معلومـه ده او هم يې د پلار نيکـه هـديره، هم ولس لري او هم تاريخ، هم د ملت پر ژبه پوهېږي او هم د حکومت، هم د دين پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

اصــولو پوهېږي او هم د دنيا، هم يې انګليســـي ژبه زده ده، هم اردو او عربي، هم يې بانکوالۍ کې کار کړی او هم د پانګوالو له ستونزو خبر دی او هم په اړونده څانګه کې لوړې او تخصصـي زده کړې لري، ښــه نو د ده ګناه څه ده؟ ګناه يې دا ده چې نه غوړه مال دی او نه ټوپکوال، نه لبناني ريښه لري او نه امريکايي، نه د ټلوالې خپل دی او نه يې هم د غني د غوړه مالۍ لمن نيولې، نو ځکه خو د نورو لسګونو وطني کدرونو په شان پر کورناست دی.

د افغانسنان بانک لپاره خان افضل هډه وال يوازينی بديل نه دی، ښاغلی ګل مقصـود ثابت، عبدلعزيز بابکرخېل، جاوېد وفا او نور په لســګونو وطني کدرونه چې هم وطني ريښــه لري او هم کاري تجربه او هم يې په کور دننه او بهر په دې برخه کې تخصصي زده کړې کړي، ټول ښه ښه بديلونه ګڼل کېدی شي.

ما نه غوښــتل چې د دې ليکنې محور پر اشــخاصــو را وڅرخي، خو د تاريخي مجبوريت له مخې مې د شخص پر ځای د شخص بديل وړاندې کړ، درې کاله وروسته چې کله د جمهوري رياست احمتالي ټاکنې را رسي، وبه ګورو هغه اشـخاص چې وايي : ډاکټر غني بديل نه لري! د څومره بديلونو پر شاوخوا را چورلي؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جګړه، انقطاع او که د نظام تداوم ؟؟؟

**دا ليکنه د ۲۰۲۱ م کال د مارچ مياشتې پر (۵) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د کب مياشتې له (۱۵) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

افغانستان د خپل تاريخ له يوه پېچلي او خطرناک حالت څخه تېرېږي. که نړيوال او کورني سياستوال له دقت او سړيتوب څخه کار وانخلي، هېواد کې به داسې يو بشري ناورين رامنځته شي چې نړۍ به يې تر اوسه سارى نه وي ليدلى. دا چې اوس په کوم پړاو کې يو؟ چېرته روان يو؟ او چېرته بايد لاړ شو؟ غواړم دلته په لنډيز سره پر دغو دريو پوښتنو لنډه تبصره وکړم:

۱ –جګړه :

هېواد کې بې رحمه جګړه روانه ده، د جګړې دواړو غاړو؛ حکومتي او طالب لوري ته درنه زيانونه اوړي : حکومت هره ورځ لږ تر لږه سل تنه پوځيان تلفات لري، تر سلو زيات ټپيان او همدا رنګه همدې ته نږدې شمېر کې پوځيان خپلې دندې خوشې کوي، د طالبانو تلفات او ضايعات هم تر دې کم نه دي او د دې تر څنګ د دواړو لوريو له خوا په لسګونو ولسي وګړي هم د ژوند له حقه محرومېږي. په ټوله کې دا ټول افغانان دي چې د جګړې تر دومره دردوونکي بار لاندې ژوند تېروي. په ټوليز

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډول، جګړه هره ورځ درې ســـوه تنو افغانانو ژوند اخلي. هر څوک چې د جګړې د ګټلو او تودولو شعار ورکوي، پر سياسي جنون او د قدرت پر نشې اخته دي، نه يې د وروستي بري چانس شته او نه هم له پښېمانۍ پرته کومه نتيجه لري.

۲–انقطاع:

په داسې حال کې چې ګرمه جګړه روانه ده د سولې سرې او بې نتيجې خبرې هم روانې دي، دواړه غاړې لا دې ته تيارې نه دي چې يو نرم، معقول او معتدل حالت ته وړاندې شـــي. ډاکټر غني



د جمهوريت له نوم څخه اسماني وحې جوړه کړې چې يوازې پر ده نازله شوې او له ده پرته نور هېڅوک د جمهوريت د بقا سبب نه شي ګرځېدلی !؟ زړه کې ټول پوهېږي چې په تېرو شپږو کلونو کې چې ده د ســـولې د تخريب او د خپل قدرت د دوام لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ځومره پټې او ښکاره هلې ځلې کړي، په تاریخ کې کم مثاله دي؛ د سولې او طالبانو پر ضد یې ان هغو جنګسالارانو ته هم پناه یوړه چې تر طالبانو زر ځله دې ولس او هېواد ته مضر وو او طالبان پرې سل ځله شرف لري، په واقعیت کې د شر او فساد همدا عناصر وو چې لومړی ځل هم د طالبانو د ظهور او یو ځل بیا هم د طالبانو د قوت او مشروعیت سبب شول. د جګړې د تداوم تر څنګ اوس د موقت، مشارکتي او یا هم د انتقالي**



**حکومت پر طرحو هم بحث روان دی. تر ټولو باریکه او خطرناکه خبره همدا ده چې ټول باید ورته متوجه شي؛ هم طالبان، هم هېوادپال افغانان او هم ملتپال سیاستوال. په دې ټولو طرحو کې د قدرت د خلا او انقطاع خطر شته او دا داسې یو**

(c) ketabton.com: The Digital Library

خطر دی چې یو ځل مخکې تجربه شــوی او دا ملت یې د بیا تجربې د جبران وس نه لري. طالبان، ځینې نړیوال او یو شـــمېر نور سـیاسـیون د غني پر لرې کېدو ټینګار کوي او غني د واک پر دوام. ډاکټر غني اوس د دولـت پـه راس کې دی، د یو عنوان حیثیت لري، د دولت اصـــلي متن اوس هم د دې وطن د اصـــلي دښـــمنانو؛ شـــمالټلوالې په لاس کې دی، هغوی طالـب، غني، حکمتیار او یون ته په زړه او عمل کې په یو نظر ګوري، خو زمان



او مکان کله کله توپیر کوي، یو شـمېر نور هېوادپال افغانان هم په دولت کې شـــته، خو ډېری یې په حاشـیه کې دي او په سـیاســي پرېکړو کې یې اغېز خورا کم دی، اوس نو یوازې غني دی چې د عنوان په توګه یې په حکومت کې له ټلوالې ســره، که له یوې خوا د جوال خوله نیولې، نو له بلې خوا یې ورســره د ځواک او واک انډول او تناســـب هم تر یوه بریده برابر کړی دی. که د غني

(c) ketabton.com: The Digital Library

احساساتي پرېکړې او يا هم د غچ اخيستنې په نتيجه کې تر بل منتخب او مشروع حالت وړاندې له واکه لرې شي، نو هر څه به ټلوالې ته پاتې شي، يوه خوا به ټلواله شي او بله خو به طالبان، د خوار او ځپل شوي پښتون برخه به لا نوره هم خواره شي؛ د پښتون برخه به ملا او طالب ته حواله شي او دا نور خو خپل شعوري هېواد ضد مشران هم لري او افغان ضد ستميان هم. ټلواله خو بيا د اقليتونو د حقوقو د خونديتابه، له ګاونډيو سره د پټو او ښکاره اړيکو او نورو نړيوالو روابطو له لارې د دې مهارت او سپين سترګي هم لري چې جګړې ته نوې نوې پلمې ولټوي، هغه وخت به يو لوری ټلواله او بل لوری طالبان وي، بيا به نو جګړه نورې نوې انګېزې او پلمې وزېږوي، نو ځکه خو وايو چې جګړه او انقطاع دواړه هغه بد حالتونه دي چې په هر ترتيب وي، مخه يې بايد ونيول شي. نو حل لاره څه ده؟

**۳ –د نظام تداوم:**

زموږ په نظر تر ټولو ښه حل لاره همدا ده چې نظام تداوم وکړي، د نظام تدوام د اشخاصو د واک تدوام نه دی.اوس ملت له سخت بد حالت سره مخ دی. يو بد حالت همدا په خپله د غني د واک موضوع ده، اوس که په يو ناڅاپي ډول غني له واکه لرې کېږي، سياسي انقطاع رامنځته کېږي او دې سره د يو بل سياسي ناورين د پېښېدو اټکل لا پسې زياتېږي او پاتې کېدل يې هم ملت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته د نري رنځ او ناسور زخم مانا لري. نو ځکه خو باید د غني د واک په باب له ډېر زغم او احتیاط څخه کار واخیستل شي. که پر چا رښتیا هم افغانستان ګران وي او د احساس او سیاسي تدبیر تر منځ بیلانس برابرولی شي، نو غني دې د یوې ترخې دوا په



څېر یو څه موده نور هم وزغمي، غني اوس د یو چمبرخیال په شان دی چې بوی یې ډېر بد دی ،خو د ګېډې د پټو ناروغیو لپاره یو جبري درمل ګڼل کېدی شي .زغمل یې هم لکه د سنګتیا په شان دي او بې وخته لرې کول یې هم د سوچه زهرو غوندې دي چې د دولت رنځور حالت د مرګ تر کومې رسولی شي. په تېرو شپږو کلونو کې به هېچا هم زما په شان د غني پر سیاستونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر وخت او په زغرده نیوکې نه وي کړې، خو څرنګه چې پر ما باندې افغانستان ډېر ګران دی، نو زه چې غني د چمبرخیال د یو ګوټ په شـــان زغمم، نور هم بایـد دا زغم ولري. نو اوس یوه غوره لاره دا ده چې غني تر بل منتخب یا توافقي حکومت پورې د واک په راس کې پاتې شـــي، په دې منځ کې چې طالبان او نور ســـیاســـیون د اینده حکومت او نظام په باب هر ډول توافق ته ورســـېدل، غني باید په ســـوله ییز ډول واک همغه حکومت ته ولېږدوي. یوه غوره لاره همدا ده چې د نظام محتوا چې هر ډول وي، خو واک ته د رســېدو لاره باید ســوله ییزه او انتخابي وي، دې هدف ته د رســـېدو لپاره یو غوره لاره دا ده چې د طالبانو د پوځي او ســـیاســـي وزن په تناســـب د هغوی او نورو اغېزناکو شــخصــیتونو په ګډون دې د دولت یوه عالي شورا جوړه شي، دا شـورا باید د پرېکړو صـلاحیت ولري، دوی باید معقولې طرحې او پرېکړې وکړي او جمهور رییس غني یې عملي کړي، د ساري په توګه په ټاکلې موده کې دې پوځ، ټاکنیز کمېســـیونونه، عدلي او قضایي ارګانونه او ځینې نور ملي بنسټونه په بشپړ ډول ناپییلي او ملي شي، د اساسي قانون د سمون کمېسیون دې جوړ شي، د نوي قـانون د تصـــویـب لپـاره دې د عنعنوي لویې جرګې او د اساسي قانون لویې جرګې یو ګډ ترکیب راوبلل شي، د نوي قانون په رڼا کې دې ټاکنې تر ســـره شـــي او یا دې هم کوم بل میکانیزم چې قـانون پـه ګوتـه کړی وي، پر هغـه دې عمـل وشـــي، نو یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشـــروع او یا هم منتخب حکومت به رامنځته شـــي، طالبان او نورې وسلوالې ډلې باید بیا همغه باوري حکومت ته خپلې وسلې ور تسلیم کړي. د دولت د عالي شورا له جوړېدو سره سم چې طالبان یې باید اساسي برخه وي، ډاکټر غني باید د ټاکنو او طالبان د اوربند نېټه اعلان کړي او د دې تر څنګ دې ډاکټر غني د دې اعلان هم وکړي چې دی په راتلونکو ټاکنو کې د نوماندۍ حق نه لري او همدارنګه ټول هغه دولتي مامورین چې غواړي اینده کې هر ډول ټاکنو ته نوماندان شـي، سـر له اوسـه باید دولتي څوکۍ خوشې کړي او کنه هغه وخت د نوماندۍ حق نه لري.په دې ډول به هم د جګړې او هم د سـیاسـي انقطاع مخه ونیول شـي او د نظام تداوم ته به هم لاره اواره شي. البته نور وړاندیزونه هم شته، خو دلته مې دا څو د بېلګې په توګه یاد کړل. کېدی شـــي نورو هېوادوالو ســـره تر دې زیاتې ګټورې حل لارې وي، خو څرنګه چې ما تر اشـــرف غني زیاته د قدرت خلا او ســـیاســـي انقطاع محســـوس کړې او زیات یې دردولی یم، نو ځکه مې د حالاتو د نزاکت په درک سره دا څو کربنې توري کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د یو ملت تر ټولو بدمرغه حالت

**دا لیکنه د ۲۰۲۱ م کال د مارچ میاشتې پر (۷) مه، چې د ۱۳۹۹ل کال د کب میاشتې له (۱۷) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

د یو ملت بدمرغي یوازې دا نه ده چې له فقر، کملوستۍ او جګړې سره مخ دی، دا اکثره مشکلات به یو وخت ختم شي، خو غټه بدمرغي دا ده چې یو ملت خپل ارزښتونه و نه پېژني؛ د



خپل خدمتګار او خاین، ظالم او مظلوم تر منځ توپیر ترې ورک شي او چارواکي یې دومره ذلیل شي چې د څو ورځنې واک د بقا په خاطر پر سترو هېوادنیو ارزښتونو پښې کېږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مړو پسې خبرې کول له شرعي پلوه سم کار نه دی، خو هغه مړي چې ژوندیو ته ضرر نه رسوي .

جنرال نبي عظیمي د افغانستان د پوځ یو داسې افسر و، چې د همدې ملت او پوځ په پیسو وروزل شو او بېرته یې د همدې ملت او سولې بهیر پر ضد کودتاه وکړه او په هېواد کې د دوه سوه کلن پوځ د متلاشي کېدو سبب شو؛ چې ژوندی و هم ملت



ته یې زیان اړوه او اوس یې مړی هم د ملت پر ټېونو مالګې دوړوي.عجیب دردوونکی حالت دی؛ چا چې ملي پوځ ړنګ کړ اوس یې د نوي راټوکېدلي پوځ افسران د مړي درناوي ته ولاړ دي او دا هم د ملي پوځ تر عنوان لاندې. که د افغانستان د ملي پوځ ټوله روحیه، شعور او محتوا همدا شان وي، نو بیا خو ښه ده چې ملت د یو بل ملي پوځ د جوړېدو په لټه کې شي. هغه پوځ ته چې نبي عظیمي، دوستم، سیدکیان، محقق، مزاري،

(c) ketabton.com: The Digital Library

مســـعود، رباني او نور د خاينانو په توګه مطرح نه وي او ټوله پاملرنه يې يوازې د حکمتيار د اســـلامي حزب پر مخالفت او طالبانو سـره د جګړې پر محور راڅرخي، پر دې پوه شـه چې دا ملي بنسـټ لا هم د جمعيت او سـتم په منګولو کې راګير دی. د ملي دفاع هغه وزارت چې همدې نبي عظيمي رنګ کړ اوس يې همدا وزارت لاس په نامه درناوي ته ولاړ دی. په بنګله دېش کې درې څلور لسيزې وروسته هم خلک له هېواد سره د خيانت په تور محاکمه کېږي، خو دلته بيا درې لسـيزې وروسـته هم د پوځ يو غدار د همغه پوځ له خوا ســـتايل کېږي، عجيب حالت او عجيب مضر مصلحت!؟

موږ دا نه وايو چې د نبي عظيمي مړی دې د هغه د خپلو تنظيمي او فکري ملګرو لـه خوا د درنـاوي وړ نـه ګرځي، هغوی چې ورسـره په خيانت کې شـريک وو، په سـتاينه کې دې هم ورسـره برخوال وي، خو د يو ملي بنسټ له ادرسه د يو ملي خاين ستاينه د دې ملت پر ټپونو د مالګې دوړول دي.

دې اوسني حالت زموږ د ملي بنسټونو يو رښتينی تصوير خلکو ته په ډاګه کړ؛ لکه څنګه چې دوړې بادېږي زموږ امنيتي ســکتور لا تر اوســـه پوره ملي شــوی نه دی، لا هم ډېر تنظيمي، قومي، ژبني مکربونه لري، چې ژر يې بايد اعلاج وشـــي که نه بيا هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې احتمال شته چې د ډاکټر نجيب احمدزي کيسه پر ډاکټر غني احمدزي هم تکرار شـــي. په تلو تلو کې ډاکتر غني ته هم د دې خبرې يادول په کار دي چې دا پاچاهي پر دومره ســـرتيتۍ او بې غيرتۍ نه ارزي، چې ته ورته د (( مسعودشـناسـۍ)) او (( مزاري شناسۍ )) کورسونه پرانيزې، له نبي عظيمي خدمتګار جوړ کړې، دوستم پر مارشالۍ ونازوې، له نظار شورا سره ايتلافي حکومتونه جوړ کړې او نور ورته کارونه تر ســـره کړې. که دې کار نتيجه ورکولای، نو ډاکتر نجيب به هغه ته له ور پېښ دردوونکي حالت ســـره نه مخامخېده. ډاکتر غني بايد پر دې پوه شـــي چې د ده پاچاهي د امريکايي عســـکرو پر ښـــکر ولاړه ده، تر څو چې يو امريکايي عســـکر هم دلته وي، پر غني څوک کودتاه نه شـــي کولای او کله چې هغوی ووتل، نه بيا دا ناصـرخان شـته او نه يې دا سره سره اوښان، نه بيا دوستم ستا واک را ټينګولای شي او نه هم فنا او ګدا او نه يې غواړي، نو راشـــه د دې مظلوم ملت په خاطر دا امنيتي ســکتور د تنظيمونو له مکروبه وژغوره، نه دې د حزب، نه دې دجمعيت، نه دې د طالب او نه دې د نور تنيظيمونو نفوذي افرادو ته د پوځ په ليکو کې ځای وي. که سر له سبا دې داسې يو فرمان صادر کړ چې د مسعود، رباني، مزاري، حکمتيار، دوستم او نورو تنظيمي مشرانو په ګډون د هر سياسېخيل مشر

(c) ketabton.com: The Digital Library

انځور د امنيتي سکتورو په ليکوکې په بشپړ ډول منع دی، نو بيا دې منم چې رښـتيا هم اعلی سـر قومندان يې اوکه داکار نه شـې کولای، نو د خدای په خاطر طالب مالب او بل سـياسـي مخالف ته د دوړو کرښې مه راکشوه...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سپين سترگي هم يو حد لري!!

**دا ليکنه د ۲۰۲۱ م کال د مارچ مياشـــتې پر (۸) مه، چې د ۱۳۹۹ل کال د کب مياشـــتې له (۱۸) مې نېټې ســـره ســـمون خوري، نشر شوې ده.**

پخوا يو متل و چې پلانی دومر سپين سترګی دی چې کاليو سره دې په سترګو کې رانوزي. مورږ ته به دا خبره ناشونې ښکاره کېدله، خو اوس چې د يو شمېر سياستوالو، وطن پلورو او پرديپالو چالاکۍ او سپين سترګۍ ته ګورو پر پخواني متل شکر کاږو؛ اوس داسې سپينسترګي پيدا شوي چې جامې خو څه کړې، له خپلې ټولې غلامۍ، دوسۍ، بې ضميرۍ، وطن پلورنې، تيرپلورنې، غر پلورنې او تن پلورنې سره دې په سترګو کې رانوزي. تر ټولو بده يې لا دا ده چې د خپلې ګناه او خطا مسوليت هم پر مقابل طرف حواله کوي .



(c) ketabton.com: The Digital Library

کارمل روسان راوستل، امین یې پرې و واژه، د اسلام د کلمې پر ځای یې د افغان شـــوروي د دوســـتۍ کلمه زمزمه کوله او دا یې یوازې خپل ویاړ ګڼله، خو کله چې د ملیونونو افغانانو په قربانۍ د روســانو ماتې یقیني شـوه، نو ده بیا ملامتي پر امین بار کړله؛ چې دا خو امین راوســـتي وو، او ظالمه د خدای! امین پرې ځان واژه چې راوستي یې وو ؟! د روسانو راتګ د امین د مرګ او د کارمل د واک سبب شول، خو تر ننه یې امین د رابللو له توره خلاص نه دی. کله چې روســانو د کارمل د لرې کولو پرېکړه وکړه او ډاکټر نجیب یې پر ځای غوره وګاڼه، نو کارمل د کابل پر خلکو غږ وکړ چې :((بر خیزید که ازادی تان در خطر است، استقلال تانرا حفظ نماید..))

د جهاد په بهیر کې بیا د جهاد زیات بار اســـلامي حزب او نورو اکثریت پښـــتنو جهادي تنظیمونو اوچت کړ، جمعیت له روســانو




ســـره د پټو پروتوکولونو او اوربنـد لاره ونیوه، خو کلـه چې د جهادي ډلو د حکومت خبره مطرح شـــوه، په لاهور پنډۍ کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاکستان استخباراتو د حکمیتار پر ځای رباني د خپلو ستراتیژیکو ګټو لپاره غوره وباله. واک رباني او مسعود ته انتقال شو، خو د پاکستان پالنې پېغور حکمتیار ته پاتې شو. په داسې حال کې چې حکمتیار، رباني او مسعود د داودخان د مشروع نظام پر مهال پاکستان ته تللي وو، د نصیرالله بابر په وینا چې د احمدشاه



مسعود او حکمتیار تر منځ هغه وخت اختلاف پیدا شو، چې مسعود له موږه وغوښتل چې میاشتینی معاش یې باید پنځوس کلدارې ور زیات کړو، چې له حکمتیار سره برابر شي. د رباني په نامه په ارباب روډ کې یوه کوڅه هم نومول شوې چې اوس هم شته، د مسعود په نوم خو لا اوس په اسلام اباد کې بل مهم ځای هم نومول کېږي، د پلار مقبره یې د پاکستان تر کنترول لاندې د پښتنو لوی ښار؛ پښېور کې ده. رباني د خپل نیمواکه واکمنۍ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیل کې د( ای ایس ای) مشـــر ( جنرال حمیدګل) ته بلنه ورکړه چې د افغانستان د پوځ په جوړونه! کې دې دده ستر سلاکار شي، خو بیا هم په رسنیو کې رباني او مسعود سپینې کوترې دي او له حکمتیار څخه یې تور کارغه جوړ کړی دی. دا خبرې د حکمتیار د تبریې لپاره نه دي او نه زه د هغه له سیاسـي تکلارې سـره څه لېوالتیا لرم، خبره د واقعي پرتلنې ده چې د یوه لوښي یاران څنګه



پر دوو متضادو نومونو و نومول شي!؟یو د کابل قصاب! او بل د هېواد د اتل! په تصـــنعي نومونو یاد شـــي. په جهادیانو او نا جهادیانو کې داسـې نر څوک شـته چې د دولتي سـتېج پر سـر د دغو دواړو په باب منصفانه او عادلانه قضاوت وکړي؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

طالبان راغلل روس پلوه يې د روســـيې پر لور، ايران پلوه يې د ايران او نور يې پر نورو لوريو وځغلول، د مســـعود او د هغه د ډلې سر له کولابه رابهر شو، د روسي عسکرو تر عينکو لاندې يې بيا کار پيل کړ، هر کال روســانو تر پنځوس مليونو ډالرو زيات ورکول، له ايران، هندوســـتان، فرانســـې او نورو ځايونو هم ورته پيســـې او وســـلې راتللې، خو بيا هم دوی مجاهدين !! وو او د پرديو د يرغل مخالف.له روسانو سره يې په ګډه د طالبانو پر ضد جهاد! کاوه او اعظم مفتي سياف هم د دې جهاد! برخوال و.

روس ملاتړي جهادي تنظيمونه د مرګ پر کندې ولاړ وو، چې د بخت بېدۍ يې ميره شـــوه، د امريکا د غرور برجونه ونړېدل، امريکايانو په دوو مياشتو کې په شنه زور د طالبانو رژيم ختم کړ، امريکا له هوا څخه درانه بمونه اورول، خو مشـر مجاهد! اسـتاد رباني به ورته ويل چې ((نور هم غت غت واچوئ دا واله دي تاثير نه کوي )). ســياف هم تر شـــرعي ږيرې لاندې د اســـلامي شـرعيت د تطبيق! دا ننداره کوله، د (سي ای اې )د مامور له خوا د ورکړل شـويو ډالرو اندازه يې د خپل شـرعي حق په تله کې تلله او پر شـوندو يې نرۍ موسـکا تېروله.امريکانو کابل د ناره تکبير! پـه انګـازو فتح کړ، يو لښـــکر مجاهـدين د بي دوه پنځوس تر وزرونو لاندې کابل ته داخل شـــول، د جهاد او مقاومت انګازې

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د ډیموکراسي تراني سر شوې، هر چا ځان څخه مومن خان جوړ کړ، زړې او خیرنې رېږې یا رنګ شوې او یا هم لنډې او بونډۍ شوې، پخوانیو اصلي مجاهدینو ته د پېغور تمبې اړم شوې، د اسلامي حزب او طالب پلویان سور کفر وګڼل شول، خو دوی نور ټول مجاهدین شول. یونس قانوني، فهیم او عبدالله د همدې ډول مجاهدینو! په استازۍ له ناټو او امریکا سره د پوځي عملیاتو داسې یو تړون لاسلیک کړ چې د هغه له مخې په پښتون مېشتو سیموکې د هر ډول خپلسرو عملیاتو، وژنو، تړنو او سپکاوي واک هغوی ته ورکړل شوی و، د طالب او اسلامي حزب په نامه د پښتنو د ځپنې، حذفونې او ډله ییزې وژنې (جینوسایډ) یو سستماتیک پلان جوړ او عملي شو، شل کاله د جهاد او مقاومت په نامه دا لوبه روانه وه، وړو وړو ماشومانو او ان جنرال دوستم ته هم د جهاد د وراثت ثمر ور په برخه شو. دا زاړه او بګلیل شوي په اصطلاخ مجامدین دومره سپین سترګي وو، چې د امریکایي پوځیانو او الوتکو تر سیوري لاندې یې بیا هم ځان ته مجاهدین ویل. کله چې امریکایان او نور بهرنیان پر دې پوه شول چې د شر او فساد یوه کتله یې دلته واکمنه کړې او نور دا جنګ په هېڅ وجه د کنترول، توجیه او ګټنې وړ نه دی. نو د متبذلو ټاکنو له لارې یې د غرب پلو ټامیانو، روسپلوه

مجاهدینو او یو شمېر نورو فسادګرو یو ګډ ترکیب رامنځته کړ او دې تـه یې د ((ملي وحـدت)) د حکومـت نوم ورکړ. د دې حکومت مشر اشرف غني بیا خپل واک ته دومره ترږی و، چې له کوم دقت او ځنډ پرته یې له امریکا سره امنیتي تړون لاسلیک کړ




او له پاکستان سـره یې د ډیورند پر کرښـه معامله وکړه، جنګ دوام پیدا کړ او په لکونو افغانان په کې ووژل شـول. اوس جالبه سپین سترګي همدا ده چې دا یو مزخرف او مزدور ترکیب هم د استقلال شـعارونه ورکوي، دوی ځان د پاکستان او امریکا مخالفین ګڼي او هغه ځوک چې هم د امریکا او هم د پاکستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

واقعي مخالفين دي پر هغوی لا د پردیپالنې تورونه پورې کوي. حقیقت خو دا دی چې که د روســـي عســـکرو یرغل نه وای، نو کارمل به په عمر کې هم د افغانســـتان د تخت مزه نه وای څکلې او که چېرې د امریکایي عسکرو یرغل نه وای، نو حامدکرزي او اشــرف غني به دا پاچاهي په خوب او خیال کې هم نه وای لیدلې او نه به هم صــالح، محقق، دوســتم او نور دلته د پردیو شــرابو پر نشې داسې مست وای. دامریکا تر چتر لاندې د هغوی اوسني زېږنده واکمن چې د امریکا خلاف د مصنوعي ازادۍ او خپلواکۍ خبره کوي دا د دې مـانـا ورکوي چې چې کـارمـل او ډلـه یې؛ پرچمیان وواییي چې موږ مســـتقل وو او د شـــوروي مخالف هم وو، نو که صـــالح، غني او نور د امریکا خلاف چغې وهي، نو دا یو سوچه **سپین سترګي** او د عوامو په اصطلاح نمک حرامي ده، غلي کېنئ، همدا غوړې مړۍ هضـــم کړئ همدا مو بس دي، د امریکا د مخالفت حق نشه دی که بد هغوی ته پرېږدئ چې په دې مخالفت کې یې زیان لیدلی دی، نه دا چې هم د امریکا د مرمیو په زور د واک مزې څکئ او هم د مصنوعي مخالفت چغې وهئ او غوارړئ راتلونکی تاریخ تېرباسئ زه خو کله کله وېرېږم چې کله امریکایان او نور بهرنیان له افغانســـتانه وځي، دا خلک پر دې وروستۍ ورځ د کابل په بني حصار، قلاچه او ارغندي کې یو څو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډزې وکړي چې دغه دی امریکان موږ و وایستل، لکه څنګه چې



یې د روسانو د ایستلو امتیاز واخیست او هغوی چې تر دې دمه د امریکایانو خلاف مبارزه کړې ده، هغوی په ډاګ پاتې شي، دوی یو ځل بیا بل هېواد ته د راتګ بلنه ور کړي، اوسني مخالفین بیا د تروریست او نورو تورونو په تور تورن کړي او پخوانی داستان یو ځل بیا د همدې ډول وطن پلورو او ضمیر پلورو اشخاصو له خوا تکرار شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ایا د افشارو قاتل معلوم نه دی !؟

**دا لیکنه د ۲۰۲۱ م کال د مارچ میاشتې پر (۸) مه، چې د ۱۳۹۹ل کال د کب میاشتې له (۱۸) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

زه چې هره لیکنه کوم، نو د متعصبینو له خوا پرې ژر د تعصب ټاپه ووهل شي، انکه دې وویل چې خلکو ته دې روغتیایي اوبه ورسېږي، نو هم دوی به چغه کړي، چې تعصب ته لمن مه وهئ، تعصب ښه کار نه دی. د تعصب دا ټاپه دوی د حق ځپني لپاره یوه پخه وسیله گرځولې ده. پر پښتنو باندې د هر ډول ظلم




پر وړاندې غبرگون خو دوی د تعصب معادل کار گڼلی دی، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځو اوس دې بل اړخ ته، چې که په دې بله خواکې زموږ پر نورو افغانانو یو نه یو ډول ظلم شــوی وي، که پر دوی باندې له شـوي ظلم څخه پرده پورته شي، غبرګون به څه وي؟ موږ خو د افغان ملت ټول توکمونه، که پښــتون دی، که تاجک دی، که هزاره، که ازبک او که دا نور، ټول د یو واحد افغان وجود غړي



ګڼو؛ ټول افغانان دي او ټول مســلمانان او له فردي پلوه پر یو بل هېڅ لوړاوی نـه لري، خو اوس راځو د همـدې بېلابېلو قومونو سیاستوالو ته چې د همدې قومونو پر نومونو سیاست او تجارت کوي، دوی ته هم ټول افغانان یو شـــان حیثیت لري کنه؟ او یا تر دې اخوا د خپلو قومونو حقونو، پـه تېره بیـا د ژونـد حق تـه، رښـتیني دي کنه؟ یوازې یوه بېلګه او یوه پوښـتنه به وړاندې کړم:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د (۱۳۷۱ ل) کال د دلوې میاشتې په وروستیو کې د کابل ښار د افشـــارو په ســـیمه کې د نظار شـــورا او وحدت حزب تر منځ سخته جګړه وشوه، د احمدشاه مسعود په امر او قومندې د هغه اړوندو جګړه مارو په یاده سیمه کې زموږ په سلګونو هېوادوال ووژل، په دوی کې اکثره ملکي وګړي او په دې کې بیا اکثره زموږ هزاره ورونه وو. دې ملکي هزاره ګانو نوره ګناه نه لرله، ګناه یې دا وه چې دوی لـه توکمیز پلوه هزاره ګان او له مذهبي پلوه شـــیعه مذهبي وو، احمدشـــاه مســـعود د عبـدالعلي مزاري، چې دا مهـال مسعود د ایران جاسوس باله او له ده ســـره د واک پر ســـر پر جګړه بوخت و، غچ له دې بېوزله او بې وسلې هزاره ګانو واخیست. دلته



اکثره خلک داسې مهال وژل شـوي چې سـیمه د جمعیت تنظیم لاســـته ورغلې وه، د وحدت حزب ملېشـــې نورې نه وې، ملکي وګړو سـره د جنګي اسـیرانو په توګه جلند شـوی او بیا په ډله ییز ډول وژل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس پوښتنه دا ده چې که د سیاسي رشوت او رزالت خبره نه وي، نو په دې شلو کلونو کې ولې یو ځل هم یو هزاره سیاسي مشر، وکیل او په اصطلاح روشنفکر د دې ظلم په باب غږ اوچت نه کړ؟ ایا قاتل یې معلوم نه و؟ ایا کابل کې دوی په حکومت کې شریک نه وو؟ دا په داسې حال کې ده چې نړدې اولس کاله د بشر د حقوقو خپلواک کمېسیون هم د یوې هزاره توکمې توکمپالې مېرمنې




(سیما سمر ) په لاس کې و او د انتقالي عدالت ډولونه هم وهل کېدل. له انتقالي عدالت څخه په دې ټوله موده کې هدف یوازې طالب، حکمتیار، زرداد او داسې نور ادرسونه وو، نه سیاف، رباني، مسعود، محقق، ګدا، فنا، شفیع دېوانه او نور..

په دې تېرو شلو کلونو کې چې چېرې څوک له خپلې مېرمنې سره په بستره کې او یا هم په مړه تبه مړ شوی، نو محقق، خلیلي، سرور دانش او نورو یې د لویې جرګې په کېږدۍ کې یاد تازه کړی او داسې خبرې یې ورپورې تړلي چې د ژوند پر مهال به په خپله د هغه په خیال کې هم نه وي ګرځېدلې. محقق خو ان د خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

زوی تلینغوندېه هم د لویې جرګې خېمې ته ورســوله، ته به وایې چې په کربلا او یا هم د پاني پت په جنګ کې شهید شوی، خو د افشــارو د غمیزې په باب د هېڅ هزاره مشــر له خولې تر اوســه سوټ هم نه دی پورته شوی. ولې دا انسانان نه وو ؟، هزاره ګان نه وو؟ مســلمانان نه وو؟ اوکه له هوا رالوېدلي وو؟ خو څرنګه چې دا د دوی د ایتلافي قهرمان له خوا وژل شــوي وو او د هغه جلاده ډلــه اوس هم پــه واک کې ده، نو ځکــه خو ټول هزاره مشــران، وکیلان او نور په اصــطلاح روښــنفکران یې تر بړســتنې لاندې هم نه شي یادولی، تلینغوندېې او یاد غوندېې خو څه کوې. ما چې د کومو هزاره توکمو مشــرانو تصــویرونه دلته خپاره کړي دي، له دوی څخه جدي هیله لرم چې په ژوند کې خو یو ځل په نره د خپلو دغو مظلومو او قرباني شویو خلکو د تلین درناوی وکړئ او په ډاګه، لکه څنګه چې په هره موضــوع کې د طالبانو له خوا د وژنو یادونه کوئ، د دغې غمیزې د قاتل یادونه هم وکړئ! بیا مو



منم چې سیاسي او قومي جوارګر او معامله ګر نه یاست. که تاسې ما سره په غونډه کې د ګډون

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژمنه وکړئ، زه د يو افغان په توګه حاضـــر يم چې د دې قربانيانو تلينغونډه جوړه کړم. بيا که نورو هزاره ورونو ته د طالب او يا بل جهت له خوا هم بې سببه زيان ور رسېدلي وي، په هغو کې به هم ګډون کوو او تاسـو به هم د نور افغان ولس د قربانيانو په غم کې ځان شـريکوئ او په دې ډول به د ملي وحدت د ټينګښـت لپاره ګامونه پورته کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خبره ورو ورو سپينېږي

**دا ليکنه د ۲۰۲۱ م کال د مارچ مياشـــتې پر (۱۳) مه نېټه چې د ۱۳۹۹ل کال د کب مياشـــتې له (۲۳) مې نېټې ســـره ســـمون خوري، نشر شوې ده.**

په افغانستان کې له ډېر پخوا څخه د نفوسو او سرشمېرنې په باب د نظر اختلافات موجود و، د هېڅ قوم د حقوقو مدعيانو پر خپل ښودل شوي شمېر، رضايت نه ښود.

کـه څـه هم پـه دې برخـه کې يو شـــمېر پردېپـالو د انتقـاد



ګوته تر ډېره بريده پښتنو واکمنو او يو شـمېر هېوادپالو افغانانو ته نيوله، خو حقيقت دا و چې په ډېرو کورنيو او بهرنيو سرشـمېرنو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې تر ټولو زيات زيان خپله اکثريت پښتنو او يو شمېر نورو وړو قومونو زغملی و.

د اسلامي او بشري قوانينو له مخې يو انسان پر بل انسان هېڅ ډول لوړاوی نه لري او نه د يو هېواد وګړي پر يو بل کوم لوړاوی لري. افغانستان د بېلابېلو ژبو د ټوکېدو بستر او د ګڼو قومونو ګډ کور دی. ټولو قومونه د افغان ملت د وجود رغوونکي غړي دي. له بده مرغه بايد ووايو چې يو شمېر پرديپالو د قومونو له ترمينالوژۍ څخه يو حساسه سياسي موضوع جوړه کړې وه. تر ټولو به همغو ډلو د زيات مظلوميت چغې وهلې، چې تر ټولو زيات د نورو قومونو د هويت د له منځه تلو سبب شوي وو : يو زيات شمېر پښتنو، پشه يانو، ازبيکو، ساداتو، پاميري قومونو، ايماقو، قزلباشو، ترکتبارانو او نورو ته په کاغذي تذکره کې (تاجک) ليکل شوی او په يوه کمه کچه يو شمېر ساداتو او ځينو نورو وړو قومونو ته (هزاره) هم ليکل شوی او په دې ډول د ځينو قومونو د هويت تحريف رامنځته شوی دی، خو د حقيقت د پټونې لپاره بيا د همدې قومونو د حقوقو کاذبو پلويانو تر هر چا زيات د مظلوميت شعار ورکاوه.

کله چې د الکترونيکي تذکرو د وېش موضوع رامنځته شوه، نو همدې ډول سکتاريستي او واکمنو ستمي کړيو هڅه وکړه، چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېواد د ملي او ديني هويت د مســـخې لپاره لاره اواره کړي، يو شـــمېر بهرنۍ کړۍ هم ور ســـره په دې کار کې مرســـتندوی او ملاتړې وې، هغه وخت به يې شعار ورکاوه چې ((درج کلمه قوم خط سرخ ماست )) او له دې څخه تېرېدونکي نه يو .هغه وخت هېوادپالو او ملتپالو افغانانو پر دې ټينګار کاوه چې په برېښـــنايي تذکره کې يوازې د (ملت ) او (دين) ستون ليکل ضرور دي او د ملي وحدت د استحکام په خاطر د تذکرې پر مخ د قوم ليکلو ته اړتيا نه شته او هغه پرته له هغې هم په ډيټابيس کې خوندي کېږي،



خو کله چې ملتپالو افغانانو د ستمي او سکتاريستي عناصرو هغه وروستی افراطي رزالت وليد، نو ويې ويل چې دوی پر دې خبره ډېر ټينګار کوي، نو د (ملت )، (دين) او (قوم ) درېواړه ستونونه دې راوړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر ډېر لاریونونو او جنجالونو وروسته، جمهور رییس غني دې ته مجبور شـــو چې په قانون کې تعدیل راوړي او ملي شـــورا هم له اساسي قانون سره سم تعدیل شوې بڼه تصویب کړي. د قانون تر انفاذ وروســـته بیا هم دوی د دې قانون پر وړاندې د کورنیو او بهرنیو سرچینو په مرسته خنډونه جوړ کړل، خو د لوی خدای ج په فضل یو پر بل پسې خنثی شول.

د قضـــیې اصـــلي نفس په څه کې دی؟ اصـــلي خبره دا ده چې



ستمي، جمعیتي او یو شمېر پرچمي سکتارېستان چې د تاجک قوم په نوم یې ځان واک و ځواک ته رسـولی و او دی، د نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

قومونو او يو شـــمېر پښـــتنو د هويت په حذف ســـره يې کاذبې احصـايې جوړې کړې وې، د برېښـنايي تذکرو په وېش او په هغو کې د هر قوم د هويت په ليکلو سره به د لسيزو لسيزو جعلکاري په ډاګه او د قومي سياست او تجارت مخه به ډب شي. اوس چې سترې محکمې د اساسي قانون د تفسير له مخې تر اوياوو زياتو قومونو ته په تذکره کې د خپل قوم د نوم د ليکلو حق جايز ګڼلی، دا رښتيتا هم يو ښه او پر ځای قانوني کار دی. اوس به نو پاميري قومونـه خپـل حق لري چې تـذکره کې د خپـل قوم نوم وليکي، ترکتباران خپل، پشـــه يي، ايماق، قزلباش خپل او همدا رنګه نور قومونه خپل. اوس به نو په طبيعي ډول هغه خلک ډېر وارخطا وي، چې د دې قومونو د هويـت مخنيوی يې کړی او لا يې هم کوي. اوس به نو ســـرور دانش ځکه چغې وهي چې اوړو کې يې شـــګه ده، يو شـــمېر قومونه يې د خپل قومي هويت په دايره کې محاسبه کړي وو، لږ وروسته به د عطا محمد نور په شمول د يو شمېر نورو جمعيتي او ستمي سکتارستانو چغې هم ووځي او دا چغې به هغه وخت لاپســـې زياتې شـــي چې په دې تذکره کې د قومي هويت د جعل مخه هم ونيول شـي او د پښـــتنو په شـــمول ټول افغانان د دې جوګه شـــي چې فرد فرد يې برېښـــنايي تذکره واخلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې خبرې يادول هم ضــرور ده چې اوس د کفيت زمانه ده، نه د کميت، که پښتانه تر تذکرې اخستلو وروسته لس سلنه هم شي او حقيقت ولري مور دا حقيقت په ورين تندي منو، خو ښــه به دا وي چې ټولو هېوادوالو ته دا تذکرې و رسول شي چې حقيقت په رښتيا معلوم شي .

د برېښنايي تذکرو د وېش په وروستي بهير کې د دولت او په تېره بيا د جمهوري رياست د چارو د ادارې هڅې د ځانګړې يادونې او قدرونې وړ دي. نو که غواړو اينده کې د هر ډول جعل، تزوير او بشـري جنايتونو مخه ونيسـو او هر هېوادوال په اسانه د دولتي او ملي خدمتونو مسـتحق وګڼل شي، نو راځئ چې ټول په تېره بيا خوينـدې، مينـدې او د کورنۍ ټولو غړي د برېښــــاني تـذکرو خاوندان کړو او اخيستل يې د فرض لمانځه په شان پر ځان فرض وګڼو او دې کار ته د ملي او هېوادني جهاد په سترګه وګورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تاریخي حماقتونو تکرار

**دا لیکنه د ۲۰۲۱ م کال د مارچ میاشتې پر (۱۳) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د کب میاشتې له (۲۳) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

افغانستان داسې یو هېواد دی چې تر شا یې یو پیاوړی او عقیدمن ملت ولاړ دی. دا ملت مظلوم دی، غریب دی، خو ډارن او بې ارادې نه دی. د نړۍ غټې زبرځواکونه د دې ملت په تشخیص کې سهوه شوي، نو ځکه خو د ځان د زوال سبب شوي دي:

سکندر له ډېر غرور سره راغی، خو ډېر ستړی او ستومانه ووت.

عربان راغلل، خپل زور یې وازمایه، خو چې لاس یې بر نه شو، نو بیا یې دخدای دین او خپلولي وړاندې کړل.

چنګېز له ډېرو لښکرو سره راغی، کلي او ښارونه یې وران کړل، کله منارونه یې جوړ کړل، خو د خلکو په زړونو او فکرونو کې یې د ازادۍ روحیه مړه نه کړای شوه.

ګوډ تېمور او هلاکو راغلل، د خپل نیکه یادونه، ظلمونه او دردونه یې تازه کړل، خو ګوډ و مات شول او له سلو سرګردانیو پرته نور څه ور په برخه نه شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

صفویانو د کورګین په واسطه کندهار ته لاس را اوړ.د کړ، په نتیجه کې یې اصفهان له لاسه ور کړ .

مرهټه وو له احمدشـــاه بابا څخه د خپل نه یرغل بیه د کابل او پېښور ترلاسه کول وټاکل، خو په پای کې یې ډیلی هم له لاسه ور کړ.

انګرېزان چې په ډېر غرور سره په نړۍ کې هسکه غړۍ ګرځېدل او لمر یې د واکمنۍ په غېږ کې نه ډوبېده، له دې ملت سـره د




ټکر له امله په درې څلورو ټاپوګانو کې را حصار شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوروي اتحاد چې نړۍ کې لومړی سیاسي ځواک و او سره پوځ ته یې د فیل پښــه ویله چې جګول یې ناشــوني ګڼل کېدل، دلته پر ناسنجول شوي یرغل سره د ځان د تباهۍ سبب شو.

امریکایان، ناټو او د علي بابا څلوېښت نور ملګري هېوادونه چې د دې هېواد کلتور او تاریخ ته یې په کمه ســترګه وکتل او یوازې د یو څو غلو ملګرتیا یې خپله کړه، نن یوازې د ټولنې د یوې برخې د مخالفت له امله له ماتې، شــرم او پېښــمانۍ پرته بل برخلیک نه لري.

دا چې یو هېواد ته د امپراتوریو قبرســـتان وایي، دا عادي خبره نه ده. دا د یوې ډېرې لویې قربانۍ نتیجه ده، هغه قرباني چې موږ ته هم په ډېره لوړه بیه او د فقر، بېوزلۍ او تنګلاســـۍ په قیمت پرېوتې ده.

اوس د روسیې د رسنیو په قول، یوه نقشــه په ډله ییزو رسنیو کې کښـــته او پورته کېږي، دا ډول نقشـــې که حقیقت ولري که و نه لري، خو د دې تر شــا تر دې زیات مضــر نېتونه او هدفونه شــته، په تېره بیا دا چې د اســـلام په رنګ کې رنګ شـــوی یو مکار دښمن؛ پاکستان هم په کې ښکېل وي.

زه د یو هېوادپال افغان په توګه د نامسلمو او لادینو لرې او نږدې دښمنانو د ښمینو ته د دومره زیات خطر په سترګه نه ګورم، ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې تاریخ دا ثابته کړې ده چې افغانانو هېڅکله هغه جګړه نه ده بایللې چې د نامسلم پر وړاندې یې کړې ده، نو که روسان، امریکایان، ناټو او نور نامسلمان قوتونه هر ډول نقشې خپروي، ملت د هغو پر وړاندې ودرېږي او اسلام د یو دفاعي سپر په توګه د ټول ملت د یووالي او مقاومت سبب کېږي. په دې برخه کې د پردیو له خوا د تاریخ بیا تکرار له حماقت پرته بله مانا او نتیجه نه لري. خو که کله هم افغانانو له مسلمان رقیب او دښمن سره جګړه کړې، دا ډول کمې جګړې یې ګټلې دي. اوس د افغانانو اصلي دښمن د پنجاب تر ریاست لاندې د پاکستان موجوده اداره ده، دوی اسلام تر سیوري لاندې افغانانو سره خپله دښمني پالي، افغانان باید تر هر چا زیات همدې سپین لباسي شیطان ته متوجه شي. اوس هغه منبر او مسجد چې افغانانو د هغو لپاره بې شانه قرباني ورکړې، له سیاسي پلوه ببرته د افغانانو پر ضدکارول کېږي. افغانان که له پوهې او تعمق څخه کار واخلي، نو لومړی کار باید دا وکړي چې د مسجد او منبر واک راخپل کړي؛ داسې یو حالت ته ځان ورسوي چې د جهاد فتوا له کابله صادره شي، نه له اسلام اباده. په کوم نامه یې چې دا څلوېښت کاله افغانستان کې جنګ جاري ساتلی، پر همدغه نامه دې پاکستان کې هم جهاد شروع او د شریعت د تطبیق لپاره دې مبارزه وشي. که موږ یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځل د انګرېز د دغه ځایناستي له شرارته بېغمه شو، بیا نو د پښتوا په ځېر هر لرې او نږدې مخالف نامســـلم زبرځواک ته ځواب ویلی شو.

اوســمهال چې تر ډېرو تاریخي تجربو وروســته بیا هم ځینې لرې او نږدې هېوادونه د افغانستان د تجزیې نقشې جوړوي او یا ورته خوبونه ګوري نو دا د تاریخي حماقت له تکرار پرته بله مانا نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چې دا خلک ولې وارخطا دي !؟

**دا لیکنه د ۲۰۲۱ م کال د مارچ میاشـــتې پر (۱۵) مه،چې د ۱۳۹۹ل کال د کب میاشـــتې له (۱۵) مې نېټې ســـره ســـمون خوري، نشر شوې ده.**

په افغانستان کې هر تنظیم، هرې ډلې او اکثرو سیاسي اشخاصو د هېواد په تباهۍ کې خپله خپله ونډه لرلې ده، ځینو یې د خپلو اعمالو ســزا هم کتلې او ځینو نورو ته لا دا ســزا ســترګې پر لاره ده. خو یو څو نازولي تنظیمونه او د هغوی یو څو نازولي مشران شته، چې لکه فرښتې له ګناه او خطا پاک دي!



جمعیت، وحدت او جنبش تنظیمونه، په تېره بیا جمعیت، نه کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

وران کړی، نه يې روس سره پروتوکول کړی، نه يې پاکستان کې کمپونه درلودل، نه يې د ملګرو ملتو د سولې پلان شنډ کړی، نه يې امريکايانو سره د هر ډول خپلسرو پوځي عملياتو تړون لاسليک کړی، نه يې قومي تعصباتو ته لمن وهلې!!؟ نو ځکه د دوی يو قوماندان بايد د ملي اتل! بل يې د سولې د شهيد! بل يې د ملي وحدت د شهيد او



دوه نور يې د مارشالانو په لقبونو او رتبو وياړل شي !! عجيب متضاد حرکت او عجيب مانيز پارادوکس.

څوک چې د ټول ملت د سر قاتل او د ملي وحدت مخالف و، هغه ته ملي اتل وايي، چا چې ټول عمر په جنګ او د پرديو په لمن کې تېر کړ او پر خپلو مخالفينو يې د ((غتو غتو)) بمونو د اورولو غوښتنه کوله، هغه د سولې شهيد شو!چا چې د خلکو په سرو کې د قوميت پر بنسټ مېخونه ټکوهل، هغه د ملي وحدت شهيد! وګڼل شو او د چا په دعوت سره چې پرديو پر دې وطن يرغل وکړ، هغه په کې مارشال شو او دا بل چې پنځوو طالبانو تر انقرې پورې ځغلولی و، ده هم د مومن خان په وژل شوي ښامار

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې کې توره ســـره کړه، دی هم په کې د مارشـــالۍ په بهادرۍ وویاړل شو .

دلته نه غواړو تکراري تکراري خبرې وکړو، خو تکراري خبرې د منفورو تکراري عملونو په نتیجه کې رامنځته کېږي. اوس نو پورتنیو ډلو باندې نیوکه د یو ډېر ســـخت مجبوریت له وجې کېږي، که نه نو دې ډلو ته باید ســـړی د لیکنو پر ځای یوازې لاړې تو کړي او بس.

پوره شـل کاله شـول چې دا ډلې هم په حاکمیت کې دي او هم په مخالفت کې، د کرزي صـیب په څوارلس کلنه واکمنۍ کې یې اتیا سلنه واک درلود، خو بیا به یې هم له مخالفته لاس نه اخیست، د غني صـــیب په حکومت کې یې هم غوښـــنه برخه غنیمت پـه لاس کې دی، بیـا هم د مخالفت نارې خپل حق ګڼي.



کرزي چې د فاشیستۍ د تور له ډاره د پښـــتنو ډېره او غني چې هم د پښـــتنو د حق یوه پاموړ برخه پر دوی وخوړه، بیا هم د فاشیزم له توره خلاص نه شول .

دا نو داسې فرښـتې دي چې نیم عمر یې په جهاد کې تېر شـوی، یوه برخه عمر یې په مقاومت کې، څه یې په دیموکراســـۍ کې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه یې په حاکمیت، خدمت او عبادت کې! خیانت ته یې اصلاً وخت نه دی پیدا کړی!؟

کله چې د برېښنایي تذکرو د وېش موضوع راغله، نو دا ډلې او اشخاص د اساسي قانون او د ملي وحدت د مخالفت لپاره را پورته شول؛ هغه وخت یې د افغان هویت مخالفت پیل کړ او ویې ویل چې په تذکره کې دې د قوم نوم ولیکل شي او دا د دوی سره کرښه ده. کله چې دا مشکل حل شو، اوس وایي چې زموږ قومونه پر نورو قومونو وېشل کېږي !؟

اوس چې تر کاسې لاندې نیم کاسه راوځي او د هر چاکمیت او شمېر معلومېږي، نو بیا یې د ملي وحدت! تر چتر لاندې یو ځل بیا د نورو قومونو د هویت د غصب هلې ځلې پیل کړې؛ هله چې قومونه یې وېشلي !؟، هله چې



ملي وحدت ته زیان رسوي!؟ هله چې داکوي او هغه، خو ګورئ! د هېڅ قوم نوم نه اخلي او نه یې اخیستلای شي، چې خلک پوه شي چې کوم قوم له کوم قوم څخه جلا شوی. دوی اوس وایي د قومونو لپاره باید علمي تعریف! رامنځته شي او هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعریف دې هم د تېر په څېر د جمعیت او وحدت ډلو له مزاج سره برابر وي. و وروره دا ستاسو قومونه چې د کوم علمي پرنیسپ له مخې تعریف شوي، خو همدا تعریف پر ټولو تطبیق کړه! نو وارخطا ولې یې؟ ځینې بیا د پښتنو قبیلو او خېلونو یو اوږد لېست خپور کړي، چې دا ولې د پښتون په نوم یادېږي؟ نو هغه خو دي پښتانه، خیر چې هغوی پښتانه نه وي، نو بیا دا پښتانه څوک دي ؟؟ دوی دومره له عقله پلي شوي چې د کورنۍ، خېل، قبیلې او قوم تر منځ توپیر نه شي کولای. پخوا به یې پښتنو ته پېغور ورکاوه چې دوی پر بېلابېلو خېلونو وېشل شوي، خو اوس چې خپله پښتانه خېلونه د پښتون قوم په اډانه کې د قانون مطابق د خپل ځان تثبیت غواړي، نو دوی وایي چې دوی ولې ځان ته پښتون لیکي؟ او د خدای بدمرغو! هغوی خو قوم پښتون لیکي، تخلص یې که د هر خېل او قبیلې وي، هغه یې هم خپل حق دی، خو قانون ورته د قوم دلیکلو حق هم ورکړی دی. نو اوس چې بارکزی، احمدزی، تنی او نور د قوم په ستون کې ځان ته پښتون ونه لیکي، څه ولیکي؟ او پښتون او یا دا نور

(c) ketabton.com: The Digital Library

قومونه اوس دومره ذلیل شول چې هر څه به دا پنځه فاشیستان وایي، دوی به یې په پټو سترګو مني !؟ د دې څو لړکیو په استازی چې دا څو ستمي فکره چارواکي او مارواکي هر وخت د دې ملي پروسې پر ضد خبرې کوي، ودې وایي چې د سترې محکمې تفسیر د دغه قوم په باب سم نه



دی؛ دا له اتنیکي پلوه تاجک یا هزاره دي او هغه قوم دې هم و ووایي چې رښتیا هم مور د دې قومونو یوه پښه یو، ځانګړی قوم نه یو، نو بیا خو هېڅ اعتراض نه شته. د ساري په توګه که ایماق، قزلباش، ترک، ګوجر، پشه یان، عرب، پامیري قومونه، نورستاني، ګوار او نور قومونه په اتفاق او یوه خوله ووایي چې مور تاجک یا هزاره یو، نو بیا به څوک اعتراض وکړي ؟؟ اعتراض خو د همدغو قومونو له خوا و چې ویل یې دوی ته باید خپل حق ورکړل شي. نو دا نور بیا د چا زامن دي چې د نورو هویتونه تر خپل نامه لاندې ختموي.

زه د یو پښتون افغان په توګه د هر افغان د قومي هویت پلوی یم او د شمېر له مخې د پښتنو کمیت ته هېڅ ډول تشویش ځکه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لرم، چې په فقر او جګړه ييز حالت کې هم د دوی د نسل د تولید قابلیت تر نورمال حالته پورته دی، موږ باید د پښتنو او ټولو افغانانو د ژوند کیفیت ته پاملرنه وکړو. دا ډول لیکنې راباندې په جبري ډول تحمیلیږي او هغه هم په دې خاطر چې یو شمیر کړۍ غواړي پر واقعیتونو خاورې واړوي، مقابل کې یې اکثرو لیکوالو پر ځان د ځانساتنې، ورځچارۍ او مضر احتیاط څادر غوړولی، نو ځکه زه مجبور شم دې ډول سپینسترګو ته پر وخت ځواب ورکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تر وخت وړاندې او تر وخت وروسته سياستوال

**دا ليکنه د ۲۰۲۱ م کال د مارچ مياشــتې پر (۱۷) مه،چې د ۱۳۹۹ل کال د کب مياشــتې له (۱۷) مې نېټې ســره ســمون خوري، نشر شوې ده.**

–غازي امان الله خان د هېواد خپلواکي وګټله او يو ښکلی مترقي حکومت يې جوړ کړ، خو اصــلاحات يې دومره ګړندي او بېړني وو، چې ارتجاعي او مذهبي عناصــرو و نه شــول زغملای. نظام تر وخت ډېر ګړندی روان و، نو ځکه خو ټول نظام او پرمختګ د ارتجاعي عناصرو قرباني شو.

–داوخان يو هېوادپال او مترقي شــخصــيت و، خو له افغانســتان څخه يې ســـرپوښ لرې کړ، پر خپلې کورنۍ يې کودتاه وکړه، تر وخت وړاندې يې جمهوريت اعلان کړ، غوړه مالان پرې راتاو شـــول، کله چې يې خپلو مخالفينو ته پام کېده، هغوی پرې ځان دمخه کړ، ان دوه ورځې وړاندې هم، که له تدبيره کار اخيســـتل شـــوی وای، د ده د ســـقوط احتمال له منځه ته. څومره کار او خدمت چې داودخان د خپل صـــدارت په موده کې کړی، د جمهوريت په پړاو کې ورته دومره فرصت نه دی برابر شوی.

–حفيظ الله امين هم تر وخت وړاندې بې ضــرورته کودتاه وکړه او هم يې ډېر ناوخته د ژوند پر وروستۍ شپه د روسانو مقابلې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

راودانګل. د شورويانو مقابله هغه وخت په کار وه چې د روسيې سفير (پوزانوف ) يې د افغانستان په چاروکې د مداخلې په نوم، په څپېړه وواهه. که امين د جدي تر شپږمې درې يا څلور ورځې وړاندې هم د شوروي د يرغل پر ضد د بغاوت اعلان کړی وای، پر دې برخليک نه اخته کېده.

–ډاکټر نجيب الله هم هوښيار سياستوال و، کله چې د شوروي پوځيانو د وتلو خبره، شوروي مشر (ګرباچوف) له کارمل او ډاکټر نجيب سره مطرح کړه، نو کارمل يې سخت مخالفت او نجيب يې ملاتړ وکړ. همدا کار د ډاکټر نجيب د واکمنۍ او د کارمل د زوال سبب شول. کله چې ډاکټر نجيب د ملي پخلاينې پروګرام پيل کړ، په کار وه چې له خپل اصلي مخالف ( حکمتيار) سره ژر يوې نتيجې ته رسېدلی وای، د حکمتيار او ډاکټر نجيب غټه اشتباه همدا وه چې دواړه پر دې بريالي نه شول، چې د خپلمنځي تفاهم بهير تر سياسي معاملو دمخه کړي. په نتيجه کې کورنيو او بهرنيو کړيو د نجيب د حکومت په دننه کې دومره کار وکړ چې نجيب يې عملاً له سياسي او نظامي پلوه بېواکه کړ او ان له هېواده وتو ته يې هم پرېنښود.

–په تېرو څلوېښتو کلونو کې د حکمتيار اشتباوې بيا همدا دي چې کله زور او طاقت لري هغه وخت کې مصلحت او روغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړه نه کوي، خو کله چې کمزوري شــي بیا همغو خلکو ســره تفاهم کوي چې ده یې په مخالفت کې ډېره انرژي لګولې وي.که حکمتیار پر خپل وخت داودخان، امین، ډاکټر نجیب او نورو ســره تفاهم کړی وای، دا وروســتۍ وروســتۍ ناخوالې بیا نه رامنځته کېدې. که پر خپل وخت یې له امریکا او یا هم د شــوروپانو د وتلو پر مهال له هغوی ســره د یو څه تفاهم لاره نیولې وای، نو نن به دېرش کاله وروســته روســیې ته په داســې کمزوري دریځ کې نه وای روان.

استاد رباني او احمدشاه مسعود چې په کم جهاد او کم زحمت یې ډېر امتیازات تر لاســه کړل، د هغو علت دا و چې دوی د وخت پر نزاکتونو ډېر ښه پوهېدل، هغوی د سولې او سازش پر مهال تفاهم کوه او چې لاس به یې لږ بر شــو، نو بیا به یې جګړه کوله. که څه هم دا کارونه د هېواد د ملي ګټو لپاره په ګټه نه وو، خو د دوی د قومي نظریاتو او تمایلاتو د عملي کېدو ســبب ګرځېدل. مســعود او رباني پر خپل وخت له روســانو ســره پروتوکول او داخل کې له وحدت او جنبش ډلو سره ایتلاف وکړ، د نجیب حکومت یې رنګ کړ او ځانونه یې واک ته ورسول، خو حکمتیار هم له همدې ډلو ســره ایتلاف وکړ، خو ناوخته و او د ده د واکمنۍ سبب نه شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه وخت چې امریکا لنګه غوا وه د رباني او شــمالټلوالې ټولو لويو او وړو شريکبانو ترې ښې پې وڅښلې، ځانونه يې پرې ښه و پړســول، دا وخت يې حکمتيار پر مخالفت مصــروف و، خو اوس چې پر وتو دي ټلواله يې ان د دښـــمنۍ ويارړ هم ځان ته منسوبوي.

–دې منځ کې د ښاغلي کرزي او استاد سياف په شان سياستوال هم شــته، چې هم د وخت پر نزاکت پوهېږي او هم پر ســياســي مصـــلحت او معاملو، دا معاملې که څه هم د دوی د ذاتي ګټو د



تضـــمين ســبب شــوي، خو د پښـــتنو پر وړاندې د يوې اوږدې تراژيدۍ برخه هم ګرځېدلي دي، دوی تـل د هغـه ايتلاف لمن نيولې چې د پښتنو د قومي او سياسي تصفيي او ان د افغانستان د امحا فکرونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

–اوس راځو اشـــرف غني او طالبانو ته چې که دوی هم له دې اوږدې تجربې عبرت وانخلي، نو هېواد کې بـه نـه یوازې تېرې غمیزې تکرار شـــي، بلکې تر هغو نور ډېر خطرناک حالت به رامنځته شي.

طالبانو د خپل حاکمیت پر مهال دا تېروتنه وکړه چې له ســـترو ځواکونو سـره یې د ټکر مخه و نه شـوه نیولای او ژر یې تفاهم و نه کړای شـو، دا کار د دوی د حاکمیت د زوال سـبب شـو. خو کوم غوره کار یې چې وکړ هغه دا و چې له امریکایانو سره د خپل هېواد او جګړې د یو اصلي طرف په توګه کېناستل، که څه هم یو څه ناوخته و، خو له امریکا سـره یې د سـولې تړون وکړ او خپل کورني مخالفین یې، چې دا نولس کاله نړیوالو پرســـولي وو، له سیاسي پلوه ډېر پیکه او د پردیو د لاسپوڅو په توګه تمثیل کړل. خو د جګړې په ډګر کې برې په سیاسـي ډګر کې د بري په مانا نه دی.طالبان باید اوس د دې ظرفیت ولري چې له دې فرصـــته په هېواد کې د سـولې د ټیکنبـت لپاره پر ځای ګټه پورته کړي او په وړو جزیـاتو د ســـولې بهیر ټکنی نـه کړي. لـه بلې خوا اکثره هېوادوال پر دې پوهېږي چې ډاکټر غني هم لـه واک او هم لـه شـهرت سـره لېونۍ مینه لري، نه د ځان په سـتاینه مړېږي او نه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

واک پر دوام؛ د ســـولې پر وړاندې ډول ډول خنډونه او پلمې جوړوي، د سولې لپاره طلايي فرصتونه ضايع کوي او بده يې لا دا چې د ده پر اوږه همغو کســانو توپک ايښــي وي او د ســولې مخالفت کوي، چې پرون د ده د تره د زوی؛ نجيب احمدزي د واک د ړنګېدو سبب شول.

ښاغلي غني ته بايد وويل شي چې که عبدالحميد محتاط، دوستم، کشمند، وکيل او نور د نجيب د واک د دوام سبب شوي وي، نو صالح، دانش، دوستم او نور به هم ستا د واک د دوام سبب شي او که نه وي، نو هماغه تجربه مه تکراروه؛ تر وخت شاته مه پاتې کېږه. زما په نظر خو د افغانســتان شــعوري مخالفانو؛ ســتميانو،



مېخکوبيانو، لنډغرو، فرصت طلبو او نورو مضرو حشراتو ته تر سرتيتي او سازشه طالبانو سره روغه جوړه درته زر ځله ښه ده. طالبان به دې د قدرت مخالف وي، خو د عزت مخالفت به دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

و نه کړي، خو اوس چې دې کومو خلکو ته د دوستۍ غېږه خلاصه کړې دا دې هم د قدرت مخالفین دي او هم دې د عزت او پر دې سربیره د ټول هېواد د عزت مخالفین هم دي .نو راشه د سولې په باب لکچر مه ورکوه، خپل یاسین مه پخوه، عمل وکړه، فرصت له لاسه مه ورکوه. د هر شي لپاره طرحې طرحې یادوې، راشه د سولې اصلي او عملي طرحه وړاندې کړه. د سولې طرحه همدا ده چې د نظام اډانه باید روغه پاتې شي او د دې تضمین تر لاسه شي، که هره محتوا په کې پرته وي. نظام باید د کوم مفکر او کوم جاهل د شخصي غوښتنو قرباني نه شي. د سولې لپاره اوس ښه فرصت دی، راځئ چې نه ترې مخکې لاړشو او نه د تېر په څېر ترې شاته پاتې شو.

ستا عزت، زما عزت او د ټول ملت سوکالي او عزت په سوله کې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مضر مصلحت وروستی حد

**دا لیکنه د ۲۰۲۱ م کال د مارچ میاشـــتې پر (۱۹) مه، چې د ۱۳۹۹ ل کال د کب میاشتې د (۲۹) مې نېټې سره سمون خوري، نشر شوې ده.**

هغوی چې د جمهوریت چغې وهي، تر ټولو زیات د جمهوریت مخالف او د جمهوریت ســوداګر دي. جمهوریت خو د قانون حاکمیت دی، جمهوریت خو د خلکو د ســر او مال خوندیتوب دی، جمهوریت خو پرمختګ او سرېتوب دی .

هر څوک چې د قانون حاکمیت نه غواړي او د جمهوریت چغې وهي، د هغه په جهالت او منافقت کې شک مه کوئ!

چغې شي، چکچکې شي، نارې شي؛ اساسي قانون مې سره کړښه ده، پر اســاســي قانون معامله نه کوم، پر اســاســي قانون معامله د اولاد پر سر معامله ده. خو تر سېج لاندې نه ګوري چې د اساسي قانون اکثره مخالفین او نقضـوونکي ورته ناست دي او چکچکې هم ورته وهي، مانا دا چې موږ خو لا هېڅکله هم له اســاســي قانونه سرغړوای نه دی کړی !؟

اوس به د دفاع وزارت د دې شــهیدانو موضــوع یوه ورځ دوه ګرمه وي، هیت به وټاکل شــي، څېړنې به پیل شــي، نتیجه به

(c) ketabton.com: The Digital Library

وځنډول شـــي، بیا بـه پـه هېواد کې نورې دردوونکې حـادثې رامنځته شـــي، پر دې حادثې به ســـیوری خپور شـــي، ځای به یې نورې حادثې ونیســـي او په دې ډول به د تېر په څېر یوه حادثه د بلې حادثې په ګردو غبار کې ورکه شي.

اوس نو د دې حادثې څېړنې ته هم اړتیا شـــته !؟ خو هغه دی د سرور دانش ملېشه خپله وایي چې داکار موږ کړی، هر څه معلوم دي، خـو دفـاع وزارت او د ارګ چـارواکـي بـیـا وایـي چـې



نه هر چا چې داکار کړی پرېږدو یې نه، خو لا یې هم له ډاره نوم نه شـي اخیسـتلای. اوس پوښـتنه دا ده چې دا ((هر چا)) څوک دی؟ چې دوی یې معلومـوي او بیا ســـزا ورکوي؟ (هر چا) خو معلوم دی. ســرور دانش دی، علیپور دی او همداســې پســې څه سر یې اصفهان ته رسي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

تېرو تجربو ته په‌کتو سره وېره دا ده چې قاتلینو ته د سزا پر ځای نور امتیاز ور نه‌کړای شـي. هیت به و ټاکل شـي، ترکیب یې هم باید ملي وي! د سـرور دانش غوراوی به په‌کې شـامل وي، موضـوع به سـره شي، بیا به د هیت دکار او زحمت نتیجه ارګ ته راوړل شـي، سـرور دانش، محقق او نور قانونپالي! به ناسـت وي، هیت بـه ووایي چې زموږ څېړنې او مونـدنې دا ښـيي چې الوتکه د تخنیکي سـتونزو له امله غورځېدلې او په سـیمه‌کې دښمن د دې توان نه لري، چې زموږ الوتکه وولي.



که طالب په سـیمه‌کې موجود وای، نو په اسـانۍ سـره پرې لاس پاکېدلای شـو، خو اوس تخنیکي سـتونزه تر ټولو اسـانه پلمه ده. محلي چارواکي چې پر علیپور یې د دې حادثې تور پورې کړی، د ناسـم راپور او د ملي وحدت! د مخالفت په تور به، یا پر کور

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېنول شي، یا به ځارنوالۍ ته معرفي شي او یا به له خپلو موقفونو تغیر او تبدیل شـــي، علیپور او نور علیپوریان به نور هم زړور او وناوزل شي، دانش به په خپل وړاندیز له جمهور رییس غني څخه د ســیمې د امنیت د لا ټینګښـــت! په پلمه د محلي پولیســـو او ولســي پاڅونوالو په نوم نور تشــکیلات واخلي او په دې ډول به جمهوریت! لاپسې و غځول شي او د قانون حاکمیت! ته به لاره اواره شي.په همدې جمهوریت او همدې اساسي قانون کې چې د نږدې نهو لســـو کلونو په بهیر کې په غزني کې د ولســـي جرګې ټاکنې و نه شـوې، نو د علیپور، شـجاعي او نور قاتلینو نیول هم همداسې در بوله.



که جمهور رییس غني یو ســلنه هم دې جمهوریت او اســاســي قانون ته ژمن وي، همدا شېبه دې سرور دانش د دفاع وزارت د شــهیدانو په قضــیه کې، د جرم د شــریک او د قاتل د متضــمن په

(c) ketabton.com: The Digital Library

توګه د محاکمې مېز ته راکاږي، علیپور به خپله محکمې ته حاضر شي، نه څېړنې ته اړتیا شته، نه هم نورو تلفاتو او د وخت ضایع ته. نو که غني دا کار نه شي کولی د خدای په خاطر دې نه نور پر جمهوریت ملنډې وهي، نه دې پر ځان، نه پر ملت او نه هم پر اساسي قانون...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تر وخت شاته پاتې ولس

دا لیکنه د ۲۰۲۱ م کال د مارچ میاشــتې پر (۲۰) مه، چې د ۱۳۹۹ل کال د کب میاشــتې له (۳۰) مې نېټې ســره ســمون خوري، نشر شوې ده.

نن د دې لېږدېز لمریز کال او د دې لمریزې پېړۍ وروستۍ ورځ ده، ســبا به نوی کال او نوې پېړۍ وي، معمول خو دا ده چې خلک یو بل ته د نوي کال مبارکۍ ورکوي، خو زما خوله مبارکۍ ته نه جوړېږي؛ مورږ ته یې ویلي چې دا دنیا د غم پر ورځ پیدا ده



او د غم پر ورځ فناه ده؛ دا دنیا یوازې د عبادت لپاره پیدا ده، د ژوند لپاره نه ده! نو ما ســره به تل دا پوښــتنه وه چې ســړی باید

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندی وي چې د خپل خالق عبادت وکړي، نو مړي خو غیر له هغې هم عبادت نه شي کولای؟ خو موږ دومره ځورول شوي او کړول شـــوي یو چې د ژوند او عبادت دواړه حقونه راڅخه اخیستل شوي دي.

که د زمانې څرخ د زورواکو په لاس کې وای، نو اوس به نه دا نوی کال و او نه دا نوې پېړۍ؛ هر څه به پر تپه ولاړ وو، لکه زموږ د ژوند څرخ چې اوس اوس هم د منځنیو پېړیو پر ژونددود راڅرخي.

تر موږه طبیعت هم منظم او ښـــکلی دی، هر کال خپل لباس بدلوي، هر کال نوی تولید لري، خو زموږ فکر او ژوند لا هم د زاړه فکر پر تولید راڅرخي. موږه نه دلته د ژوند ګلبڼ جوړ کړ او نه مو هغې بلې دنیا ته کومه ښـــه توښـــه برابره کړه، موږ د هغې نړۍ د باغچو په هیله د دې وطن باغچې وســـېزلې، نو که هلته راڅخه وپوښتي چې تاسې هلته چېرته روغ باغونه پرېښودل چې اوس لا دلته د باغونو هیله لرئ، ووځئ د نه ســـړي زامنو! اوس غواړئ چې جنت هم پر کنډواله بدل کړئ! نو بیا به ورته څه ووایو؟ کوم ملا او مفتي پســـې به ګرځو چې راشـــه اوس موږ ترې خلاص کړه! هغه به ووایي، ما ته نه ګورئ؟ زه یې خپله په څومره زنځیرو تړلی یم؟ نو بیا به څه کوو ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

تېر کال او ان ټوله تېره پېړۍ مو په غمونو، دردونو، جګړو، تا ویلو، ما ویلو او ډول ډول ناخوالو تېره کړه، که نور مو مات کړل، نو ځان مو هم ټوټې ټوټې کړ، ډېر داسې کارونه مو وکړل



چې باید نه مو وای کړي او ډېر داسې کارونه مو و نه کړل چې باید تر سره کړي مو وای. اوس د حساب او کتاب زمانه ده، اوس دلته دم او قدم دواړه په حساب دي، زموږ ملایان یوازې پر هغې دنیا د ټول حساب او کتاب حواله ورکوي، خو ساینس او ټکنالوجي پر دې نړۍ عملاً د هر څه حساب او کتاب غواړي :

د ټول ملت په کچه څومره علمي کادرونه لرې؟ کلنی فکري تولید دې څومره دی؟ کلني لګښتونه او عواید دې څومره دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

څومره خورې او څومره ګټې؟ د نن، سبا او بل سبا پلان دې څه دی؟ د رياضت او عبادت يا د دې او هغې نړۍ انډول دې څنګه دی؟ توليد دې څومره دی، لګښت او ضرورت دې څومره دی؟ خپل توليد لرې او که اسمان ته په طمع ناست يې؟ دا د دې نړۍ او عصر پوښتنې او غوښتنې دي، که دې ساده پوښتنو ته دې ځواب وويلی شـــو، نو د هغې بلې نړۍ پېچلې پوښـــتنې به هم



ځواب کړای شـــې، که نه نو تر دې حالته به هلته لا بدتر يې، ځان به نه سره تېرباسو.

نو که غواړو چې په ژوندکې مو مثبت بدلون راشـي، د طبيعت له رازونو بايد ځان خبر کړو، د هغه له پيغامه الهام واخلو، هم خپل ځان کې تغير راوړو، هم محتوا کې، هم خپله بڼه بدله کړو او هم خپل فکر بدل کړو ، په زړو فکرونو نوې زمانې ته داخلېدل له وخت سره د ټکر په مانا دي، ته د زمانې د ګردښت څرخ نه شې

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ودرولی، نو ښـه دا ده چې تر وخت شـاته پاتې نه شـې، دلته ډېر خلک د تېر وخت ارمان کوي، سبا به بیا د نن ارمان کوي، د دې مانا دا ده چې زموږ ژوند تر پرونه نن خراب دی او له وخته مو سـمه ګټه نه ده اخیسـتې. تللی وخت بېرته نه راګرځي؛ مړی چا دی ژوندی کړی په ژړا؟ نو ښـه دا ده چې تر وخت شـاته پاتې نه شـــو او د پـخـوا پـه شـــان د تـېـرې زمـانـې ارمـان و نه کړو او نه هم د تېر په څېر تر زمانې شـــاته پاتې ولس وګڼل شو...**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**